Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

PROPERTY OF ACKU 4499

د

رحمان بابا دیوان

خپروونکی

پښتو ټولنه

د

۱۳۵۶ کال دزمری پنځلسم

دچاپ شمیر ۳۰۰۰ ټوکه

دولتی مطبعه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرتب او مهتمم :
شیر نیاز محمد عارف غروال

د نسخو مقابله کوونکی :
شیر نسل عزیز الله
شیر نیاز محمد عارف غروال
شیر ولکی محمد عمر

خپل ډیر ګرانښت د قدر وړ او ښایسته ملګری، او ډیر ښه ملګری او ډیر ښه ورور عنایت جان (شغل) ته ئې ډیره مینه او ښه هیله ورانډی کوم. د یادګار په ډول ئې وسپاره.

چې کشور د افغانانو معطر کړي

خور او ملګری دی ګل ملی رحمان

د هر بیت مصرع مې زلفې د خوبان کړي

(۲۸/۵/۶۰)

له څه مودې راهیسې د رحمان بابا د دیوان چاپي نسخې بالکل نایابې شوې وې له هغې راهیسې پښتو ټولنې تصمیم ونیو چې د بابا یوه نسبتې جامع او ښې ډیزاین چاپ کړي. څرګنده چې کتاب دیوې علمي او ادبي اکادمۍ له خوا خپرېدو لازمه وه چې تر وسه وسه پورې اکادمیک او علمي پرنسیپونه پکښې وساتل شي. د دې هدف د تحقق دپاره له پخوا چاپي او شپاړس قلمي نسخو څخه استفاده وشوه. دا باوري خبره ده چې د رحمان بابا د دیوان قلمي نسخې د پښتو نخوا په هر ګوټ کې پیدا کېږي خو له یوې خوا د ملګو ادبي تندې او علمي اړتیا له یلې خوا د پښتو ټولنې مالي امکانات تر اجازه نه ورکولې چې دا کار نور هم وځنډېږي.

په هغې اساس، د پښتو ټولنې د کتاب او فولکلور د مدیریت ته وظیفه ورکړه شوه چې د بابا د دیوان نوې اکاډمیک متن تیار کړي. د دې دیوان په خپرېدو سره به د ادبي ځیرګنګۍ امکانات تر لاسه کړي چې د بابا ادبي سبک "ژبه"، او د فکر طرز په ښه توګه وګړي او د هغو اشعارو پر ماهیت باندې هم رڼا واچوي چې رحمان بابا ته منسوب شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلدیا تو خیرونکي د خپلو علمي خیړنو د پاره، البته، په دې نسخه باندې بسنه او قناعت نشي کولی
ځکه سره له دې چې کتاب له یو شمېر نسخو څخه ترکیب شوی دی خو هره نسخه یې د متني کره کتنې -
textual criticism له مخې څانګړې مطالعې او ژوره خیړنې غواړي. له دې امله، د دې
نسخې په چاپېدلو سره دا دېره کره کتونکو وظیفه پای ته نه رسېږي بلکه په نوي افق کې به خپلو خیړنو
ته دوام ورکړي.

زه دلته د رحمان بابا د افکارو د ترجمانۍ تعبیر او تفسیر څخه ډېره کوم ځکه نه یې هر څوک به یې له خپلو
عینکو څخه په بل رنګ وینې او بهتره به دا چې په دې باره کې څانګړې رسالې یا کتابونه ولیکل شي.
سره له دې، دلهاب او فونکلور دلوړ مدیریت له خوا د رحمان بابا یوه لنډه بیوګرافي ترتیب شوې ده
چې مبتدي لوستونکي له ځینو عمده اساسي ټکو سره آشنا کړي او د رحمان بابا ته د ژباړې خیړنې د پاره
چمتو کړي.

د دې کتاب د تدوین کې د دلهاب او فونکلور د لوړ مدیریت مسلکي غړو ښاغلي محمد عارف غرداله،
ښاغلي عزیز الله، ښاغلي شاه ولي او ښاغلي محمد عمر اوتړوده هر زړه یې د ښکلي دې پښتو ټولنه
په دې وسیله د دوی د زړه له تمام زړه څخه د دې پښتو ژبې او دلهاب د خدمت په لاره کې د دوی
د ښو تو بریالیتوب نو هیله لري.

۱۳۵۵/۷/۱

خیرنوال محمد صدیق روهي
د پښتو ټولنې رئیس

(c) ketabton.com: The Digital Library

رحمان بابا

ژوندپېژندنه او دیوان

لیکوال

حبیب الله رفیع

ما غوښتل چې په دې لیکنه کې د رحمان بابا په ژوند پېښو، فکرا وفن بشپړ خبرې وکړو. لټون مې پیل کړ، یادداشتونه مې راغونډ کړل، دېر مې نوې خبرې مخې ته راغلې مجبور ومې چې په ټولو وغږېږم نو ځکه خبره د دیوان له سرېزې څخه یوه بشپړ کتاب ته اوږده شوه.

په دې سرېزه کې د رحمان بابا د فکرا وفن له څېړنې څخه تېرېږم ځکه چې له یوې خواخبره - اوږدې بې اوله بله پلوه دده فکرا وفن په دې دیوان کې ستاسو په مخ کې دی. نو یوازې ژوندپېژندنه اوله دیوان سره مربوط مطالب یې راوړم، البته دده په باب به هرا رخیزې خبرې په هغه ځانګړې کتاب کې چې "رحمان بابا - د پښتو عالمګیر" مې نوم وړته تاکلی دی راوړې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه عاشق یم سر وکار مې دی له عشقه
نه خلیل، نه داؤدزی یم، نه مومند

[I]

درحمان بابا تاریخي څېره

رحمان بابا لکه څومره چې په پښتنو کې وتلی او منلی شخصیت دی هماغومره یې ژوند پېښې تتې او د تاریخ په تیارو کې پټې دي، داځکه چې دی دیوې غریبې کورنۍ غړی ؤ او د غریبانو ژوند او مرګ ته چا ددې اړتیا نه ورکاوه چې ځان پرې ستړی کړي او ژوند پېښې یې وکاږي، دده ژوند هغه وخت اړتیا ومونده چې ده د خپل شعر په قوت د پښتنو زړونه او د "روه" سیمه تسخیر کړل او د تولو پام یې ځان ته وواړاوه خو داسې وخت ؤ چې دده د ژوند د پرخه هېر شوي وو.

دده د ژوند پېښو په باب د پرو کسانو دا تکل نیلی ځغلولی او د پرې خبرې پرې شوې خو دده د ژوند په باب د پرحقایق پټ هم پاته شوي او د پرداسې څه هم ورسره ترل شوي چې په اصطلاح دده اړواړم ترې خبره نه ده.

تېر، کلی او نوکره: رحمان بابا د پښتنو د روایتي سلسلة النسب له مخې "سربن"[1] په سربن کې غوریاخېل[2] په غوریاخېل

---

(۱) یو کتاب په سربن کې چاونه کړ — بې رحمانه چې یې وکړ دا کتاب
(د رحمان بابا دیوان، کابل پښتو ټولنه، ۴۱ مخ)

سل سربنی دې تر دا یو غزل لګاوین یې — نن چې دا پښتو ده کړلا نې خوشال ویلې
(کلیات خوشحال خان خټک، د دوست محمد خان کامل په سریزه ۴۶۸ مخ)

پاته په (۳) مخ کې

کې "مومند" [۳] په مومند کې "دویزی" [۴] او په دوین یوکې "ابراهیم خیل" [۵] دی.
راورتی دی په مومند وکې غوریا خیل بولي [۶] خوشرنگه چې مومند دغوریا خپلو
ښاخ دی نوځکه نومورې ختیځ پوه تیر وتلی او دخیبر دښه سپینتابه له پاره له
مومند نه تر سرین پورې شجره دلته کاږو :

د (۲) مخ پاته :

فکر کیږی چې له سربنی نه مراد رحمان بابا وي او رحمان بابا دابیت دده خواب گنل کیدای شي :

یوخوشال یوکم سل ختک نور په طبیعت کې خارشه رحمان سربني له یوه فرده
(رحمان بابا دیوان ، کابل ، ۱۴۲ مخ)

بیا په دوم دشاه عالم په خم بنو کې راښکاره شو په جهان عبدالرحمان
(پیر احمد شاه رضوانی - روهی گلونه ، ۱۲۳ مخ)

(۳) - زه ختک دیار په غم تازه تازه شم غوریه خیل رحمان که شو وخنی ستری
(د عبدالقادر خان ختک دیوان ، د استاد حبیبي تدوین او تصحیح ، ۱۳۴ مخ)

د دې مخ د متن پایلیکونه :

(۳) که لې شعر د رحمان مومند تر غوږ شي غوږ به نه باسي په شعر د خوشال خوک
(رحمان بابا دیوان ، کابل ، د استاد بینوا په سریزه ، ۹۴ مخ)

خدایه دلبني مومند عبدالرحمان پرې نازل کړې خپل رحمت لکه باران
(دیوان عظیم (عبدالعظیم انیزی) لاهور ۷۶ مخ)

(۴) ما نجیب هم په دا طور غزل وو ې که دیلی دویزي عبدالرحمان دی
(دیوان نجیب ، د پیښور پښتو اکادمی ، ۲۷۳ مخ)

د ملا نبا یسته خان په جونگ کې هم چې د رحمان بابا د ژوند وخت ته ورلنډ کښل شوی ، دده له نامه سره د دویزی کلمه شته
(د ملا نبا یسته خان جونگ ، قلمي نسخه ، د لیکونکي کتابتون)

(۵) "رحمان بابا لکه چې یا دری هیوادلیکي ابراهیم خیل مومند دی . د پیښور د مومند وبه تپه کې چې کوم خلک ځان د رحمان بابا نسبي او عزیزان بولي هغوی په ابراهیم خیلو یا دیویزی ... " (رحمان بابا ، دوست محمد کامل مومند ، پیښور ۱۹۵۸ ع ۸ مخ)

(۶) کامل ، دوست محمد : "رحمان بابا" ، ۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلورم



---

* . دري شجري په ترتیب لوکی دخواجه نعمت الله هروي له " مخزن افغانی " په ۱۹۶۲ ع . کال کی دواکي چاپ دحافظ رحمت خان له "خلاصة الانساب" په ۱۹۷۳ ع . کال د پیښور د پښتو اکیډمۍ چاپ، دافضل خان خټک له "تاریخ مرصع" په ۱۹۷٤ ع کال کي دیونیورسټي بک ایجنسي چاپ ، دظفر کاکاخیل له "پښتانه دتاریخ په رڼا کي" په ۱۹۶۵ ع . کال کی دیونیورسټي بک ایجنسي چاپ ؛ څخه استفاده شوې ده .

(۷) "پښتانه دتاریخ په رڼا کي" دالوم "گند" کاږي .

(۸) "تاریخ مرصع " دکاسي لوم نه اخلي .

(۹) دالوم "خلاصة الانساب" د "شمخي" مخفف بولي، مخزن افغاني یې "شیخا" او "خرخشي" قیدوي ،پښتانه دتاریخ په رڼا کي یې په دریو بڼو: "شیخا، خوشي، خاسي" راوړي

(۱۰) د "غوریا " لوم مخزن افغاني "غوري " او "غوزا" اوتاریخ مرصع "غوری " راوړي .

(۱۱) خلاصة الانساب اودمخزن افغانی حُیني نسخي (چې دخلاصة الانساب اخځ هم همدا دي) دغوریا زامن پنځه بولي په دې ترتیب : "خلیل ، داوُد ، مندك ، یوسف ، مومند " اوپه دې اساس مومند او داوُدزی دخلیل وړ وړونه نه بلکه وړ ونه گڼي اوسبکاري چې رحمان بابا هم دهمدې عقیدې په اغېز کې وایي :

"نه خلیل نه داوُدزی یم نه مومند "

دمخزن افغاني حُیني نسخي د "دولت یار" وجود دحُیني فولکلوري روایاتو په اساس ردوي اومومند او داوُد دده دزامنو په توګه غلط بولي.

(۱۲) د مخزن افغاني معتبري نسخي دغوریا په زامنو کي ترخلیل وروسته د "منوزلي " په نامه یو لوم زیاتوي اودغوریا زامن پنځه بولي.

(۱۳) دالوم د مخزن حُیني نسخو "جوکن" ضبط کړی دی .

(۱۴) د "زیرانی " لوم مخزن افغاني "زیرانه" راوړي دی .

(۱۵) د "ملی " لوم مخزن افغاني او پښتانه دتاریخ په رڼا کي "ملهی" کښلی دی.

(۱۶) د "ترک " لوم په خلاصة الانساب او مخزن افغاني کی نشته .

(۱۷) د "شجاع " لوم هم خلاصة الانساب او مخزن افغاني نه راوړي .

(۱۸) دالوم خلاصة الانساب او پښتانه دتاریخ په رڼا کي "مهیار" کاږي .

پنځم

رحمان بابا په "بهادر کلي" کې چې له پېښور څخه درې څلور میله لیرې[19] جنوبي اړخ ته پروت دی[20] له عبدالستار مومند کره وزېږېده[21] پټه خزانه د محمد رسول کلاتوال د بیاض[22] له مخې د رحمان بابا د زېږېدو کال (۱۰۴۲ هـ.ق.) ښيي[23] که څه هم ځينې کسانو څېړنه کړې چې داسې سمه ونه بولي خصوصاً ښاغلی کامل مومند په خپل - "رحمان بابا" نومې تحقيقي اثر کې زیار ایستلی چې د اتکلونو په اساس د دې کال په څېړنه کې د پښتو کلونه وړاندې کړي خو بریالی شوی نه دی او مجبور شوی چې د خپل بحث په پای کې بیا هم دده زېږېدل د همدې کال شا او خوا بولي.[24]

د پښتونستان یوبل مؤلف ښاغلی عبدالحلیم اثر سره له دې چې د پېښور د پښتو اکېډمۍ د پښتو مجلې د ۱۹۷۶م. کال د اپریل په ګڼه کې پټه خزانه یو د پېر باوړي کتاب بولي خو د ښاغلي مېر عبدالصمد خان د "رحمان بابا شاعر انسانیت" د کتاب په سرېزه کې بې له دې چې کومړاخځ وښيي، کاږي چې سوانح لیکونکی د رحمان بابا د زېږېدو کال ۱۰۴۰ هـ.ق. بولي.[25] بیا د کال ردوي او جالبه ده چې د اځل هم بې له دې چې کومړ لاسوند ولري، لیکي: "زما د معلوماتو (؟) له مخې رحمان بابا د ۱۰۳۸ هـ.ق. کال د جمادی الثاني په ۲۱ نېټه د جمعې په ورځ د پېښور له مضافاتو څخه په بهادر کلي کې وزېږېد".[26]

د رحمان بابا نومې بې لیکوالې کتاب هم د رحمان بابا د زېږېدو په باب د فکر نیلی - زغلولی او د پټې خزانې د صراحت په خلاف یې دده د زېږېدو کال ۱۰۶۳ هـ.ق. اټکل

---

(۱۹) عبدالصمد خان، رحمان بابا شاعر انسانیت، ۱۹۷۴ ع. پېښور، ۶۹ مخ.
(۲۰) حبیبي، استاد عبدالحي، پښتانه شعراء (لومړی ټوک)، ۱۳۲۰ ش.، کابل، ۱۹۲ مخ.
(۲۱) محمد هوتک "پټه خزانه" د لوی استاد پوهاند عبدالحي حبیبي په سرېزه، سمون او تشریح ۱۳۲۳ ش. کابل ۹۳ مخ.
(۲۲) د دې بیاض نسخه محمد هوتک لیدلې وه خو اوس یې چېرته پټه نشته او د زمانې پېښو له سترګو الوتې کړې ده.
(۲۳) پټه خزانه، ۹۳ مخ.
(۲۴) وګورئ: له ۷ تر ۱۶ مخ پورې.
(۲۵) رحمان بابا شاعر انسانیت، ۱۳ مخ.
(۲۶) همدا اثر.

کړی دی.[27]

دهېواد پېاوړی محقق لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبی درحمان بابا دژېږېد و په باب دپټې خزانې وینا سمه بولي او دهېڅ شک ځای نه پکې وینی[28].

په دې ترتیب وینو چې درحمان بابا دژوکړې په برخه کې دپټې خزانې دوینا په مقابل کې ماتونکی سند نشته نو موږ په دې برخه کې دده خپل دیوان ګوړو چې هلته ددې وینا په ردیا منلو کې څه موندلای شوکه نه؟

رحمان بابا په خپل دیوان کې دلندېږ یوه اوږده بوللره لري، چې ددنیا بې وفایي او دخپل ځان سپینږیرتوب پکې انځورېږي او داورنګ زیب په مړینه بحث اوساندې پکې کوي، دابوللره ظاهراً په ۱۱۱۸ هـ.ق. کال چې داورنګزیب دمړینې کال دی[29] اویا هم احیاناً په ۱۱۱۹ هـ.ق. کال ویله شوې ده. په دې بوللره کې یو بیت داسی لولو:

تر پنجاو پنجه تېر شوې ته لاځان بولې پسر[30]

نو کله چې دی په ۱۱۱۸ هـ.ق. کال تر پنځه پنځوس تېر وبولو او دا تېر والی هم دده شپږیته کلنی ومنو نو بیا دده دژېږېدو کال ۱۰۵۸ هـ.ق. راځي او دپټې خزانې تر سنې (۱۶) کاله راوروسته کېږي خو دپټې خزانې کال له دې سره هم نه ردېږي. ځکه چې دابیت درحمان بابا دديوان په بېلو- بېلو نسخو کې یوله بله توپیر لري.

---

(۲۷) محکمهٔ نشر واشاعت قبایل، "رحمان بابا". داکتاب نه دلیکوال لومړلری اوندې دچاپ کال شته او شکاري چې دکوم غرض له مخې په دېر عجولانه دول درحمان بابا په باب دا فکار و دتشتت له پاره خپور شوی دی.

(۲۸) - حبیبي، پوهاند عبدالحی؛ دافغانستان پېښلیک، ۱۳۵۳ ش، ۱۴۰ مخ.

(۲۹) محی الدین اورنګزیب عالمګیر دکورګاني شاهجهان دریم زوی دی چې په ۱۰۲۷ هـ.ق. کال دهند په احمد آباد کې وزېږېده. په ۱۰۶۸ هـ.ق. کال یې خپل پلار بندي کړ او دی پرتخت کېناست ده دخپلې واکمنۍ په دوره کې پښتانه دېر وکوتل او په پښتونخوا کې دده په ضد پېاوړی ملي نهضتونه پېل شول چې داخوند چلاك، ایمل خان او خوشال خان غوره ځنګونه یې زموږ دملي تاریخ روښانه بابونه دي. (دتفصیل له پاره وګورئ: تاریخ افغانستان درعصر کورګانی هند، دلوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبی اثر، دخوشال ختک مرغلري، کلیات خوشال خان، ارمغان خوشحال او نور....).

(۳۰) دیوان عبدالرحمن، دپښتو اکېډمۍ، ۳۸ مخ.

او خصوصاً د رحمان بابا د دیوان په یوه هغه نسخه کې چې د پښتو ټولنې په کتابتون کې ساتل کېږي، دا بیت داسې دی:

تر پنجا وشسته تېر شوې تد لا ځان بولې پسر

او په دې متن کې هم همدا بیت د اصل په توګه راغلی دی.

د پټې خزانې د سنې له مخې د اوخت د ده عمر ۷۶ کلونه رسیږي او تر شپېته کلنۍ تېرېدل شپږ او یا کلنۍ تر رسېدل نه مقید وي نو ځکه د پټې خزانې وینا بیا هم سمه او په ځای ده.

استوګنه، زده کړه، او سفرونه:

موږ مخکې وویل چې رحمان بابا پېښور ته وړځېږمه په بهادر کلي کې زېږېدلی دی. راورځی لیکي چې دی د پېښور د مومند و د ټبې په هزارخانۍ نومي کلي کې اوسېده[۳۱] دا چې رحمان بابا په هزارخانۍ کې اوسېدلی له نورو روایاتو څخه هم سنګاري خو دا چې دی په څه علت له بهادر کلي څخه هزارخانې ته تللی د څېړلو وړ ده.

لوی استاد پوهاند حبیبي په دې برخه کې کاږي: "... عبدالرحمن په خپله زمانه کې یو صوفي مشرب او په عشق کې داسې ډوب شاعر تېر شوی دی چې خپلې فقیرمزاجۍ او په خپل عشق کې فنا شوی حالت - دی د خپل کلي (نه) هزارخانې ته په تلو او استوګنه مجبور کړ."[۳۲] په دې توګه وینو چې د روندا و محترم استاد د ده د لېږد علت د ده فقیرمزاجي ګڼي.

د "رحمان بابا" لومړی کتاب نامعلوم مؤلف د ده د دې لېږد له پاره لاندې دوه علتونه توږي: "... لکه څنګه چې مشهوره ده رحمان بابا پیدا شوی خو په بهادر کلي کې وُخوږ وستو

---

(۳۱) - کامل مومند، دوست محمد، رحمان بابا، ۹ مخ.
(۳۲) - پښتانه شعراء، ۱۹۲ مخ.

دځینو وجوهاتو له کبله یې خپل کلی پرېښود او هزارخوانۍ (؟) ته راغی. په دې وجوهاتو دوه خبرې زما په خیال قیاس ته ډېرې نږدې دي: یوه داچې ده په هزارخوانۍ کې ډېر خواخوږي خپل خپلوان لرل د هغوی کشش دی هلته بوتله او دویمه داچې دی د علم حاصلولو د پاره هزارخوانۍ ته راغلی وي او بیا د همدې ځای شوی وي، بلکه دا دواړه قیاسه یو ځای کولی هم شو چې د علم د تحصیل له پاره هزارخوانۍ ته راغلی وي. دلته یې خپل خپلوان وي. استوګنه یې د هغوی کره وي. وروسته یې واده هم دلته کړی وي او بیا د همدې ځای شوی وي.(۳۳)

بناغلی اثر له بهادر کلی نه هزارخانۍ ته د رحمان بابا لېږ د پدل د قبایلي ویش(۳٤) له مخې بولي او وایي چې د دې ویش په سلسله کې د دوی کور هزارخانۍ ته راغی(۳۵) دا انګل ځکه سم نه برېښي چې که رحمان بابا د "ویش" دوران ته لوېدلی وي نو باید لس دوولس کاله وروسته په هزارخانۍ کې هم نه وای پاتې شوی او کومې بلې سیمې ته لېږدول شوی وای، سره له دې چې د ده ټول ژوند په هزارخانۍ کې تېر شوی او هم هوېې مړ او خښ شوی دی.

زما عقیده داده چې بنایي د رحمان بابا د کورنۍ اصلی ځای هزارخانۍ وي او په موقتي ډول بهادر کلي ته تللی وي چې د اوخت دی هم هوېې زېږېدلی او د ماشومتوب دوره یې تېره کړې وي. د دې یو دلیل دا دی چې پښتانه خپل مړی په خپله اډیره کې خښوي. نو که د دوی صلي ځای بهادر کلی وای حتماً به یې د ده مړی بیرته بهادر کلی ته وړی و، سره له دې چې د ده مړستون (قبر) په هزارخانۍ کې دی او هم د مومندو

(۳۳) رحمان بابا، محکمهٔ نشر واشاعت، ۱۷ مخ.

(۳٤) د ویش قوانین د پښتنو لوی مفکر او مقنن شیخ ملی جوړ او په خپل دفتر کې یې وکښل د دې ویش له مخې به په هر لسو دوولسو کلوکی د پښتنو د ښلو - ښلو کورنیو ترمنځ محکه اوکړونه سره بدلېدل او د بالغانو په سر به ویش کېده. شیخ آدم ملی په قام یوسفزی او خپل قام ملی مشر و چې د ۸۳۰ ه. ق کال په حدودو کې یې ژوند کاوه (د تفصیل له پاره وګورئ: د پښتو ادبیاتو تاریخ (دوهم ټوک)، د استاد حبیبی تالیف له ۲۳۵ تر ۲٤۲ مخ پورې).

(۳۵) رحمان بابا شاعر انسانیت، سریزه، ۱۷ مخ.

د ویزی په هزارخانه کې استوګن سنګاري ځکه چې د رحمان بابا تر نږدې خوکالنه را وروسته د احمدشاه بابا په دوره کې یو بل دویزی مومند چې رکن الدین نومېږي او شاعر دی هم په هزارخانه کې میشته و ، دی وایي :

که ظاهر لیه ساکن هزارخانه کې زړه مې خاص دی ستا د در په د ربانه کې
په نسب کې دیوزی یا همند ی یم ستا ... د در بندي یم (۳۶)

د رحمان بابا د استوګنځی په باب که حقیقت هر څه وي خو د امنلی خبره ده چې دی په بهادر کلي کې زېږېدلی ، په هزارخانه کې استېدلی او هم هلته مړ شوی او خښ شوی دی.

اوس د رحمان بابا زده کړې او د علومو تحصیل ته رسېږو ، پټه خزانه د ده زده کړې په باب کاږي :

" رحمان بابا له ملا محمد یوسف یوسفزي څخه لوست وکا اوله هغه څخه یې فقه او تصوف زده کړل ، بیا ولاړ کوهاټ ته ، هلته یې هم سبقونه ولوستل او ښه عالم شو . په ځوانۍ یې دنیا پر ښو دله او اکثر به په غر وګرځېدی او کله به ولاړ د هندوستان پرخوا او د خدای عبادت به یې کاوه د دنیا په کار و به نه مشغول کېدی ، عبدالرحمان بابا یو عالم ربانی او عابد سړی و ".(۳۷)

ښاغلی عبدالحلیم اثر بې له دې چې ځینې وینا له پاره کوم تاریخي سند ملاتړ وښیي ، د ده زده کړې په باب تر دې زیات معلومات وړاندې کوي او لیکي چې : رحمان بابا تر زېږېدو او وړکاله وروسته په ۱۰۴۵ هـ. ق. کال په بهادر کلي کې له مولینا عبدالحق څخه قرآن مجید او نور لومړنی دیني علوم زده کړل ، په ۱۰۵۲ هـ. ق. کال یې له مولینا محمد یوسف د مولینا محمد یعقوب یوسفزي له زوی څخه د پېښور په سلطان پوره کې

---

(۳۶) شاهنامهٔ احمد شاه ابدالی ، پښتو اکېډمۍ ، پېښور ، ۱۹۶۵ ع . ضمیمې برخه ، ۲۰۸ مخ .
(۳۷) پټه خزانه ، عکسي چاپ - ۱۳۵۴ ش . د پښتو د پرمختیا او پیاوړتیا آمریت ، ۴۴ - ۴۵ مخونه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

لسم

زده کړه وکړه ، بیا حضرت محمد صدیق پېښوري ته کوهاټ ته ورغی. څرنګه چې محمد صدیق پېښوري د پښتو لوړ شاعر و ، نو دا وخت رحمان بابا ته له ده نه د فیض موندلو موقع لاس ته ورغله ، همدا وخت یې د شعر او شاعرۍ دوره پیل شوه ، د خپل استاد په غزلونو یې د ځوابي غزلونه جوړ کړل چې لمونې یې په دیوان کې شته (۳۸).

په ۱۰۶۱ هـ.ق. کال کې بیا د کوهاټ په شېرکوټ کې د اخوند محمد یوسف سره و ، په ۱۰۶۶ هـ.ق کال په پاس شېرکوټ کې و ، په همدې کال یې د اخوند درویزه له زوی اخوند کرېمداد سره وکتل او حاجي بهادر کوهاتي چې د اخوند کرېمداد مخلص و د رحمان بابا استاد او طریقې لارښود و . دی دوه کاله په پېښور کې د اخوند کرېمداد په حضور کې و او د کبرویه سلسلې بیعت یې ترې وکړ او د شعر او ادب په دې خاص مکتب کې وروزل شو .(۳۹)

داسې ، د کار او رحمان بابا د علمي او ادبي زده کړې په باب ، په زړه پورې معلومات دې خو کاش چې ښاغلی اثر خپل سند ښودلی وای ، ځکه په داسې زړورتیا د کلونو او نېټو ښودل او په داسې قاطعیت د پېښو بیانول د تاریخي څېړنو په برخه کې د ټینګ سند ترښودلو پورې هېڅ اعتبار نه لري ، تاریخي پېښې او نېټې په قاطعیت سره راوړل د ټکل او اندکار نه دی د اکار پوخ سند اولا سوند غواړي. نو که د ښاغلی اثر دا معلومات رښتینی وای او غوښتی یې چې څوک یې ورسره ومني ښايي د خپلو خبرو ملاتړ یې په ټینګو سندونو کړی وای ؛ خو څرنګه چې سند نه لري نو هوښ دیته خرابې د باوري سند په درلودلو سره دا بې سنده خبرې نشو منلای.

---

(۳۸)- رحمان بابا شاعر انسانیت ، د اثر سریزه ۱۳-۱۴ مخونه
(۳۹)- همدا اثر ، ۱۵-۱۷ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو ولسم

مخکې مو وویل چې پټې خزانې د محمد رسول کلاتوال د کښنې له مخې د ده د زېږېدو کال ۱۰۴۲ هـ.ق. سنوولی اوبل داسې سند نه لرو چې داسنه غلطه وباسي نو ځکه د اثر صاحب د اخېره چې تذکره کیلونکي د ده د زېږېدو کال ۱۰۴۰ هـ.ق بولي اودده د اخېره چې زما د معلوماتو له مخې رحمان بابا په ۱۰۳۸ هـ.ق کال زېږېدلی د منلو وړ نه ده نو د ده د اخېره هم د منلو وړ نه ده چې رحمان بابا په ۱۰۴۵ هـ.ق کال په زده کړه پیل کړی وی ځکه چې دی د اوخت دېرې کلن و او په دېرې کلنۍ کې چې ماشوم هم په منظمه زده کړه پیل نشي کولای، په همدې ډول یې نور کلونه هم د رواخلي.

پاتې شوه له محمد صدیق پېښوري څخه دده د ادبي زده کړې موضوع، مونږ په پېښتو تذکرو کې د صدیق په نامه یو شاعر لرو چې د بشپړ دیوان پټه یې لا تر اوسه نشته خو د وینا ونمونې یې له دوولارو مونږ ته رارسېدلې، لومړی د چمن بې نظیر په خطي نسخه کې (۴۰) دده د اوولسو غزلو نو موجودیت دی چې پا دې هیوا په کلید افغاني (۴۱) کې دوې غزلې ترې راخیستې او بیا د اغزلې لوی استاد پوهاند عبدالحي حبیبي په لومړی ټوک پښتانه شعرا (۴۲) کې راوړې دي. اوبل د ملا سنا یست خان په جونګ کې (۴۳) دده یوه غزل او یو بیت دي چې ما په ادبي ستوري (۴۴) کې ترې راخیستي. د اشعار لوی استاد پوهاند حبیبي په متوسطه طبقه شعرا و کې د رحمان بابا له پیروانو څخه بولي (۴۵)

---

(۴۰) چمن بې نظیر د پښتو شعر یو انتخابي اثر دی چې د پښتو د ۲۹ نومورکو اونامتو شاعرانو شعر ونه یې راغلي او په الفبایي ډول ترتیب شوی دی. (د برتانوي تاپوګانو په کتابتون کې د پښتو قلمي نسخو کتلاګ، د بلوهارت او د آکټر مکینزي تالیف، لندن ۱۹۶۵ع - د اثر ګران ملګری ښاغلی عنایت الله محرابي راته څرګاره کړې چې په دې وسیله مننه تري کوم.)

(۴۱) کلید افغاني د پښتو د نثر او نظم اولیکو نو مجموعه ده چې پا دې هیوا ټوله کړې ده او هغه نسخه یې چې په ۱۸۷۲ع. کال خپره شوې ۴۱۸ مخونه لري (د پښتو پخوانۍ تذکرې، حبیب الله رفیع، د افغانستان اکاډمي، د تاریخ او ادب ټولنه، ۱۳۵۰ ش، ۶۸-۶۹ مخونه.).

(۴۲) وګورئ پښتانه شعراء، لومړی ټوک ۳۰۸ - ۳۰۹ مخونه.

(۴۳) د ملا سنا یست خان جونګ د دوولسمې پېړۍ په وروستۍ برخه کې راغونډ شوی او یوه نسخه یې د لیکونکي په کتابتون کې ده.

(۴۴) وګورئ: ادبي ستوري، لومړی ټوک، حبیب الله رفیع، پښتو ټولنه، ۱۳۵۳ - ۲۴۷-۲۴۸ مخونه.

(۴۵) پښتانه شعراء ۱/ ۳۰۸

او اغلب گمان دادی چې ترحمان باباکشر او ددوولسمې پېړۍ په دوهمه نیمایي کې به یې ژوندګرې وي . که له محمد صدیق پېښوري څخه دښاغلی اثر همدا صدیق مراد وي داسې خوظاهراً ترحمان بابا را وروسته دی او که بل سړی وائي نو ښایي ښاغلی اثر دده په باب مستند معلومات وړاندې کړي وای ، هغه ځای یې ښودلی وای چې دده دیوان یې ساتل کېږي او دهغه اثر نومې یې اخیستی وای چې دده په باب معلومات لري ، همدارانګه صدیق په نامه نورشاعران هم تر ده راوروسته دی* ، ترحمان بابا کومې غزلونه او بیتونه چې اثر صاحب دمحمد صدیق پېښوري دغزلونو او بیتونو په پیروۍ بللي کېدای شي چې دده له خوا دسند دنه ښودلو تر وخته پورې دا غزلونه او بیتونه ترحمان بابا دغزلونو او بیتونو په پیروۍ وبولو او صدیق ترحمان بابا شاګرد وګڼو نه ترحمان بابا دده !

همدارانګه له اخوند درویزه یې او حاجي ظاهر دکوهاتي څخه دده علمي او ادبي نزده کړه دکومې سندله خوا نه تأیید ین یې او خصوصاً دده په دیوان کې داسې اشارې او دلایل شته چې دی دفکر او شعر له مخې دروښانیانو پیرو ؤ او دروښان په هغه روښانه لاره یې یون کاوه چې درویزه یان یې کلک مخالف وو او ددې لارې په وړانولو کې یې ټول ژوند صرف کړی ؤ . (٤٦)

په هرحال ، دپټې خزانې صراحت او دده دخپلو وینا ؤ شهادت څرګندوي چې ترحمان بابا دوخت دودې علوم لوستي وو او دعلم تر بشپړتا به وروسته یې باطني تزکیې او تصوف ته لاس اوږد کړی ؤ او په ښه پوهه او بصارت یې مسایل څېړلای او تحلیلولای شوای . ده ښه علمي او ادبي مطالعه درلوده ، دیني مسائلو یې په شعرونو کې ځای په ځای بیان

---

* وګورئ هیواد مل ، زلمی : فرهنګ زبان وادبیات پښتو ، دص ردیف .

(٤٦) په دې موضوع ما په "ترحمان بابا - دپښتو ژبې عالمګیر" نومې اثر کې داسنا دوپه رڼا کې بشپړ بحث کړی چې ژر به دادب دعلاقمندانو خدمت ته وړاندې شي .

شوي چې په دیني علومو کې دده د ښو معلوماتو څرګند ویې کوي او هم دده په شعرونو کې دارزاني، میرزا، دولت او خوشال خان یادونه ښیي چې ده د دې شاعرانو د پوانونه لوستي وو او دده په ادبي پیاوړتیا کې د دې شاعرانو د شعر د ونډ اغېز و، همدارنګه ده د دې شاعرانو د پوانونه هم په څېره توګه کتلي وو او ځای په ځای یې د دوی له وینا و څخه لفظي او معنوي اخیستنې کړې او د دیوان په هغو دوو نسخو کې یې چې له ما سره شته د حکیم سنایي غزنوي لومړ صراحتاً اخیستې او ویلي یې دي:

په پښتو کې رحمان وو یې
په فارسي کې سنایي

دده ادبي لټون دومره پیاوړی و چې د پښتو او دري د هغو شاعرانو شعرونه یې هم لوستي وو چې له ده سره یې د څرونډ وخت لږ واټن درلود د لمونې په توګه میرزا عبدالقادر بیدل چې په ۱۰۵٤ هـ.ق. کال[٤٧] یعني څېړده وروسته زېږېدلی یو بیت لري:

هر که پا کج نمیگذارد خون دل ما میخوریم شیشهٔ ناموس عالم در بغل داریم ما[٤٨]

او رحمان بابا وایي:

که ښېښه د نام و ننګ دې شي تر څنګه د هر چا په کږ وی به خپل ځیګر خوري

نو که په دې بیتونو کې د توار د له موضوع نه ستر ګې پټې کړو یقیناً رحمان بابا تر د بیدل پورې تنها بیت ورسېدلی دی.

د رحمان بابا د سفر او چیرته تګ په باب پټه خزانه وایي: "... په ځوانۍ یې د نیا پر پښو دله او اکثر به په غزو ګرځېدی او کله به ولایر د هندوستان پر خوا ..." خو بنا غلی کامل مومند د وینا د رحمان بابا د ځینې بیتونو له مخې سمه نه بولي او وایي چې دی:

---

(٤٧) احوال و آثار میرزا عبدالقادر بیدل، دکتور عبدالغني - د میر محمد آصف انصاري ژباړه، کابل پوهنتون - د ادبیاتو پوهنځی، ۱۳۵۱ هـ.ش/ ۹ مخ

(٤٨) کلیات میرزا عبدالقادر بیدل. توک

چېرته نه دی خوږ پدلی . په دې برخه کې په خوږو بیتو سربېره دا بیتونه راوړي:

هم په داچې نه لرځایه چېرته خوځم — نه دچې یوه مخلوقیم منت بار
نه مې سنګته ملګ لېدلی دی نه پورته — خبر نه یم په یمین او په یسار
آب وخوړلکه آسیا په ځای راړسي — په خپل کور کې مې سکون دی هم رفتار (۴۹)

په برسېرن نظر به د دې بیتونو په رڼا کې دې ښتې خزانې وینا ناسمه وبولو خو له لږ غور نه وروسته که دوایو څرنګه چې د دې بیتونو د ویلو نیټه نه ده څرګنده نو ښایي هغه ټول بیتونه به چې ښاغلی کامل راوړي رحمان بابا تر خپل سیر او سیاحت وړاندې ویلي وي ځکه موږ ته ثابته ده چې ده شاعري له زلمیتوب څخه پیل کړې او دیوه شاعر په دیوان کې یو د بل ماتونکي شعر ونه له همدې کبله . موږ دلته کېږي چې یو شعر یې څرونه دیوه وخت او بل یې د بل وخت وي . او که په دې پسې د رحمان بابا دا بیتونه هم ولولو چې :

روښنایي مې په طلب کې شوه حاصله — شپه او ورځ لکه آفتاب په لار روان یم
چې صفت د تور وزلفو داشنا کړم — پلی سر په لویه لار دهندوستان یم
داشنا زلفې مې وینوی په لاس کې * * * * بند په لار دهندوستان ولیدی دریغ

نو نه یوازې دده "سکون" ماتوي بلکه صراحتاً دهندوستان دسفر یادونه کوي او ثابتوي چې دی هندوستان ته تللی دی. او که تر دې وروسته دا بیت هم وګورو :

ستا په زلفو په رخسار پسې رحمان شو بې وطنه — مسافر دهندوستان د خراسان دی زما روح

نو نه یوازې دا تر دې زیاد پرې چې دی هندوستان ته تللی وُ ، دا هم ثابتوي چې دی خراسان ته هم راغلی وُ ؛ ځکه چې پېښور د لرغونی خراسان په ساحه کې نه وُ او دا بل بیت که

---

(۴۹) رحمان بابا ۱۷ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځلسم

دده وي (۵۰) چې پرې وړیات کړو :

چې میوې یې د کابل خوږلې نه وي — د هغوله فمه څکې شي گور گوري

دا اتکل هم په لاس راکوي چې دی کابل ته هم راغلی او دلته یې دومره وخت تېر کړی چې د کابل بېلابېلې میوې یې خوږلې دي ځکه په هغه وخت کې د ارتباط د عمري وسایلو د نشتوالې له کبله کابل او پېښور د پرسره لرې وو او د کابل میوې په هغه صلح کم او کیف چې رحمان بابا یې ستایي پېښور ته نشوې رسېدلی.

په دی باب د ده لوړ بېتونه هم شته چې د ده له کوره وتل او په غرو کې اوسېدل څرګندوي.

عاشقي سړي مجنون کاندې رحمانه
گنه څوك په هوښیارۍ وړي له کوره

* * *

که لیلی غواړي باید ، دي دا رحمانه
چې مجنون غوندې ساکن د کوه وکاږشي

خپلوان، اولاد ونه او مالي وضعه :

د رحمان بابا یو بیت دی :

نه شي د خانانو د ملنگو سره کلی — چېرته عزیز خان چېرته ملنگ عبدالرحمان

له دې بیت نه خلکو افسانې جوړې کړې چا عزیز خان د ده ورور ګڼلی، چا یې نژدې تر بور بللی او ځینې بیا وایي چې عزیز خان دی بندي کړی ؤ او څه څه . . .

---

(۵۰) څرنګه چې دا بیت په لږ تغییر د خوشال خان ختک په دیوان کې هم شته نو ځکه د دې ځای پیدا کېږي چې دا بیت به کاتبانو د ده په غزل کې ورزیات کړی او د خوشال بابا له ورته غزلې څخه به یې راخیستی وی (دې موضوع ته لومړی ښاغلی مومند متوجه شوی او په خپل "رحمان بابا" نومې کتاب کې یې کړې ده).

خوله بیت نه تر دې زیات صراحت لاس ته نه راځي چې عزیز خان او رحمان بابا دیوه کلي وو هغه د کلي خان او دی یو ملنګ سړی و او په دې بیت کې رحمان بابا د خپلې استغناله مخې اعلان کړی چې دی د خانانو فرمانبردار نه دی.

د رحمان بابا له نورو بیتونو څخه داڅرګندېږي چې د ده د خپلوانو سلسله پراخه وه، دیوه کور په ځای په کورونو کې اوسېدل او ده له ټولو سره راشه درشه درلوده په درد یې د درمن او په خوږ ویې خوږ من و، وایي:

په هر کور کې ښځوران را ته پرانه دي لاس مې نه رسي د هیچا په دوا

د ده د واده کولو په باب دا بیتونه پوره صراحت لري:

په مجنون باندې قلم راغلی نه دی که حلال یې په مخ وړشي که حرام
حلال عشق دی په رحمان باندې راغلی په حلالو کې مدام وي احترام

د رحمان بابا دا بیتونه د داسې وخت دی چې د ده مینه بریالی شوې او شرعي واده یې کړی دی.

تر دې وروسته نو بیا د اولاد په غوښتنه کې داشرطونه نه دي.

خدای له هسې رنګ زوزاده امان راکړه چې بې دین، بې دیانت شي، بې نامه

یو وخت یې چې اولاد مونډلی، ورونه او خپلوان یې مطالعه کړي نو د خپلې مطلبې نتیجه یې په خپل یوه بیت کې داسې ځای کړې ده:

که مې وروره که مې عزیز که مې فرزند دے واړه غواړي خپله - خپله مدعا

د رحمان بابا د دیوان په داخلي شهادت برسېره ځینې مؤرخین هم د ده د اولاد په باب روایتونه لري له دې نه یو هم انګلیسي ختیځ پوه میجر راورټي دی او وایي چې د رحمان بابا دلوړ له طرفه د هغه اولاد او س هم د مومندو په ګډ کلي کې اوسي خو د هغه د یکي یونډوی

اولاد د پره موده وشوه چې ختم دي.(۵۱)

درحمان بابا د نور وخپلوانو په سلسله کې "حمید گل" نومي شاعر دارمستتر دده خوریې بولي اود "پښتو نخوا د شعر په هار وبهار" کې یې دده یوه غزله راخیستې ده(۵۲)

درحمان بابا د مالي وضعې په باب هم دده په خپل دیوان کې داخلي شعرا د تونه شته دی په خپلو پارکو کې له ناداری او تش لاسی څخه سرتکوي ، دنار وغانو د درملو پیسې نه لري او د درهم او دینار مالک نه دی :

په هر کور کې نخوران راته پرانستې دي — لاس مې نه رسي د هیچا په دوا
د دنیا خبرې واړه په دنیا شي — ما به څه کا څوك ، چې نه لرم دنیا

* * *

څوك دې را کاندې قسم په کردگار — که درم لرم په کور کې یا دینار

خو بیا هم څرنګه چې چاته یې لاس اوږد نه دو ، گوزاره یې کپدله او ځای په ځای خواره وررسیدل نو ځکه خلکو فکر کاوه چې دنیا دار دی :

زه درم او دینار نه لرم په کور کې — ولې نور عالم مې بولي دنیا دار
هم په دا چې نه له ځایه چیرته خوځم — نه د هیڅ یوه مخلوق یم منت بار
نه مې ښکته ملك لیلی دی نه پورته — خبر نه یم په یمین او په یسار
آب وخوراکه آسیا په ځای را رسي — په خپل کور کې مې سکون دی هم رفتار

دده دوینا په رڼا کې دا تکل کولای شو چې رحمان بابا هم لکه د نور وپښتنو غوندې دومره ځکه درلوده چې دهغې په حاصل یې گوزاره کپدله خو محصولات یې دومره نه کپدل چې خرڅ کړي یې وای او پیسې یې پرې ترلاسه کړې وای ، دده د ځکې درلودل دهغې بوللی په ترڅ کې چې د :

هر چې کښت یې په باران او په سیلاب وي
دهغو عمر به واړه په عذاب وي

---

(۵۱) دیوان عبدالرحمن ، د مولانا عبدالقادر سربیزه ، "ت" مخ ؛ رحمان بابا ، کامل مومند ، ۲۸ مخ .
(۵۲) وگورئ : دارمستتر ؛ د پښتو نخوا د شعرا د وبهار ، ۱۸۸۸ مخ ، د پاریس سرکاری مطبعه ، پښتو متن او فرانسوي سربیزه .

په کسر پیل شوي ، څرګندیږي . د پښتنو په کلیوالي ژوند کې لا تر اوسه هم داجنا سوتبادلې تر د پره حده د پیسو درلودلو ضرورت تر سره کړی، نو ځکه هغه وخت هم د درم او دینار نه درلودل د مفلسۍ او غریبۍ نښه نه وه .

موږ ته درحمان بابا وینا داهم راښیي چې دی که دنیادار وُ او که نه خو دا سې لوړهمت یې درلودچې د دنیا تر لاسه کولو له پاره یې د زړه دار وخنګ ته نه پرېښود او په دې جرأت یې په زړه داری او زړه دار و دوینا وار ونه کول او شعار یې ورکاوه چې :

آدمیت څه په دولت نه دی رحمانه
بت که جوړشي د سر وزر نو انسان شه

سماع ، موسیقی او دمینې پړاوونه :

درحمان بابا د فکري اړخ په څېړلو کې د ده په تصوفي لاره او تصوفي منابعو د پرې خبرې کېدای شي خو دلته د ده د ژوند دیوه اړخ په توګه د ده په سماع ، موسیقی او مینه لنډې خبرې کوو .

درحمان بابا د تصوف په باب د پرې خبرې شوې خو د ده د سماع[۵۳] په برخه کې څه نه دي ویل شوي دا ځکه چې د ده تصوفي لار د ده له شعر ونوشته راوزي او د ده د دیوان په خو ونسخو کې داسې کومر شعر نه وُ چې درحمان بابا د سماع په برخه کې

---

(۵۳) سماع په تصوفي اصطلاح کې هغه غږ ته ویله کېږي چې د اورېدونکي په حالت کې او سبتون راولي . په شرح تعرف کې وایي چې : یخوانیو به خپل نفس د پرمختګ د ده د ومره ریاضت بې وکړ چې وبه د پرېدل له کاره ونه لویږي نو د نفس د پیاوړتیا له پاره به یې څه وغوښتل او دوه بیتونه به یې اورېدل البته د حال سره سم بیت ... څوچې به په وجد راغلل او له ځانه به بې خبره شول او د مستۍ په حال کې به یې ځان نشو اداره کولی او په نغا به راتلل ،، (سماع در سلسلهٔ هو ، محیین جهان بګلو " تجدد " ، ایران ، ۱۳۵۱ ش .) د مولانا جلال الدین بلخي تصوفي رقص لا تر اوسه هم - پیروان لري او په ترکیه کې د کال په تاکلي وخت کې د مولانا د علامتند الوله خوا تر سره کېږي ، په چشتیه طریقه کې د سماع او موسیقی ستره برخه د ، چې تفصیل یې د تصوف په باب په لیکلو آثارو کې شته .

لاسوند شوی وای ، په دې برخه کې دده یکې یوازې غزل متعصبینو د پښتو دده له دیوان څخه غورځولې وه ، خوله ښکه مرغه دده د دیوان په یوه زړه نسخه کې دا غزل وموندې شوه چې په دې چاپ کې هم نیول شوې او په صراحت راښیي چې رحمان بابا سماع او صوفیانه رقص کاوه دغزل ښوبیتونه داري :

ساقي راکړه ته وماته جام در قص
زه ارزو په زړه لرم مدام در قص
ده وې اوس به دخوښۍ ساعت په تاشي
مغنی راکړه ته وما پیغام در قص
سرې پاس ترنه فلک څرګندې بې
چې په چاوشي ارشاد اعلام در قص
لیاقت یې هر وګړی څخه نشته
په لایقو باندې وي انعام در قص
خوبې سا په وجود شته عبدالرحمان
حقیقت به هومره نه کا تام در قص

رحمان بابا د موسیقي او خصوصاً د رباب د زده کړې په باب تر دې پخوا هم خبرې شوې ، میجر راورټی او عبدالمجید افغاني دواړه مني چې موسیقی رحمان بابا په ژوند ژوراغېز درلود ، رحمان حساس او ژوندی زړه درلود او چې د رباب تار به وکړنګېدو او دهغه نه به خوږه نغمه راولړزېده نو رحمان رګ - رګ به ورپېده د بابې ګونډه به لګه دده د زړه په تار لګېده - دی به اکثر د استغراق په حالت کې و ... عجب خان - وایي چې رحمان آشنا مجنون په هندوستان کې د بزرګانو د خدمت له کبله د برخې خاوند شو او چې څه وخت وطن ته رخصتېده نو د خپل پیر شاه شرف قلندر

نه یې درحمان دپاره هم څه تحفه وغوښته - شاه شرف قلندر په رباب کې درحمان برخه مقرره کړه او راوایي ستولو - ولې شرط دې کې داوُچې مجنون به ترهغې رباب نه ګوتې نه وروړي ترڅوچې تې رحمان نه وي لېدلی او رحمان نه دې هغه ګوته وهی کومه چې دشاه شرف له لوري مقرر شوې وه نو مجنون به مرشي او رحمان به ژوندی شي هم دغه وشوه . مجنون چې هغه ګوته ووهله نو دی خو په ځای پرېوت مرشو او رحمان درې ورځې بېهوشه وُ او چې په خودشو نو حال یې بدل وُ...(٥٤)

همدارانګه بنا غلی جعفر اخکزی هم په دې برخه کې کاږي :

" وایي چې په رحمان به کله د آمد دوره راغله نو هغوی به خپل رباب په غېږ کې ورته کښېښوی او په تارو یې ګوتې پورې کړې ، د تارو څه به یو پرسوزه ساز پیدا شو او بیا به یې په خپله خپل اشعار ویل شروع کړه ، پرسوزه آواز او دلکش ساز به په یوه آن کې د عقیدتمند واجتماع جوړه کړه ... " (٥٥) څرنګه چې د دې خبرو له پاره کومې سند نه وُ نو دا ترا وسه د هغو فولکلوري خبرو له ډلې څخه ګڼلې کېدې چې په رحمان بابا پسې کېدلې خواوس د همدې رقص په غزل کې یو داسې بیت مومو چې د رحمان بابا د موسیقی په زده کړه دلالت کوي او ښیي چې ده موسیقی له استاد څخه زده کړې او په فني ډول یې په موسیقي کې لاس درلودلی دی ، وایي :

مسقی علم خپل استاد راته تعلیم کړ
راتمایې کړهر تار مقام درقص

اوس موچې درحمان بابا دا غزل ترلاسه شوې نو دده دې بلې غزلې څوبیتونه یې هم په ملا ترکې وړاندې کولی شو :

---

(٥٤) دیوان عبدالرحمان ، دمولانا عبدالقادر سربیزه ؛ دیوان عبدالرحمان د پروفیسر عبدالمجید سربیزه ؛ سوانح عمری دملا عبدالرحمان ، دعجب خان فولکلوري کیسه ، دلاهور چاپ .

(٥٥) اخکزی ، محمد جعفر : " وندر " ١٩٥٩ ع . کوټه ، ١٥٣ ځ .

هر مطرب چې غوږ ې تاوکا درباب | په دا تا وکې زما زړه کاندې کباب
چې سامع یې په نغمه په ترانه شم | دیوانه شم گریوان خیرې مست خراب
هم یې تار هم یې گفتار هسې اثر کا | چې هیڅوک یې نه طاقت لري نه تاب

تر دې وروسته درحمان بابا دمینې پراوونو ته راسپږو ، دی دمجازي مینې په پوړیو دحقیقي مینې دمعراج لورته ورختلی ، ځینې کسان دده مینه یوازې حقیقي مینه بولي اوله مجازي مینې نه یې منکر دی خو دده په دیوان کې داسې بیتونه مومو چې هیڅ منکر دانشي ویلی چې ده دې مجازي مینه نه وي کړې . موږ دده له پاړکونه داراانیستلی شو چې رحمان بابا په ښکلا او ښکلو مین و ، دژوند ډېره برخه یې دمینې په پاړونو او دبېلتون په بادونو کې تېره کړې ده ، کله هجران خوږولی ، کله وصال ، کله یوه پېڅې ښکار کړی او کله بل ، کله مینې کلی ورته اوږکړی او کله یې په بېدیاکې بې تابه کړی دی ؛ دده دژوند داتولې پېښې دده په شعرونو کې نغښتلې شوې او ترموږ پورې راسپېدلې دي درحمان بابا دژوند ډېره برخه په مجازي مینه کې تېره شوې او دعشق په مدرسه کې یې بې له زلفو ، بې له خطه ، بې له خاله بل څه نه وولوستی . په مینه کې یې له پېغور څخه عار نه درلود:

زه عار نه لرم په عشق کې له پېغوره | بې پروایم دستی په څېر له اوره

دده شعرونه ښېي چې ده زیاتې مینې کړې او زیاتو ښکلو یې زړه وړی:

زه رحمان په زړه نړی کړم هغو نجونو
چې یې ملا وې دوپښته په دودنړه

* *

په رحمان دښایسته وُ قدر ډېر دی
دطبیب له قدره چا زده بې ښکوره

که مې پېرې که مې پلورې چاره نشته
زه رحمان دښایسته ؤ خانه نرادیم

* * *

ګوښې ګوښې ښایسته مې زړه وکاږې
زه وکوم یوه ته وایم چې تا یوړ

او یو وخت داسې هم پرې راغلی چې :

زړه که یووې ما خو تالره درکړې
مګر نور ولره نور زړونه پیدا کړم

رحمان بابا مینې داسې پوړې ته رسولی ؤ چې دخپلو زړې لره کوچنی بند نه یې پستلی ؤ او ویل به یې :

زه عاشق یم سروکار مې دی له عشقه
نه خلیل ، نه داؤد زړی یم ، نه مومند

دنوخطو مینه درحمان بابا بله مشغولاوه :

خط دې تورحرفونه مخ دې پاڼې دکتاب دې
شغل دکتاب دې بل کتاب راتخه یوړ

* * *

په رخسار چې دې دخط غبار ګرګند شو
سربلنده شوه فرقه دخاکسارانو

* * *

سیاهې دنوې خط دې هسې زیب کا
لکه کښلی واړه توری د قرآن

* * *

څه شوکه زه نیم انګشت نما په مینه ستاکې
زیات له ما نه خوښ ته دقاضي هم دملاګې

ده ته عشق دومره رښتینی ؤ چې د سر قرباني يې په دې لاره کې هیڅ بلله :

وهغوته عاشق نه ویلی بویه

چې يې فکر يا د سر يا د دستار وي

په هرحال دده مینه د حسن او ښکلا مینه وه له جنسي او نفسي غرضه پاکه وه نو ځکه يې په جرأت سره ویل :

پسران دې عار زماله عشقه نه کا

پاك عاشق ، پیر او پلار دې واره یوڅي

* * *

[illegible] او منزه دی عشق د نفس له خاصیته

چېرته چاه دګېډې ، چېرته چاه د زنخدان

او همدې مینې ده ته داسې استغنا او غرور ورښلی وو چې په لوړه غاړه به يې ویل:

دلبرانو وته خاك تر تلی لا نسدې

د دې نور جهان په سرلکه آسمان یم

* * *

نوکري د معشوقو کوم په عشق کې

عمینی نه د بهلول ، نه د اورنګ خورم

د رحمان بابا په نظر کې د مینې معراج نه رسېدل هسې مرحله ده چې :

که مین يې په خپل یار باندې رښتیا آواره کړه اول دین پسې دنیا

د جنت له حور و تېر شه که یار غواړې خدای دې نقد د چا نه کاندې نسیا

* * *

عاشقان د سپین رخسار د تور و زلفو

خپرو الرې د کفر د اسلام

خبره نه اوږدوم؛ خو دومره وایم چې دده دمینې مهم پړاو حقیقي او دخدای مینه ده، دا پړاو دده دمینې معراج دی:

رحمان حسن دیار وینم په پرده کې
نه پټېږي نور د شمعې په فانوس

* * *

دا حجاب چې نور عالم یې حجاب بولي
دا زما دیار ترمیانه حجاب نه دی

* * *

که څوک وایي هنر کومه دی؟ وایه داری
چې بې خدایه نوره مینه په چانګه

ادبي شهرت او مقبولیت:

په وړاندې پاڼو کې مو دپښتې خزانې په استناد وویل چې رحمان بابا په ۱۰۴۲ هـ. ق کال زېږېدلی خوښاغلی اثر یې چې دکوم سند تر سنو دلو پرته دزېږېدو کال ۱۰۳۸ هـ. ق. سنو دلی دانظر هم ورکړی چې ده تر څورلس کلنۍ وروسته دمحمد صدیق پېښوري نه ادبي زده کړه کړې او شعر یې ویلی دی. موږ دا ترخبرې مخکې هم نه وې منلې او دلته یې هم نه منو؛ خو دحمان بابا روانې طبعې ته چې ګورو یقیناً په څورلس کلنۍ او پخلس کلنۍ کې به یې د شعر ویل پیل کړي وي نو زموږ په حساب به د ۱۰۵۶ یا ۵۷ - ۵۸ اوان تر ۱۰۶۰ کلو پورې دده د شعر پیلولو وخت وي دا وخت په هند او افغانستان کې د شاه جهان کورګاني د واکمنۍ (۱۰۳۷-۱۰۶۷ هـ.ق) دوره ده. دحمان بابا په دیوان کې داسې بیتونه موندل کېدای شي چې د شاه جهان

دواکمنی په دوره کې یې دویلو وخت واټکلو ولکه دا بیت :

د کاملې عقیدې له برکته
د دولهی په غاړه ناست شاه جهانیم

نو په دې اساس تر ۱۰۵۶ هـ.ق. کال وروسته دده شاعري په اټکلي ډول اوتر ۱۰۶۷ هـ.ق کال وړاندې په باوري توګه پیل شوې ده او که دخان خوشالخان ختک دا بیت :

سل سرېني دې تر دایو غزل ځارېږه
من چې دا پښتو ده کړلا نې خوشال ویلې (۵۶)

دده په برخه کې وبولو بیا نو دا هم ویلی شو چې درحمان بابا شاعري تر ۱۱۰۰ هـ.ق کال وړاندې چې دخوشال بابا دمړینې کال دی دومره شهرت موندلی وُ چې خوشال خان غوندې قادرالکلام او بې جوړې شاعر یې هم دې ته اړ کړی وُ چې دده دشعر داغېز کمولو له پاره په تعلی لاس پورې کړي او خپل شعر تر ده سپه وبولي .

دخوشال خان ختک خوښ ژبې زوی اشرف خان هجري چې په ۱۱۰۶ هـ.ق کال یې له دنیا نه سترګې پټې کړې دخپل وخت دشاعرانو په ډله کې رحمان بابا ته په دې مقام قایل دی:

خوښ زبان په زمانې مشکري نو لی — هغه واف (۵۷) چې مستقر یې پېښور دی
درحمان په ویل ځای دلقب نشته — چې یې ما شعر منظور کړ معتبر دی (۵۸)

---

(۵۶) کلیات خوشال خان ختک ، ۴۶۸ مخ .
(۵۷) واف بلبل .
(۵۸) رحمان بابا ، کامل مومند ، ۳۴ مخ (ده داشعر دهجري لدیوې داسې قلمي نسخې څخه راخیستې چې دچاپي نسخې په اصل کې نه وُ)

درحمان بابا په شعر دا قضاوت درداسې شاعر له خواشوی چې دخپل شعر په باب داسې نظر لري:

چې یې سحر بولي خوك شعر نه ما دی نور دواړو شعر سحر دادی
که باور دې په دانه شي پاخه گوره زما هر غزل شاهد په داد عوادی (۵۹)

پښتانه محققین درحمان بابا په شعر دهجري دري قضاوت کولو وخت تر ۱۰۹۲ ه.ق. کال وړاندې بولي ځکه چې تر دې کال وروسته هجري په هندوستان کې دکورګانیانو له خوا په بېلو- بېلو زندانو کې اچول شوی و نو ځکه ده دا قضاوت باید داسې وخت کړی وي چې درحمان بابا داشعار وزیاتې لمونې ورته رسېدلی وی (۶۰).

له دې خبرونه څرګندېږي چې درحمان بابا شعر تر ۱۱۰۰ ه.ق. کال وړاندې سبه شهرت موندلی او په ادبي حلقو کې پېژندل شوی او منل شوی و.

همدارانګه تر ۱۱۱۹ ه.ق کال وړاندې دده اشعار ددیوان په بڼه په ټولو پښتنو کې خواره شوي او دپښتو نخوا ګوټ -ګوټ ته رسېدلی وو او ده دخپل دې ادبي اوروحاني شهرت په بدل کې له پښتنو نه د "بابا" اعزازي لقب ترلاسه کړی و ځکه چې په پورتني کال میرویس نیکه په کندهار کې دخپل ملي غوږ ځنګ دپیل لپاره دده په دیوان فال اچوی او له ده نه په دې الفاظو مشوره غواړي:

" راسئ چې عبدالرحمان بابا قدس سره هم ولټوئ، چې دده دیوان یې خلاص کا هسې شعرونه وو... " (۶۱)

عبدالقادرخان ختک (۱۰۶۳- ۱۱۲۵ ه.ق.) چې دده همځولی دی هم دده یادونه کوي:

---

(۵۹) دیوان هجري، مرتب همیش خلیل، ۱۹۵۸ ع.، ۵۰ مخ.
(۶۰) رحمان بابا، کامل مومند، تر ۳۳ مخ وروسته.
(۶۱) پټه خزانه (عکسي نسخه)، ۴۶ مخ.

زه ختک دیاں په غم تازه - تازه شم
غوریه خپل رحمان که شو وړ ځنې ستړی (۶۲)

درحمان بابا په ژوند دده دادبي شهرت دخوږېدلو په باب دده په خپل دیوان کې هم ځای په ځای ځینې بلیتونه شته چې ځینې یې سره له دې چې دشاعرانه غرور او تعلی نښې نښانې دی خو بیا هم دده دادبي شهرت دخوږېدلو نمایندګي کوي :

ستا دحسن دتعریف له برکته
درحمن دشعر کوکې په عالم دي

* * *

چا پېژندم زه چې عاشق نه وم په جهان کې
اوس مې ستا له روې نوم رسوا په درست جهان دی

* * *

خوشالا اودولتا مې غلامان دي
زه رحمان په پښتو ژبه عالمګیر یم

رحمان بابا دومره ادبي شهرت موندلی وُچې دیوه ځانګړې ادبي سبک تیږه یې کېښوده اودده په ادبي مکتب کې دپښتو دېرخوږ ژبي شاعران وروزل شول اوهمدا سبب وُچې راوروسته شاعرانو په یوه خوله دده ستاینه وکړه اویوه یوه نیم ګېږی تعصب له کبله دده په شعری مقام سترګې پټې کړې .

دده په مرګ دده شاګرد یونس خیبری چې په ۱۱۰۰ ه.ق. کال زېږېدلی یوه له سوزه ډکه مرثیه وویله اودده ادبي مقام یې پکې وستایه :

چې پېدا له اشنایی سره هجران شه ځکه داغ مې په خاطر باندې ارمان شه

---

(۶۲) دیوان عبدالقادرخان ختک ، مرتبهٔ همیش خلیل ، ۱۹۷۲ع. ، ۲۱۶ مخ .

انجمن دښو یارانو نوبهار دی — جدایي وربانديې پېرو که خزان شه
چې په قدرګې درونه د دریاب وو — اوس صدف دمغو در وګورستان شه
چې په شرق داشنایي لکه نمر وخوت — په مغرب دجدایي کې نهان شه
داچې باد دجدایي په جهان ګرځي — له هیبته مې صورت بید لرزان شه
دسکوت قلف به یې خرنګ لیرې کېږي — چې په مرګ یې درون بند کلید زبان شه
له رحمانه فیض یاب عبدالرحمان شه — چې له دې سرایه په نوي سرای مهمان شه
مرګ سخي دښو خبرو هسې شوم کا — چې یې یو کلام زړه نه کېږي پرې ګران شه
چې په ملک یې نام دښکو شه مړنه دی — څه شو داکه په حساب دمردګان شه
په پښتو شعر یې هسې نامه یو وړه — چې خبرې یې په اشعار ایران توران شه

پرلذت شعر به څوک کاندې "یونسه!"
چې په مرګ ځنې خاموش عبدالرحمان شه (٦٣)

مصري خان ګګیانی درحمان بابا دعصر یو بل شاعر دی چې دده دخوږه شعر ستاینه داسې کوي :

شعر دفارسي وینم شیرین لکه شکره
شعر دپښتو کړ تر فارسي حمید رحمان لذیذ (٦٤)

معز الله مومند هم چې درحمان بابا دپېړې شاعر دی درحمان بابا دادبي قدرت او قوت ستاینه په دې ټکو کې کوي :

دتمامې پښتو نخواله شاعرانو
معز الله عبدالرحمن دی منتخب

---

(٦٣) دیونس خیبري دیوان ، دجمهوري ارګ دکتابتون نسخه ، ددې غزلې نقل بناغلی خپرندوی عبدالله خدمتګار راسپارلی چې په دې وسیله مننه ترې کوم.

(٦٤) دمصري خان ګګیانی دیوان ، دپښتو پښتو اکېډمۍ ، ١٩ ځ

* * *

که د شعر کرامت د چا نه غواړې
معز الله د رحمان شعر کرامت دی (٦٥)

کاظم خان شیدا چې د رحمان بابا تر مرګ وروسته زېږېدلی او د پښتو د پښتو خوږ ژبی شاعر دی د رحمان بابا د غزلو پېروي کوي :

د رحمان په دا مصرع د شیدا زړه دی
"ته پرې یې، که آهو یې، که جادو کمرې" (٦٦)

او هم په خپل یوه بل بیت کې دی او حمید بابا د دوو مومندو په نامه د سنو اذني حکیمانو په توګه پېژني :

په دې وخت کې که شیدا د واړه همندو ئې
ثنا خوان به وو هر دم ستا د ویلو (٦٧)

نجیب چې د رحمان بابا د ادبي مکتب شاګرد دی ځای په ځای د رحمان بابا د شعرونو په اقتفا او پېروۍ شعرونه وایي او دده په باب عقیده لري :

د شعرا ؤ سر حلقه عبد الرحمان دی
زه نجیب د ده د شعر دامنګیر یم
چې یې شعر لا مثل دی باندې سنایي
که رحمان وایي په شعر عالمګیر یم (٦٨)

د پښتو خوږ ژبی بېدل چې د پښتنو شاعرانو د یادونې په لړکې د رحمان بابا

---

(٦٥) د دیوان معز الله خان مومند، د خیال بخاري ترتیب او تدوین، ١٩٥٨ع. پښتو اکېډمۍ، ١٦، ١٠٠ مخونه. د دیوان معز الله خان مومند، د هېش خلیل ترتیب او تدوین، ١٩٦١ع. دار التصنیف، ٢٦، ١٣٩ مخونه

(٦٦) د دیوان کاظم خان شیدا، د هېش خلیل ترتیب او تدوین، ١٩٦٥ع، ١٤٢ مخ. د ابیت د کابل په چاپ کې نشته.

(٦٧) د کاظم شیدا د دیوان، د استاد بېنوا ترتیب او تدوین، ١٣٣١ ش، پښتو ټولنه، ٥٢ مخ. د دیوان کاظم خان شیدا، د هېش خلیل ترتیب، ٥٢ مخ.

(٦٨) د دیوان نجیب، ١٥١ مخ.

ته راسپږي نو د سلطان الشعراء لقب ورکوي اووايي :

چې مشهوريږي په پښتو ژبه دپوان دی — شعرا ؤ کې هغه عبدالرحمان دی
قال وحال يې سره سم زيات وکم نه دي — مسلم ځکه دهر دانا نا دان دی
په سلطان الشعراء دی ملقب دی — چې يې بيت مصرع په هر ځای کې برهان دی (۶۹)

عبدالعظيم راپيژنی دده دپيړۍ بل شاعر دی چې د درناوی سر داسې ورته تيښتوي :

دهمند عبدالرحمان صاحب په مثل — هسې خوږ زبان زما وی دريغه دريغه
زه عظيم به خاص غلام ددې همند وم — اوس ژوندی که په دنيا وی دريغه دريغه (۷۰)

ددې عصر په شاعرانو کې يوازې پښتو شاعر چې له رحمان بابا سره يې دمومندۍ اوختګی تعصب کړی نو له ختک دی اوښايي چې دهغې شاعرانه غرورکسات اخلي چې رحمان بابا دخان خوشالخان ختک په برخه کې کړی ، نو ځکه وايي :

چې په غوږ کا څوک گوم زما دنظم — درحمان دپوان به ومندی په جيب
برابر مې کړه غزل دده له شعره — چې د ووزی له خاطره شک اوريب

* * *

په لحد کې به توبه کا ندي له شعره
دا غزل کړمې څوک ولولي رحمان ته (۷۱)

د پښتو خوږ ژبی اود ځانګړی ادبي مکتب د لودونکی شاعر پيړۍ محمد کاکړ چې په همعصرو کې ترخپل شعر لوړ نه وينې ، درحمان بابا شعر معجزګڼي اووايي :

که هر څو وايي نازک شاعران شعر — ولې دوی ګڼي معجز درحمان شعر

---

(۶۹) ديوان بيدل ، دهمېش خليل ترتيب اوتدوين ، ۱۹۵۷ع . ، ۲۱۲ مخ .
(۷۰) ديوان عظيم ، ۱۳۳۳ ق . ، لاهور ، ۶۳ مخ .
(۷۱) ورکه خزانه (لومړی ټوک) ، همېش خليل ، ۱۹۶۰ع . ، ۳ ، ۵ مخونه (د نوازختک برخه) .

سوزگداز د محبت یې مگر زیات و — چې سوزان یې هسې شان کړ بیان شعر
جوړ په شعر کې د رحمان غیب اللسان دی — په داخبر نشته هرگز د انسان شعر
تر مصرع یې ځار شه لاړ د ملغلرو — په څه تاریې آویخته کړ یکسان شعر
هیڅ تر شعره د رحمان به ډېر کم نه وي — ومنصف ته دختک خوشال خان شعر (۷۲)

رحمت داوی د دوولسمې پېړۍ د اواخر و یو بل شاعر دی چې په کشمېر کې هستېده او د رحمان بابا تر شعر داسې قربانېده :

هر څوك شعر کا هم لاف د شاعرۍ کا
زه قربان تر شیرین شعر د محمد (۷۳)

شمس الدین کاکړ چې د پیر محمد کاکړ د ادبي مکتب پیروی دی ، د خپل استاد په پیروۍ د رحمان بابا په باب وايي :

که څوك ونېسي په لاس مېزان د شعر — په عروض کا سنجیده بیان د شعر
و به نه رسي په شعر له رحمانه — که هر څو کوی هوس افغان د شعر
په تحقیق سره رښتیا لسان الغیب دی — لیاقت یې د لوده لسان د شعر (۷٤)

میں زاحنان بارکزی د رحمان بابا شعر یو تر بل سنه ګڼي او وايي :

بل رحمان سر بندی د پښتو ر دی — په پښتو یې غزل به دی یو تر بل (۷۵)

عبدالله پویلزی یو بل کندهاری شاعر دی چې د رحمان بابا شعر معجزه بولي او وايي :

د رحمان له شعره بوی د معجزې ځیی
مرید نه کاندې له پیره برابر (۷٦)

---

(۷۲) د پیر محمد کاکړ دیوان ، د استاد بینوا ترتیب او تدوین ، ۱۳۲۵ ، پښتو ټولنه ، ٤۲ مخ .
(۷۳) ورکه خزانه ، لومړے ټوك ، ۱۵۳ مخ .
(۷٤) د شمس الدین کاکړ دیوان ، پښتو ټولنه ، ۱۳۳۳ ش . ، ٤۱ مخ .
(۷۵) د حنان بارکزی دیوان ، پښتو ټولنه ، ۱۳۳٦ ش . ، ٦۳ مخ .
(۷٦) روهي ګلونه ، د استاد خادم ټولونه ، ۱۳۲٦ ش . پښتو ټولنه ، ۱۲۱ مخ .

عبدالغفار هوتك دکلات دسیوري شاعر چې د دیارلسمې پېړۍ په اوایلو کې یې ژوند کاوه درحمان بابا دادبي مکتب پېروی اوځان دده نایب بولي؛ په افغان کې شاعران ترحساب تېرېږي

عبدالغفار دی درحمان شاعر نایب[77]

درواني پېړۍ داوایلو شاعر قاضي میراحمد شاه رضواني درحمان بابا شعرونه له وجد اوجذب څخه ډک گڼي اووایي :

بیا په دوردشاه عالم په څېرېنو کې — راښکاره شو په جهان عبدالرحمان
موسیقان غوندې یې هسې نغمې وکړې — چې یې پورې کمرلوا ورپه کل جهان
تا به وې چې دشپږ انخواجه حافظ دی — چې پیدا شو په اولس کې دافغان
که صوفي، که محتسب اوکه قاضي و — بې له مانه تول یې گډ کړه په مېدان[78]

په دې سربېره احمدي صاحبزاده[79]، قنبرعلي خان اپریدی اوقاسم علي خان اپریدی[80] هم درحمان بابا په پېروی شعرونه وایي او یا دونه یې کوي.

درحمان بابا شهرت اومقبولیت دومره زیات وُ چې په ډېرلږ وخت کې یې شعر تولې پښتونخوا تسخیر کړه اود "ره وه"، لوستې، نیم لوستې اونالوستې تولې حلقې یې ځان ته ورجلب اوجذب کړې، صوفیانو یې په شعر کې دمعنوي دنیا وړانګې ولیدې، سیاستمدارانو اوملي مشرانو دخپلو ملي غوړځنګونو په لارو کې دروې کار ترې واخیست. مستانو اوجذوبانو درباب په تارونو کې دده نغمې ونغوښې، هرڅوک یې په ژبه پوه اودهرچا دزړه تېرونو ته ملحم شو، څوک چې لوستې وو

---

(77) دعبدالغفار هوتك قلمي دیوان.
(78) روهي گلونه، ۱۲۳ مخ.
(79) تېرهېر شاعران، عبدالحلیم اثر، ۱۹۶۳ع. پښتو اکېډمي، ۱۴۲ مخ.
(80) وگورئ دقنبرعلي خان دیوان، دپېښور چاپ اودې نومه مؤلف "رحمان بابا".

دده شعر ونه يې په خپله ولوستل ، دنيمه لوستوله پاره يې دلوستو شوق او ذوق ورو باندې او ډېر داسې کسان پيدا شول چې يوازې درحمان بابا دشعر دلوستو مينې دتور او بور نده کړې ته اړ کړل . چا چې په خپله نه شوې لوستې هغوی هغه کسان لوستلو ته مجبور کړل چې لوستاې يې شول، او دوی ته يې واورول ؛ مطلب نړاوښځو تولوته دده شعر ونه ورورسېدل او هرچا دخپل زړه هيلې اومرادونه پکې ولټول اوپکې وموندل .

دده په ژوند دده دېوان په ټولو پښتونخوا کې خورشو او ډېر ژر درحمان بابا دلوې ادبي مکتب په وړه دپښتونخوا دېر شاعران ورنوتل اوله دې منبع څخه يې دشعر سوز اوالهام واخيست .

لوی استاد پوهاند عبدالحي حبيبي درحمان بابا دادبي سبک سبګړې اوځانګړنې داسې شمېري :

۱ ـ په دې سبک کې شاعر دروح الهام مني ، دمادې سره يې دېر سروکار نه دی ، له هغې دنيا څخه خبرې کوي چې له دې خاکي دنيا څخه پرته بله دنيا ده او د معنوي فيوضاتو منبع هم دغه ځای دی .

۲ ـ په دې سبک کې شاعر له مادي کثافاتو څخه لېرې کېږي اوهلته ځې چې صلح کل دی اوددې خاورينې نړۍ غوغا اوشور ماشور پکې نشته ، شاعران يې ددنيا پر بد وتنقيد کوي اوځان يې له ګکمرو اوکرکېجنو څخه پاکوي .

۳ ـ پداادا احساساتو په تصوير اونور وسبګړو کې داسبک خوراسپېڅلی اوسليس دی ، ابهام سبه نګني . دشعر الفاظ اوعبارات ساده اوسپېڅلي غوره کوي .

٤ ـ غزليات ، قصايد ، رباعيات ، تخميس اودشعر نور ټول اقسام په سپېڅلي ډول وايي اودېر له مينې اواخلاقو څخه ږغېږي .

۵ ـ دعشق اومينې په دنيا کې هم دواقعيت خواته ځي او دخيال لږ تابع کېږي.
۶ ـ ددې سبک شاعر عشق او الهام دژوندون مدار ګڼي ، يقين او ايمان پر عقليت باندې خوښوي.(۸۱)

هو ! په دې لاره د پښتو شاعران روان شول او په سوونو وينا والو له رحماني غږ څخه الهام واخيست.

درحمان بابا ادبي لارې مشهور لاروي دادي :

عبدالرحيم هوتک ، احمد شاه بابا ، اخوند درويزه ، عبدالعظيم سواتي ، ميانعيم متې زی ملاجمعه باڼکزی ، عبدالنبی بېټنی ، شېر محمد هوتک ، مطيع الله پېرخېل ، ـ قاسم علی اپريدی ، يونس ، غفور ، صديق ، شمنواز ، دالپوری حافظ(۸۲) نيازمحمد ، عبيد ، نصرت(۸۳) ، ابن يمين ، بازمحمد بنګښ ، عبدالرسول ماشوری عبدالغفار هوتک ، عجب ، فضل شاه ، ګل محمد کاکړ ، شېخ نامدار ، معزالله خان مومند(۸۴) ، عبدالوهاب اڅکزی(۸۵) اونور ...

په پښتو نخوا کې درحمان بابا شهرت او محبوبيت دومره زيات شو چې دده شعرونو دخلکو په ورځنيو خبرو کې دمثلونو بڼه وموندله او دپاخه سند په توګه استنا د پرې وشو.

دپښتنو ديره لوی روحاني شخصيت سوات صاحب څخه روايت کېږي چې ده به ويل : "چې که چېرې دکلام پاک نه علاوه بل کلام کې موږ کول رواوي نو ما به يقيناً درحمان صاحب کلام غوره کړی وُ." (۸۶)

---

(۸۱) پښتانه شعراء ۱/۳۱
(۸۲) ددې کسانو سوانح په لومړی اودوهم ټوک پښتانه شعراء کې ولولئ !
(۸۳) ددې شاعرانو سوانح په لومړی ټوک ادبي ستورې کې ولولئ !
(۸۴) دلندې پښتو ګلوی له پاره يې وګورئ : هيواد مل ، زلمی : فرهنګ زبان وادبيات پښتو.
(۸۵) وګورئ : زيری ، دلیکونکی مقاله ، د ۱۳۵۶ کال ، ۱۳ ګڼه.
(۸۶) تاريخ ريا ست سوات ، محمد آصف خان . ۱۹۵۸ء ، ۱۱۱ مخ.

هغه مشاعري چې لا تراوسه يې هم دلري او بري پښتو ښوا شاعران د بابا په مزار کوي دده محبوبيت او مقبوليت ښه ښکاره ند وي کولای شي او څوچې پښتو او پښتون وي "رحمان" به "بابا" او وينا به يې د زړونو دواوي.

مرينه او مزار :

پټه خزانه کان يې چې رحمان بابا "په سنه ۱۱۱۸ هجري وفات شو خلق يې تراوسه د پېښور په هديره کې زيارتونه کا."(۸۷) نو چا دده د مرينې نېټه نده ضبطه کړې خصوصاً د رحمان بابا شاګرد يونس خيبري دده له سوز دکه مرثيه وايي خوله بده مرغه د مرينې تاريخ يې نه ښيي.

د رحمان بابا په ديوان کې داسې داخلي شهادتونه شته چې دده ژوندتن دې کال راوستهم ثابتوي، په دې شهادتونو کې يو هغه اوږد نظم دی چې داورنګزيب مرينه پکې ياده شوې، اورنګزيب د ۱۱۱۸ کال د مياشتې په ۲۸ نېټه مړ شوی دی خو په دې نظم کې يو بيت دی:

اوس نوبت د شاه عالم دی
دوړ او طوړ يې شو د ګر

او څرنګه چې شاه عالم د ۱۱۱۹ هـ. ق په عاشورا ګاخيره کې خپله پاچايي اعلان کړې نو ځکه ښاغلی کامل داپاړکی د ۱۱۱۹ هـ. ق. کال بولي(۸۸) او په دې وسيله دده ژوندتن ۱۱۱۹ هـ. ق کال پورې ثابتيږي. همداراز د بابا په ديوان کې د ګل خان او جمال خان د مرينې په پېښه هم يو نظم شته چې د ا

---

(۸۷) پټه خزانه (عکسي نسخه)، ۴۵ مخ.
(۸۸) رحمان بابا، ۲۲ مخ.

پېښه د رحمان بابا ژوند څېړونکو د اورنګزېب دویمه لسیزه مخې له ۱۱۲۳ هـ.ق. کال سره مربوطه ګڼله او د اورنګزېب دویمه پېړۍ د دوه ژوند تر دې کال پورې هم اټکلا وه[89]؛ خو څېړنګرچې د اورنګزېب خپل سند نه و سنو دلی د اسنه اټکلی بلل کېده، اوس چې د تاریخ مرصع متن د کامل مومند په همت خپور شو هلته په صراحت سره ددې پېښې په باب لیکل شوي:

" پس له فوته د اورنګزېب بادشاه جمال محمند او بعضی ظاهر بین کوته اندیش ورسره سر په شورش پورته کړی و - په محمند کې موسرینی وه او موسرینی په محمند وکې کمزورې تېره ده - غرض یې دا وه چې په دا شورش کې به د مانامه ناموس وشي - اربابي به بیا مومم - په دامیان کې د پرافراط تفریط وېشنه وشه - هرګاه چې په سن زرسل دوه ویشت صوبه داري د دارالملک کابل په نامه د ناصرخان شوه - پښاور ته راغی، اربابي یې ورکړه - اما دده ناکردې چې پخوا د ناصرخان ترسرداری یا په صوبداری کې یې د ناصرخان کړې وې د ناصرخان په خاطر وې په خپلې اربابۍ کې یې کلی د عیسی محمند هم وواهه - په تل یې ختنه وکړه - عیسی محمند په خپل خپل کې زورور دی - جوړه یې د ناصرخان سره وکړه - د مغل په ویرانی کې پښتانه خپله مدعا ده.

مصرع : بهر طرف که شود کشته سود اسلام است

په دامیان کې د جمال د زوی د واده کار پېښ شه - ناصرخان دوه زره روپۍ هم په طریق د انعام ورکړې - لوړ عیسی په قوم د مغل جرګې ورپسې کړه - هغه شپه چې یې د زوی واده و د لښکره سره وروان شه.

---

(۸۹) رحمان بابا، د دوست محمد کامل، ۲۷ مخ. رحمان بابا، د مجهول مؤلف، ۱۲ مخ.

په کوربې ورځې - جمال له دې هسې آفته غافل وُ مخې ته ورووت - تاب
يې دجنګ راته وو - زخمي کورته ننووت - عيسیٰ يې په کور اوريږکې
پکې وسه - انتياکسه نرښځې وو کې هلکان دواده هم په هغه کورکې ورسره وسول
داواقعه په سن نهسل دروپشت وه - خدائے دې له دې هسې آفته
امان وکا." (۹۰)

مونږ وينو چې ددې پېښې په باب تاريخ مرصع يو باوري او دهغه وخت
سند دی چې راورتې هم بې له دې چې خپل اخُ وښيي له همدې تاريخ نه
ددې پېښې کال سبودلی دی . له بله پلوه رحمان بابا دا تراژيدی په خپل
يوه نظم کې په ډېر سوز اودرد انځور وي :

ډېر ياران وو دګل خان او جمال خان — په کار نه شو يو په وخت دزړستان
دهمه وار ويار الوځ دې تور شي — که به څوک وبله ياري کا په داشان
چې يو يار په سوري پروت وي بل په اوږکې — وهغوته به څوک څه وايي ياران
هېڅ تعريف يې په داش به وايه نه شي — صد رحمت شه په ياره هم دګل خان
په دا پورته د ياره شرطونه څه وي — چې په اوږکې دواره وسوځي يکسان
چې له آله له اولاده سره وسول — خدائے دې نه کا څوک دمسې مظلومان

تر يا په...

څرنګه چې دادهماغه پېښې انځور دی او دپېښې کال هم ۱۱۲۳ھ.ق کال
دی نو ددې باورې سند له مخې تر ۱۱۲۳ھ.ق کال پورې درحمان بابا ژوندی يقينی
کېږي خو تر دې وروسته څرګنده نه ده چې تر کوم کال پورې ژوندی و.
اوس په دې برخه کې يو بل ځ... هم راځو ته کېږي او هغه دا چې تاريخ مرصع

---

(۹۰) تاريخ مرصع ، افضل خان خټک ، ۱۹۷٤ ع . ، ٤۰۲ مخ .

او پټه خزانه دواړه د پښتنو باوري سند ونه دي او په تاريخ مرصع کې د پېښې کال په توګه ، " سن زرسل درو پشت " کښل شوی او هم د تاريخ مرصع ټولې نسخې په دې برخې کې يوه خوله دي ، ځکه د دې کال د باور وړ ګڼل د شک ځای نه پاتې کېږي ؛ خو په پټه خزانه کې د رحمان بابا د مړينې د کال (۱۱۱۸ هـ . ق .) په باب د اټکل ځای شته ځکه چې هلته د کال په شمېر (۱۱۱۸) کښل شوی اوله بلې خوا د پټې خزانې د تر لاسه شوې نسخې په پای کې کاتب کښلي : " باستعجال تمام قلمی شد " نو د دې اټکل ځای پيدا کېږي چې سنا يي د پټې خزانې په بله نسخه کې به داسې " ۱۱۱۸ " نه بلکه بل څه اوم احياناً " ۱۱۲۸ " وي چې د دې " استعجال " په سبب به " ۲۸ " ، " ۱۸ " کښل شوې وي . او که د اټکل ومنو نو بيا به د رحمان بابا ژوند تر ۱۱۲۸ هـ . ق . کال پورې راوغزېږي . په هرحال ، که رحمان بابا د ۱۱۲۴ هـ . ق . کال په شا او خوا کې مړ شوی وي نو ويلای شو چې د " ۸۲ " کاله عمر کړي او که تر ۱۱۲۸ کال پورې يې ژوند اټکل کړو نو بيا يې ژوند " ۸۶ " کلونه اوږدېږي او دا کوم غير عادي او ناشونی ژوند نه دی .

د رحمان بابا مزار د پېښور ښار ته د برلنډ په هزارخانی کې دی او د اخون د ويږه په هدېره کې خښ دی چې خلک يې زيارت ته ورځي او کال په کال يې د پښتو نستان شاعران په مزار غونډه کوي . د ده قبر ځوانه پخو خښتو روغ وخو په ۱۹۵۸ ع . کال پښتو ټولنې د کابل د حجارۍ او نجارۍ په فابريکه کې د مرمر وله د بري څخه جوړ شوی ښکلی او نفيس تعويذ ورواستاوه او د ده په قبر کېښودل شو .

رښتيا هم چې :

که نظر که څوک په کار د درويشانو — خو به ويني وقار د درويشانو

هومره خلق بې زيارت کا پس له مرګه — چې بازار وي په مزار د درويشانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه د پرشم

زه رحمان په خپل شعار شکر گوزاریم
چې راهسې رنگ د پوان مې د موندلی

[II]

د رحمان بابا د پوان

د رحمان بابا د د پوان را تولېدلو په باب هم لکه د ده د ژوند پېښو غوندې هر چا بېلې بېلې خبرې کړې او بېل - بېل نظرونه پرې وکړل شوي دي چې موږ يې دلته بېل - بېل څېړو :

فولکلوري روايت :

زه د پرکوچنی وم ، د رحمان بابا شعرونه مې له خپلې خورځخه (چې په خوند - به يې لوستل) اورېدلی وو خو په خپله يې لا د لوستلو نه وم ، په همدې وخت کې مې له دې نه دا فولکلوري روايت هم اورېدلی وُ : " رحمان بابا يو ملنگ شاعر وُ ، له خلکو نه به گوښه د سيند په غاړه ناست وُ ، شعرونه به يې ويل

او په هغو کودو ورو به يې لپکل چې خپل څنګ ته يې راټول کړي وو ، يو وخت څوك ورځې او دې يې د شعر په لپکلو بوخت ولېد ، رحمان بابا د پښ ژر لپکل شوې کودو ډېرې سپېنې ته واچول ، هغه کودو ډېرې چې تري پاتې وو هغه سړې سره راټول کړل او رحمان بابا دا موجوده دېوان يې تري جوړ کړ."

دا يو منلی روايت وُ چې د رحمان بابا د وينا د عامو علاقمندانو قناعت يې حاصلاوه او اوس يې هم مني .

له فولکلور نه متاثر روايت : د رحمان بابا د دېوان د لومړنی سرچينه لېکونکی پروفېسر عبدالمجيد

افغاني د رحمان بابا د دېوان د راټولېدو په باب لېکي :

"... څه وخت چې مجنون (۹۱) ده ته هغه رباب د طريقهٔ چشتيه وغږ اوه نو مجنون مړشه او عبدالرحمان درې ورځې بېهوښه پروت وُ چې څه وخت په هوښ راغی نو حالت دده تبديل وخوړ اوله ښکاره شمار شه او د دې وجې نه به ده سرود او ربدلو او آخر پرې د ومره استغراق غالب شه چې نمونځ ترې نه هم پاتې شه او د پښتنو په اصطلاح د ملا عبدالرحمان نه يو ملنګ جوړ شه ، والي چې شپه او ورځ دې وُاوژړاوه ترهسې چه پورې چې اوښکو يې په مخ باندې لاړې جوړې کړې ، خدای ورله يو څو دوستان هم ورکړې وه چې ده به څه ويل هغوی به جمع کول او دا دهغې يارانو برکت دی چې د عبدالرحمان د زړه قطرې په هره جګړه کې په وينو سړې پرتې دی..."

---

(۹۱) مجنون په رحمان بابا پورې د تړل شوی فرضي معشوق نوم دی چې عجب خان يې په آب وتاب بيا نوی او يوه اوږده کيسه ورته توږي (وګورئ : سوانح عمری ملا عبدالرحمان ، د لاهور چاپ .)

... بیاهم ددې قابل نه وُچې خپل اشعار یې جمع کړي وي دوستانو به جمع کول او دهغه دمرګ نه وروسته یې داد پوان جوړ کړ مګر بیا هم د عبدالرحمان دپر اشعار ضایع شوي او او س هم دهغه په دیوان کې دپر اختلاف دی ، دپرې غزلې دي چې په موجوده دیوان کې نشته مګر دپښتنو په مجلسونو کې ویلې کېږي ...."(۹۲)

تر ده وړاندې مېږ راورتې هم نظر ورکړی وُچې رحمان بابا به چې شعر ونه وویل نو دهغو نقل به یې خپلو خاصو دوستانو ته واستاوه ، دده دوستانو به دغه دځان سره ټولول او ساتل خو دیو بل نه خبر نه وو هر اشنا به یې داخیال کړو چې دده دمرګ نه پس به دغه یو ځای کړي ، دده دوستانو همدغسې وکړه ، دده ځینې نېمګړو دوستانو په دې غرض رحمان په کلام کې خپل کلام ګډ کړو چې دا معلومه شي چې له دوی څخه رحمان دکلام ذخیره تر نورو زیاته ده ، کلام به ددوی وُ او کسر به یې پرې رحمان وویلو ددې نتیجه داشوه چې دده ددیوان دوه دفترې یا حصې جوړې شوې ، داتګی برګی په وخت معلومه شوه ځکه چې رحمان ځینې دوستان لا ژوندي وو او دهغه ویلې اشعار یې پېژندل هم ، دوی پېرته چاڼ کړه او سوچه کلام یې پاتې شو خو بیا هم په دپر ونسخو کې اختلاف موجود دی ...(۹۳)

دراورتې دانظر هم تر دپره حده په فولکلوري روایاتو ولاړ سنګاري او دکوم باوري سند له مخې نه غږېږي .

یوه بله رایه :

رحمان بابا ددیوان غونډ ولو په باب یوه بله رایه دار واسناد مولانا عبدالقادر ده:

(۹۲) دیوان عبدالرحمان ، دپروفیسر عبدالمجید په سرېزه ، دلاهور چاپ .
(۹۳) دیوان عبدالرحمان ، د مولانا عبدالقادر سرېزه ، "خ" او "د" مخ .

چې دنورو رایو په نتیجه کې یې ورکړې ده ، دی وایي چې : "داستغراق په دورکې درحمان کلام دده دوستانو جمع کړی دی او چې کوم وخت بیا رحمان د دنیا څوند ته په راګرځېد و مجبور شو او دده کلام کې داولس او قوم په اخلاق درای زنګه کیفیت پیدا شوی دی - نو شاید ده ته داخیال پیدا شوی وي چې راشه دا دیوان راغونډ کړه دا بعید از قیاس نه ده ، دا هم ضروري نه ده چې شاعر چې څه ووایي نو ګڼی تل دې هغه دده دحافظې په کتاب کې موجود وي، دېر ځله شاعر ته خپل کلام نه وي یاد ولې دوستانو شاګردانو یې یاد لرلی وي، کېدی شي چې دترتیب په وخت هغه ټول خلك دده شا او خوا موجود نه وو او ځکه دده دېر بې غزلې په ملکو کې خورې وې ، ولې دیوان کې شاملې نه کړی شوې ... "(٩٤)

مستند نظر :

لوی استاد پوهاند عبدالحي حبیبي (٣٦) کاله پخوا په پښتانه شعراء کې وکښل :

" محققین مورخین دې خبرو ته اهمیت نه ورکوي (دده د دیوان وروسته ټولول ښیي) او وایي چې رحمان بابا خپل دیوان په خپل څوند غونډاو مرتب کړی دی . لیکن دا موجوده دیوان درحمان ټول اشعار نه دي ځکه چې درحمان دېر اشعار په دې دیوان کې نشته مګر د پښتنو په خولو کې جاري دي..."(٩٥)

د دې نظر په ملاتړ کې مونږ دوه ډوله ملاتړی شهادتونه لرو: یو په خپله هغه شهادتونه دي چې ځای په ځای دده په خپل دیوان کې موندل کېږي.

---

(٩٤) دیوان عبدالرحمان ، د مولانا عبدالقادر سربېزه ، " د" او "ذ" مخونه.
(٩٥) پښتانه شعراء ، ١/١٩٤

او بل هم دهغه وخت د معاصر و متنونو شهادتونه دی.

موږ درحمان بابا په دیوان کې داسې بیتونه مومو چې نه یوازې داښیي چې ده خپل دیوان په خپله ټول کړی بلکه داهم څرګندوي چې ده له خپلو شعرونو سره د پښتو مینه درلوده او په زیاته علاقه یې په غوندې ولو بوخت وُاو د دیوان ترجوړېدلو مخکې دهغه بیاض پټه هم راکوي چې ده به خپل شعرونه له ویلو سره سم پکې ثبتول:

هسې زیب کا په بیاض درحمان شعر
لکه زلفې د خوبانو په رخسار

دده له خوا د خپلو شعرونو دلیکلو په برخه کې دا بیت مخې ته راځي:

درحمان ترقلم مسبک او عنبر اوري
چې آغان یې کړه اشعار د تورو زلفو

له خپلو شعرونو سره دده مینه له دې بیتونو څخه ښکاري:

درګوهر په تله نه دي چا تللي
درحمان شعر ګوهر دی خدې تولې

* * *

په غزل کې خو دوه بیته انتخاب وي
درحمان تمام غزل دی انتخاب

* * *

لکه زه چې سخندان او هنرمندیم
بل به نه وي سخندان او هنرمند

* * *

هم نغمې کاندې هم رقص کا، هم خاندی
درحمان په شعر تُرکی د باګرام

او دا بیتونه خو یې دهغه وخت دی چې دی د بشپړ دیوان خاوند و :

یو کتاب په سر بن کې چا ونه کړ
بې رحمانه چې یې جوړ کړو دا کتاب

* * *

د رحمان وسوزان شعر ته حیران یم
چې یې او ربل شوی نه دی په دیوان

* * *

درست دیوان د رحمان زار تر دا غزل شه
چې بیان یې کړو کردار د د روښانو

* * *

زه رحمان په خپل اشعار شکر گوزار یم
چې دا هسې رنگ دیوان مې دی موندلی

د "کتاب جوړول" ، "درست دیوان" او "دیوان موندل" په خپله د دې معنی لری چې ده خپل دیوان په خپل ژوند ترتیب کړی او جوړ کړی دی.

د رحمان بابا په ژوند دده د دیوان د ترتیب پدلو په باب یو بل دلیل دا هم دی چې دی لا ژوندی و چې دیوان یې په ټولو پښتنو کې خور شوی و او پښتنو دده د دې لوی ادبي قدرت په صله کې د "بابا" د وند لقب ورکړی و ، په ژوند کې یې دده دیوان د پښتو او د ختیځ افغانستان ټولې سیمې فتحه کړې وې او دده په ژوند دده له لقب "بابا" سره د افغانستان لویدیځو سیمو ته ان تر کندهار پورې رسیدلی ، خور شوی او منل شوی و او د سره د سره یې د رحمان بابا دیوه لوی روحانی شخصیت په توگه خلکو ته ور پېژندلی و ، همدا سبب و چې د رحمان بابا ترمړینې څوکاله وړاندې ملی مشر میرویس نیکه ده ته د دې د عقیدت د رلود لو

له مخې دده په دیوان پال نبسي او په خپل ملي اقدام کې دده روحاني ملاتړ ترلاسه کوي او دی لومړی ځل ورته وايي :

زه مکتوب غوندې په پټه خوله گويايم — خاموشي زما تېرې کا ترغوغا زما
کښېنت د عشق په توده زمکه امان چېرې — سمندر بويه چې زليست کا په صحرا زما

خو بيا بل ځل داسې مشوره ورکوي :

چې آسمان يې مخ پټ کړي په سحاب ؤ — خدای و ماوته ښکاره کړه هغه لمر بيا
چې رقيب راته ترلی په زنځير ؤ — خپل حبيب راباندې پرانست هغه ور بيا
په وصال يې منت بار اوسه رحمانه
په صدف کې دخپل نشته دگوهر بيا (۹۶)

او مېرويس ښکه هم د رحمان بابا مشوره خلکو ته ابلاغوي او په خپل ملي غورځنگ په ۱۱۱۹ هـ.ق. کال کې پيل کوي.

په دې سربېره دوخت دودهم داسې وُچې شاعرانو به خپل دیوانونه په خپل ژوند ترتيبول ؛ مثلاً د خوشال خان ختک هغه دیوان چې دده له مرګ نه يو کال مخکې لېکل شوی ددې خبرې سند ثبوت دی (۹۷) داچې هر شاعر به هغه ګوله چې د ټولو توروپټی ، په خپل دیوان کې ولري په خپله ددې سند دی.

اکثر وشاعرانو چې خپل دیوانونه د "تې" تر ردیفه رسولي ، بيا يې سره ټول کړي د دیوان کړې يې دي او په خلکو کې خواره شوي ، ددیوان له ترتيب نه وروسته يې چې کوم غزلونه ويلي هغه بيا دده يا نور وکسانو له خوا په خپل خپل ځای ددیوان په څنډو او يا هم دوروستيو نسخو په متن کې وزيات شوي دي.

---

(۹۶) پټه خزانه (عکسي نسخه) ، ٤٦ - ٤٧ مخونه.
(۹۷) د خوشال خان ختک ددیوان دا نسخه د پښتو ټولنې په کتابتون کې خوندي ده.

کله چې رحمان بابا په ژوند دده د دیوان د ترتیب د او راغونډ پد و په باب د ومره کلک اسناد او دلایل لرو نو بیا په دې کې د هیڅ شک ځای نشی پاتې کېدلای چې ده دې خپل دیوان په خپله نه وي ترتیب کړی.

نو ځکه په نتیجه کې ویلای شو چې رحمان بابا خپل دیوان په خپل ژوند په خپله ترتیب کړی دی.

دا چې ځینې غزلې او بیتونه یې کم او زیات دي او یا یې د دیوان د نسخو ترمنځ زیات توپیرونه دي د دې بېل - بېل عوامل دي یو دا چې ښاغلي ځینې غزلونه له ده نه د تدوین په وخت کې هېر شوي وي او یا یې نقل په لاس کې نه و، ځینې غزلونه یې ښاغلي تر تدوین وروسته ویلې وي، ځینې شعرونه یې متعصبین د دیوان له نسخو څخه غورځولي لکه د "رقص" په ردیف غزل چې په یوازېنۍ نسخه کې را پاتې ده او د نسخو ترمنځ سره توپیرونه خو د "خطاطانو او کاتبانو" خاصه لوړینه (!) ده چې د هر چا او هر تألیف په حق کې یې لري او یوازې د رحمان بابا د دیوان یې نمونه نه دی.

یوه بله پوښتنه لا پاتې ده او هغه دا چې د رحمان بابا د دیوان ولې په عنعنوي ډول په دوو دفترونو کې را پاتې دی؟

دلته یوازې تکل داسې هم کېدای شي چې ښاغلي په یوه دفتر کې د رحمان بابا د ژوند دلومړۍ برخې او په بل دفتر کې یې د ژوند د بلې برخې شعرونه تر ردیف او تدوین شوي وي نو که دا تکل ومنو هم دلومړی دفتر شعرونه د ده د ژوند دلومړۍ برخې نه دي ځکه په دې دفتر کې د رحمان بابا هغه نظمونه شته چې د ژوند له روستۍ برخې سره یې اړه لري لکه دا ورنګزیب مرثیه او د ګل خان او جمال خان کیسه؛ نو عجالتاً د خپل دې اتکل مانځه داسې وړاندې ولاړ شو چې ښاغلي رحمان بابا د خپل ژوند دلومړۍ برخې شعرونه په یوه دفتر کې سره ټول کړي

اوتر ديف کړي اوترهغه وروسته شعرونه يې په بل دفتر کې راغونډ کړي اوتدوين کړي وي؛ څرنګه چې ددوهمې برخې شعرونه يې په حمد، نعت اوددنيا په بيوفايۍ پيلين يې نو ځکه دوهم دفتر تر لومړي دفتر وړاندې شوی اويو دبل ځای يې نيولی دی چې دامو ومنله نو بايد داهم ومنو چې په خلکو کې دده په څېر وند بايد دده ددېوان دوهم دفتر خوړ شوی وي اولومړی دفتر يې بيا وروسته خلکو ته رسېدلی وي خو کله چې هغو فالونو ته راورسېږو چې مېرويس نيکه درحمان بابا په څېر وند په ۱۱۱۹ هـ.ق. کال کې دده په ديوان اچولي نو بيا زموږ دا تهکل دامانې هم وړانېږي ځکه هغه دواړې غزلې چې مېرويس نيکه فال پرې نيولی دده ددېوان په موجوده لومړی دفتر کې دي اوپه همدې دفتر کې دګل خان اوجمال خان دپښتې نظم هم شته چې تر دې فال نيونې پنځه کاله وروسته په ۱۱۲۳ هـ.ق. کال ويل شوی دی.

ځکه چې له دې بحث نه هم نتيجه نه تر لاسه کېږي نو دده ددېوان دوه دفترونه چې پېدل تر اوسه کوم تاريخي اصالت اوروايت ترشا نه لري.

سباغلی کامل ددوو دفترونو سره ګډ وونکی استاد بېنوا بولي[۹۸]؛ خوداکار دېر پخوا شوی اوله ماسره درحمان بابا ددېوان يوه زړه قلمي اويوه زړه چاپي نسخه شته چې متاسفانه دواړې نيمګړې دي اودلېکلو او چاپ کال نه لري، دا دواړې ديوه دفتر په اساس دي اود دواړو دفترو شعرونه يې سره يکې يوځای کړي اوپه يوځلي ترديف کړي دي. همدارانګه دبمبئ د ۱۸۸۳ ع. کال چاپ نسخه هم په يودفتري ډول ده[۹۹] چې سبا يې زما نيمګړې چاپي نسخه همدا نسخه وي.

---

(۹۸) رحمان بابا، ۷۰ مخ.
(۹۹) دبرتانوي ټاپوګانو په کتابتونو کې دپښتو قلمي نسخو کتلاګ، ډاکټر ميکنزي، لندن، ۸۵ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله خلو پښتم

قلمي نسخې

: څرنګه چې رحمان بابا د پښتنو ملي شاعر دی نو ځکه دده د ديوان ډېرې نسخې ليکلې شوې او خورې شوې دي . پټه خزانه کاږي : " چې ظل الله پادشاه جهان شاه حسين کاتبان واستول اوله پېښوره يې د عبدالرحمان بابا عليه الرحمه د ديوان نقلونه راوړل او په قندهار کې علما او زهاد و وکښل او اوس ډېر دي. فقرا او د خدای دوستان د عبدالرحمان بابا شعرونه ډېر لولي او خوښوي او عام خلق فالونه پرګوري . حتی چې ښځې هم د کتاب ډېر وايي او خدای تعالی دده په وينا کې هسې برکت ايښی دی چې دهر خوب من نږه دا ر وپه کا او هر غريب او محتاج مستغنی کا . "(100)

دا روايت ښيي چې له ډېر پخوا څخه د رحمان بابا د ديوان د تکثير او ډېرښت له پاره کار پيل شوی او په پښتو نخوا کې يې زياتې نسخې خورې شوي دي.

د مېجر راورټي د اخبر چې په نظر کې ولرو چې ده د رحمان بابا د وينا د انتخاب په وخت کې له شپېتو نسخو څخه استفاده کړې(101) نو بيا د پښتو تر هر کتاب نه دده د ديوان د نسخو شمېره ډېره ده ان چې د اخون درويزه تر مخزن الاسلام نه يې هم د نسخو شمېره اوړي خو په موجود وخت کې د رحمان بابا د ديوان د قلمي نسخو د شمېر له مخې تر مخزن الاسلام راوروسته دوهم کتاب دی(102) او د هېواد او نړۍ په بېلو- بېلو سيمې او شخصي کتابتونو کې يې نسخې شته.

د پښتو خطي نسخو په لاره کې زما لټون روان دی خو تر اوسه نه يم بريالی شوی چې په ټولو نړۍ کې د پښتو خطي نسخو شمېره ترلاسه کړم ، په همدې توسن

---

(100) پټه خزانه (عکسي چاپ) ، ٤٥ مخ

(101) د ديوان عبدالرحمان ، د مولانا عبدالقادر سرېزه ، "ل" مخ . "دوران" مجله ، پېښور ١٩٥٨ء . (١٣، ١٤ ګڼه-

(102) رفيع ، حبيب الله ؛ "د پښتو قلمي نسخې" وږمه ، ١٩ کال ، ٤ ګڼه (١٣٥٤) ، ٨٣ مخ. - د نومورې مولانا مقاله)

درحمان بابا د دیوان د ټولو نسخو شمېره هم زما په لاس کې نشته ، خو تر کومه ځایه مې چې یاد د ښتو نه راغونډ کړي درحمان بابا د دیوان دالاندې نسخې راته معلومې دي:

الف : د برتانوي ټاپوګانو په ښلو ـ ښلو کتابتونو کې درحمان بابا د دیوان ۹ پوړه او ښکګړې نسخې شته په دې ډول :

۱ ـ برېټش موزیم : د سید غلام علی په قلم ، ۱۳٤ پاڼې ، کال نه لري .

۲ ـ دلینډ سیاناکتابتون : خطاط نامعلوم ، ۱۳۳ پاڼې ، بې تاریخه .

۳ ـ دهند دادارې کتابتون : خطاط میاصدرالدین ، ۱۵۳ پاڼې ، د خطاطۍ کال ۱۲۷۰ هـ.ق.

٤ ـ برېټش موزیم : خطاط میرزا محمد اسماعیل ، ۱٦٤ پاڼې ، د ۱۲۷۷ هـ.ق. ، ۱۸٦۱ ع. کال لیک.

۵ ـ برېټش موزیم : خطاط غلام جیلانی پېښوري ، ۱۳۹ پاڼې ، د ۱۸۷۲ ع. کال لیک.

٦ ـ دهند دا ره : ۱۵۷ پاڼې ، خطاط او د خطاطۍ کال نه لري .

۷ ـ دهند دا ره : خطاط فاضل محمد د عبدالغني کاسي زوی ، ۱۱۸۷ هـ.ق ، ۹۳ پاڼې .

۸ ـ برېټش موزیم : خطاط سراج الدین ، ۱۱۱ پاڼې ، د ۱۲۷۱ کال لیک.

۹ ـ بودلیان : (د دیوان انتخاب) ، ۸۵ پاڼې ، د ۱۹۰۰ ع. کال شا او خوا لیک.(۱۰۳)

ب : دلېنګراد په آسیایي موزیم کې درحمان بابا د دیوان درې نسخې خوندي دي :

۱۰ ـ د ۱۸۱۰ ع. کال لیک .

۱۱ ـ د ۱۸۳۰ ع. کال لیک.

۱۲ ـ د ۱۸۳۷ ع. کال لیک.(۱۰٤)

ج : دهند په کتابتونو کې ښایي درحمان بابا د دیوان درې نسخې وي خو دا درې نسخې یې فهرست شوې :

۱۳ ـ د رامپور رضا لایبریري : خطاط محمد شاه بلخي ، د ۱۲۱۹ کال لیک ، ٤۷۰ پاڼې مصوره نسخه.(۱۰۵)

۱٤ ـ د بنګال د ایشیایي ټولنې کتابتون : د شاه ثناء الله په قلم .

د دې مخ د متن پایلیکونه په (۵۰) مخ کې وګورئ .

۱۵ - د پېلي د پوهنتون کتابتون : د حافظ عبيد الله په قلم.[۱۰۶]

ل : د پښتونستان په شخصي اورسمي کتابتونو کې د رحمان بابا د ديوان ډېرې نسخې شته خو مونږ سفارش د ټولو فهرست يې لاس ته نه دی راغلی ، يوازې دالاندې نسخې يې راته معلومې دي :

۱۶ - د پېښور د اسلامیه کالج کتابتون[۱۰۷]

۱۷ - د پروفېسر ولي محمد خان سيال کاکړ کتابتون : د ملا ولي په قلم ، ۹۰ پاڼې.

۱۸ - د سيال کاکړ کتابتون : د ملا ولي په قلم ، ۱۷۹ پاڼې[۱۰۸]

ه : په فرانسه کې د رحمان بابا د ديوان د دوو نسخو پته شته :

۱۹ - د فرانسې د ګيمي موزيم : د ۱۲۰۹ ق. کال ليک د ولي محمد په قلم.

۲۰ - د فرانسې د ګيمي موزيم : د ۱۷۹٤ کال ليک[۱۰۹]

و : په امريکا کې ديوې نسخې پته شته :

۲۱ - د پرنسټن د پوهنتون کتابتون[۱۱۰]

ز : د کابل خطي نسخو کتابتون کې د رحمان بابا د ديوان دا نسخې موجودې دي:

۲۲ - د ملا ولي په قلم چې ۳۲ انځورونه هم لري ، ۱۸٤ پاڼې.

۲۳ - په کشمير کې د ۱۲۲۷ کال ليک ، د ملا عبيد الله په قلم ، ۱٦۰ پاڼې.

۲٤ - بله نسخه ۱۱۹ پاڼې لري.

د ۴۹ مخ پايلېکونه :

(۱۰۳) د برټانوي تاپوګانو په کتابتونو کې د پښتو قلمي نسخو کتلاګ ، د الټر مکينزي ، ۱۹٦۵ ع. له ۸۵ تر ۹۳ مخ.

(۱۰٤) هېواد (ورځپاڼه) ، ۱۳٤٦ کال وږی ، د ښاغلي رښتين مقاله.

(۱۰۵) د خان غازي کابلي قلمي يادداشت ، د استاد بېنوا د کتابتون.

(۱۰٦) هېواد ، د ښاغلي رښتين مقاله.

(۱۰۷) همدا ورځپاڼه.

(۱۰۸) سيال کاکړ ، پروفېسر ولي محمد : " پښتو نسخې " قلمي.

(۱۰۹) هېواد ورځپاڼه ، ياده شوې مقاله.

(۱۱۰) همدا اخځ.

۲۵ - بله نسخه چې ۶۵ پاڼې لري.

۲۶ - بله نسخه چې ۱۷٤ پاڼې لري.

۲۷ - بله نسخه یې چې ۱۶۷ پاڼې لري او له ځینې شعرونو سره یې دري ژباړې هم شته (۱۱۱)

ح : د جمهوري آرګ په کتابتون کې د رحمان بابا د دیوان دا نسخې شته:

۲۸ - یوه نفیسه نسخه ده چې ۱۲۰ پاڼې لري (۱۱۲)

ط : د هرات په موزیم کې :

۲۹ - خوشخطه نسخه ده چې ۱۸۲ پاڼې لري (۱۱۳)

ی : د کابل پوهنتون په کتابتون کې هم د رحمان بابا د دیوان دا لاندې نسخه ساتل کېږي:

۳۰ - د ملا ولي د زوی ملا کمال په لیک چې ۱٤٤ پاڼې لري (۱۱٤)

ك : د پښتو ټولنې په کتابتون کې د بابا د دیوان دا لاندې نسخې شته:

۳۱ - د شاه زمان د سلطنت په وخت کې لیکل شوې نسخه ده چې ۲۵۱ پاڼې لري خطاط یې وجه الدین او د خطاطۍ کال یې ۱۲۳۰ ه.ق. دی.

۳۲ - د سرله خوا نیمګړې نسخه ده چې ۱٤۲ پاڼې یې پاتې دي.

۳۳ - د سراو پای د وارو لخوا نیمګړې نسخه ده چې ۱۳۱ پاڼې یې پاتې دي.

۳٤ - د ملا اختر بیاض دی چې د رحمان بابا د اشعارو چاپ یکې شته (۱۱۵)

ل : د محترم استاد پوهاند عبدالشکور رشاد په کتابتون کې د رحمان بابا د دیوان نسخې شته چې یوه همه نسخه یې داده :

۳۵ - د ۱۱٤۵ ه.ق. کال لیک ده او کامګار خان ختاک د نامدار خان زوی

---

(۱۱۱) "د پښتو قلمي نسخې" د لیکونکي اثر، خطي.

(۱۱۲) د بورکوی د خطي نسخو فهرست، ۱۹٦٤ ع. ٦۵ مخ.

(۱۱۳) همدا اثر، ۳۲۹ مخ.

(۱۱٤) ستوده، محمد ابراهیم او عبدالرحمن: "د پښتو د ۱۰۸ قلمي نسخو لنډه پېژندنه"، ۱۳۵۴، ګستنزی چاپ، ۲۵ مخ.

(۱۱۵) "د پښتو قلمي نسخې".

داشرف خان لمسي اودخوشال خان ختك كرويي يوه مثنوي په خپل قلم پرې كښلې اومهرې پرې لگولې دې.(۱۱۶)

م: دښاغلي عبدالقدوس نجيب په كتابتون كې يې دانسخې شته:

۳۶- د ۱۲۷۹ ه.ق. كال ليك چې ۱۳۶ پاڼې يې پاتې دي اودپاى پاڼې يې نشته.

۳۷- يوه نيمگړې نسخه ده چې ۵۳ پاڼې يې پاتې دي(۱۱۷).

ن: دښاغلي محمد حليم سليمي په كتابتون كې هم درحمان بابا ددېوان دوې نسخې خوندې دي:

۳۸- خطاط يې انعام نومېږي چې په ۱۱۷۶ ه.ق. كال يې كښلې ده، دواړه دفترونه يې بېل- بېل گنډل شوي دي چې تولې پاڼې يې ۱۳۴ دي.

۳۹- د ۱۱۹۹ ه.ق كال په شاوخوا كې كښل شوې، دپاى لخوا نيمگړې ده او ۷۲ پاڼې يې پاتې دي(۱۱۸)

س: دښاغلي زلمي هېواد مل په كتابتون كې درحمان بابا ددېوان لاندېنۍ نسخې خوندي دي:

۴۰- د ۱۲۱۲ ه.ق كال ليك چې ۸۴ پاڼې لري.

۴۱- يوه زړه بې تاريخه نسخه چې ۲۰۰ مخه لري.

۴۲- درحمان بابا دشعرونو يوه انتخابي مجموعه چې ۱۶ پاڼې لري(۱۱۹)

ع: دلیکونکی په كتابتون كې درحمان بابا ددېوان دالاندې نسخې خوندي دي:

۴۳- دملا قمرالدين په خط ليكل شوې نسخه ده چې دسرخو پاڼې يې لوېدلې

---

(۱۱۶) دمحترم استاد، پوهاند عبدالشكور رشاد يادداشت چې په خاصه لوړپېنه يې راسپارلې دى.

(۱۱۷) "دپېښتو قلمي نسخې" دښاغلي نجيب صاحب په دېره مينه دخپل كتابتون نسخې دمعرفي په غرض راسودلې چې په دې وسيله مننه ترې كوم.

(۱۱۸) "پېښتو قلمي نسخې" دښاغلي سليمي صاحب هغه سخاوتمندي چې دخپل ځاني كتابتون دنسخې په راسودلو كې يې كړې دېرې مننې وړده.

(۱۱۹) "پېښتو قلمي نسخې". دگران ملگري ښاغلي زلمي هېواد مل لوړپېنه ترتعارف لوړه ده ځكه كتابونه مودې سره گډ دي چې داسې وختونه هم پېښېږي چې يو دېل كتاب نه سره پېژنو..

اودپای یوځ یې نشته موجودې پاڼې یې ۹۱ دي.

٤٤ - بله نسخه ده چې ځینې پاڼې یې ضایع شوې، دانسخه په یوه دفتر کې ترتیب شوې څونوې غزلې هم لرې چې پاتې پاڼې یې ۸٤ دي.

٤٥ - ددې نسخې هم ځینې پاڼې لوېدلې او ۹٦ پاڼې یې راپاتې دي.

٤٦ - ددې نسخې زیاتې پاڼې نیمه خواشوې او یوازې ٤٧ مخه ترې راپاتې دي.

٤٧ - دایوه زړه نسخه ده چې پنځوس پاڼې یې راپاتې دي.

٤٨ - دملا سنا یسته خان جونګ چې درحمان بابا زیاتې غزلې پکې چاپ شوې او خوندي دي.(۱۲۰)

له دې سره - سره بیا هم دا پوښتنه احصائیه یوه ډېره لنډه ګنډه او نیمګړې احصائیه ده ځکه د بابا د دیوان ډېرې نورې نسخې هم شته چې علاقمندانو یې ساتلې دي، ما دا تلونکو احصائیو په هیله داشمېره وړاندې کړه.

چاپي نسخې:

لکه څرنګه چې درحمان بابا د دیوان قلمي نسخې ډېرې دي همداراز ددې دیوان چاپونه هم له پخوا راهیسې روان دي او په لسها ځله خپور شوي دي.

ددې دیوان تر ټولو زړه چاپي نسخه چې مالپدلې ده په ۱۲۸۰ هـ.ق. کال کې د بمبئي چاپ نسخه ده چې په سنه صحافت خپره شوې ده(۱۲۱)

او تر ټولو ښه چاپي نسخه یې چې ډاکټر مکینزي یې او د "رحمان بابا" د کتاب بې نومه مؤلف درحمان بابا د دیوان لومړۍ چاپي نسخه ګڼلې، هغه نسخه ده چې مولوي احمد

---

(۱۲۰) "دپښتو قلمي نسخې" په دې نسخو کې دوې نسخې ګران ملګري سنا غلي احسان الله آرینزی راپښلې چې کور ودانی ورته وایم.

(۱۲۱) دانسخه د سنا غلي زلمي هیواد مل په کتابتون کې خوندي ده.

دتنگی دخونسخولہ مخې ترتیب کړې او په ۱۸۷۷ع. کال په لاهور کې پادري هیوز چاپ کړې ده (۱۲۲)

ددې دیوان یوه بله زړه چاپي نسخه دحیدري مطبعې چاپ ده چې دقاضي فتح محمد په اهتمام خپره شوې، په ۱۸۸۳ کال کې یو ځل په بمبئي او دوه ځل په دیلي کې چاپ شوې او تر هغه وروسته یې چاپونه له شمېره اوړي. یوه ډېره نفیسه نسخه یې چې په ښکلي خط کښله شوې په ۱۳۲۸ ش. کال پښتو ټولنې داستاد بېنوا په زیار خپره کړه او یو بل انتقادي متن یې د پېښور پښتو اکېډمۍ په ۱۹۶۳ع. دار واښاد مولانا عبدالقادر په سرېزه خپور کړاو هم یې هم دې اکېډمۍ له منظومې اردو ترجمې سره یو متن خپور کړ (۱۲۳).

چاپي انتخاب :

درحمان بابا د دیوان چاپي انتخاب دده ترټولو چاپي نسخو وړاندې دی ځکه لومړی ځل دده غزلې آلماني ختیځ پوه ډورن په خپل "خریستوماتیا" نومې کتاب کې چې دپښتو ادبیاتو انتخابي مجموعه ده په ۱۸۴۷ع. کال په پټرزبورګ کې خپرې کړې (۱۲۴) بیا دده غزلې انګریزي ختیځ پوه میجر راورټي په ۱۸۶۰ع. کال په خپل "ګلشن روه" نومې مجموعه کې نشر کړې (۱۲۵) او بیا پادري هیوز په "کلید افغاني" کې درحمان بابا د دیوان غزلې انتخاب کړې چې یو چاپ یې د ۱۸۷۲ع. کال دی (۱۲۶).

همدارنګه "جشن نوروزي"، "ګلشن نوروزي"، "بهار ګلشن" او د قاضي میر احمد شاه رضوانی په "بهارستان" او "شکرستان" کې هم دده د دیوان انتخابات شوې او په دې سربېره په ډېرو زیاتو مجموعو کې درحمان بابا ملکوتي وینا دې خپستلې شوې او خپرې شوې دي.

---

(۱۲۲) دقلمي نسخو کتلاګ، د اکتر میکنزي، ۸۵ مخ. رحمان بابا، ۲۲ مخ.
(۱۲۳) درحمان بابا دیو شمېر چاپي نسخو دمعرفې لپاره وګورئ: پښتو کتاب سنوړه، دلیکونکي اثر.
(۱۲۴) وګورئ، خریستوماتي.
(۱۲۵) وګورئ: ګلشن روه ۱-۳۰ مخونه.
(۱۲۶) وګورئ: کلید افغاني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه پنځوسم

اخځونه

۱ ـ افضل خان خټک : " تاریخ مصع " ، مقابله ـ تصحیح او نوټونه د دوست محمد خان کامل مومند
۱۹۷٤ ع. یونیورسټي بک ایجنسي ـ پېښور .

۲ ـ حافظ رحمت خان : " خلاصة الانساب " د محمد نواز طائر دیباچه او ترجمه ، ۱۹۷۳ ع.
پښتو اکېډمي ـ پېښور .

۳ ـ خواجه نعمت الله هروي : " تاریخ خان جهاني د مخزن افغاني " ، تصحیح او تنقیح د
سید محمد امام الدین ، ۱۹٦۰-٦۲ ع. ایشیاټک سوسائټي داکه (په دود ټوکونو کې).

٤ ـ محمد هوتک : " پټه خزانه " ، د استاد حبیبي سریزه او سمون ، ۱۳۲۳ ش پښتو ټولنه کابل

۵ ـ محمد هوتک : " پټه خزانه " (عکسي چاپ) ، د استاد حبیبي نوی سریزه ، ۱۳۵٤ ،
د پښتو د پراختیا او پیاوړتیا آمریت ، کابل .

٦ ـ سبا یسته خان : " د ملا سبا یسته خان جونګ " ، د دوو لسمې پېړۍ لیک ، د لیکونکي کتابتون

۷ ـ حبیبي ، پوهاند عبدالحي : " پښتانه شعراء " (لومړی ټوک) ، ۱۳۲۰ ش ، پښتو ټولنه ، کابل

۸ ـ حبیبي ، پوهاند عبدالحي : " افغانستان د عصر کورګاني هند " ۱۳٤۱ ، تاریخ ټولنه .

۹ ـ حبیبي ، پوهاند عبدالحي : " د پښتو ادبیاتو تاریخ " ، (دوهم ټوک) ، ۱۳٤۲ ، پښتو ټولنه ـ کابل

۱۰ ـ حبیبي ، پوهاند عبدالحي : " د افغانستان پېښلیک " ، د بیهقي کتابخپرندویه موسسه ، ۱۳۵۳ ش کابل

۱۱ - حافظ مرغزی : "شاهنامهٔ احمدشاه ابدالی"، پښتو اکیډمی، ۱۹۶۵ع. پېښور.

۱۲ - کامل مومند : "رحمان بابا"، ادارهٔ اشاعت سرحد، ۱۹۵۸ ع. پېښور.

۱۳ - عبدالصمد خان : "رحمان بابا شاعر انسانیت"، داثر په سریزه، ۱۹۷٤ع. پېښور.

۱٤ - بې نومه مؤلف : "رحمان بابا" محکمهٔ نشر و اشاعت قبایل.

۱۵ - ظفر کاکاخیل، سید بهادرشاه : "پښتانه د تاریخ په رڼا کې" یونیورسټی بک ایجنسی ۱۹۶۵ع. پېښور.

۱۶ - حبیبی، پوهاند عبدالحی (تصحیح او سریزه) : "د خوشال خان ختک مرغلری"، طلوع افغان ۱۳۱۷ کندهار.

۱۷ - کامل، دوست محمد (سریزه او سمون) : "کلیات خوشال خان ختک"، ادارهٔ نشر و اشاعت سرحد، ۱۹۶۰ (دوهم چاپ) پېښور.

۱۸ - رسا، سید رسول (سریزه او ترتیب) : "ارمغان خوشال"، یونیورسټی بک ایجنسی، پېښور.

۱۹ - بېنوا، عبدالرؤف (سریزه او سمون) "د رحمان بابا دیوان"، پښتو ټولنه، ۱۳۲۸ کابل

۲۰ - عبدالقادر، مولانا (سریزه) : "دیوان عبدالرحمن"، پښتو اکیډمی" ۱۹۶۳، پېښور.

۲۱ - عبدالمجید، پروفیسر (سریزه) : "دیوان عبدالرحمن مع رباعیات دیوان عبدالحمید"، صابر الکټرنیک پریس - لاهور.

۲۲ - غرداال، ښېرنیاز محمد عارف (سمون) : "د رحمان بابا دیوان" (همدا متن) لاسکښلی نسخه

۲۳ - خادم، قیم الدین (ټولوونکی) "روهی ګلونه"، پښتو ټولنه ۱۳۲۶ کابل.

۲٤ - حبیبی، پوهاند عبدالحی (سریزه او سمون) : "د عبدالقادر خان ختک دیوان"، طلوع افغان ۱۳۱۸ کندهار.

۲۵ - عظیم : "دیوان عظیم"، ۱۳۳۳ هـ.ق.، مطبع اسلامیهٔ لاهور.

۲۶ - بخاری، خیال (ترتیب او تدوین) : "دیوان نجیب"، پښتو اکیډمی، ۱۹۷۲ پېښور.

۲۷ - دارمستتر : "د پښتنخوا شعر ماروبهار"، د پاریس د ختیځ ټولنه، ۱۸۸۸ ع. پاریس.

۲۸ - همېش خلیل (ترتیب او سریزه) : "دیوان هجری" ۱۹۵۸ع. پېښور.

۲۹ـ همیش خلیل (ترتیب او سریزه) : " دیوان عبدالقادر خان ختک " ، ۱۹۷۲ ع . پېښور .

۳۰ ـ دیونس خیبری دیوان ، دارګ دکتابتون قلمی نسخه .

۳۱ ـ عبدالقادر ، مولانا (سریزه) : " دیوان مصری خان ګګیانی " . پښتو اکېډمی ـ پېښور

۳۲ـ بخاری ، خیال (ترتیب او تدوین) : " دیوان معزالله خان مومند " ۱۹۵۸ ع . پښتو اکېډمی پېښور

۳۳ـ همیش خلیل (سریزه او ترتیب) : دیوان معز الله خان مومند " ، ۱۹۶۱ پېښور .

۳٤ـ همیش خلیل (سریزه او ترتیب) : " دیوان کاظم خان شیدا " ، ۱۹۶۵ ع . پېښور

۳۵ـ بېنوا ، عبدالرؤف (سریزه او ترتیب) : " د کاظم خان شیدا دیوان " ۱۳۳۱ کابل

۳۶ـ همیش خلیل (سریزه او ترتیب) : " دیوان بېدل " ۱۹۵۷ ع . پېښور

۳۷ـ همیش خلیل : " درکه خزانه " (لومړی ټوک) ، ۱۹۶۰ ع . پېښور

۳۸ ـ بېنوا . عبدالرؤف (ترتیب او سریزه) : " د پیر محمد کاکړ دیوان " ، ۱۳۲۵ ، پښتو ټولنه کابل

۳۹ ـ " د شمس الدین کاکړ دیوان " ۱۳۳۳ ، پښتو ټولنه کابل .

٤۰ ـ " د حنان بارکزی دیوان " ۱۳۳۶ ، پښتو ټولنه کابل .

٤۱ ـ " د عبدالغفار هوتک دیوان " ، قلمی نسخه .

٤۲ ـ اثر ، عبدالحلیم : " تېرچېرش عران " ، ۱۹۶۳ ع . پښتو اکېډمی ، پېښور .

٤۳ـ همیش خلیل (سریزه او ترتیب) : " دیوان قنبر علی خان " .

٤٤ ـ دورن (ټولونکی) : " خریستو ماتیا " ، پترزبورګ ، ۱۸٤۷ ع .

٤۵ـ راورټی ، میجر (ټولونکی) : " ګلشن روه " ، ۱۸۶۰ هرتفورد .

٤۶ ـ هیوز ، پادری (ټولونکی) : " کلید فغانی " ، ۱۸۷۲ ع . لاهور .

٤۷ ـ محمد آصف خان : " تاریخ ریاست سوات " ۱۹۵۸ ع . سوات .

٤۸ ـ خان غازی کابل (قلمی یادداشت) : " کتابخانه رضا " ، د استاد بېنوا کتابتون .

٤۹ ـ سیال کاکړ ، پروفیسر ولی محمد خان : " پښتو نسخې " ـ د سیال کاکړ د ځانګی کتابتون د نسخو معرفی "

لاسکښلي نسخه .

۵۰ - بورکوی : " د افغانستان خطي نسخې " ، ۱۹٦٤ ع .

۵۱ - میکنزی ، ډاکټر : " د برتانوی تاپوګانو په کتابتونونو کې د خطي نسخو کتلاګ " (د دې کتاب لښپړ متن ګران ملګری عنایت الله محرابی راته ژباړلی) .

۵۲ - عبدالغنی ، دکتور : " احوال و آثار میرزا عبدالقادر بیدل " ژباړن میر محمد آصف انصاری ، کابل پوهنتون ، ۱۳۵۱ .

۵۳ - " کلیات بیدل " ، د پوهنې وزارت ، ، کابل .

۵٤ - تجدد ، محسن جهانبګلو : " سماع در سلسلهٔ هو " ۱۳۵۱ ، تهران .

۵۵ - اڅکزی ، محمد جعفر : " وندر " ۱۹۵۹ ع . کوټه .

۵٦ - عجب خان د پچګی : " سوانح عمری د ملا عبدالرحمن " (فولکلوري کیسه) ، لاهور .

۵۷ - رښتین ، صدیق الله : " د پښتو نسخو فهرست " ، هېواد (د چاپ نه) ، ۱۳۵٦ ، د اسد او سنبلې ګڼې .

۵۸ - ستوده ، محمد ابراهیم او عبدالرحمن : " د پښتو د ۱۰۸ قلمي نسخو لنډه پېژندنه " ۱۳۵٤ ، ګستنزي چاپ د کابل پوهنتون کتابتون .

۵۹ - هېواد مل ، زلمی : " فرهنګ زبان و ادبیات پښتو " . لاسکښلی نسخه .

٦۰ - رفیع ، حبیب الله : " عبدالوهاب اڅکزی " زیری ، ۱۳۵٦ ، د جوزا ۱۳ ګڼه .

٦۱ - رفیع ، حبیب الله : " د پښتو ځوانی تذکرې " ، افغانستان اکادمی ، د تاریخ او ادب ټولنه ۱۳۵۰ کابل

٦۲ - رفیع ، حبیب الله : " ادبي ستوري " (لومړی ټوک) ، پښتو ټولنه ، ۱۳۵۳ ، کابل

٦۳ - رفیع ، حبیب الله : " د پښتو قلمي نسخې " ، د ورمه ، نولسم کال ، لسمه ګڼه ، ۱۳۵٤ ش .

٦٤ - رفیع ، حبیب الله : " د پښتو خطي نسخې " (په نړۍ کې د پښتو خطي نسخو معرفي) ، قلمي .

٦۵ - رفیع ، حبیب الله : " د پښتو کتاب ښود " ، قلمي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دیوان نسخې

د رحمان بابا د دیوان د انتقادي متن پر چاپي او خطي نسخو څېړنه

رحمان بابا د دیوان د دغه انتقادي متن په تیار ولو کې له څلورو چاپي نسخو، شپاړسو خطي نسخو، خریستوماتي یا د دورې مجموعه او د شوروي اتحاد څخه د راغونډل شوي میکرو فلم څخه کار اخېستل شوی دی. کوم څرګند توپیر چې په کومه نسخه کې په نظر راغلی یا کوم نوی غزل او نوی بیت موندل شوی دی په لمن لیک کې د هغې نسخې حواله ورکړل شوې ده د غو نسخو ته موږ مخفف نومونه ورکړي دي تر څو محققین او لوستونکي له زیاتو خنډ ونوسره مخامخ نه شي؛ مثلاً د پښتو ټولنې نسخې مود "پ"، د اطلاعاتو او کلتور د خطي کتابخانې نسخې مود "خ" نسخې په نامه او د پېښور چاپي نسخې ته مود "پ، پ" یعنې پښتو اکېډمۍ چاپ، "ق، ك" یعنې قدیمي کتابخانې چاپ او "ق" یعنې قصه خوانۍ چاپ نومونه او د پښتو ټولنې د بېنوا صاحب له خوا چاپ شوی دیوان ته مود "پ" چاپ نوم ورکړی دی. د غه انتقادي متن مولګه د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوي دیوان غونډې په یوه دفتر کې ترتیب کړی او د پښتو ټولنې د مسلکي غړي او ځوان

خطاط بناغلي نصير "هنر" پښتون له خوا خطاطي شوی دی.

ددې د پاره چې د رحمان بابا د دیوان د دغه انتقادي متن محترم لوستونکي له دغو چاپي او خطي نسخو سره ښه بلد شي هره نسخه په ځانګړې توګه معرفي کېږي:

د کابل د پښتو ټولنې چاپ :- د دغې نسخې کچه ۱۵×۱۰ سانتي متره ده او په کوچنۍ قطع چاپ شوې ده د دغې نسخې مصحح، مدون او مقابله کوونکی استاد بېنوا دی چې د بناغلي محزین الدین کیلي له خوا خطاطي شوی او په ۱۳۲۸ کال کې د کابل د عمومي مطبعې په آفست کې چاپ شوی دی. مقدمه هم د استاد بېنوا له خوا پرې لیکل شوې چې د رحمان بابا د پېژندګلوۍ په باب خورا په زړه پورې مواد لري.

د غه چاپي دیوان ټول "۲۶۰" مخونه دي چې (۱۳۰) پاڼې کېږي، په دغه د دیوان کې (۳۳۸) پارې راغلي دي او د ټولو بیتونو شمېر یې (۳۸۵۳) دی. د غه نسخه د رحمان بابا د نورو چاپي او خطي نسخو پر خلاف په یوه دفتر کې ترتیب او چاپ شوې ده.

د پېښور د پښتو اکېډمۍ چاپ :- کچه یې ۲۰×۱۶ سانتي متره ده. د غه چاپي دیوان د لومړي ځل له پاره د ۱۹۶۳ ع. کال د جولائي د میاشتې په دېرشمه نېټه د هغه وخت د پښتو اکېډمۍ د مشر مولانا عبدالقادر په تمهید چې د ۱۳۶۸ ه. کال د صفر المظفر د میاشتې په ۱۸ نېټه چې د ۱۹۴۸ عیسوي کال د ډسمبر له شلمې نېټې سره برابره ده **کښلی**، **چاپ** شوی دی د رحمان بابا د غه نسخه په دوو دفترونو کې چاپ شوې چې د مخونو شمېر یې (۲۸۵) ته رسېږي او مقدمه یې د الفبا په ترتیب ورسره چاپ شوې ده.

په دغه د دیوان کې (۳۴۴) پارې راغلي دي چې ټول (۳۷۰۰) بیته دي.

د پېښور قدیمي کتابخانې چاپ :- د رحمان بابا د دغه چاپي دیوان کچه ۲۴ X ۱۵ سانتي متره ده ،

د پېښور د کالج د پېښور د پس وفیسر عبدالحمید او شاه افضل صاحب پسرزو په (۱۷۷) مخونو کې د پېښور د قصه خوانۍ د تاجرانو حاجي فضل احمد او حاجي عبدالرحیم له خوا چاپ شوی دی . د چاپ نېټه یې نه ده معلومه ، د پاړکو شمېر یې (۳۴۷) او د بیتونو شمېر یې (۳۷۶۴) دی ، دغه نسخه هم په دوو دفترونو کې ترتیب او چاپ شوې ده .

د پېښور قصه خوانۍ چاپ :- د دغې چاپي نسخې کچه هم ۲۴ X ۱۵ سانتي متره ده چې

په ۱۹۲۰ عیسوي کال کې چاپ شوې او د مخونو شمېر یې (۱۸۴) دی ، په دغه نسخه کې ټول (۳۲۱) پاړکې راغلي او د بیتونو شمېر یې (۳۶۰۳) دی ، دغه چاپي دیوان هم په دوو دفترونو کې ترتیب او چاپ شوی دی .

د پښتو ټولنې د کتابتون خطي نسخې :- د پښتو ټولنې په کتابتون کې د رحمان بابا د دیوان

درې خطي نسخې او یو قلمي جونګړ چې د رحمان بابا یو شمېر غزلې هم پکې دي شته چې په هره نسخه په بېلا بېل ډول خبرې کېږي .

د "پ" لومړۍ نسخه :- د "پ" د کتابتون د لومړۍ نسخې کچه ۲۳ X ۱۳ سانتي متره ده د انسخه

دس او پای له خوا بشپړه ده ، د مخونو شمېر یې (۲۵۱) او د پاړکو شمېر یې (۳۱۴) دی ، دغه نسخه د شاه زمان د سلطنت په هال کې لیکل شوې ده .

د "پ" ګډه نسخه :-

د "پ" په کتابتون کې درحمان بابا بله نسخه هم شته چې دد ویمې نسخې په نامه نومل شوې ده ، ددغې نسخې کچه ۲۶×۱٤ سانتي متره اودمخونو شمېر یې ۱٤۱ دی ، دخطاطي کال اودخطاط نوم یې نه ښکاري . دانسخه نیمګړې ده اوټول ۲٤۹ پاڑې پکې راغلې دي .

د "پ" لیکه نسخه :-

د "پ" دکتابتون دغه نسخه هم دسراوپای له خوا نیمګړې ده دمخونو شمېر یې ۱۳۱ اود پاڑکو شمېر یې ۱۵۲ نه رسېږي اوکچه یې ۱٤×۱۶ سانتي متره ده .

دکابل پوهنتون دکتابتون نسخه :-

دکابل پوهنتون په لوی کتابتون کې هم درحمان بابا دد پوان یوه قلمي نسخه شته چې دده انتقادي متن په تیارولو کې استفاده تري شوې ده ، ددغې نسخې کچه ۱۵×۷ انچه اودخطاطي کال یې نه دی معلوم خودملا کمال دملاولي دنوی لخوالیکل شوې ده ټول مخونه یې طلایي اوسره چوکاټونه لري . دپا نوشمېر یې ۱٤٤ دی چې ټوله ۲۸۸ مخونه کېږي .

داطلاعاتو اوکلتور دخطي کتابتون خطي نسخې :- داطلاعاتو اوکلتور

دوزارت په خطي کتابتون کې درحمان بابا دد پوان پنځه قلمي نسخې شته چې ددغه انتقادي متن په تیارولو کې استفاده تري شوې ده او په ترتیب سره خبرې یې کېږي :

"خ" مصوره نسخه :-

ددغې نسخې کچه ۱۸×۱۲ سانتي متره ده دلیک دول یې نسخ دی د پا نوشمېر یې ۱۸۳ نه رسېږي چې ټول ۳٦٦ مخونه کېږي ۲۹۸ غزلې اودوه مخمسې لري ، پشتي یې کېږه ، (۳۲) ښکلي عکسونه اویونیم مخ نقاشي لري ، په کشمیر کې دملاولي په قلم لیکل شوې ده .

د "خ" لومړی نسخه :- د "خ" دغې نسخې کچه ۱۹X۱۳ سانتی متره او د لیک ډول یې نسخ دی، د څرمنې پشتې لري.

د پانو شمېر یې (۱۶۰) دی چې (۳۲۰) مخونه کېږي (۳۵٤) غزلې او دوه مخمسه لري

دغه نسخه په ۱۳۲۷ کال په کشمیر کې لیکل شوې ده.

د "خ" دویمه نسخه :- د خطی کتابتون د دغې نسخې کچه ۳۳X۲۱ سانتی متره او د لیک ډول یې نستعلیق دی

د پانو شمېر یې (۱۱۹) دی چې ټول ۳۳۸ مخه کېږي ۳۰۸ پاڑې او دوه مخمسه لري، پشتې نه لري او لیکونکی یې معلوم نه دی.

د "خ" دریمه نیمګړې نسخه :- د خطی کتابخانې د دغې نسخې لیکونکی نه دی معلوم. دسرا و پاڑې له خوا نیمګړې ده کچه یې ۲٤X۱۷ سانتي متره او کاغذي پشتې لري. د لیک ډول یې نسخ او ۵٦ پاڼې لري چې ۱۱۲ مخه کېږي او ټول (۱۸۰) پاڑې پکې راغلې دي.

د "خ" څلورمه نسخه :- د خطی کتابتون د دغې نسخې لیکونکی هم نه دی معلوم. د لیک ډول یې نستعلیق او کچه یې ۲۱X۱۳ سانتي متره ده، پشتې یې کاغذي او د پانو شمېر یې ۱۷٤ دی چې ټول ۳٤۸ مخه کېږي، ۳۲۹ پاڑې پکې راغلې دي یو مینیاتور لري او د هر غزل له پیل سره د پرسنکلې او په زړه پورې ګل کاري شوې ده.

د زلمي هېواد مل نسخې : له ښاغلي زلمي هېواد مل سره هم د رحمان بابا د دیوان دوې قلمي نسخې شته چې د دغه

انتقادي متن په تیار ولوکې کارتري اخیستل شوی دی او په لاندې توګه خبرې پرې کېږي:

لومړی نسخه :- دد غه نسخې کچه ۱۷X۱٤ سانتي متره ده ، تولې ۷٤ پاڼې لري چې ۱٤۸ مخه کېږي . خطاط یې نه دی معلوم او په ۱۲۱۲ هـ.ق. کې لیکل شوې ده .

دویمه نسخه :- دغه نسخه ډېره زړه ده (۲۰۰) مخه لري او په هر مخ کې یې معمولاً (۱۸) بیته لیکل شوی دی چې په دغه حساب یې تول بیتونه ۳٦۰۰ ته رسېږي .

د حبیب الله رفیع نسخې :- د سباغلي حبیب الله رفیع په شخصي کتابتون کې هم د رحمان بابا د دیوان خلور خطي نسخې شته چې په دغه انتقادي متن کې استفاده تري شوې ده چې دوې نسخې د سباغلي احسان الله آرېنزي له خوا ورکړل شوي دی او په لاندې توګه خبرې پرې کېږي :

لومړی نسخه :- یوه زړه نسخه ده سراوپای نه لري ، د خطاط نوم او د لیکلو کال یې نه معلومېږي . د مخونو شمېر یې (۱۹۰) ته رسېږي ، په هر مخ کې یې معمولاً پنځلس بیته راغلي دي د دوو دفترونو په ویش لیکل شوې ده او کچه یې ۱۷X۲۱ سانتي متره ده .

دویمه نسخه :- د سباغلي رفیع د کتابتون دغه نسخه هم زړه ده . د سراوپای پاڼې یې نشته . تر لاسه شوی مخونه یې ۱۷٤ دي . هر مخ یې ۱٤ بیتونه لري . تول شعرونه یې په یوه دفتر کې راتول شوي

اودوودفتر وو پښتو نه لري . تر ټولو نسخو زیاتې غزلې لري او تقریباً یوه وتلې نسخه بلل کېداي شي . کچه یې ۱۷,۵ X ۲۱ سانتي متره ده .

لیکنه نسخه :- دښاغلي رفیع د کتابخانې د دغې نسخې د سرخوپاڼې لوېدلي دي . خطاط یې د ملاحسن زوی ملاقمرالدین دے . مخونه یې ۱۸۲ دي . او په هر مخ کې یې ۱۹ بیتونه راغلي دي . دغه نسخه په دوو دفترونو کې ترتیب شوې ده . ځینې نهایت بیتونه هم لري او کچه یې ۱۵X۲۵ سانتي متره ده .

د ملا بنایسته خان جونګ : د ښاغلي رفیع په کتابتون کې د ملا بنایسته خان یو قلمي جونګ هم شته چې د رحمان بابا ځینې غزلې پکې راغلې دي او دغه انتقادي متن په برابرولو کې استفاده تر سې شوې ده .

خپرندوی محمد عارف غزوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوږه شپږم

دپاړکو لاربنمود

دلومړیو مسریو دلومړی توری له مخې پې

ترتیبونکی: حبیب الله رفیع

دد پې لپاره چې د رحمان بابا د دیوان عنعنوي دود هم ساتل شوي وي، په دې لارښود کې د هغو غزلو مسریو ته چې د دیوان په نسخو چاپوکې په دوهم دفتر کې راغلې د ستورې (*) نښه شوې او په دې ترتیب دلومړی او دوهم دفتر ویش سره شوی او هغه غزلې چې نوې موندلې شوې له مسرې سره یې کوچنۍ دایره (٥) کښېله شوې ده چې نوې موندل شوې غزلې په نښه کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اته شپږم

آ

آشنايي بده بلاده آشنا مه شي ۲٤۲
آفرين دعاشقانو په همت ٤۰

ا

اعتماد به په دنيا کوي ترکومه ۱۷۰
اورنګ زيب اوشاهجهان غوندې اشراف ۷۹
* اورنګ زيب چې آرايش دتخت وتاج کا ۱۹
اوښکې نه لري حساب زما د سترګو ۱۲۲
اومه کله دي پاخه وايي و اعظ ۷٦
○ اې دنفس او دحرص په هوالپوه ۲۸۵
اې زما دزړه آرامه راشه راشه ۱۵۵
ايښې مې په سردې ستا دمخ دمينې ګل ۸۸

ب

بادشاهانو که قرونه کړل بنياد ٤٦
* بادشاهي لري هر يو غلام د ستا ۱۲
* باره وتره هله کښت، زراعت کړه ۱۵۲
بداختر به نيک اختر نشي هرګز ٦۹
* بدلوي په دنيا دين اوايمان ولې؟ ۲۵٤
○ بلبلان که له ګلزاره مومي حظ ۷۷
* بوص تو مارا کجا ہاتھ ہے ۲۷٦

* بیادې مخ دی جار وتلی خه بلا شوه ۱۷۷
* بیادې نوې شراب خښلي دي پوهېږم ۹۷
بیاې زړه دتور وزلفو مسخر شه ۱۵۸
* بېلتانه دې هسې خوار کړ زما دل ۹۱

پ

* پاخه یو ځله سپراب دعشق په جام شه ۱۵۹
○ پټ پناه مې په خاطر لګی او رونه ۱۷۵
* پس له مرګه که څوك ارت غواړي خپل ګور ۶۵
* پورته بدن راښکاره شو ښکته نظر ۵۶
* په امید دګاندې ورځ زړه ورمه شه ۱۶۰
○ په اول کی تا دعشق وهلې لاڅې ۲۴۵
* په بزرګه دهغه پاك پر وردګار ۵۰
په پیښه کې چې هوس دمی ناب کړې ۲۱۷
په تندې چې آتش بل کړ مدام شمع ۷۷
* په حالت دعاشقانو نظر بسویه ۱۷۹
* په ځوانۍ کې بد دماغه بدګمان یې ۲۷۱
* په خاطر باندې مې ستا دغم غبار دی ۱۸۸
* په خاطر مې غلبه شول ستا غمونه ۱۷۴
* په دنیا کې که څه کار دی خوددین دی ۲۰۰
* په دنیا کې که هر څو وبله پیوند وي ۲۶۲
* په دنیا کې له دنیا ګوښه کنار شه ۱۵۷

په دنیا کې مخ د یار دی نورخه نشته ۱۳۶

په دوران مې هسې رنګ دلبر پیدا شه ۱۵۵

په بنادی بناد شوی نه یم دهیچا ۱۱

په بنایست زما دیار نه دې خبر څوک ۸۵

* په سنه خوی له بدخواهانو بې پروایم ۱۰۱

* په طلب دهر ویا نو سرګردان دی زما روح ۴۳

په ظاهر صورت چې ستا د در ګدای دی ۲۰۹

* په لپمه کې مې مدام ۹۳

په نامه د هغه خدای مې دا بیان دے ۱۹۵

په نظر د بې بصر ۵۹

* په نورخه پسې بې خدایه ژاړې ولې؟ ۲۵۵

* په ورځ ناست یې بې طلبه ۱۲۸

* په هر ځای چې ستا ثنا شي شپوګرې ۲۱۲

* پهر زړه چې د یار مینه شی غالبه ۱۳۱

په یوه ذره به وږی یا به موړې ۲۷۰

په یوه غمزه دستر ګو یې فنا شوم ۱۰۰

تا

تا چې په داتو رو ستر ګو وکاته وماته ۱۳۱

تا چې رنګ د میو ورکړ و لبانو ۱۲۴

تا چې مخ د پیری ستر ګې د آهو کړې ۲۲۴

* تا خوږده زما د زړه له احتیاجه ۱۳۷

* تبسم مې د وګړي په روزګار شي ۲۳۰
* ترابدې وځې پورې به جفا کړې ۲۱۷
ترحد تېره شوه په یارپسې ژړا زما ۲٤
ترهغه حده پهورته بد سړے شوم ۱۰۰
* تل به نه وي شګفته ګلزار د عمر ۵۵
* تل دې ستا د خواب آلود وستګو خواب وي ۲۵۹
○ تل ژړا فریاد کړم د دلبر پرآستانه ۱۷۲
* تورلیمه مې د فراق په ژړا سپین شول ۹۲
نه په هره ګړي غم دسیم ونه خوږے ۲۱۵
نه چې خپله بې عقلي هوښیاري بولي ۲۵۵
نه چې ما ته وایې چې په چا باندې شیدا یې؟ ۲۶۷
* نه چې ما ته وایې چې په څه کوے ژړا؟ ۱۰
* نه چې هسې ګاه یې ترش ګاه یې خندان ۱۱٤
* نه شما یې شکرلبه ۱۲۹
نه ناحق په ما کینه کړې کینه ناکه ۱
نېرشو په دا طمع په درستا عمر زما ۲۸۲
* نېرشو درست عمر زما په دا هوس ۷۱

چ

چا چې کړې ودنیا و نه اسرې دې ۲۱۱
* چا چې لمړی وي په خپلو وینو وللی ۲۲۷
* چا امید په عمارت د دې جهان کا ۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواویم

* چې امید په عمارت د دې د نیا کا ۱۷
چې برهم کا عاشقي د چا مزاج ۴۲
چې پاے بند شو د لیلی په اشتیاق ۸۰
* چې پخته شي آشنایي ۲۶۷
* چې په زړه مې تور لحد شي د خپل خاك ۸۲
چې په رود ورسره نه یې برابر ۵۷
چې په سترګو کې یې خار وي څه به خوب کا ۱۸
* چې په مخ باندې د اوښکو یو رقم وي ۲۶۵
چې په نورڅه پورې زړه تړې بې خدایه ۱۷۹
* چې په وخت د ځنګدن وکاږې زړه ۱۴۶
چې پیدا شوه ستا چشمان د اهسې شوخ ۴۶
* چې تر سنګ او تر آهنه یې زړه سخت وی ۱۸۶
چې خبر شوم د ساقي د جام له راحه ۱۳۷
* چې خپه یې د سپلاب په مخ شوه لکه ۱۶۷
* چې دارو د درد و غم د ی هغه می ۲۷۴
* چې د اهسې لاس په لاس د نیا پر پسوړې ۲۰۲
* چې د څنګه مې د لبر په لاس کې جام دی ۱۹۴
○ چې د وې سنځې وي د چا ۴
چې دې زړه دی پرې تړلی استوار ۵۱
* چې ترته د یار شو نه بې چې ترته غم د دل وجان ۱۱۶
* چې سړی له بله بد وایي بد ګوی شي ۲۴۴

	چې شهید د تورو سترګو په خنجر شي	۲۳۱
○	چې سنګار شو راته راز دیار له پته	۱۶۳
	چې علاج کولی نه شي د قسمت څوک	۸٤
*	چې غبار د ستالګلاري په خوا ورشي	۲۳۲
	چې غرقاب شي تر وچشمان په یم د زړه	۱۵۰
*	چې کوتلی وي په تیغ ستا د چشمانو	۱۲٤
	چې له تاسره په سرکاندې سودا	۱۵
*	چې له ستر ګو مې خوناب د زړه عیان شه	۱۶۱
*	چې له مرګه بې پروا یې په هر دم	۹۸
*	چې له نازه پوشیده لري چشمان خپل	۹۱
*	چې مجنون غوندې یو موتی استخوان شي	۲٤۱
*	چې مدام د بل وعیب وته نظر کړې	۲۱۸
	چې مشغول نه وي د ترکو په جمال څوک	۸۶
*	چې مې مینه خدای په تا باندې پیدا کړه	۱۵۱
*	چې مې یار ولید په سینه داغیار ګډ	٤۹
	چې نصیب یې سینه چاکه زړه افګار شه	۱۵۶
	چې نظر کړم په قسمت او په نصیب	۳۸
*	چې نظر کړم د خوبانو ورخسار ته	۱۳۲
	چې واده یې که په د ول او په سرنا	۲۸
	چې وصال د خپل جانان مې دی موندلی	۲۵۳
	چې ویلی مې له تا دی د احدیث	٤۲

* ما دد هر غم وهلی دی په لته ۱۳۳
* ما دستالمن ته اچولی داخپل ځان دی ۱۹٤
* ما سحر سبا لپدلی ؤ د چا مخ ٤٥
* ما وې زه به نه کړم په خوبانو باندې مینه ۱۷٦
* مخ ته که دې نمر وایم د نمر زلفې تار تار نشته ۱۳٥
* مخ دیار شمس وقمر دې واړه یو دے ۲۰۱
* مدام ناست یم وچ گوگل ستر گې په نم کې ۲٤۹
○ مست دهغه مخ یم چې مستانې لرې ستر گې ۲۸۷
* مغرور مه اوسه د عشق په کاروبار کې ۲٤۸
مه غوښ باسه د نااهلو قیل وقال ۹۰

ن

○ نن نگاه وما ته راکړ د یارې خط ۷٦
* نه رسیږي ستا وحسن وته حوره ۱٤٥
* نه یم خوښ د سرو گلونو په سایا زه ۱٥۳

و

* وخت د عیش وطرب تیر شو خزان راغی ۲٤٥
* وخت د نوبهار دی زه جدا له خپله یاره ۱٤۲
* وخوبانو وته ولې نظر نه کړې ۲۲٦
ورځ چې بده شي عاقل ودانا څه کا ۲۱
* ورځ دې تیره په شومۍ کړه شپه له خوابه ۱۲۸
ورقونه لټوم د هر مکتوب ۳۸

خودبه وران شي د دنیا بازاره ناره ۱٤۹

* خوزما په ورمېږه ماتول شـپېلي ۲٦۹

* خوی که په داشان وي دل آزارستا ۱۳

د

داچې مست په میوراغی یار دچادی ۱۸٤

داخـه مـخ دی منـور ٥٤

دادنیا ده بې وفا ۱۱

* داژوندي چې معلومېږي واره مـرګ دي ۲۰۸

* داشنا له لاسه ناستیم په زړه ستړی ۲۲۰

* دایوخ نگه ژوندون دی نه پوهېږم ۹۷

* دبلبل له حاله زده کړه په خزان کې ۲٥۰

دبې درد وهمدمي به دې بې درد کا ۱۹

○ دپېن وان غمی دی زیب کا په لبانو ۱۲٦

دخپل ځان له خاکساری نه بلند شوم ۲۸٤

ددلـبر و پـه درگاه ۱۲۷

* ددنیا دسـود دپاره غمگین مه شه ۱٥۹

ددنیا کاروند واره غولـول دیے ۱۹۳

* درلغـه ولېدی یو ځل هغه مخونه ۱۷٥

دزړه حـال وتا نه څه وایم په ژبه ۲۸۸

دساقي په لاس کې جـام دمیوناب دی ۱۸٥

* دستادرد به په تمام جهان ورنه کړم ۹۷

* دسکوت په تېغ چې ژبه بريده شي ۲٤٤
دعاشق بې خپاه ياره قرار نه شي ۲٤۳
دعاشق نظر په خوردو په خواب نه دی ۲۰٤
دعشق زخم څه د زخم په شان نه دی ۲۰٤
دغه يار د ی د ا اغيار ۵۳
دلربا که د خپل حسن مخ عيان کا ۲۸۳
دلمخ چې ستاله مخه نه شرمېږي ۲۲۷
دل ودين مې هغې ترکې کمر رها ۲۹
دنيا دار دد نيا کار کا زه د دين ۱۱۳
دنيا دار که مستغني په سيم وزر دی ۱۹۰
دواره ستر ګې مې کښې دستا په لوړدي ۱۹۱
* دوباره دې را تله نشته په د نيا ۲
* دوصال په هوا والوتې مرغه شوې ۲٦٤
* دوصال شپه مې بدله په بېلتون شوه الغياث ٤۱
دهجران له ديره غمه ولې نه مرم ۹٤
○ دهغوچې په هجران شي سينه داغه ۱٦۳
* دهغوچې وبله هم ومحبت وې ۲٦۰
* دهغې بناچې نوم محنت آبادوي ۲٦۱

ړ

* دپر عمر مې تېر کمر بېهوده په زمانه ۱۷۱
دپر يارانو وو دګل خان او جمال خان ۱۱۰

* دپرې خولې زما په یاد شکر خوږې شوې	۲۷۵

ر

راشه مه کوه له چا سره جفا	۷
* راکوی دبیدیکه پیغورونه	۱۷۳

ز

○ زړه مدام راته ویل چې ژاړه ژاړه	۱۴۸
* زړه مې بایلوستا په مهر ومحبت کې	۲۴۷
* زړه مې بې له خپل نګاره آرام نه کا	۲۲
زړه مې تراشي د بنو په تېره نوك	۸۳
* زړه مې دوب دوب کېږي ستا غم په غلبو کې	۲۵۱
* زړه مې ستا په ذکر وفکر ګلستان دے	۱۹۸
* زړه مې وګر و خودرائے	۱۸۰
زغره واغونده ملا وتره په جنګ	۸۷
* زلفې دې له دپرې درازیه پای ترسردی	۱۸۹
* زما اوسنکې چې داهسې شست وشوکا	۲۱
* زه بلبل ستا دوصال یم بوستان خه دی	۲۰۲
* زه په سل رنګه راغب	۳۹
* زه تېر شوی یم ترسر	۵۶
زه داهسې دیوانه او مجنون چاکړم	۹۶
* زه دستالغمه ژاړم واره وینې	۲۷۲
* زه دیار په درد وغم کې شادمان یم	۱۰۵

* زه دیار په درد وغم کې غرقاب خوښ یم ۱۰٤
زه عار نه لرم په عشق کې له پیغوره ۱٤٤
زه که لافه د وفا کوم هر چند ٤۸
زه له دې جهانه تلونی په شتاب یم ۱۰۱
زه یو دم دستاله غمه بې غم نه یم ۱۰۸

ش

ژوبل ژوبل د ترکانو په نگاه یم ۱۰٦
* ژوندي کاندې د دنیا کاروبار ونه ۱۷٤

س

ساقي پورته شه دمیو جام تیار کړه ۱۵۰
○ ساقي راکړه ته وما ته جام د رقص ۷٤
* سپین رخسار ومشکین خال دې وبله ضم دې ۱۹٤
سپین مخونه تورکودی شي په پیرۍ کې ۲۵۲
ستا په خبرنه دي خوبان لیدلي ما ۲۷
* ستا په عشق کې د وغژن یم سرتر سره ۱٤۳
ستا په عشق کې هسې خلاص یم له شعوره ۱٤۷
* ستا په مخ کې چې حساب د جمال نشته ۱۳٤
* ستا جفا ترحد پهورته ده صنمه ۲۷۸
ستا د تورو سترگو په یاد داشتې اوښکې اوري ۲۱٤
ستا د عشق حرفونه تورنه دی گلگون دي ۱۹۹
* ستا د مینې گوهر نشته په هر آب کې ۲٤٦

* ستادې خواب آلود وستر گو خواب راتخه یوړه	۶۶
ستاله رحمه به زه ولې ناامیدی کړم	۲۸۶
* ستاله غمه مې په سر کې هسې شوردی	۱۹۱
* ستاله غمه مې په مخ باندې ولې دي	۲۱۱
* ستاله لاسه په ماجوردی که داد دی	۱۸۷
* ستا وصال دی رابسلی زما روح	٤٤
* سر زما سامان زما، خار شه ترجانان زما	۲۶
○ سر مې په کار نه دی چې یې ستا ترسر قربان کړم	۹۵
* سل خله که وخوري ناصحان خیګر زما	۲۵
ش	
○ شمع د دلبر ستر ګی عاشق پرې پروانه	۱۷۰
ښ	
* ښخ مې ستا د ښوغشي په سینه دي	۲۰۳
ښه ده ښه ده دا د نیا	۵
ص	
* صبحدم چې هغه یار را باندې راشي	۲۲۸
* صبح وشام مې لاس ښولي دي دعا کړم	۹۶
ط	
طمع مه کړه په دنیا کې د نشاط	۷۵
ع	
* عاشقان دناصحانو وینا نه کا	۲۳

اتیایم

* عاشقان دې په اور سوي دي که نه دی ۲۰۷
عاشقی رابانديې سوري کړې مـــرئ ۲۱۳
عاشقی مې يې په زړه وکړ گوزر بيا ۳۰
عالمان دي روښنايي ددې د نيا ۱۰

ع

* غمخواري داهسې چېرې ويې غمخورئ ۲۱۵
* غم دې هسې غلبه شو په ما باندې ۲۰۰
غواصان که گوهر غواړي گوهر دادی ۱۸٤

ف

* فراموش مې دی دستا په مينه ځان ۱۱٦

ک

* کرد گلو کړه چې سپمه دې گلزار شي ۲۲۸
* کشکې زه خاورې اپن پې دستا دده وائے ۱۸۱
* کله شولا کله خپه اريم ستا د مخ ٤۵
* کمينې يو نا در کار دی ۱۸۹
که بې ځا يه زړگې نه وښکې آواز ٦۹
* که چوا تر آشنايۍ وی بېلتون ۱۲۰
که په بخت کم بختان نه وائے خسته دل خوک ۲۸۳،۸۷
* که په سر دهغه يار له لاسه سنگ خورم ۹۵
* که په عقل پسې ولاړم په کار نه شم ۱٦۲
که په قطع د تمام جهان ملک يې ۲۸۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

یواتیایم

که په گنج دشاهي فخر شهریار کا ۲۰

* که په هجر کې څوك ما پوښتي له حاله ۱۶۸

○ که ترستوني دې شي گوټ له جام خاص ۷۳

* که تري ولوښته شاهان او سلطانان ۱۱٤

که ته نه کړې په بل چا باندې غرض ۷٤

که څوك فخر کا په ننگ او په ناموس ۷۱

که څوك لاس له سوده وکاږي زیان نشته ۱۳۵

که څوك یار په جهان غواړي یار دې دا ۱٤

* که څه وایم له هجرانه وایم څه ۱۳۹

که خپل زړه غواړې له چا ۱۱

* که د خلق ونظر ته آدمی دی ۲۱۰

* که د درستې دنیا غم مې په سر باندې وي ۲٦۲

که دزړه مې روس وی خوچې مړ شي ۲۳٤

* که د زړه په وینو رنگ د چا گوگل شي ۲٤۰

* که د ستا د خاطر مینه په اغیارو ۲٦٤

که د عشق خبرې تېرې ترگلو کړې ۲۲۳

که د عشق لاره اغزنه ده هر گوړ ٦٤

* که د عقل څه اثر لرې و سر ته ۱۳۲

که دلدار په دلداری زما قدم ښ دي ۱۹۲

○ که دې پرې کړه له وگرې یو رښتیا طمع ۷۸

* که دې غم د درست جهان ترزړه چا پېر شي ۲۳۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواتیایم

* که زمامینه په تاده خطا نه ده ۱٤۰
* که ستاخپله سیاه رویي نه وي دښمنه ۱۷٦
* که سړي دخپلې پوهې تقصیر نه کا ۲۳
* که سل ځله هم کنار وهم بغل شي ۲۳۹
که صورت دمحمد نه وی پیدا ۲
که قاصدي دمقصود ٤۷
○ که گوهر دعشق په لاس راکړی غواص ۷۳
* که له تاي شرم نه کیدی هرې ۲۱٤
* که له دیره غمه دم دچا ختی ۲۷٤
* که له غمه یوه خواکا ځجا بونه ۱۷۲
* که ماښام ترستونې ښکته کړې حلوا ۲۹
* که مطلب ومدعا دسړي خدای دی ۲۰۹
که مې څوك په فقیرۍ شمیری فقیریم ۱۰۳
که مین یې په خپل یار باندې ښتیا ۳۰
که مې وشي له دلبره ملاقات ۳۹
که مې ونمانځی ساقي په یوه جام ۹٤
○ که مې یار په دیدن سرغواړي عوض ۷۵
که نظر په ما تو گودو دروزگار کړې ۲۲۵
که نظر کاڅوك په کار ددرو پشانو ۱۲۵
* که هزار ځله نژدې دزړه په یادیم ۱۰۳
* که هر څو په صحرا سرشوم هم په کلیو ۱۲٦

* که یو ځل مې هغه یار ولیدی دریغه ۱۶٤
* که یې مهر و محبت که یې عناد دی ۱۸۷

گ

گاه په غارمه سوځی ګچې رېږدی په ساړه ۱٤۸
* ګوره بیا به څوك ادا په زړه کا غونډه ۱٤۱
ګوره څه بلند مقام دی د اخلاص ۷۲
ګوره هسې کرد ګار دی رب زما ۱
* ګېډه وتره په پړی سره کلکه ۱۶۸

ل

* لاس مې وتړی د زلفو په طناب ۳۷
لکه کاندې په کوش و نظر باز ۶۸
* له اغیار سره خنداخه په کارنه ده ۱٤۰
○ له چشمانو مې د غمه اوښې اوږې ۲۱۶
له دې کتنه له پوزیه خوبه ولاړ شې ۲۳۳
* له هغوسره به څه فکر د یار وي ۲۶۳

م

* ما به ولې کړم فریاد او فغان دریغه ۱۶٤
ما په تاپسې د اسپینې جامې رنګ کړې ۲۲۲
* ماتوبې مې خوله په سوك ۸۳
ماچې جور و جفا بیا مونده له یاره ۱٤۲
* ماچې ستر ګې و ګلرخ ته وار ولې ۲۵۳

* چې هرچا پسلی نه وي یار زما ۲۶
○ چې هردم له خپله ځانه ګرېزان یم ۱۰۶
* چې یې نقش په زړه خیال شي داشنا ۲۸
چې یې ولېد دستا حسن بې حسابه ۳۶

څ

* څو به شمېرم زه غمونه د هجران ۱۱۷
* څو به صبر په جفا د یار کوم ۹۹
○ څو به هسې آزادي په داجهان کړي ۲۲۱
* څو ترمیانه وړانه نه کړې دتن پوله ۱۶۹
څو جفا قبوله نه کړې د اغیار ۵۲
څوك دې راکاندي قسم په کردګار ۵۳
* څو یو ځله یې ناراج په جفا نه کا ۲۱
څه شوکه خاموش یم ستاد عشق له آه سرد ۱۳۹

خ

* خان سلطان ددې جهان ۱۱۸
خبر نه یم چې یې راوستم له کومه ۱۶۹
* خدای دې وژغوره له هرې پریشانۍ ۲۷۱
* خدایه څه شوه هغه ښکلي ښکلي خلق ۸۲
خدایه زړه درقیب نرم په احسان کړې ۲۲۱
* خدایه مه کړه ناامید هغه وګرځي ۲۱۹
* خراب زړه مې ددلبرو هوا یوور ۶۷

ورك شه ورك شه بد كردار او بدسري ۲۷۳

* وركه عاشقي شه هم يې نوم هم يې نښان ۱۱۸

* ولې تللی يې له مامدام په څه ۱۳۸

* ولې نه ګوري وما ته سم په څه ۱۳۸

* ولې ولې وعاشق ته نظر نه کړي ۲۲۶

ومحمود وته نظر کوه مدام ۹٤

* وپښته سپين سترګې تاريکې غابښ کنډاس ۷۰

ه

○ هرچې خپلې مينې خوارکړ خوارې مګنه ۲۸٤

هرچې ستا په زنخدان کې يې منزل شي ۲۳۹

* هرچې ستا کوڅه ما واکا ۱٦

هرچې کښت يې په باران او په سيلاب وي ۲۵۷

هرچې نه وي خوار و زار ۵٤

* هرچې وويني په سترګو روی دستا ۱۳

* هرساعت زما دغوږ په تا وولو ۱۲۳

* هرساعت که څه ګوزار دی بې مخلصه ۱٦۲

هرګفتار هره وينا چې څوك عبس کا ۲۸۲

* هرمطرب چې غوږ دی تا وکا درباب ۳۷

هرنګار چې بې وفا دی نګار نه دی ۲۰٦

* هروګړی چې منصور غوندې په دار شي ۲۲۹

هريوګل دستا د باغ، روشن تردی تر چراغ ۷۸

* هسې بې یاره خفه یم په جهان کې	۲۵۰
هسې تله کاندې وګورته یاران ژړژړ	۵۷
هسې تېز ده ومې د و ر ان	۱۰۹
هسې خوښ یم ستا دده په خاکسارۍ کې	۲۵۱
* هسې ډوب یم ستا دغم په دریاب تللی	۲۵۶
* هسې رنګ نعمت راکړی خدای ومادی	۱۸۳
هسې مست یم ستا د شونډو په شراب	۳۵
هسې نه چې زما یار واړه جفا که	۱۶۷
* هسې یادې همېشه مدام زما	۲۵
هسې یمه یاره ستا په غم تازه	۱۵۳
هغو بیاموند سعادت په دا دنیا	۳۱
هغه دم چې زړه ملال شي	۲۳٤
هغه زړه چې خدای روښان کا جام دجم شي	۲٤۰
* هغه زړه چې ستا دعشق په اور کباب دی	۱۸۵
هغه ژوی چې بې خدایه محبت کا	۱۹
هغه ژوی چې مین وي څه به خوبکا	۱۷
هغه یار چې بې وفا دی څه یار نه دی	۲۰۷
* هغه یار چې ښایسته دی تر آفتا به	۲۷۶
همېشه دې زما سر او ستا قدم وے	۲٦٦
هوښیار مه ګنه هوښیار د دې د نیا	۳۳
هومره اوښکې مې جهېږي په رخسار	۵۱

* هېڅ ثابته نه کړه چاددې دنیا وفا ٤
هېڅ مې نه زده نه پوهېږم داخه پېرشه ١٥٨
هېڅ مې نه کړه په داعمر کې حاصل ٨٩
هېڅوك مه شه گرفتار د تو روزلغو ١٢١

ی

○ یاداستا چشم وابروو ینم په خواب کې ٢٤٦، ٢٨٦
یادوې په خوله مکه او مدینه ١٧٧
* یار یاري راسره نه کا الغیاث ٤١
○ یو خل ولیدی دیار پر پیشانې زلفې ٢٥٢
* یو یو داغ په تن اپسبی دهر چا دی ١٨٢

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

وره هستي کردګاردی رب زما — چې صاحب دکل اختیاردی رب زما
همګي بې ګوارانې چې خوک یې وائي — ترهمه ؤ بې ګواردی رب زما
نه یې هیڅ حاجت په چا باندې موقوف دی — نه دهیچا منت باردی رب زما
له نیستۍ یې دهستۍ صورت پیدا کا — هستي رنګ پروردګاردی رب زما
هم صانع دی د جمله ؤ مصنوعاتو — هم سامع دهر ګفتاردی رب زما
چې یې هیچ ډیر نه مثل نه مثال نشته — دهغو عطر وعطاردی رب زما
هر تعمیر چې د دنیا او د عقبی دی — دهمه وا بر ومعماردی رب زما
خواننده دنا نویسو صحیفو دی — دانندهٔ دهر اسراردی رب زما
که ظاهر دی که باطن دی که مابین دی — له همه ؤ خبرداردی رب زما
که پیدا که پوشیده دی که اوسط دی — په همه ؤ وقوف داردی رب زما
شریک نه لري په خپله بادشاهۍ کې — بې شریکه شهریاردی رب زما
هستي نه چې واحد یې یاده له عجزه — په واحد وجود بسیاردی رب زما
څه حاجت دی چې ویل خواته یې غواړم[2] — په خپل کور کې همکناردی رب زما
حاجت نه لري دهیچا ویاری ته[3] — له هغوسره چې یاردی رب زما
هیڅ تغییر او تبدیل نه لري — تل تر تله برقراردی رب زما

---

(۱) دا بیت د "ب" په قلمي نسخه او د کلتور وزارت په دوو قلمي نسخو کې نه دی راغلی.
(۲) قلمي نسخې: "څه حاجت دی چې یې بله خواته غواړم". د "خ" په اوله نسخه کې "حاجت نه لري د نورچا ویاری ته"، او په دوهم
(۳) د "ب" په نسخه کې "حاجت نشته د نورچا ویاری ته"، نسخه کې "حاجت نه لري د نورو ویاری ته" راغلی دی.

که صورت د محمد ﷺ نه وی پیدا — پیدا کړې به خدای نه وه دا دنیا
کل جهان د محمد ﷺ په مخ پیدا شو — محمد ﷺ دی د تمام جهان آبا
نبوت په محمد ﷺ باندې تمام شو — نشته پس له محمد ﷺ ه انبیا
نور هاله د محمد ﷺ و پیدا شوی — چې نه عرش و نه کرسي وه نه سما
بوی هاله د محمد ﷺ و په جهان کې — چې بوی نه و د آدم او د حوا (۱)
که صورت یې آخرین دی پیدا شوی (۲) — په معنی کې اولین دی ترهر چا
که نبي دی که ولي دی که عاصي دی — محمد ﷺ دی دهمه وار و پیشوا
چې یې دین د محمد ﷺ دی قبول کړی (۳) — جنتي دی که فاسق دی که پارسا
محمد ﷺ د گمراهانو رهنما دی — محمد ﷺ دی د رندو د لاس عصا
که نا ده پیروي د محمد ﷺ ده — گنه نشته په جهان بله نا
محمد ﷺ د بیچاره و چاره گر دی — محمد ﷺ دی هر دردمندلره دوا
خدای یې مه گنه بیشکه چې بنده دی — نور یې کل وار صفات دی په رښتیا (۴)

نه ساج د محمد ﷺ د د خاکر و ب یم
که مې نه کا خدای له دې دره جدا (۵)

۲ — ۲۸

دوباره دې راتله نشته په دنیا — نن دې وخت دی که دروغ کړې که رښتیا (۶)
هره چا چې تر وخت تیره شي عنقا شي — عنقا نه دی په دام نښتی د هیچا
تر وخت تیرې اوبه بیرته نه جاروزې — نه جاروزې تیر ساعت په بیرته بیا
تیر ساعت په مثال مرې د لحد دے — مرچا نه دی ژوندی کړی په ژړا (۷)
که مقصود لرې تلوار کړه وخت کوتاه دی — غره مه شه د دې عمر په بقا

---

(۱) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نه دی راغلی.
(۲) د "پ" په نسخه کې "خه شو که صورت یې آخرین دی پیدا شوی"، د "خ" په لومړی نسخه کې "که صورت یې آخرین و پیدا شوی"، په دوهمه نسخه کې: "په دا خه شو که صورت یې آخرین دی پیدا شوی".
د "پ" چاپ: "په صورت که آخرین دی پیدا شوی په معنی کې اولین دی له هر چا".
پیښور چاپ: "که صورت یې پیدا شوی آخرین دی په معنی کې اولین دی تر هر چا".
(۳) د "خ" په لومړی نسخه کې: "چې چا دین د محمد ﷺ دی قبول کړی".
(۴) د "پ" لومړی نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې: "نور محمد وار ه صفات دی په رښتیا".
(۵) د "پ" چاپ: "که مې خدای نه کا له دې دره جدا".
(۶) دا غزل په مصوره نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته، په چاپي دیوانونو کې دوهمې مصرع د "وخت" پر ځای "وار" راغلی دی.
(۷) قلمي نسخې او "پ" چاپ: "مرچا نه دی ژوندی کړی په دنیا".
(۸) د "ق، ک" چاپ: "که مقصود لرې په زړه کې وخت کوتاه دی".

هره نښه چې صحيح ګڼي په ژړه کې
په غرور به دغه[1] نښه کړي خطا

په اميد اميدي خلق نا اميد کړل
دا ايام له مکره مه شه بې پروا

چې دمرګ په تا چه دې شي خوله ماته
تر و په ماته خوله به څرنګ کړي ثنا[2]

وين ژړلې اترينې چې وينا وايي[3]
تا ته وايي که پوهېږې دا وينا

هلک نه يې چې په زور دې څوک تعليم کا
هم عاقل يې هم بالغ يې هم دانا

په عمل دنيک و بد و فهم[4] وکړه
چې په داګې دې ګهبود دی که په دا

سر دننه په ګريوان کړه ستر ګې روڼې
دې په پوته پوته مه ځه سر هوا

سر هوا سر هوا مه ځه و آسمان ته
ته په اصل کې له خمکې يې پيدا

د عمل په ځای به دا پوښتنه نه وي
چې ته زوی يې يا نمسی يې د فلانا[5]

په خپل ځان ښېګنه وکړه غره مه شه
په ښېګنه دادې او د بابا[6]

هغه نا وي چې په ځان ښايسته نه وي
څوک بې څه کاندې ښايست دمودنيا[7]

دا خبره زه و ځان ته کړم اې يار زه[8]
دلګير مه شه که مې نوم واخيست دستا

نوم دستا او دبل اخلم ځان ته وايم
دا عيبونه دي همه واره زما[9]

هر چې وايم همه واره ځان ته وايم
نه مې کار نه مې غرض شته په نور چا[10]

هر چې وايم همه واره ځان ته وايم
دا عيبونه دي همه واره زما[11]

که مې ځای ددې غمونو وي په ژړه کې
ما به څه لره کوله دا انشا

چې دمرګ سختې خواري دا ستا په خوادي[12]
اې ياره نه ولې نه مې لا پخوا

(1) د "پ" له لومړۍ نسخې، "ق" ک" چاپ او "ق" چاپ نه پرته په نورو قلمو کې "هغه" راغلی دی.

(2) د "پ" چاپ، "پ پ" چاپ، "ق" چاپ او د "خ" لومړۍ نسخه: "تر و په ماته خوله به څه کوې ثنا". د "ق ک" چاپ: "بيا په ماته خوله به څه وايې ثنا".

(3) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه او د "پ" لومړۍ او مختلط نسخه: "وين ژړلې اترينې چې وينا وايي".

(4) د "پ پ" چاپ کې د "فهم" پرځای "عمل" راغلی دی.

(5) د "ق ک" چاپ کې د لومړۍ مسرې "نه وي" پرځای "نه شي" راغلی دی او دوهمه مسرې يې داسې ده: "چې ته زوی يې يا نمسی يې د فلانا".
د "پ" لومړۍ نسخه: "په خپل ځان ښېګړه وکړه که مې وي غره مه شه په ښېګړه دادې او د بابا". د "ق" چاپ: "چې ته زوی يې يا نمسی يې د فلانا".

(6) د "خ" لومړۍ نسخه: "څوک بې څه کاندې ښايست دمودنيا". د "خ" دوهمه نسخه، "پ" چاپ، "پ پ" چاپ او "پ" مختلط نسخه: "څوک بې څه کوي ښايست دمودنيا".

(7) د "ق" چاپ: "دا خبره کړمه ځان ته زه هوښيار زه".

(8) چاپي ديوانونه: "نه مې کار نه مې غرض شته په بل چا".

(9) دا بيت په "پ" چاپ، "ق ک" چاپ او "ق" چاپ کې نشته. د "پ پ" چاپ کې يې دوهمه مسرې داسې ده: "څه مې کار څه مې غرض شته په نور چا".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې "په بل چا" راغلی دی او د "خ" په دوهمه نسخه کې د لومړۍ مسرې د "همه واره" پرځای "همګې" راغلی دی.

(10) دا بيت په چاپي ديوانونو کې نه دی راغلی.

(11) د "پ" لومړۍ نسخه: "چې دمرګ سختې خواري دې دې په خوادي". "ق" چاپ: "چې دمرګ سختې خواري دې وي په خواکې". د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه او د "پ" مختلط نسخه: "چې دمرګ سختې خواري دې لا په خوادي".

هېڅ ثابته نه کړه چا ددې دنیا وفا — واړه مینې کاندې بېهوده په دا دنیا[1]
هر څوك چې دعوی په دا دنیا کا د خپلوی — واړه باطل وایي دنیا نه ده هېچا
دا فلك کلال دی سا نول او ماتول کا — دې بې ماو تا غوندې پیدا کړه هم فنا
هر سنګ وکلوخ چې څرګند بې ددې ډهر — واړه ککری دي څوك د شاه څوك د ګدا[2]
دام دې هېڅوك نه بې دي د دنیا و هګذر — سنکار به وګرځی نه شي د سیمرغ او د عنقا[3]
هر څوك چې له دې فاني نفس وابستګي کا — نه به شي ترلی په ځنځیر سره هوا[4]
ماه دی که آفتاب دی عاقبت واړه خراب دي — ګل که همیشه وي هسې نه تر ابدا[5]

مه دره مه ساحل پېخلاف د دا نایانو
مینه د دنیا پسند لې نه ده هېڅ دانا

٤ — ٥٨

چې دوې بېخې وي د چا — هم سني وي هم پاس سا[6]
خدمت کړونې د څښتن وي — په بند خوی وي اراستا
تفاوت پکې حرام دی — که شري وي که خاصا
لازم دادی وخښتن ته — تفاوت دې نه کا بیا
په خوراك هم په پوشاك کې — که کنه وي که حدوا[7]
او که داهسې به نه کا — خپل عمل به کا بیدیا
یو دلې به مجنون و مري — بل هوري به شي د وی سیا
دا حدیث دی وارد شوی — که څوك فهم کا په دا
هغه څوك چې تفاوت کا — زه وپزاریم دی له ما
په مشکوة کې دي راغلي — ورشه وپوښته علما

ساحل ژغوري یوه خدایه
له عذابه له خطا

٥ — ٩٩

---

(١) دا غزل د "خ" په دوهم نسخه کې نشته. په چاپي دیوان کې، د "خ" په لومړی او مصوره نسخه کې د "بېهوده" پر ځای "بې وفا" راغلی دی.
(٢) د "ب" لومړی نسخه: "واړه ککری دي څوك د شاه و د ګدا".
(٣) دا بیت او وروسته بیتونه په مصوره نسخه کې نشته.
(٤) د "ق.ک" چاپ: "که شي ترلی په ځنځیر سره هوا".
(٥) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته، د "ب" چاپ کې داسې دی: "ماه دی که آفتاب دی همګي واړه خراب شي ګل که همیشه وي هسې نه تر ابدا".
د "ب" لومړی نسخه: "ګل که همیشه وي هسې نه تر ابدا".
(٦) دا شعر د دوران له مجموعې څخه چې په ١٨٤٧ کال کې خپره شوې ده نقل شو او د "ب" په دریم نیمګړی نسخه کې هم ورسته لاس ته راغی.
(٧) په اصل نسخه کې "خذوا" راغلی دی مګر معنی یې څرګنده نه شوه ځکه نو دلته د "حدوا" په شکل ونیول شو چې معنی یې "نال" دی.

ښېرده ښېرده دا د نیا — چې تو ښېرده د عقبا
مذمت د د نیا مه کړه — واوره پند کړه د اوینا
د د نیا په باندې کېږي — د هغه جهان سودا
په د نیا کې د ېر حکمت دی — پرې پوهېږي حُکما[1]
که غلیم لره یې ورکړي — غلیم دوست کا په هوا
که ترسې یې صدقه کړي — رفع د فع کا بلا
که په اوږ باندې یې کېږدي — بوی د عود وکا پیدا
که یې تو یه په صحرا کې[2] — ښایسته کا ندي صحرا
که یې نذر کړي و پیر ته[3] — خوشحال د روي په خندا
خوش وندی وي په جهان کې — یاد وي د ې په د عا
د حاتم په څېر دې ستایي — خطاب د رکا د سخا
سخی هر یو د خدای دوست دی — وَلَوْ کَانَ فَاسِقًا
هر بخیل د خدای د ښمن دی — وَلَوْ کَانَ زَاهِدًا
د نیا کښت د آخرت دی — د اخېره د ه د ښتیا
د د نیا طالبان د ېر دي — که یې مومي څوك له چا
ولې مرد پکې هغه دی — چې سخي وي هم پارسا
په د نیا کې بدي نشته — که بدي نه وي له تا[4]
په د نیا کې خطا نشته — که له تا نه وي خطا[5]
د نیا بحر دی بهېږي — آیینې غوندې صفا
خپل خپل مخ پکې لیده شي — که څوك زشت وي که زیبا
هم خطر پکې د سر شته — هم گوهر دی بې بها
وفادار لره وفا شوه[6] — جفاکار لره جفا
له یوه مخه یې درد وي — له بل مخه یې د وا[7]

---

(۱) پېښور چاپ او قلمي نسخې : " ورشد وپو ښته حکما ".
(۲) د "پ" چاپ او د "خ" لومړی او دوهمه نسخه : " که یې توی کړې په صحرا کې ".
(۳) د "پ" لومړی نسخه : " که یې ورکړي وفقیر ته ".
(۴) د "پ" لومړی او دوهمه نسخه : " که له تا نه وی خطا ".
(۵) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته.
(۶) د "خ" دوهمه نسخه : " وپا کار لره وپا شوه ".
(۷) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نه دی راغلی ، د "خ" دوهمه نسخه او د "پ" نسخې : " له یوه مخه دوا "

چېرته خوندکاندي دزهرو — چېرته خوندکا د حلوا
کارمه واړه موقوف دی — دسړي په مدعا
سالکان دې نندارچي شي — دخپل ځان په تماشا
هېڅ کاهغه به مومي — دنیا ځای دی دجزا
لکه وي هسې به پاڅي — که نادان وي که دانا
فتوی ونیسه په مخ کې — پسې مت کړه په تقوا
دنیا نده هغه دین دی — چې له نفې وي سېوا
وطاعت وته ولاړ وي — همېشه تر لې ملا
لحرامو يې پرهېز وي — هم مشغول په پنج بنا[1]
کلمې وي قبوله — هم په جهر هم خفا[2]
ددنیا دکار د پاره — فرض لمونځ نه کاندي قضا[3]
هم صائم درمضان وي[4] — هم زکوة کاندي ادا
که يې توان د حج رسېږي — حج هم وکا پسې بیا
داپنځه بنا د دین دي — چې بیان يې وکړ ما
چې يې یون په دا طریقو — هغه کس دی اولیا
که يې مال د دنیا پرې دی — هېڅ دې نه کاندي پروا
دنیا بده د هغو د — چې يې کسب وي ریا
یا يې کسب دریا وي — یا يې وګټي په غلا[5]
یا يې تول کا په ظلم — یا د خمرا[6] په سودا
یا يې ورکا په شرابو — یا يې ورکا په زنا

---

(۱) د "خ" لومړی نسخه: "پای شپول پنج بنا"، د "پ" دوهمه نسخه: "بیای شپول وي پنج بنا".
(۲) د "پ" چاپ کی "هم په جهر هم په اخفا" م په پېښور چاپ کی "هم په جهر هم خفا"، د "پ" په لومړی نسخه کی: "هم په جهر هم خفیا" د "خ" په لومړی نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کی "هم په جهر هم په خفا" او د "خ" په دوهمه نسخه کی "فرض لمونځ نه کاندی قضا" راغلی دی.
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کی نه دی راغلی.
(٤) په پېښور چاپ کی "هم صائیم وي درمضان" او د "خ" لومړی نسخه "هم صایم به درمضان وی" راغلی دی.
(۵) دا بیت د "پ" چاپ کی نه دی راغلی
(٦) په چاپی دیوانونو کی او د "پ" په دوهمه نسخه کی "خمرو" راغلی دی.

یا ناحق خونونه کا ندي — یا مالونه خوري د چا
عبادت کا په ځان فرض — د بادشاه د امرا (۱)
حق باطل کا، باطل حق کا — په سبب د روی ریا (۲)
نه یې ویره شي (۳) له خدای — نه یې شرم نه حیا
دیوې ګېډې د پاره — هزار خونې کا بېدیا (۴)
همېشه یې له ستم — خلقه وی په غوغا (۵)
ګوش او هوش یې هرګز نه وی — د مظلومو په ژړا
د فرعون په څېره (۶) ناوی — بې پروا او کبریا
بتخانې وته یې مخ وي — و مسجد وته یې شا
اختلاط کا له بد انو — له نیکانو وي جدا (۷)
هېڅ یې نه وي په خاطر کې — تولا و تبرا

و ته پېښه مه کړه (۸)
خدای یه هسې رنګ بلا

را شه مه کوه له چا سره جفا — لږ ژوند دن دې ضایع کړي بې وفا
په دنیا کې هیڅوک نه دی پاتې شوني — واره تلوني دي که نن دي که سبا
دا یاران چې نن وتا وته جاوه کا — په دوه ورځې پس به واره شي فنا (۹)
که دیدن دې د دوی خوښ وي وته ګوره (۱۰) — چې فنا شي بیا به کله شي پیدا
د خزان پاڼې چې بېلې شي له ښاخه — په حکمت به یې پیوند نه کا حکما
چې په ځمکه څاڅکی پرېوځي له آسمانه — بیا له ځمکې ختې نه شي په سما
ګومان مه کړه چې بیا ستر ګوله وړشي (۱۱) — هغه اوښکې چې له ستر ګو شي جدا

(۱) د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "د بادشاه او ګدا". د "پ" په دواړو نسخو کې داسې راغلې ده: "د بادشاه و امراء" د "پ" لومړۍ نسخه: "د بادشاهانو د امرا".
(۲) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نه دی راغلی.
(۳) په چاپي دیوان کې د "شي" پر ځای "وی" راغلی دی.
(۴) د "پ" په دواړو نسخو او د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "بېدیا" پر ځای "پیدا" راغلی دی.
(۵) په چاپي دیوان کې "واره خلګ وی په غوغا" او د "خ" په دواړو قلمي نسخو کې "خلقه وی په غوغا". او د پښتو تولنې په دواړو نسخو کې "خلقي وي په غوغا" راغلی دی.
(۶) د "خ" په دواړو نسخو او د "پ" په دواړو نسخو کې "بد" نه دی راغلی.
(۷) د "پ" چاپ او د "خ" په دواړو نسخو کې "سیوا" راغلی دی.
(۸) د پېښور چاپ: "ما رحمان ته پېښه مه کړې".
(۹) د "پ" په لومړۍ او په دواړو نسخو کې "په دوه ورځ پسې به واره شي فنا". او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "په دوه ورځو پس به واره شي فنا".
(۱۰) دا مصرع د "خ" په لومړۍ او دواړو نسخو کې "که دیدن دې د چا خوښ وی د ورته ګوره". او د "پ" په دواړو نسخو کې داسې راغلې ده: "که دیدن دې حبیب خوښ وی د ورته ګوره".
(۱۱) د "پ" لومړۍ نسخه "ګومان مه کړه چې به ستر ګو له بیا وړشي". د "پ" په دواړو او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "ګومان مه کړه چې بیا ستر ګو له وړشي". او د "خ" په دواړو قلمي نسخو کې داسې راغلې ده: "ګومان مه کړه چې به ستر ګو له وړشي".

داپه هره ورځ چې خپړې بېل بېل نه دی — هرچې پر پوځې هغه نه شي ختې بیا
که جنت په زهد نه دی بې کرمه (١) — هرسړی دې خپله غاړه کا ا د ا
که د نفس (٢) د پاره سل محنته وکړې — یو محنت به دې په کار نه شي فردا
که تمام جهان په خپله ګېډه وخورې — یاد به نه شي په درود او په د عا
که یوه دانه (٣) دوږي په لاس ورکړې — هم دغه به دې توښه شي د عقبا (٤)
که یو څاڅکی اوبه تږي لره ورکړې — د دوزخ اوستا ترمیان به شي دریا
که یو ځله سر د خدای د پاره (٥) ټیټ کړې — په قیامت به سربلند شې ترهر چا
بازار دا دی که څوك سودا وسودا کاندی — په هغه جهان نه سود شته نه سود ا
آشنایان که څوك (٦) پوهیږي نن یې وخت دی — چې زاریږي یو آشنا تر بل آشنا
که ژوند ون دی خوهم دادی په جهان کې — چې له چا سره تېرېږي په خندا (٧)
خدای امان راکړه له هسې زندګۍ (٨) — چې ته بد وایې له بله ، بل له تا
نرهر ښه دي که په صلح او په صلاح وي — نه شکرې په فتنه او په غوغا
نس په خاور وپه خس دك ښه دی بې غم (٩) — نه غم په خار وخس پخه حلوا
ماته ملا په مشقت په محنت ښه ده (١٠) — نه حرامه هیانه د چا تر ملا
روند بهتر دی چې څه نه وینې په سترګو — نه چې سترګې په پردې حرام کا وا (١١)
ګونګ بهتر دی چې بې کامه بې زبان وي — نه چې ژبه شي په بد ویل ګویا (١٢)
کون بهتر دی چې څه نه اوري په غوږ و — نه چې غوږ کاندې په بد ویل شنوا (١٣)
دیوا ودد که په خوا درشي خو بهتر دی — خدای دې بد سړی درنه ولې په خوا (١٤)

---

(١) په چاپي دیوانو کې "بې له فضله" راغلې دی. او د "خ" په دوهمه نسخه کې دا مصرع داسې راغلې ده : "که جنت په زاهدی نه دی چا موندلی".
(٢) په "پ" چاپ کې د "نفس" پر ځای "نس" راغلی دی.
(٣) د "خ" په دوهمه نسخه کې "یوه دانه" پر ځای "یو ذره" راغلی دی.
(٤) د "پ" په دوهمه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "عقبا" پر ځای "بقا" راغلی دی.
(٥) په پېښور چاپ ، د "پ" په دوهمه نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "دپاره" پر ځای "په لوړې" راغلی دی.
(٦) د "پ" لومړۍ نسخه : "آشنایان که څو پوهیږي نن یې وخت دی". او په پېښور چاپ کې داسې راغلې ده : "آشنایان که څه پوهیږي دا یې وخت دی".
(٧) دا بیت د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(٨) د "پ" په دوهمه نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې : "خدای امان وکړې له هسې زندګۍ". د "خ" په دوهمه نسخه کې : خدای امان وکړې له هسې زندګۍ".
(٩) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(١٠) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(١١) دا مصرع د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده : "نه چې سترګې په پردې دنیا نوا" او همدا بیت د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(١٢) دا بیت په پېښور چاپ کې "ګونګی ښه دی چې بې کامه وبې زبان وي - نه چې ژبه شي په بد ویل ګویا". د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې : "ګونګ بهتر دی چې بې کامه بې زبان دی - نه چې ژبه شي په بد ویل ګویا". او د "پ" په دوهمه نسخه کې : "ګونګ بهتر دی چې مکامه سر پاند دی نه چې ژبه شي په بد ویل ګویا" راغلی دی.
(١٣) دا بیت د "پ" په چاپ ، د "پ" دوهمه نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې نه دی راغلی.
(١٤) دا بیت د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی : "دیو دده که پخوا درشي بهتر وی که له چا سره همدم دی اژدها". او د "خ" په دوهمه نسخه کې لومړی مصرع داسې راغلې ده : "دیو لېوه که پخوا درشي بهتر دی".

دجاهل ترهمدمی نه به بهتر وي — که له چا سره همدم روي اژدها (١)
که مشکل دي خودن رونو رغول دي — سهل کار دی سودا و زیان ددي دنیا
سودا و زیان ددنیا واړه سهل کار دی — خدای دي نه کا څوك په سهل کار سوا (٢)
چې دورو را ودعزیز زړه پرې آزارشي (٣) — حاصل مه شه هغه خپله مدعا
بنه خواړه چې یوې خوري بل ورته گوري — خواړه نه دي هغه زهر دي گویا
گاه دنور و رضا بویه گهي خپله — په کار نه ده همیشه خپله رضا (٤)
چې سبا دي یې یو زمان وي غم ترتله — دغه هسې چارې نه کا ندي دانا (٥)
لکه ځان هسې وبل وته نظر کړه — لکه ستا دی هسې ځان دی دهرچا
منصفانو لره بویه چې انصاف کا — نه چې نغوته کا دحرص او دهوا
دسړي په خاطر هر څه هر څه کړ ځي — هسې نه چې واړه وگني روا (٦)
دین داران دي وخپل دین وته نظر کا — څوك فکر ونه د صواب دي څوك خطا (٧)
خدای دي نه کا ندي خطا دچاله لاسه — څه نسبت دی دخطا ودعطا (٨)
هسې نه چې سړي واړه سره سم دي — څوك عالي (٩) دي څوك اوسط دي څوك ادنا
دهرچا حرمت په خپله اندازه دی — نه چې ځای مومي نفرد امرا (١٠)
زه له چا شکوه شکایت نکړم (١١) — نشته بل دوست او دښمن زما بې تا

---

(١) دا بیت د "پ" په دواړو نسخو کښې نه دی راغلی.
(٢) دا بیت د "خ" په دواړو نسخو کښې نه دی راغلی.
(٣) پېښور چاپ: "چې دورو را ودعزیز پرې زړه آزارشي". د "پ" دویمه نسخه: "چې دورو رعزیز زړه پرې آزارېږي".
د "خ" لومړی او دواړه نسخې: ١- لومړی نسخه: "چې دورو رد عزیز زړه پرې آزارېږی". په دواړو نسخو کښې "آزارېږی" پرځای "زهیرېږی" راغلی دی.
(٤) دا بیت د "پ" په دواړو نسخو کښې نه دی راغلی.
(٥) دا بیت د "خ" په دواړو نسخو کښې نه دی راغلی.
(٦) د "پ" لومړی نسخه: "نه چې همه واړه وگني روا". او د "خ" په دواړو نسخو کښې دا راغلی ده: "نه چې وگني همه واړه روا".
(٧) دا مصرع په "پ" چاپ او د "خ" په لومړی نسخه کښې دا راغلی ده "څوك فکر ونه د صواب څوك د خطا" په پېښور چاپ کښې دا راغلی ده:
"څوك فکر ونه د ثواب کا څوك خطا". د "پ" په دواړو نسخو کښې "څوك فکر ونه د ثواب وی څوك خطا". او د "خ" په
دویمه نسخه کښې "څوك پکر ونه د عطا دی څوك خطا" راغلی دی.
(٨) دا بیت د "خ" په دواړو نسخو کښې نه دی راغلی.
(٩) د "پ" چاپ، پېښور چاپ، او د "خ" په دواړو نسخو کښې د "عالي" پرځای "اعلی" راغلی دی.
(١٠) دا مصرع په پېښور چاپ، "پ" چاپ، او د "خ" په لومړی نسخه کښې دا راغلی ده: "نه چې مومي کفر ځای دا مرا"
(١١) د "خ" په لومړی نسخه کښې: "رحمان شکر شکایت له چا نکړم — نشته بل دوست دښمن ځما بې تا".
د "خ" په دواړو نسخو کښې: "زه رحمان شکر شکایت له چا نه نکړم — نشته په جهان کې بل دوست دښمن ځما".
او د "پ" په دواړو نسخو کښې: "رحمان شکوه شکایت له چا نکړم — نشته بل دوست دښمن ځما بې ما".

ته چې ماته وائې چې په څه کوې ژړا
نه در معلومېږي دغه (١) خپل جوړو جفا

ته جور و جفا کړې زه ژړا کوم دلبره
ستا که دغه نه وي دا به هم نه وي زما (٢)

څه ښادي به کاندي طايفه د عاشقانو
رسم د بتانو (٣) که هم دا وي لکه ستا

دا خصلت چې ستا دی که هم تل په دغه شان وي
نه را معلومېږي د درد من زړه دوا (٤)

يو دستامانې شو بل غورځي (٥) د رقيبانو
وار په وار مې وژني کله هغه کله دا

هر چې عاشقي کاکه په قطع افلاطون وي
زه خوې مجنون ګڼم که نن وي که سبا

سپېږم هم په عذاب د جدايۍ د وژلو ندی
زه خو ګوندې ستا د کوڅې سپېږم په ويا (٦)

هېڅ مې په کار نه دی تا غواړم دلبره (٧)
زه په دا راضي يم باقي هر څه ستا رضا



عالمان دي روښنايي د دې دنيا
عالمان دي د تمام جهان پېشوا

که څوك لارغواړي وخدای هم ورسول
عالمان دي د دې لارې رهنما

کېمياګر که د کېميا په طلب ګرځي
همدې د عالمانو ده کېميا

په مجلس د عالمانو به سره زر شي
که څوك کاڼي وي که لوټه د صحرا (٨)

جاهلان دي په مثال د مردګانو
عالمان دي په مثال د مسيحا (٩)

چې مرده يې له نفسه ژوندی کېږي
عالمان دي واره هسې اوليا (١٠)

هر سړی چې رتبه نه لري د علم
سړی نه دی خالي نقش دی ګويا

زه يې حلقه بګوش د هر عالم يم (١١)
که اعلی دی که اوسط دی که ادنا



---

(١) د "پ" په لومړنۍ نسخه کې "هغه" راغلی دی.

(٢) د "خ" دوهمې نسخې: ته جور و جفا کړې زه مدام افسوس ژړا کوم ستا که دغه نه وای دا به هم نه وو زما. د "ق، ک" چاپ او د "ق" چاپ کې "له ما" راغلی دی او د "پ" په چاپ کې "دا به هم نه وو زما" راغلی دی.

(٣) د "خ" لومړنۍ نسخې کې د "بتانو" پر ځای "خوبانو" راغلی دی.

(٤) چاپي ديوانونه: "نه را معلومېږي د درد من د زړه دوا". مصوره نسخه کې لومړی مصرع: "دا خصلت چې ستا دی که بل هم په دغه شان وي". د "خ" دوهمې نسخې: "که دې جور و ستم درست په دغه شان دی".

(٥) چاپي ديوانونه: "غرور" او د "خ" لومړنۍ نسخې: "غور زنګ" راغلی دی.

(٦) دا بيت د "خ" په لومړۍ او دوهمې نسخه او مصوره نسخې کې نشته، "ق، ک" چاپ کې داسې دی:
سپېږم هم په عذاب سره دې خدای چې بې مرګه کا زه خو ګوندې ستا د کوڅې سپېږم په دنيا
د "ق" چاپ: سپېږم هم په عذاب د خدای د وژلو پاره نه دی زه خو ګوندې ستا د کوڅې سپېږم په دنيا

(٧) چاپي ديوانونه: "هېڅ يې په کار نه دی رحمان تا غواړی دلبره دا زما رضا ده باقي هر چې ستا رضا".
مصوره نسخه: "هېڅ يې په کار نه دی رحمان تا غواړی دلبره زه په دا راضي يم باقي هر چې ستا رضا".

(٨) "پ، ب" چاپ: "که څوك کاڼي وي يا بوټي د صحرا". د "خ" لومړنۍ نسخې: "که څوك کاڼي خوك لوټي د صحرا".
د "پ" لومړنۍ نسخې: "که څوك کاڼي وي که څوك لوټه د صحرا".

(٩) د "پ" دوهمې نسخې: "عالمان دی واره هسې اوليا".

(١٠) د "خ" دوهمې نسخې: "چې مرده يې په نفس سره ژوندی کېږی عالمان دی واره هسې اوليا".

(١١) د "پ" دوهمې نسخې: "زه رحمان د عالمانو خاك پای يم".

که خپل زړه غواړې له چا — ځان صیاد کړه د عنقا
د حباب کلاه په سر کړه — سور په آس شه د هوا
لکه خضر هسې پا څه — اوبه وڅښه د بقا
له زمینه قدم کېږده — په آسمان لکه عیسا
د هغه استاد شاګرد شه — چې در وښیي کیمیا(۱)
دا چې ما در ته بیان کړه — که حاصل کړې واړه دا

۱۰ — هالد طمع کړه له خوبانو د وفا — ۱۸۷

دا دنیا ده بې وفا — بې وفا ده بې بقا
نه یې مخ شته نه یې څټ شته — لکه لوټه د صحرا
په یوه ګړۍ یې مخ وي — په یوه ګړۍ یې شا
په یوه ګړۍ دستا شي — په یوه ګړۍ نړ ما
په یوه ګړۍ یې درد وي — په یوه ګړۍ د وا
په یوه ګړۍ یې خوف وي — په یوه ګړۍ رجا
په ساعت کې یې بقا وي — په ساعت کې یې فنا
په ساعت کې یې سکوت وي — په ساعت کې یې غوغا
په ساعت کې یې خنداوي — په ساعت کې یې ژړا
په ساعت کې یې وفا وي — په ساعت کې یې جفا
په ساعت کې یې افلاس وي — په ساعت کې یې غنا
چې نه شان لري نه شکل — کله داشی کله دا

۱۱ — خدای خوک پېښ مه کړه له داهسې رنګ بلا — ۲۰۰

په بنادۍ بنادشوی نه یم دهچا — تور تپ شوی یم په غم دهر آشنا(۲)
که زه طمع توقع له بله نه کړم — د بل طمع توقع کېږي له ما

---

(۱) دا بیت د "پ پ" چاپ کې نشته.
(۲) دا مصرع د "خ" په لومړنۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "نه وریت شوی یم په غم دهر آشنا".

که مې ورور که مې عزیزدی که مې یاردی(۱) — واره غواړي خپله خپله مدعا
په هرکور کې ښځوران راته زګیروي کا (۲) — لاس مې نه رسي دهیچا په دوا
د دنیا خبرې واره په دنیا شي — ما به څه کا څوك چې نه لرم دنیا(۳)
که په کلي کې مې کوردی زه ګومان کړم(٤) — چې کورنه دی دا مې ګوردی په صحرا
چې څه کار پرې نه پوره وي نه نیمګړی(۵) — څوك به څه کا له هغو سره خندا
چې یې ښه توښه وبله سره نه شي(۶) — ترهغه آشنا بهتردی نا آشنا

۱۲ — ۲۰۹

په توده ځمکه استوګنه ده مشکله
څه به زیست شي له نالې سره دچا

با دشاهی لري هر یو غلام دستا — د خاصانو په ځای ناست وي عام دستا
پخته کله وي چې لاف د پختګی کا — پختګان دي په داخم کې خام دستا
خو هم هومره یې په ننګ ونام نظر وي(۷) — چا چې نه وي اوریدلی نام دستا
همیشه به له مقامه بې مقام وي — هغه څوك چې لټوي مقام دستا
څو په خپلو وینو ګل غوندی غرق نه شي(۸) — وبه نه وینې رخسار ګلفام دستا
صبح وشام په هغو خلقو باندې یووي — چې آرزولري هر صبح وشام دستا
بل کلام یې په زړه کله اثر کاندي(۹) — چې ترغوږ یې شي شیرین کلام دستا
فراموش کاندي همه(۱۰) نوري مستۍ — هرچې نوش کاندي باده په جام دستا
دام دستا د تور وزلفو عالم ګیردی(۱۱) — تنها نه یم نسنتی زه په دام دستا

---

(۱) په چاپي دیوانونو کې دامسری دهې راغلی ده : "که مې ورور که مې عزیز که مې فرزند دی". د "خ" په لومړنۍ نسخه کې دهې راغلی ده : "که مې ورور که مې عزیز دی که مې یار وی". د "خ" په دوهمه نسخه کې : "که مې ورور که مې عزیز که مې څه یار دی". راغلی ده.

(۲) دا بیت د "خ" په لومړنۍ نسخه کې نه دی راغلی او په نورو ټولو کې د "زګیروی کا" پرځای "پیرانه دی" راغلی دی.

(۳) د "پ" لومړنۍ نسخه : "ما به څوك څه کا ندی چې نه لرم دنیا".

(٤) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "لومان کړم" پرځای "پوهیږم" راغلی دی.

(۵) د "خ" لومړنۍ نسخه کې "چې دی نه پرې څه پوره وی نه نیمګړی" په "پ" چاپ کې دهې راغلی دی : "چې پرې نه وی څه پوره او نه نیمګړی". د "خ" په لومړنۍ نسخه کې "چې دې نه پرې څه پوره وی که نه نیمګړی" او د "خ" په دوهمه نسخه کې دهې راغلی ده : "چې دې نه پرې څه نیمګړی نه پوره وی".

(۶) د "پ" لومړنۍ نسخه : "چې یې هیڅ ښه توښه وبله نه شی".

(۷) چاپي دیوانونه : "خو هم هومره بې نظر په ننګ ونام وی".

(۸) چاپي دیوانونه : "چې په خپلو وینو ګل غوندې غرق نه وی".

(۹) د "خ" دوهمه نسخه : "بل کلام به یې په زړه کله اثر کړ".

(۱۰) د "ق" چاپ او "ق ک" چاپ : "هغه" او لومړنۍ مسری د "خ" په دوهمه نسخه کې دهې ده :
"فراموش که هغه نور جاموته واره".

(۱۱) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. د "پ" په لومړنۍ او دوهمه نسخه کې : "دام دستا د زلفو عالم ګیردی". په "ق" او "ق ک" چاپ کې دهې ده : "دام د زلفو دې دنیا کی عالم ګیردی". او د "خ" په لومړنۍ نسخه کې دهې ده : "بوی دستا د تور وزلفو عالم ګیردی".

۱۳

۳۱۹

زه رحمان دعا سلام په هغه وایم (۱)
هرچې مالره راوړي سلام (۲) دستا

هرچې ووینې په ستر گو روی دستا (۳)
مخ یې گوره وي همیشه په سوی دستا

بې دماغه به ترسره ماله تیر شي
چې یې تیر شي تر دماغه بوی دستا

که لوې کړې څه بې ځایه خوې نه کړې
چې په دا رنگه قامت دی لوی (٤) دستا

نور بهار شو عالم سیر د بوستان کا (۵)
خدای وماوته بوستان کړ کوی دستا

د عیسیٰ له دمه دم وهلی نه شم
چې خوله بې ته شي په گفتگوی دستا (۶)

هم په دامی له چشمانو نو (۷) بهیږي
چې یا دیږي مې قامت دلجوی دستا

همیشه یې زړه په اوربانده سپندوي
وهغه ته چې څرگند شي (۸) خوی دستا

دلم لاشه یې ماته وي په زړه کې
چې یې نقش وي په زړه ابروی دستا

وځنځیر وته یې څه لره را کاږي
لیونیولره بس وي موی دستا

وگرنگ وته پخپله ځان پرې باسي
چې وزړه وته پرې باسي (۹) روی دستا

که ته سل ځله زمایې زه دستا یم (۱۰)
تلونی نه دی له ما جستجوی دستا

۲۳۱

۱٤

گل لمبه شود بلبل په آه رحمانه (۱۱)
نه گرو هیږي یار په هاوهوی دستا

خوی که په داشان وی دل آزار ستا
څه بنادی به کاندی طلبگار ستا

حیف چې اوریده شي لیده نه شي (۱۲)
حسن ولطافت دی پریوار (۱۳) ستا

---

(۱) د "خ" لومړی نسخه او د مصوره نسخه : "رحمان تل دوعا سلام په هغو وایم".
(۲) د "خ" لومړی نسخه : "پیغام".
(۳) د "خ" لومړی نسخه : "یار".
(٤) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته ، په دوهمه نسخه کې د "لوی" پرځای "دلجوی" راغلی دی.
(۵) چاپي دیوانونه ، د "خ" دوهمه او د مصوره نسخه : "نوبهار دی عالم سیل د بوستان کا".
د "خ" لومړی نسخه : نور بهار به عالم سیر د بوستان کا".
(۶) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۷) چاپي دیوانونه : "رود" او د "خ" درې واړه نسخې : "جوی".
(۸) د "خ" په درې واړو قلمي نسخو کې د "شي" پرځای "وي" راغلی دی.
(۹) دا بیت په "ق ک" کې نشته. د "خ" په لومړی نسخه کې د "روی" پرځای "موی" راغلی دی. او د "خ" په دوهمه نسخه کې "بوی" او په "ق" چاپ کې د "گرنگ" پرځای "ځنځیر" او د "روی" پرځای "موی" راغلی دی.
(۱۰) د "خ" درې واړه نسخې : "که سل ځله زه دستا یم ته ځایې".
(۱۱) د "خ" لومړی نسخه : "گل که سره لنبه شی د بلبل په آه رحمانه".
(۱۲) د "خ" لومړی نسخه : "حیف چې اوریدی شی لیدی نه شی په جهان کې".
(۱۳) د "خ" دوهمه نسخه : "په هر لور".

بیا دوباره نه گوري وبل ته (١) — هرچا چې لیدلی وي رخسار ستا
خدای زده چې ته یارد کوم یوه یې — هرطرف یاران دي صدهزار ستا (٢)
ځای دپښوایښودومونده نه شي — هومره عاشقان دي په دربار ستا (٣)
بل به هسې نه وي که یې خدای کا (٤) — ماغوندې خاکسار وهوادار ستا
بل گومان په ماباندې ومه کړه — عمر واره زه اوانتظار ستا (٥)
عشق له حسنه حسن دی له عشقه — ته نگار زمایې زه نگار ستا
ته زما مطلوب یې زه طالب یم — ته زما طبیب یې زه بیمار ستا (٦)
ته که تازه گل دنوبهار یې — زه یم عندلیب په لاله زار ستا
جور که جفاده که ستم دی — واره می منلي دي یکبار ستا
جور وجفا څوك په بها پاوري (٧) — زه یم دجور ونو خرید ار ستا
یو تار که ضایع شي ستا دزلفو — ځان به صدقه کړم تر (٨) هر تار ستا
سل ازمېښتونه دې راوکړه — حیف دی چې لانه شي اعتبار ستا (٩)
تېریم زه ترنوره (١٠) کاره — اوس می ملاتړلې ده په کار ستا

١٥ — ٢٤٦

که څوك یار په جهان غواري یاردی دا — یاردی دا، که دجهان سینگاردی دا؟ (١١)
خیال دزلفو یې زما تر زړه چاپېر شو — یا ترگنجه چاپېر شوی ماردی دا؟
دا جهان دی خدای له عشقه پیدا کړی (١٢) — دجمله ؤمخلوقاتو پلار دی دا

---

(١) د "خ" لومړی نسخه : "بیا به دوباره ونه گوري بل مخ ته".
(٢) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کښې نشته.
(٣) د "خ" لومړی نسخه : "په هغه ځای باندې چې ټول دی عاشقان ستا".
(٤) د "خ" لومړی نسخه : "بل به هسې څوك نه وي که خدای کا".
(٥) "ق،ک" چاپ : "عمر واره زه یم په انتظار ستا".
مصوره نسخه : "عمر واره زه یم انتظار ستا". د "خ" لومړی نسخه : "عمر واره او زه او انتظار ستا".
(٦) د "خ" لومړی نسخه : "ته زما نگار یې زه افگار ستا".
(٧) دا بیت په "ق،ک" چاپ کښې نشته. قلمي نسخې : "جور دچا څوك په بها پاري".
(٨) په چاپي دیوانونو او لوړو قلمي نسخو کښې د "تر" پر ځای "په" راغلی دی.
(٩) د "خ" دوهمه نسخه : "باری حیف دی چې لانه شي اعتبار ستا".
(١٠) په چاپي دیوانونو کښې "له هره کاره" راغلی دی.
(١١) دا مصرع د "خ" په لومړی نسخه کښې داسې راغلې ده : "یار دی دا که تمام جهان سینگار دی دا".
(١٢) دا مصرع د "پ" په دوهمه نسخه کښې داسې راغلې ده :
"دا جهان دی خدای په عشق کې پیدا کړی".
او د "خ" په دوهمه نسخه کښې دا بیت بیخي نه دی راغلی.

ترعشق وار پکار بل په جهان نشته — ترهمه کار ونو وار پکار دی دا (۱)
بل بلبل به دګل نوم اخستی نه ؤ — که خبر وی چې ګل نه دی خار دی دا (۲)
بیا راتله دې جهان ته بل وار نشته — بل وار نشته بل وار نشته وار دی دا
د حباب عمر دې وګورې چې څودی ؟ (۳) — که څوك شمار کاندي د عمر شمار دی دا

د مجنون صورت په زړه کړه ... ګوره (٤)
ستا په عشق کې هسې خوار وزار دی دا

۱٦ — ۲٥٤

چې له تا سره په سر کاندي سودا — بل به نه وي هسې ماغوندې شیدا (۵)
نه به ماغوندې شیدا وي په جهان کې — نه به تا غوندې دلبر شي بل پیدا (۶)
ما داستا جور وجفا دې قبول کړې (۷) — ولې نه شي د ژړا په ځای خندا
بې دستاله مخه کون وکه مکان دی — ښه تو ښه مې نه په داشي نه په دا
جدایي به دې هیڅ رنګ قبوله نه کړم — څومې نه دی روح کالبوت سره (۸) جدا
لکه ورستو مقتدیان وړاندې امام وي — ما په تا پسې ده کړې اقتدا (۹)
زه یې وینم درست جهان په تامین دی — که بادشاه دی د دې دور که ګدا (۱۰)
کاشکې خط دامانۍ وما راکړې (۱۱) — چې له ما سره وعده کړې د فردا
زه پخپله په تا نه یم مین شوی — ستاله لوري په ما شوې ده ندا
زه په تا باندې مین یم له ازله — نه چې کړې مې نن ورځ ده ابتدا

---

(۱) دا بیت په "پ" چاپ کښې داسې راغلی دی: "ترعشق غوره بل څه کار په جهان نشته ترهمه کار ونو غوره کار دی دا". په "پ پ" چاپ کښې "ترعشق غوره بل هیڅ کار په جهان نشته". د "خ" په لومړنۍ نسخه کښې: "ترعشق غوره کار بل په جهان نشته - ترهمه کار ونو غوره کار دی دا". د "خ" په دوهمه نسخه کښې "ترعشق غوره کار بل په جهان نشته" او د "پ" په دوهمه نسخه کښې په عین شکل راغلی دی.

(۲) په "پ پ" چاپ کښې "یو بلبل به دګل نوم اخستی نه ؤ"، د "خ" په دوهمه نسخه کښې "نوم دګل به بلبلان اخستی نه دو". او د "پ" په دوهمه نسخه کښې دا بیت نه دی راغلی.

(۳) دا مصرع په "پ پ" چاپ او د "خ" په لومړنۍ نسخه کښې داسې راغلې ده: "د حباب عمر ته وګوره چې څه دی ؟" په "پ" چاپ کښې "د حباب عمر دې وګورې چې څه دی". د "پ" په دوهمه نسخه کښې "د حباب عمر ته وګوره چې څودی" راغلې ده او دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کښې نشته.

(٤) دا مصرع د "خ" په دوهمه او د "پ" په دوهمه نسخه کښې داسې راغلې ده: "د مجنون صورت په زړه کړه ای رحمانه".

(۵) دا مصرع د "پ" په دوهمه نسخه کښې داسې راغلې ده: "بل به تا غوندې دلبر شي را پیدا".

(۶) د "پ" لومړنۍ نسخه: "نه به تا غوندې دلبر شي پیدا"، د "پ" په دوهمه نسخه او "پ پ" چاپ کښې "نه به تا غوندې دلبر شي را پیدا". او د "خ" په دوهمه نسخه کښې "نه به تا غوندې دلبر شي بیا پیدا" راغلې ده.

(۷) دا مصرع د "خ" په لومړنۍ نسخه کښې "ما به صبر ستا په جور وجفا وکړ" او د "خ" دوهمه او د "پ" په دوهمه نسخه کښې "ما به صبر ستا په جور په جفا کړ" راغلې ده.

(۸) د "خ" په لومړنۍ نسخه کښې "وبله" او په دوهمه نسخه کښې "حبله" راغلې دی.

(۹) دا مصرع په "پ پ" چاپ کښې داسې راغلې ده: "هسې ما تا پسې کړې اقتدا"

(۱۰) دا بیت په "پ" او "پ پ" چاپ کښې داسې راغلی دی: "زه یو نه یم درست جهان په تامین دی که بادشاه دی د دې دهر که ګدا". او د وروستنۍ مصرع پې د "خ" په دوهمه نسخه کښې "که بادشاه د دې دهر که ګدا" د "خ" په مصوره نسخه کښې داسې راغلې ده: "که بادشاه دی که وزیر دی که ګدا".

(۱۱) دا مصرع په "پ" او "پ پ" چاپ کښې "کاشکې خط دامانۍ وما له راکړې" راغلې ده.

چې دستا د عاشقۍ په تیغ شهیدشي — د رحمان غاړه به هاله شي ا د ا

۱۷ — د رحمان وزېږي رنګ وته نظر کړه — ۲۶۶
چې مدام په تاپسی کاندي ژړا (۱)

هر چې ستا کوڅه ما واکا — ځای یې برشي ترا فلاکا (۲)
ځان هاله ورته بادشاه شي — چې یې ستا د در ګدا کا (۳)
چې دستا د در ګدا شي (٤) — بادشاهي وته نور شاکا
نظر بې دستاله رویه — نه په ارض نه په سماکا
مینه بې دستاله مخه — نه په دین نه په دنیا کا
ستا په مهر و محبت کې — ځان جهان واړه فنا کا
د دنیا کور و ګړي (۵) — ستا په مینه کې تا لا کا
رضا ستا په رضا (۶) کې ږدي — ترکه خپله مدعا کا
وهر خواته چې ستا مخ شي (۷) — دی هم مخ په هغه خوا کا
که له چا سره جفا کړي — له هغه سره جفا کا
که له چا سره وفا کړي — له هغه سره وفا کا
که په عمر چېرې ژاړي — خو په تا پسې ژړا کا
که په عمر چېرې خاندي — خوله تا سره خندا کا
که مطلب یې د دیدار وي — ستا د حسن تماشا کا
که مطلب یې د ګفتار وي — ستا په ذکر مشغولا کا
د رښتینو مقام دا دی — که څوک مینه په رښتیا کا (۸)

۱۸ — عاشقان په عاشقۍ کې — ۲۸۳
چې رحمان وایي هم داکا

---

(۱) دا بیت د "خ" لومړی او د "پ" دوهمه نسخه کې نشته.
(۲) دا غزل په مصور نسخه کې نشته او د "خ" په دوهمه نسخه کې دوهمه مصرع داسې ده: "ځای یې رسي ترا فلاکه".
(۳) د "خ" په لومړی او دوهمه نسخه کې: "چې ځان ستا د در ګدا کا".
(٤) "ق، ک" چاپ: "څوک چې ستا د در ګدا شي"، او دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.
(۵) د "خ" لومړی نسخه: "د دنیا کور و کوټ"، او د "خ" نیګړی نسخه: "د دنیا کور او محلونه".
(۶) د "پ پ" چاپ کې "قضا" راغلې دی.
(۷) د "خ" قلمي نسخه: "هرې خواته چې ستا مخ وي". د "پ" لومړی نسخه: "په هر خوا چې دستا مخ وي".
(۸) په "ق، ک" چاپ کې او هم د "ق" په چاپ کې د "رښتیا" پر ځای "رضا" راغلې دی.

چې امید په عمارت ددې دنیا کا
دکاغذ په کشتۍ سیر د دریا کا (۱)

د آسمان توسن هیچا نه دی تېز لې
څوك به څرنګه سورلې دباد په شا کا

نه لیوه په آدمیت اموخته کېږي
نه امید د مروت شي له افلاکا

له فلکه د وفا امید باطل دی
کله دیوله آدم زاد سره وفا کا

زمانه په اسلام کفر سمه ګرځي
فرق د تور و د سپین کله نابینا کا

ما د دهر علامت په ستر ګو ولید
په هر دم هزار پیدا هزار فنا کا

هیڅ امید مې دایام په ګردش نه شي
چې فرصت به په خپل دور و ما را کا

په خپل عمر به هیچا لیدلی نه وي
هغه چاري چې دی هر ساعت په ما کا

که د ګلو غونچه کېږدم په دستار کې
شوم طالع مې هلته خار ځنې پیدا کا

که وزر و وته لاس کړم خاورې کېږي
که د خاور و په ارزوشم استغنا کا

جدایي د خدای بلا شوه نه توانېږم
خوشی زړه مې په دیدن پسې ژړا کا (۲)

هومره صبر دی عاشق سره له کومه
چې د نن وعده موقوفه په سبا کا

که د اور جامې راواغوندې دلبره
په نظر زما جلوه لکه دیبا کا

په خپل عشق کې (۳) که څوك بد راباندې وائي
زه ګومان کړم چې همه زما ثنا کا

ملامت په عاشق ښایي دا دستور دی
چې روغ خلق په رنځور پورې خندا کا

عاشقي ننګ و ناموس دی وبله لرې
په روښانه ورځ به څرنګه څوك غلا کا

که زه طمعه کړم د ګلو له طالع نه
ما عاجز لره د ګل په ځای خار را کا (٤)

که زه ځان ژغورم په عشق کې له عالم
زمانه مې په جهان باندې رسوا کا

همیشه به په عالم کې وي سرخرویه
چې ثنا لکه بلبل د خپل آشنا کا

دا ځواب د نازك هغه کا چې دولت وي
"که دلبر د دیدن مې پیاپې را کا" (۵)

۱۹

۳۰۳

هغه ژوی چې مین وي شه به خوب کا
چې مجنون غوندې کړمن وي شه به خوب کا (۶)

---

(۱) دا غزل د "پ" په لومړۍ دوهمه او مصوره نسخه کې نشته د "پ پ" چاپ کې د "سیر" پر ځای "سیل" را غلی دی.
(۲) د "غ" په لومړۍ او دوهمه قلمي نسخه کې د "ژړا" پر ځای "بلا" را غلی دی.
(۳) په "ق" چاپ او "ق ك" چاپ کې "ستا په عشق کې" را غلی دی.
(٤) دا بیت او وروستی دوه بیتونه په قلمي نسخو کې نشته. دوی بیت لومړی متری په "ق ك" چاپ کې داسې دی: "که زه طمع کړم د ګلو له خپل بخته"
(۵) د "غ" دوهمه نسخه: "که دلبر د دیدن مستې پیاله را که". د دولت، دیوان: "که دلبر د دیدن مې پیاپې را که" ۱٤۳ مخ، پښتو ټولنه، ۱۳۵۳
(۶) دا مصرع په چاپي دیوان کې داسې ده: "چې فرهاد غوندې کوهکن وي شه به خوب کا"، په مصوره نسخه او د "غ" لومړۍ نسخه کې داسې ده: "چې مجنون او کوهکن وي شه به خوب کا" د "غ" دوهمه نسخه کې داسې ده: "چې مجنون او کوهکن وي شه به خوب کا" او د "پ" دوهمه نسخه کې داسې ده: "چې مجنون او یا کوهکن وي شه به خوب کا"، او د پېښور چاپي دیوان نو کې د "ژوی" پر ځای "زوی" را غلی دی.

هر نفس د سړي تله دي له جهانه (۱) — چې يې هر نفس رفتن وي څه به خوب کا
چې سباله خپله يارة جدا کړي — که د سلو شپو کړمن وي څه به خوب کا
عاشقي ده خدای له اوره پيدا کړي — که په اورکې يې وطن وي څه به خوب کا (۲)
داوبو تږی هم خوب کولی نه شي — څوك چې تږی د ديدن وي څه به خوب کا (۳)
د رقيب له جوړه خوب د عاشق نه شي — د هغو چې ديو (۴) د ښمن وي څه به خوب کا
د مجاز بندي خو خوب کولی نه شي — چې يې زلفې طوق رسن وي څه به خوب کا (۵)

۲۰ — ۳۱۱

خوب خندا له بيغمۍ نه شي (۶) — څوك چې ستا په خيټ غمجن وي څه به خوب کا

چې په ستر گو کې يې خار وي څه به خوب کا — چې په زړه يې غم ديار وي څه به خوب کا
خوب له يارة سره هم د عاشق نه شي — چې يې يار په بل ديار وي څه به خوب کا
په دنيا کې خوب هغه کا چې نادان وي — هغه ژوی چې هوښيار وي څه به خوب کا (۷)
کوم طالب مطلوب نيولی (۸) دی په خوب کې — هغه څوك چې طلبگار وي څه به خوب کا
د ديدار نه دی چا په پټو ستر گو کړی — چې مطلب د چا د ديدار وي څه به خوب کا
بله لار د مرگ تر لاری گرانه نشته — چې په خوابې هسې لار وي څه به خوب کا
هر نگاه د دلبرانو ذوالفقار دی — هر چې غوڅ په ذوالفقار وي څه به خوب کا
دلبرم چيچلی خوب کولی نه شي — چې خوږلی تور ښامار وي څه به خوب کا

۲۱ — ۳۲۰

زه ديار بنده هم خدمتگار يم — چې بنده او خدمتگار وي څه به خوب کا

---

(۱) دامړی په مصوره نسخه کې دا ډول ده: "هر نفس سړی په تله دی له جهانه".
(۲) د "پ" دلومړی نسخې نه پرته په ټولو کې "چه" راغلی ده.
(۳) دا بيت په چاپي ديوانونو او مصوره نسخه کې نشته، دوهمه مړی يې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "چې به تږی د ديدن وي څه به خوب کا".
(۴) په چاپي ديوانونو او د "پ" په دوهمه نسخه کې د "ديو" پر ځای "يار" راغلی دی.
(۶) په "پ" او "پ، پ" چاپ کې: "خوب خندا په بې غمۍ کې بې رحمانه هر چې تا غوندې غمجن وي څه به خوب کا".
د پښور "ق، ک" چاپ: "هر چې ما غوندې غمجن وي څه به خوب کا". د "خ" لومړی نسخه: "څوك چې تا غوندې درد من وي څه به خوب کا".
د "خ" دوهمه نسخه: "څوك چې ستا په خيټ درد من وي څه به خوب کا"، مصوره نسخه: "څوك چې ستا په خيټ غمجن وي څه به خوب کا".
او د "پ" دوهمه نسخه کې داسې ده: "څوك چې تا غوندې غمجن وي څه به خوب کا".
(۵) دا بيت په چاپي ديوانونو او نورو قلمي نسخو کې نشته د "خ" له دوهمې قلمي نسخې نه نقل شو چې د روستۍ مړی يې په اصلي نسخه کې داسې ده "چې ئې زلفې په گردن کې طوق رسن وي څه به خوب کا".
(۷) دامړی د "ق، ک" چاپ کې داسې ده: "هغه ژوی چې دانا وي څه به خوب کا". او په دواړو چاپي ديوانونو کې د "ژوی" پر ځای "زوی" راغلی دی.
(۸) د "پ" دلومړی نسخې نه پرته په نورو ټولو کې "موندلی" راغلی دی. او همدا نومړی بيت د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته.

يادونه: لاندې بيت يوازې د "خ" په دوهمه نسخه کې راغلی دی، او د ټول لاندې نورو نسخو او ديوانونو کې نشته.

دلبرم په چيچلی خوب کولی نه شي
چې خوږلی تور ښامار وي څه به خوب کا

هغه ژوی چې بې خدایه[1] محبت کا — همګې واړه بې ځایه محبت کا
محبت بې خدایه واړه دزړه رنځ دی — که مدام له چنګ ونایه محبت کا
خرخاري ده چې بې یو ځبله[2] کاندي — هر خود رای چې له خود رایه محبت کا
نتیجه یې ریش کنده جامه پاره وي — آدم زاد چې له چارپایه محبت کا[3]
هغه سرای لره به تله وربانده ګران وي — هر سړی چې له دې سرایه محبت کا[4]
بوالهوس به نه پتنګ نه پروانه شي — دمګس په څېر له ورایه محبت کا[5]
چې دتورو زلفو سیوری په چا وشي — هغه کاله له هایه محبت کا

۲۲ — ۳۲۸

نهج ځکه دریبار متابعت کړم[6]
چې هر وله رهنمایه محبت کا

اورنګ زیب چې آرایش دتخت وتاج کا — تخت وتاج به یې مرګی تاخت وتاراج کا[7]
په جهان کې به یې پاتې نه بد نوم شي — دی که چارې دکسرۍ که دحجاج کا
او به ستر ګوله لاري او ردزړه شو — څوك به څه شکل ژوندون په دامزاج کا
جدایي زما په زړه کا هسې چارې — لکه بازي په تار واوپه دراج کا
زما او سنګې چې پیدا دزړه له یم شوې — لکه اوري له کبابه نم اخراج کا
زه غمجن دعید په جشن خبر نه شوم — که نور خلق هوی وهای ته احتیاج کا

۲۳ — ۳۳۵

هر ناوك چې دقضا له شسته خېږي
زمانه د نهج زړه ورته آماج کا[8]

دبې درد وهمدمي[9] به دې بې درد کا — دنامرد وهمدمي به دې نامرد کا
صحبت بې تأثیره نه دی داحدیث دی — ګنګو نمرې هم په څېر دګنګو زرد کا[10]

---

(۱) د "پ پ" چاپ کې د "بې خدایه" پر ځای "بې یاره" راغلی دی.
(۲) په چاپي دیوانونو کې "یو له بله" راغلی دی، او دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۳) دا بیت د "خ" په دواړو نسخو کې نشته او د لومړۍ مسرې د "ریش کنده" کلمه د "خ" په لومړۍ نسخه کې "ریش کندن" په شکل راغلې ده.
(۴) دا بیت په مصوره نسخه او د "ع" په دواړو نسخو کې نشته.
(۵) دا بیت د "پ" په دواړو نسخو کې "پ" چاپ او "پ، پ" چاپ کې لومړۍ مسرې دا ډول ده: "بلهوس به نه پتنګ وپروانه شي".
(۶) دا مسرې په چاپي دیوانونو کې دا ډول ده: "ځکه دریبار متابعت کا"، د "خ" لومړۍ نسخې: "زه دجهان ځکه دیاره محبت کړم".
(۷) دا غزل په مصوره نسخه، د "خ" په لومړۍ نسخې او "ق، ک" چاپ کې نشته.
(۸) د "خ" دواړو قلمي نسخو کې "امواج" راغلی دی.
(۹) په مصوره نسخه د "خ" لومړۍ او د "پ" په دواړو نسخو کې "همراهي" او د "پ، ق، ک" چاپ کې "همدردي" راغلی ده.
(۱۰) دا مسرې په "پ" نسخې او هم په "خ" نسخې کې داسې ده: "ګنګو نمرې دګنګو په څېر د زرد کا".

هر کالی چې څوك په ځمکه باندې کېږدي — هغه ځمکه يې له جنسه د خپل ګرد کا
په مجلس د ويرژ ليو(١) څوك ورمه شه — که صحيح وسلامت وي آه يې سرد کا

چې دويي له ميانه لرې شي رګمانه(٢) — معشوقې عاشق پخپله نازپرورد کا

٢٤

٣٤٠

که په ګنج د شاهي فخر شهريار کا — عاشقان يې د دلبرو په رخسار کا
خرقه پوشو په خرقه کې دی موند لی — هغه حظ(٣) چې په دنيا کې دنياد ار کا
پتنګانو له ورکړ خدای په اور کې — هغه عيش چې يې بلبله په ګلزار کا(٤)
نېک ساعت(٥) په بد بدل ډېچا مه شه — په وصال کې غم د هجر ور د وخار کا
نس(٦) د ګورا و د موريو دی په معنی کې — خو په چاپې تو ولحد په چابازار کا
د بېړی په د وبېډه چې خدای راضي شي — يګانګي د زړونو هلته کله کار کا(٧)
هغه مخ چې مادرزاد ښايسته نه وي — مشقت د مشاطې واړه مرد ار کا
يار د نازله خو به پاڅي پسې ګرځي — چې فلك د عاشقانو بخت بيدار کا(٨)
بې له تانه مدام سوزي دا يې حال دی — لکه شمع چې څوك بله په مزار کا(٩)
د مستۍ د هوښيارۍ يون خرګند وی — په هر چاکې چې څه وي هغه رفتار کا(١٠)
د بلبلو زاغ کولی نه شي — هر سرود آواز په طور د خپل تار کا(١١)

هسې بې وقوف سوداګر نه دی رامانه — چې د دين متاع بدله په دينار کا(١٢)

٢٥

٢٥٢

---

(١) په قلمي نسخو کې "ويرژ ليو" راغلی دی.
(٢) دا بيت د "خ" په لومړنۍ نسخه کې نشته، د "خ" په دوهمه نسخه کې د "دويي" پرځای "دوهی" او په مصوره نسخه کې "دودی" راغلی دی.
(٣) د "خ" په دوهمه نسخه کې "خوند" راغلی دی.
(٤) د "پ" لومړنۍ نسخه او د "خ" لومړنۍ نسخه: "هغه عيش چې بلبلې په ګلزار کا"
(٥) په مصوره نسخه کې "نېک عمل" راغلی دی.
(٦) دا بيت د "خ" په لومړنۍ نسخه کې نشته، په قلمي نسخو کې د "نس" پرځای "نفس" راغلی دی. په "ق، ک" چاپ کې د "بازار" پرځای "ګلزار" راغلی دی.
(٧) دا مصرع په چاپي ديوانونو کې داسې ده: "بيا ملاح د زړونو کله هلته کار کا" په مصوره نسخه کې داسې ده: "يګانګي د ملاحانو کله کار کا".
(٨) دا بيت د "خ" په لومړنۍ نسخه کې داسې دی: "يار زما له خو به پاڅي پسې ګرځي چې فلك د عاشقانو محنت بيدار کا".
(٩) دا بيت د "خ" په لومړنۍ نسخه کې نشته، لومړی مصرع يې په "پ" او "پ پ" چاپ کې داسې ده: "نيمې شپې يې يار تر سره پورې کينې". د "ق، ک" چاپ کې د "يې" پرځای "مې" راغلی دی. په مصوره نسخه کې دا مصرع داسې ده: "نيمې شپې مې تر سر وير دی پورې کينې"
(١٠) دا بيت په "پ" نسخو او د "خ" نسخو کې داسې دی: "د مستۍ د هوښيارۍ يون خرګند وی په هر چاکې چې څه دی هسې رفتار کا". "ق، ک" کې لومړی مصرع داسې ده: "د مستۍ د هوښيارۍ يون بند خرګند دی" او د "خ" په لومړنۍ نسخه کې دا بيت داسې دی: "د مستۍ د هوښيارۍ يون سره خرګند دی په هر چاکې چې څه يون هسې رفتار کا".
(١١) په "پ" چاپ کې د "تار" پرځای "کار" راغلی دی.
(١٢) د "پ" په دوهمه نسخه کې "دنيا" راغلی دی.

ورځ چې بده شي عاقل وداناخه کا
چې قضا شي وردوخاره حکماخه کا (۱)

مور وپلار خوښ فرزند له خدایه غواړي
چې بد بخت شي ادې خه کا باباخه کا (۲)

یار له یاره په لوی لاس کله بېلیږي (۳)
چې لاس نه رسي یار خه کا آشناخه کا

په ښېرو په دعا خه شي کړونی خدای دی
چې خدای نه کا ښېرې خه کا دعاخه کا

بخت په زور او په زر نه دی چا خپل کړی (٤)
په دا کار کې ناتوان خه کا توانا خه کا

۲۶ — ۳۵۸

اې زړه پتنګ ولې شه چې وسو (۵)
نور د شمع خنداخه کا ژړاخه کا

زما او ښکې چې داهسې شست وشو کا
دا محنت واره زما د مخ په ولو کا (۶)

تل یې مخ وي تر خوبانو پورې وللی
عاشقي چې د چا او ښکې په شیبو کا

د عاشق د سینې چاك به ورځ ګېندشي
که څوك سر وخپل ګرېوان وته فرو کا

د عشق اور چې شمع خود په سر قبول کړي
پروانه به خه حجت د ځان په سوو کا

ګل خه نه وایي چې غرق په وینو ناست وي
بلبل خه له بې ځایه ګفتګو کا

زه که مرګ غواړم بې یاره ګرم خونه یم
جدایي سړي په ځان پورې پکو کا

۲۷ — ۳۶۵

معشوقې په محنت نه دي چا موندلي
مګر خدای یې په زړه باندې پېرزو کا

خو یو ځله یې تاراج په جفا نه کا
یار له هیچا (۷) سره مهر وفا نه کا

که یې سر په بوسه ورکړم زه پوهېږم
چې قبول به دغه عجز زما نه کا

چې په خپله رضا تللی ما در زاد وي
هغه هیچېږي د نور و رضا نه کا

خو یې خپله مدعا حاصله نه شي
مهرویان په خوله د خضر سودا نه کا

که یې سل ځله دعا کوم په عمر
ګوش وهوش د دعاګوی په دعا نه کا

که آهونه آتشین پسې وکاږم
لکه سر وله خزانه پروا نه کا

---

(۱) دا غزل د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.
(۲) د "پ، پ" چاپ کې دا مصرع داسې ده: "چې بخت بد شي ادې خه کا باباخه کا".
(۳) د "خ" په دوهمه نسخه کې "خپلیږي" راغلی دی.
(٤) دا مصرع په مصوره نسخه او د "خ" دوهمه نسخه کې داسې ده: "بخت په زور وزاړی نه دی چا خپل کړی". د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "بخت په زور و په زر نه دی چا موندلی" او د پېښور "ق ك" چاپ کې داسې ده: "محبت په زور چا نه دی حاصل کړی".
(۵) د "پ" او "پ پ" چاپ کې "عذرشه" او د "ق ك" چاپ کې "اوشو" راغلی دی.
(۶) په چاپي دیوانونو کې "د مخ ابرو کا" راغلی دی.
(۷) په چاپي دیوانونو کې "له یاره" راغلی دی.

۲۸ — ۳۷۲

که آرام غواړي نو په عاشقۍ کې
دغه واړه ناروا کارونه کا

زړه مې بې له خپل نګاره(۱) آرام نه کا
کامراني راشخه غواړي ناکام نه کا

بې ناکامه زیست محال دی په دنیا کې
دکوم آس په خوله کې ځل لګام نه کا(۲)

د آسمان مانۍ به هم په قرار نه وي
سالك څکه قصد د قصر و دبام نه کا(۳)

ګاه یې کښېنوي په تخت کله په خاورو
زمانه رضا د هیچا مدام نه کا

بې له سروي چې آزاده خدای پیدا کړه
ترکې څکه وهیچا ته سلام نه کا(٤)

کوه و دشت هم د خزان له غمه رېږدي
څکه زرکه و چمن ته خرام نه کا

چا چې سر دی په سجده ویار ته ایښی
دوباره له دې سجوده قیام نه کا(۵)

چې یې کړه ده دیار په لوري لوښتې(۶)
لکه بحر هسې در وي مقام نه کا

نشستن د عاشق نشته لکه شمع
خو صورت د عشق په اورکې تمام نه کا

چې محظوظ وي په تش بوی د هر ویانو
هغه فکر د بوسې د پیغام نه کا

چې لذت یې د سر و شونډو وي موندلی
نوره مینه د شرابو په جام نه کا

په هغو د لعلو لبو مې حرام دی
خو دا نور لذت په خپل سر حرام نه کا

۲۹ — ۳۸۵

نو هسې وخپل یار ته بې حجت دی(۷)
لکه عذر چې صاحب ته غلام نه کا

چې امید په عمارت د دې جهان کا
لکه کرښه په اوبو هسې نښان کا

د اوبو په مخ د کرښې بقا نشته
په نابود باندې ناحق د بود ګومان کا(۸)

نادانانو هسې دین په دنیا بایلود
لکه وورکې دُر بدل په پارچه نان کا

د دنیا د دین نسبت(۹) وبل ته نه شي
اور اوبو سره استوګه په څه شان کا

---

(۱) په "پ" چاپ او "ق" چاپ کې "یار" راغلی دی.
(۲) د "پ" په لومړۍ نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې "نعام" راغلی دی.
(۳) له دې بیت نه وروسته بیتونه او پخپله دا بیت د "پ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(٤) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۵) د "خ" دوهمې نسخه: "دوباره یې له سجوده قیام نه کا"
(۶) د "خ" دوهمې نسخه: "چې یې زړه وي تل دیار په لوري تللی". د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "لوښتې" پر ځای "ایښی" راغلی دی.
(۷) د "خ" په دوهمې نسخه کې "لاجواب دی" راغلی دی.
(۸) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۹) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "نښته" راغلی دی.

عشق د نفس له خاصیته منـزه دی
کار د ستر گو به شوك ځرنگ په دهان کا

لکه چشم وگوش په کار کې وبله بیل وي(۱)
هسې دین ودنیا حکم ځان په ځان کا

په پیرۍ کې د ځوانۍ خیال دی هسې
لکه شوك چې د باغ سیر په خزان کا

۳۰ — ۳۹۳

بې درگاه کې بل ځای د نظیر نشته
په سفر استوگه خو مسافران کا

عاشقان د ناصحانو وینا نه کا
مست هاتې د هوتانو پروا نه کا

واړه جور د دې دور(۲) مې قبول دی
که خدای ماله خپله یاره جدا نه کا

چې د گلو پریشانې شوه ورځ گنده
غونچې سر په زانو کیښو د خندا نه کا

وسپلاب ته د پنډ وکې څه استاد(۳) وي
زړه چې ژاړي ستر گې ځرنگ ژړا نه کا

دنیا کل په احمقانو ده ودانه
دانا ځکه وابستگي د دنیا نه کا

چې یې زړه دی په هوا پورې تړلی
د حباب عمارت ځکه بقا نه کا

بې هنر دی چې شوك دین په دنیا پلوري
هنرمند سړی د اهسی سودا نه کا

که شوك وایي هوښیار کوم دی وایه دا دی
چې بې خدایه نوره مینه په چا نه کا

گدایي که ورپسې بې دالي ځای دی
هر بادشاه چې دلجوي د گدا نه کا (٤)

چې بې دل یې په یوه نگاه رغیږي
څه انصاف دی چې دلبرې دوا نه کا

هر چې زړه یې وي په یار باندې بایللی
نوره مینه په چا بې له آشنا نه کا(۵)

چې ترغوږ یې وي وینا د آشنا شوې
هغه غوږ هرگز په نوره وینا نه کا

وبه نه رسي دیار تر بلند بامه
چې د زړه غولی روشن په ژړا(۶) نه کا

۳۱ — ٤۰۷

زه نظیر د هغه یار په جفا خوښ یم
که اغیار مې خدای له میانه پیدا نه کا(۷)

که سړی د خپلې پوهې تقصیر نه کا
د خدای کړه به شوك په پوهه تغیر نه کا

خواه ناخواه به د تقدیر شوي(۸) ورپسې شي
که شوك هیچې نظر په تقدیر نه کا

PROPERTY OF ACKU 4499

(۱) "پ" چاپ او د پیښور نور چاپ دیوانونه : "لکه کار د گوش وچشم سره بیل دی."
(۲) په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهمه نسخه کې "دهر" راغلی دی .
(۳) په چاپي دیوانونو کې "حاجت" راغلی دی .
(٤) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته .
(۵) دا بیت او درې دوه نور بیتونه په قلمي نسخو کې نشته .
(۶) په "ق،ک" چاپ کې "رنها" راغلی ده .
(۷) "ق" چاپ او "ق،ک" چاپ : "چې اغیار مې خدای له میانه جدا نه کا" د "خ" لومړنۍ او مصوره نسخه : "که اغیار مې تر دا میانه پیدا نه کا".
(۸) د پیښور په چاپي دیوانونو کې "کښلی" راغلی دی.

دهغوچې بخت بیدار شو غم یې نشته — که هېچیرې بیداري وشبګیر نه کا
دالدخپلې کم فهمۍ مونږ څه وایو — چې فلانی سړی تالاش وتدبیر نه کا (١)
دلګیري او خوشحالي که په خپل لاس وي — په خپل لاس به خپسړ هېڅوک دلګیر نه کا
معرفت دخدای څرګندی په هر څه کې — سترګې وخوره چې څوک هومره نظیر نه کا
دانفس په مثال برق صورت فانوس دی — برق به هېڅوک په فانوس کې اسیر نه کا
ددنیا سړی همدواړه درماند دی — کوم بادشاه دی چې منت دوزیر نه کا
کوم واده کومه کوژدن ده په جهان کې — چې فلک یې وآخرته په وېر نه کا
په خوله هر یو سړی اسم دپیر اخلي — باري څه په کار چې نغوته دپیر نه کا
څه نښې دقیامت نه دي لوړ څه دي — چې دپلاویل په زویو تأثیر نه کا
هسې چارې له ناحیو واقع کېږي — چې له شرمه یې هېڅ غل وکا سیر نه کا
په مرده پسې تکبیر وکا روان شي — هېڅ ګومان په ځان دهسې تکبیر نه کا
په دنیا پسې درست عمر زهېږېږي — ځان یودم دخدای دپاره زهېږ نه کا
دعیال دپاره تېر ترسو مال شي — دلجوئي په لوه ټوک دفقیر نه کا
ګرم دی چې ناري دهجران اوري — واشنا وته کا ته په ځیر ځیر نه کا

٣٢ — ٤٢٣

ترحد تېره شوه په یار پسې ژړا زما — نه ګروهېږي په ژړا سره آشنا زما (٢)
که مې هره وینا دریا مرغلر شي — لا دغوږ لایقه نه ګڼي وینا زما (٣)
په نارو به ما بیدار کړ که اوده وی — باري وپښې راته اوده شو دلربا زما (٤)
زه مکتوب غوندې په پټه خوله ګویا یم — خاموشي زما تېری کا ترغوغا زما (٥)
کښت دعشق په توده زمکه آسان نه دی — سمندر بویه چې زیست کا په صحرا زما (٦)

---

(١) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(٢) دا بیت په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "دېره شوه په یار پسې ژړا زما نه ګروهېږی په ژړا آشنا زما". او دپیښور چاپ د "خ" په دواړو نسخو او "پ" په دواړو نسخو کې نه یواز دا بیت بلکه دوې ردیف قول بیتونه نه دی راغلی.
(٣) دا بیت د "خ" لومړی نسخه کې داسې راغلی دی. "که می هره وینا دریشی مرغلری لایقت دغوږ و نه کړی وینا زما". او د "پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "که می هره وینا دریشی یا ګوهرشی ستا دغوږ نه ده لایق وینا زما".
(٤) د "خ" په لومړی نسخه کې: "په نارو به ما بیدار که که خوب دی وری ولی وپښې راته اوده شد دلرباځما".
(٥) "پ" چاپ: "زه مکتوب غوندې په پټه خوله ګویا یم لاندې کړله خاموشی غوغا زما".
(٦) د "خ" لومړی نسخه: "کښت دعشق په توده زمکه اسمان نکه سمندر بویه چې زیست کا په صحرا زما".
د "پ" چاپ کې: "کښت دعشق په توده زمکه اسمان نه دی سمندر بویه په دې صحرا زما".

دایار نه دی چې هجران له مانه بېل کړ — روح زما دی چې له تنه دی جدا زما (۱)

زه رحمان بې خپله یاره هیڅ نه غواړم (۲)
که قبوله وي دخدای په درد عا زما

۳۳ — ۴۳۰

سل ځله که وخوري ناصحان ځیګر زما — بېل به ځبله نه کا درد ستا او سر زما (۳)
صبر ستا په عشق کې داخبره ثوك اوزه ثوك — نشته ددې چارې توان یو موی قدر زما (۴)
ستا له محبته جار واته وماته عار دي (۵) — ولې خاورې نه شي په دالار بشر زما
واره معشوقې دعاشقانو خبر اخلي — بې له تا چې نه اخلي یو دم خبر زما
هیڅ اندوه مې نشته بې دستا له جدا لیه — نور اندوه به خدوي تر دغه بتر زما
خوب دکور وکلي په نار وزما برهم شو — څه چل دی (۶) چې نه شي ستا په زره اثر زما

درست جهان که واره ما رحمان لره دلبر شي (۷)
چېرې دی دلبره بې تابل دلبر زما

۳۴ — ۴۳۷

هسې یادې همیشه مدام زما — چې اورا دې په هر صبح وشام زما
هر کلام چې بې دستا له یاده وکړم — سل تو بې دي په هغه کلام زما
زه که بې له تا له زره آرام کړم په سل زنګه — نه شي نه شي په هیڅ رنګ آرام زما (۸)
ننګ ونام که ستا په مینه له ما درومي — زار شه ستا ترمینې ننګ ونام زما
چې قایم شوم په مقام دعاشقۍ — هېر شو دلته واره بل مقام زما (۹)
خو دعشق په خم خانه مې داخل نه کړم — پخته نه شو دغه عقل خام زما (۱۰)
نن دې وخت دی که مې آه وفریاد اوري — خو چې خاورې نه دی هراندام زما (۱۱)

---

(۱) د "خ" لومړنۍ نسخه : " دایاران چې دی هجران له ما بېل کړی — روح زما دی چې له تنه دی جدا زما".
"پ" چاپ : " دایار نه دی چې هجران له ما نه بېل کړ — دغه روح له تنه شه جدا زما".
(۲) "پ" چاپ : " زه رحمان بې خپله یاره هیڅ نه غواړم — که قبوله خدای نه وي دعا زما".
(۳) دا غزل د "خ" په دوهمه نسخه کښې نشته.
(۴) په "ق" او "ق ک" چاپ کښې د "موی" پرځای "جو" راغلی دی.
(۵) چاپي دیوانونه او د "خ" لومړنۍ نسخه : "جار واته زما دروغ دی". مصوره نسخه : " جار واته زما غلط دی".
(۶) قلمي نسخې "څه چارده".
(۷) چاپي دیوانونه : "کل واره جهان که ما رحمان لره دلبر شي".
(۸) د "پ" نسخې : " بې له تا که زره آرام کړم په سل زنګه — نه شي نه شي یاره په هیڅ رنګ آرام زما
د "خ" لومړنۍ نسخه او مصوره نسخه : "که بې تا د زره آرام کړم په سل زنګه — نه شي نه شي په هیڅ رنګ آرام زما
(۹) قلمي نسخې : "هېر شو دلې وته بل مقام زما".
(۱۰) چاپي دیوانونه : "خو دعشق په خم خانه کې داخل نه کړم — پخته نه دی دغه عقل خام زما".
(۱۱) د "پ" لومړنۍ نسخه : " خو تر خاورو نه دی لاندې هراندام زما". د "خ" لومړنۍ نسخه : " خو چې لاندې شي تر خاورو هراندام زما".
د "خ" دوهمه نسخه : " بیا به ثوك درسوی پیغام زما". مصوره نسخه : " خو لاندې تر خاورو هراندام زما".

هزار جام د صراحي دې فلك مات کړل — خو به ګرځي په دا دور جام زما

٣٥ — ٤٤٦

زه نظم به دانا کام کوم تر کومه
وايه (١) کله به حاصل کړي (٢) کام زما

چې هر چا ليدلی نه وي يار زما — خبر دی دا که وايي بد په کار زما (٣)
هغه چې وي دلبر زما ليدلی (٤) — نه به کا انشاء الله انکار زما
سر زما د درګاه د هغه يار عزيز وي — بې له دې لار نشته بله لار زما (٥)
ما بې عشقه بل څه خپل زړه کړی نه دی — چې څه دی هم دا دی واړه کار زما (٦)
خدای دې هېڅوك يو ځله از ارنه کا — اې دلبره مداخله ته ازار زما (٧)
يواړه ستا په جدايي او په درغم کې (٨) — سينه داو ښکو در ومي په رخسار زما
لوی دی که هلك دی واړه ستا خبرې کاندی — بل ګفتګوی نشته په ديار زما (٩)

زه نظم به لاف په عشق کې څه وهم
خو به ځان خرګند کا انتظار زما

٣٦ — ٤٥٤

سر زما سامان زما زار شه ترجانان زما — زار شه ترجانان زما سر زما سامان زما
زيان زما نقصان زما واړه ديار هجر دی — واړه ديار هجر دی زيان زما نقصان زما
ګل زما ريحان زما ستا رخسار و زلفې دې — ستا رخسار و زلفې دې ګل زما ريحان زما (١٠)
مښك زما زعفران زما ستا د کوڅې خاورې دې — ستا د کوڅې خاورې دې مښك زما زعفران زما
فکر زما توان زما ستا په غم کې نه رسي — ستا په غم کې نه رسي فکر زما توان زما
آه زما فغان زما هېڅ په تا اثر نه کا — هېڅ په تا اثر نه کا آه زما فغان زما (١١)

---

(١) د "خ" لومړی نسخه : "خدايه".
(٢) "پ" چاپ ، "ق" چاپ ، او "ق ك" چاپ : "شی".
(٣) قلمي نسخه : "چې هر چا ليدلی نه دی يار زما خبر دی دا که وايي بد په کار زما".
د "خ" دوهمه نسخه : "چا ليدلی نه دی په جهان کې يار زما څه شوه که بد وايي په کار و بار زما".
(٤) قلمي نسخه : "هر چا چې زما دلبر ليدلی دی". د "خ" دوهمه نسخه : "هر چا چې يې ليدلی مهر و دلبری دی نه به که انشاء الله انکار په کار زما".
(٥) چاپي ديوانونه : "سر زما د درګاه د هغه يار عزيز وي بې له دې نه نشته بله لار زما".
(٦) قلمي نسخه : "ما بې عشقه هېڅ نه دی نور زړه کړي هر چې دی هم غه دې واړه کار زما".
د "خ" لومړی نسخه : "خو به ځان خرګند کا انتظار زما". دوهمه نسخه : "ما په عاشقۍ کې نور څه نه زړه که باور کړی هر چې دی دغه دی واړه کار زما".
(٧) قلمي نسخه : "هېڅوك دی خدای يوله بله ازار نه کا اې دلبره مداخله هرګز ازار زما".
(٨) قلمي نسخه : "يواړه ستا د جدايي په غمونو کې". او دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(٩) "پ" چاپ او د "پ ، پ" چاپ : "لوی هلك کړی همه واړه ستا خبری ګفتګوی نشته بل په ديار زما".
"ق" چاپ او "ق ك" چاپ : "لوی واړه کړی همه واړه ستا خبری ګفتګو نشته بل څه په ديار زما".
مصوره نسخه : "لوی هلك واړه ستا خبری که". د "خ" دوهمه نسخه : "لوی هلك همه واړه ستا خبری که دلبره". او دا بيت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.
(١٠) د پښتو "پ پ" چاپ او د "خ" قلمي نسخه : "ګل زما ريحان زما ستا د رخسار زلفې دی ستا د رخسار زلفې دی ګل زما ريحان زما".
(١١) دا بيت په مصوره نسخه کې نشته.

داپیران شیخان زما ستا په غم کې نه رسي — ستا په غم کې نه رسي داپیران شیخان زما (۱)
زړه زما چشمان زما بې تا هیڅ حال نه لري — بې تا هیڅ حال نه لري زړه زما چشمان زما
باغ زما بوستان زما بې تا میوه نه نیسي — بې تا میوه نه نیسي باغ زما بوستان زما

۳۷ — ٤٦٤

وصل هم هجران زما ای ناظم خیر دی
ای ناظم خیر دی وصل هم هجران زما (۲)

ستا په شهر نه دي خوبان لیدلي ما — نه په غوب وچېرې اوریدلي ما (۳)
هیڅ وفاله عاشقانو سره نه کا — دلبران دي واره ازمایلي ما (٤)
چې مې ستا وینکلي مخ ته نه دي کتلي — بل یو مخ ته نه دي بیا کتلي ما (٥)
د زړه غولی مې نیولی ستا غمونو — نور غمونه دي له زړه ویستلي ما (٦)
چې مې کار د عاشقی په لاس کې واخیست — دي له بله کاره لاس وکښلي ما (۷)
نور غمونه مې له زړه نه دي وتلي — ستا غمونه دي پکې کړلي ما (۸)
که جفاکوې که جور واره ځای لري — د ستا جور وجفا واره دي منلي ما (۹)

۳۸ — ٤۷۲

زه ناظم بې یاره خوب وخندا نه کړم
بې ده نه دي خوب خندا پسندلي ما (۱۰)

---

(۱) په نور د قلمي نسخو کې دا بیت نشته او د "پ" په لومړۍ نسخه کې دهسې دی:
"پیران زما شیخان زما ستا په غم ړ نه رسی — ستا په غم ړ نه رسی پیران زما شیخان زما".

(۲) قلمي نسخه: "وصال زما هجران زما رحمانه واره خیر دی — رحمانه واره خیر دی وصل هم هجران زما".

(۳) د بیت په قلمي نسخو کې دهسې راغلی دی: "نور خوبان د ستا په خبر نه دی لیدلی ما — نه لیدلی نه په غوب د اوریدلی ما".

(٤) قلمي نسخه: "دلبران د زمانې دی ازمایلی ما".

(٥) د "پ" لومړۍ نسخه: "چې مې ستا کښلی مخ وته کتلی دی — نور کاروند دی له لاسه غور خولی ما".
په "پ پ" چاپ کې: "چې مې ستا دې ښکلی مخ ته دی کتلی — بل یو مخ ته نه دی بیا کتلی ما".
د "خ" لومړۍ نسخه: "چې مې ستا د ښکلی مخ وته کتلی دی — نور بیا نه دی و بل مخ و نه کتلی ما".
د "پ" په دوهمه نسخه کې دا بیت نه دی راغلی او د "خ" په دوهمه نسخه کې دا ردیف بیخی نه دی راغلی.

(٦) قلمي نسخه: "د زړه غولی مې نیولی ستا غمونو دی — نور غمونه دی له خاطر ویستلی ما".

(۷) قلمي نسخه: "چې مې کار د عاشقی په لاس اخیستی دی — نور کاروند دی له لاسه اچولی ما".

(۸) قلمي نسخه: "هم په دامې نور غمونه له زړه وواته — چې په زړه کې ستا غمونه دی کړلی ما".

(۹) دا بیت په چاپي دیوان کې نشته.

(۱۰) قلمي نسخه: "زه رحمان بې یاره خوب وخندا نه کړم
خوب خندا بې یاره کله دی پسندلی ما".

د "خ" لومړۍ نسخه:
زه رحمان بې یاره خوب وخندا نه کړم
خوب خندا بې یاره کله پسندلی ما".

چې واده یې کاپه ډول اوپه سرنا[1] بیا پرې والي زمانه دویر وینا

که مې هرڅو دلبري او دلجوئي کا زه پوهېږم د خپل یار په استغنا[2]

په یوه ګړی مې یارهم مې آشنا شي[3] بیا مې بله ګړی نه ګڼی آشنا

دا زه خپله تسلي کوم یار بولم[4] څه یاري ده د ناتوان او توانا

یو زمان یو دم او بې خپله صنمه[5] زه لهٔ تر بقا ګڼم فنا

هر سړی په یوې چارې خدای مشغول کړ زه مشغول کړم خدای د ترکو په ثنا

مابې عشقه بل هنر نه زده ناحیه په خندا[6] شه که نادان یې که دانا

چې مې غوږ په نارونه باسي حیران یم پروانه لري که وور وي که برنا[7]

بې دیار له ښه د پند نه دې خدای نه کا

۳۹ د رماحان په زړه کې بله تمنا ۴۸۱

چې یې نقش په زړه خیال شي د آشنا صدقه یې سر و مال شي د آشنا

پس له مرګه یې تیغ هسې مخ روان وي چې آشنا په تیغ حلال شي د آشنا[8]

په آسمان د آشنایی به یې مکان وي چې زمین غوندې پایمال شي د آشنا[9]

خوشحالي زما د زړه په هغه دم وي په هر دم چې زړه خوشحال شي د آشنا

روح هغه ساعت داخل ګڼم په تن کې چې مې[10] دخل په وصال شي د آشنا

هم هغه یوه ګړی رابانده یې کال وي[11] چې یوه ګړی محال شي د آشنا

نور دهیچا قیل وقال مې په کار نه وي چې ترغوږ مې قیل وقال شي د آشنا

زړغونډه کاندې دا نه زما د عیش[12] چې په زړه مې زړغوږ خال شي د آشنا

---

(۱) د "خ" لومړی نسخه: "چې واده وي په ټول په سرنا بیا پرې زمانه دویر وینا". د "خ" دوهمه نسخه: "چې واده یې وي په ډول، وپه سرنا بیا پرې والي زمانه دویر وینا".

(۲) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې داسې راغلی دی: "که یې هرڅو دلبري او دلجوئي کړم زه پوهېږم د خپل یار په استغنا".

(۳) د "خ" په لومړی نسخه کې د "شي" پرځای "وی" راغلی دی.

(٤) د "پ" او "پ پ" چاپ: "دا زه خپله تسلي کړم یاري بولم".

(۵) د "خ" لومړی نسخه "یو زمان یو دم بې خپله دلبره". او دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(۶) په لوړو ټولو نسخو او دیوانونو کې د "په خندا" پرځای "بخشنده" راغلی دی.

(۷) په چاپي دیوانونو کې دا مصرع داسې راغلې ده: "پروانه لري که وور وي که برنا". د "خ" په لومړی نسخه کې داسې راغلی دی: "پروانه لري که زوړ وي که برنا". او د "خ" په دوهمه نسخه کې دا بیت نه دی راغلی.

(۸) مصوره نسخه: "چې زمین غوندې پایمال شي د آشنا".

(۹) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.

(۱۰) چاپي دیوانونه: "چې یې دخل په وصال شي د آشنا".

(۱۱) د "خ" لومړی نسخه: "هم یوه ګړی وړځ رابانده یې کال وي".

(۱۲) مصوره نسخه: "عشق".

نه بل څوك زما طبيب بې آشنا شته دی(۱) نه بل څوك به په مثال شي د آشنا

د ... نظر په هيڅا باندې نه وي
چې نظر يې په جمال شي د آشنا

۴۹۱ ۴۰

که ما بنام ترستوني ښکته کړې حلوا سبا خواست کوې له خدايه د سنورو وا
په هيڅ حال کې دې قرار وصبر نه شي لېونی کړې دې پر حرص دې پرې هوا
تا مې عمر تر يار تر عزيز پورې لويې گيډې(۲) مختورن کړې هم رسوا
چې په خپله رسوايي دې پروا نه شي نور به څه کړې په جهان دچا پروا
چې د نفس د پاره لاس وخدای ته نيسې(۳) دا زحمت له خدايه غواړې که دوا
نفس بې شماره عالم پر پوست وکوهي ته خدای دې نه کا نابينا دچا پيشوا(٤)
په روا په ناروا کله پوهيږې ي وچارپای ته څه روا څه ناروا
چارپايان که غوږ وسترگې لرې څه شو په معنی کې نابينا دي ناشنوا

۵۰۰ ۴۱

زه ... له هغه علمه(۵) پناه غواړم
چې له دينه له مذهبه وي سيوا

دل ودين مې هغې ترکې کړ رها(۶) لايې نه حسابوي د ځان بها
د بنايست صفت يې څوکومه حيران يم په هيڅ رنگ يې مونده نه شي انتها
د صورت له عيبه هسې پاکيزه دی لکه ذات د وينبته نشته دی پهها(۷)
که يې مخ په زلفو پټ وي باك يې نشته تل په گنج باندې پراته وي اژدها
لکه نمر هسې جلوه کا په شفق کې چې په سر کا ندې اودمی دسوها(۸)
نه پوهيږم چې په کومه لاره درو م چپ وراست مې رقيبان دي هزارها
خدای دې هسې تنها نه کا څوك په غم کې لکه زه يم ستا په غم کې يک تنها (۹)

---

(۱) د "خ" لومړی او دوهمه او مصوره نسخه : "نه بل څوك زما طبيب نه مې اشنا شته".
"ق" چاپ او "ق ك" چاپ : "نه بل څوك زما طبيب او اشنا شته دی".
(۲) چاپي ديوانونه : "لويې گيډې"
(۳) " " : "وچانه نيسې"
(٤) "ق" چاپ : "اشنا"
(۵) مصوره نسخه : "زه ... له هغه خلکه پناه غواړم".
(۶) چاپي ديوانونه : "دل ودين مې په هغه ترك کړ فدا"
(۷) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه او مصوره نسخه کښې نشته.
(۸) دا بيت د "خ" " " " کښې نشته.
(۹) د "خ" لومړی نسخه : "خدای هسې رنگ تنها په غم څوك نه کا لکه زه ديار په غم کې يم تنها".

۴۲

هميشه دبيلتانه په غم کې لولم
زه نعوذ بالله منها (۱)

۵۰۸

که مين يې په خپل يار باندې رښتيا
اواره کړه اول دين ، پسې دنيا

په وفا د دلبرانو غلط مه شه
دغه قوم دی بې وفا او کبريا

دخوبانو طايفه ده هسې شوخه
چې غوږ نه باسي دچا په واويلا (۲)

د پرناز او د پرکبر له سببه
عمل نه کا په گفتار د اوليا

هل ودين په نيم نگاه دسړي يوسي
نه يې وېره له چالبازي نه حيا

بل به هسې سرگردان په جهان نه وي
يا عاشق دی يا آسمان دی يا آسيا

نه چې ژغورې سر و مال په عاشقۍ کې
عاشقي دا هسې چيرې وي وېريلا (۳)

دجنت ترحور و تېر شه که يار غواړې
خدای دې نقد دچانه کا ندې نسيا (۴)

دساقي له لاسه هسې باده نوش کړه
چې دې غوښ کا د زړه خيرې دريا

چې يې کسب عاشقي شي د دلبرو (۵)
نظر نه کا ندې په کسب د کيميا

۵۱۹

۴۳

يو گفتار ورله بس کا ندې
څه به هر ساعت پوښتنه کړې بيا بيا

عاشقي مې يې په زړه و کړ گذر بيا (۶)
بيلتانه مې لمبې بلې کړې په سر بيا

که دفتر دخپل قسمت مې په خپل لاس وي
ما به ستا له غم (۷) وران کا دا دفتر بيا

ما لا نومد آشنايي اخستې نه ؤ
جدايي يې راته جمع کړ لښکر بيا (۸)

پس له مرگه به يې بيا تر تا قربان کړم (۹)
که صورت مې خدای پيدا کړ په محشر بيا

د هجران محنت مې واړه له زړه هېر شو
چې مې وليده په ستر گو ستا بشر بيا

---

(۱) د "خ" درې واړه نسخې : " زه رحمان اعوذ بالله منها ".

(۲) دا بيت د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی : "دخوبانو طايفې دی هسې شوخې چې غوږ نه باسي دچا په واويلا". او د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "واويلا" پرځای "انگولا" راغلی دی.

(۳) دا مصرع په مصوره نسخه کې او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده : "عاشقي دا هسې چيرې ده وېريا".

(۴) دا مصرع په پ نسخه کې داسې راغلې ده : "خدای دې نقد دچا ونه کا ندې نسيا".

(۵) دا مصرع په چاپي ديوانونو کې او هم د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده : "چې يې کسب عاشقي شوه د دلبرو". او د "پ" په دوهمه او د "خ" په مصوره نسخه کې د "شوه" پرځای "ده" راغلی دی.

(۶) د "پ" لومړۍ نسخه: "عاشقي مې يې په زړه و کړ اثر بيا". د "پ" چاپ کړنې لومړۍ مصرع داسې راغلې ده : "عاشقي مې په زړه او کړ لوگذر بيا".

(۷) د "خ" په لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کې "له غمه" پرځای "له لاسه" راغلی دی.

(۸) دا مصرع په چاپي ديوانونو کې داسې راغلې ده : "جدايي دې راته جمع کړ لښکر بيا". او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "بيلتانه يې راته جمع کړ لښکر بيا".

(۹) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "کړم" پرځای "شوم" راغلی دی.

چې آسمان يې مخ پټ کړی په سحاب وُ(١) — خدای وما وته څرګند کړ هغه نمر بيا
چې رقيب راته ترلی په ځنځير وُ — خپل حبيب راباندې پرانت هغه ورپيا(٢)
په يوه نظر يې زړه را څخه يو وړ — خدای دې خير کا چې لا وکا بل نظر بيا(٣)

٤٤ — ٥٢٨

په وصال يې منت بار اوسه — نه ګټه
په صدف کې دخل نه وی دګوهر بيا

هغو بيا موند سعادت په دا دنيا — چې يې وکړ قناعت په دا دنيا(٤)
نه ملکونه د سليمان په هزار کاله — نه يوه ګړی طاعت په دا دنيا
يو نفس د خدای په يادوا ولی تر دی — نه د درست جهان دولت په دا دنيا
په دنيا کې لوټ هغو عالمو وکړ(٥) — چې يې وکړ عبادت په دا دنيا
که نعمت دی خو طاعت او عبادت دی — ګټه نشته بل نعمت په دا دنيا
که محنت که مشقت دی خو دين دی — په کار نه دی بل محنت په دا دنيا
بې له خدايه هر چې دي همه فاني دي(٦) — که لذت دی که زينت په دا دنيا
که بادشاه دی آخر خاورو لړه درومي — څه عزت دی څه قربت په دا دنيا
تر هغه به بل نادان په جهان نه وي(٧) — هر چې غواړي فراغت په دا دنيا
ته چې څو وخته فرصت په دنيا غواړې(٨) — چا موندلی دی فرصت په دا دنيا
عمارت په سر دريګو روان کاندي(٩) — هر چې کاندي عمارت په دا دنيا
د مستانو تر لغزشه څه کم نه دی — د سړی استقامت په دا دنيا
هر ژوندی چې د مړه په قبر ورشي — بس دی هومره نصيحت په دا دنيا(١٠)
په روانو او بو ورشه عمر ګوره — د پر دی هومره اشارت په دا دنيا

---

(١) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه در اغلی.
(٢) دا بيت د "خ" په لومړۍ او د "پ" په دوهمه نسخه کې دې راغلی ده: "خپل مين راباندې پرانت هغه در بيا".
(٣) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی، د "پ" چاپ کې يې ورو ستې مېدې دې راغلی ده: "خدای دی خير کا چې لا بل وکړی نظر بيا".
او د "خ" په لومړۍ نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې دې راغلی ده: "تر دې وګوره که لا وکا نظر بيا".
(٤) د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې دا غزل نه دی راغلی.
(٥) د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې "په دنيا کې لوټ هغو زلميو وکړ".
(٦) دا مصرع د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې او هم د "پ" چاپ کې دې راغلی ده: "بې له خدايه هر چې دی واړه فاني دی".
(٧) دا مصرع په "پ" چاپ کې دې راغلی ده: "له هغه به زيات نادان په جهان نه وي".
(٨) دا مصرع په قلمي نسخو کې دې راغلی ده: "ته چې چند ګاه فرصت په دنيا غواړې".
(٩) دا مصرع په "پ" چاپ کې "عمارت په سر دريګ به روان کاندی" او په "پ پ" چاپ کې "عمارت په سر دريګ به روان کاندی" راغلی ده.
(١٠) قلمي نسخو کې "بسکه ..." راغلی دی.

داپاخه پاخه سرایونه محلونه — خوبه وران شي عاقبت په دا دنیا
وربې سترګې د آسمان څه هسې نه دي (۱) — چې څوك پرېږدي سلامت په دا دنیا
هرچې راشي همه واره ځني درومي — مسافردی هر صورت په دا دنیا
ریاضت په قیامت نه شي مرد هغه دی — چې یې وکړ ریاضت په دا دنیا
هم په داخوی وخصلت به سپاپاخي (۲) — خدای څوك مکره بد خصلت په دا دنیا
هم هغه به یې خرمن وي پسله مرګه — هرچې کاندي زراعت په دا دنیا
که هغه جهان په داګې لیده نه شي — زه یې وینم علامت په دا دنیا
په قیامت به ښه توښه ځبله نه شي — مالپدلی دی قیامت په دا دنیا
امانت به د لحد په میان کې پروت وي — هرچې اوسي امانت په دا دنیا
نیك عمل حضور جنت دی طاعت بویه (۳) — چې حاصل کا څوك جنت په دا دنیا
نیك کردار هم نیك عمل هم نیك خویونه — هم جنت دی هم راحت په دا دنیا (۴)
ضدیت د سړي عمر په عذاب کا — په کار نه دی ضدیت په دا دنیا
لاس په سر په سینه ایښی وهرچاته — هم دغه دی شرافت په دا دنیا
که بلنده مرتبه د چا په کار وي — لوی مقام دی عدالت په دا دنیا
بل ارمان به له جهانه یوورنه شي (۵) — مګر هر محبت په دا دنیا
د هغه جهان سودا واره دلې د ۵ (۶) — که څوك کاندي تجارت په دا دنیا
که طالع د سړي نه وي جاروتلې — هیڅ پټ نه دی حقیقت په دا دنیا
نیك له نیکو سره بویه بد له بدو — که څوك غواړي ولایت په دا دنیا
ولایت دی خدای هغه لره ورکړی — چې یې ورك کړ سکونت په دا دنیا
که تامه دنیا واره سره یو شي — نور به نه کا خپل قسمت په دا دنیا
که څوك (۷) مرد دی خو هغه دی په دنیا کې — هرچې نه لري حاجت په دا دنیا

---

(۱) د "پ" نسخه او د "ق" لومړی نسخه: "وربې سترګې د آسمان څه هومره نه دی."
(۲) قلمي نسخه: "هم په داخوی وخصلت به پاخاوه شی."
(۳) په قلمي نسخو کې "طالع" واغلدی.
(۴) وابیتا د "پ" په نسخو کې دی "علم"، د "ق" په دواړو قلمي نسخو کې "نیك کردار له نیك عمل سره بویه" واغلدی.
(۵) "ب ب" چاپ "بل ارمان به له جهانه پورته نه شی."
(۶) "پ پ" چاپ "د هغې جهان سودا واره دلې شی."
(۷) په قلمي نسخو کې "که څه" واغلدی.

چې رغبت يې د جمله بلاؤ سردی ... څوك به څه كاذبي رغبت په دا دنيا[1]

٤٥ ... ٥٦٥

په نالح باندې داعمرهسې تېر شو
لکه تېر شو يو ساعت په دا دنيا

هوښيار مه گنه هوښيار ددې دنيا ... بې وقوف دی وقوفدار ددې دنيا
روښنايي په هغوز رونوده حرامه[2] ... چې پرې کېنې گرد غبار ددې دنيا
پوچ گويي ده چې يې اهل د دنيا کا[3] ... هر کلام او هر گفتار ددې دنيا
د طفلانو په څېر واره خاکبازي کا ... هر چې کاندې کاروبار ددې دنيا
واره ډکې خولې د پيوهلکان دي ... کار دیده او پخته کار ددې دنيا
همېشه به بې وقوف او بې شعور وي ... چې مخمور وي په خمار ددې دنيا
د شرابو هم لاهو مره مستي نه وي ... لکه مست وي خمرخوار د دې دنيا
هر بيمار لره دارو په جهان شته دي ... دارونه لري بيمار د دې دنيا
دهر سوي علاج وشي په جهان کې ... مگر سوی په شرار ددې دنيا
هر چې اچوي واورته واره سوځي ... مور به نه شي طلبگار ددې دنيا
گرفتار يې همېشه په غم کې ډوب وي ... هېڅوك مه شه گرفتار ددې دنيا
تل به پروت وي په ظلمت او په توريم کې ... چې اسير وي په کفار[4] د دې دنيا
په مسلمو کې خاصه مسلم هغه دی ... چې يې وشلاوه زنار د دې دنيا
څه وبت وته سجده څه ودنيا ته ... بت پرست دی پرستار ددې دنيا
تن يې پاتوشي بې سره، سر يې لاړشي ... سردار کله دی سردار ددې دنيا[5]
زوی اولونه يتيمان کا حُني در ومي[6] ... بې وفادي مور او پلار ددې دنيا
همېشه به يې يو پند د غم په سر وي ... چې په سر يې وي دستار ددې دنيا[7]
واره غم دی کدې پېرې کدې[8] پلوري ... نور څه نشته په بازار ددې دنيا

---

(۱) دا بيت په "پ" چاپ کې نشته.
(۲) د "خ" په دواړو نسخو کې "روښنايي ده په هغوز رونو حرامه". راغلی دی.
(۳) د "خ" په دواړو نسخو او "پ" چاپ کې "پوچ گويي ده چې يې اهل د دنيا کاندي" راغلی دی.
(٤) د "خ" په لومړی قلمي نسخه کې "گفتار" راغلی دی.
(٥) دا بيت د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې نه دی راغلی.
(٦) په "پ" چاپ کې: "زامن لونه يتيمان کا حُني در ومي".
(۷) دا بيت د "خ" په لومړی قلمي نسخه کې نه دی راغلی.
(۸) د "پ" په نسخه کې "يايي" راغلی دی.

همګي واړه ټګان دي ټګي کاندي — فروشنده او خریدار ددې دنیا (۱)
په دنیا به مینه نه کاندي هیچېرې — چې خبروي په اضرار (۲) ددې دنیا
چې نظر دچا په دین او په ایمان وي — هغه نه کا انتظار ددې دنیا (۳)
چې وېرېږي له کوهي او له ګرنګه (٤) — هغه نه درومي په لار ددې دنیا
آشنایان یې همه واړه مکاران دي — څه وساده په مکار ددې دنیا
لوی، هلک یې، همه واړه اغیاران دي — یار دی چېرې په دیار ددې دنیا
چې پیدا شي همګي واړه فنا شي — راشه وګوره ناتار ددې دنیا
هر سړي لره چې ورشي ځني درومي — مالیدلی دی رفتار ددې دنیا
په یوه ګړۍ بهار وي بیا خزان شي — بقا نه لري بهار ددې دنیا
که هزار هزار پشتې ورته ته کېږ دي (٥) — بې بنیاده دی دیوار ددې دنیا
که داوسپنو حصار ترڅان چاپېر کړي — سېسېنه وګنه حصار ددې دنیا (٦)
لکه سیوري د آفتاب په مخ کې ګرځي — نشته هیچېرته قرار ددې دنیا
هېڅ ګومان دبهتري ورباندې مکړه (٧) — کهتري ده وار په وار ددې دنیا
بې مقراضه غوڅوي دسړي عمر — هم دالیل او هم نهار ددې دنیا
پس له مرګه به حساب له سړي غوښتې شي — پېاند از او په مقدار ددې دنیا
عاقبت خوبه یو موتی شي دخاورو — ګلعذار او ګل رخسار ددې دنیا
برابر به له ګدایه سره پاڅي — شهزاده او شهریار ددې دنیا (٨)
پاس به داغ وي دلښې په سینه باندې — هر درهم او هر دینار ددې دنیا (٩)
دقانع ترقناعته صدقه شه — هم دنیا او هم دینار ددې دنیا (١٠)
پس له مرګه به همه واړه مظلوم وي — ظالمان او ستمګار ددې دنیا
ترقیامت به دغه شل او دغه لس وي (١١) — پوره نه کړم هیڅ شمار ددې دنیا

---

(۱) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نه دی راغلی او د "پ پ" چاپ کې دا سې راغلی دی: "همه واړه یې ټګان دي ټګي کاندي".
(۲) په چاپي نسخو کې "اضرار" راغلی دی.
(۳) د "پ" نسخه: "هغه نه لري نظر په کار ددې دنیا". د "خ" دوهمه نسخه: "هغه نه لري هېڅ کار ددې دنیا".
(٤) د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې: "چې یې وېره شي له کوهه له ګرنګه".
(٥) قلمي نسخه: "که هزار هزار پشتې ورته کېږ دي".
(٦) د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې: "بې بنې وګنه حصار ددې دنیا"، د "پ پ" چاپ کې: "سېسېنه وګنه دیوار ددې دنیا".
(٧) قلمي نسخه: "هېڅ ګومان دبهتري پرې مه کړه".
(٨) دا مصرع د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې دا سې راغلې ده: "شهزاده او شهسوار ددې دنیا". (٩) دا بیت د "خ" په نسخو کې نه دی راغلی.
(١٠) دا بیت په "پ پ" چاپ کې نه دی راغلی.
(١١) دا مصرع په چاپي دیوانونو کې دا سې راغلې ده: "ترقیامته دغه لس او دغه شل دی".

چې ایام پرې د کفن او غسل وړشي — بې پردې شي پرده دار ددې دنیا
په تخته باندې بیرون شي له حجابه — شرمناک او شرمسار ددې دنیا (۱)
تر هر چا به پیغمبر څخه وه ډېره — که څه قرب وی یا وقار ددې دنیا
یو فساد به یې بیان په زړه نه شي (۲) — فساد ونه دي بسیار ددې دنیا

٤٦ — ٦٠٨



(۳)
سې مست یم ستا د شونډو په شراب — چې به نه وي بل داهسې مست خراب
لاس دستا په مینه اچوم وګل ته — لکه بوټي ته لاس اچوي غرقاب
دا سرخي او سپېدي دستا د مخ ده — که زما په مخ باران دی د خوناب (٤)
څه اثر به زما او ښکې په تا کاندي — لا تازه شي او ربړ او ښکو د کباب
عاشقان دې سترګې روڼې کا په عشق کې — دا خواب نه دی دا منزل دی د سیلاب (۵)
ما چې خال دستا د رخو په میان ولید — نه بل هسې رنګ امام شته نه محراب (٦)
سنا پېرې چې لپاره نه شي سبب دادی — مخ دستا له شرمه نغاړې په حجاب (۷)

---

(۱) دا مصرع د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې داسې راغلې ده : " شرمناک وشرمدار ددې دنیا ".
(۲) د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې : " یو فساد به یې بیان تر رحمان نه شي ".
(۳) دا مصرع په پېښور چاپ کې داسې راغلې ده : " هسې مست یم د شونډو په شراب "
(٤) دا بیت په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی : " دا سرخی او سپېدی ده ستا په مخ کې که زما په مخ باران دی د سحاب ".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی : " دا سرخی او سپېدی چې ستا د مخ ده دا زما په مخ باران دی که سیلاب ".
د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی : " دا سرخی او سپېدی خو ستا د مخ ده که زما په مخ باران دی د خوناب ".
د "پ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلی دی : " دا سرخی او سپېدی چې ستا د مخ ده که زما د مخ باران دی د خوناب "
(۵) دا مصرع په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده : " دا خواب نه دی منزل ګاه دی د سیلاب ".
(٦) دا مصرع په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده : " نه بل هسې رنګ امام شته د محراب ".
د "پ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلې ده : " نه بل هسې رنګ امام شته په محراب ".
(۷) دا مصرع په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده : " مخ دستا له شرمه نغاړې په حجاب ".

چې سباشي ستا تر مخ پورې شرمېږي — ځکه زیست په توره شپه کاندې مهتاب
حجاب واخله مخ کړه تورد هغو خلقو — چې تحسین کا ستا په دوردآفتاب
هسې نه چې زه دلبر وایم وتا ته — خدای دې تا لره درکړی داخطاب
ستا د مخ په ورق باندې خط وخال دی — د مصحف په صحیفو باندې اعراب
ستا د حسن حساب هیڅ په زحمان نه شي — هم په دا چې بې حساب دی بې حساب

٤٧ — ٦٢١

یوکتاب په سربن کې چاونه کړ (۱)
بې رماح نه چې یې وکړ دا کتاب

چې یې ولید د ستا حسن بې حساب — له دې قصده تا و پیدا شوله آفتاب (۲)
ستا له غم مې سترغلی سرې سرې ناغې شوې — یا خپې دې سیاه پوش سره طناب (۳)
په آرزو دې د نرګس سترګې خلور شوې — غونچه سره د زړه په وینو شوه غرقاب (٤)
که دې زلفې په مخ پیچوتاب شوې بنایي (۵) — وینبت خه طاقت لرې دا ورله تاب
زه چې خدای د ستا له غم سره آشنا کړم — خوشحالي مې نور نایابه شوه نایاب
سترغلي مې د فراق په ژړا سره شو د — د سبزې اثرې پاخېده له آب (٦)
مه، خورشید چې دې بنایست پورې شرمېږي — ځکه مخ پناه کوي تر کوه قاب (۷)
زه دې پېژنم په اصل کې خاکي یې — ځان به خوشنې په گوتې له تراب (۸)
خودې خیال دا شنا کړې په لمه کې — خبر زده کړه ته دا وینکوله سیلاب (۹)

٤٨ — ٦٣١

د رماح بخت به هاله له خوبه ویښ شي
که ته سترګې ورته پورته کړې له خواب (۱۰)

---

(۱) دا مصرع په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "بې رماح چې یې جوړ کړو دا کتاب". او د دې بیت لومړی مصرع د "خ" په دواړو قلمي نسخو کې داسې راغلې ده: "یوکتاب په سربند کې چاونه کړ".

(۲) د دې بیت ردیف په "ب" چاپ کې نه دی راغلی او دا بیت د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "چې مې ولید ستا حسن بې حساب له دې قصده تا و پیدا شود آفتاب".

(۳) دا بیت په "ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "ستا په غم مې سترغلی سرې سرې ناغې شوې یا خپې دې سیه پوش سره طناب" خو په لوړو قلمي نسخو او "پ" چاپ کې دا بیت نه دی راغلی.

(٤) دا بیت په "ب" چاپ کې داسې راغلی دی: " په ارزو مې د نرګس سترګې خلور شوې غنچه سره د زړه په وینو شوه غرقاب".
د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: " په ارزو د نرګس دوې سترګې خلور شوې غنچه سره د زړه په وینو شوه غرقاب".
د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: " په ارزو دې د نرګس سترګې خلور شوې غنچه شوه د زړه په وینو کې غرقاب".
د "پ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: " په ارزو د نرګس سترګې خلور شوې غنچه سره د زړه په وینو کې غرقاب".

(۵) دا مصرع د "خ" په لومړۍ نسخه کې (قلمي نسخه کې) داسې راغلې ده: "که دې زلفې په مخ پیچ، پیچ دې بنایي".

(٦) دا مصرع د "خ" په دواړو قلمي نسخو کې داسې راغلې ده: " سترغلی مې د فراق په ژړا سپین شو". او د "پ" په دوهمه نسخه کې د "سپین" او "سره" پرځای "شنه" راغلی دی.

(۷) دا بیت د "خ" په دواړو قلمي نسخو د "ب" په دواړو قلمي نسخو کې نه دی راغلی.

(۸) د دې بیت دوهمه مصرع د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلې ده "ځان به خوشنې په گوتو له تراب". مګر په لوړو قلمي نسخو او "پ" چاپ کې نه دی راغلی.

(۹) دا بیت پرته له "پ" چاپ څخه په لوړو نسخو کې نه دی راغلی.

(۱۰) دا مصرع د "خ" دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلې ده: " که ته سترګې ورته پورته کړې له خواب".

لاس مې وتړي د زلفو په طناب — بيا مې وپلوري دستر گو په قصاب[1]
هسې آب يې دی د دوستر گو په تيغ کې — چې بې سره په سر نه لري حباب
چې توسن د فلک زين کاندی له ناز ه — د اهلال يې په ځای راوشي د رکاب[2]
په درگاه يې د روپزه کاندي د حسن — کنډ ولی په لاس سپوږمۍ هم آفتاب[3]
چې رايادې يې سرې شونډې سوريږوان کړم[4] — تر چشمانو مې بهيږي سره شهاب
چې د مخ وآب وتاب ته يې نظر کړم — راته هيڅ شي د گلونو آب وتاب[5]
چې نسيم يې د زلفينو راپيدا شي — درست مې ډوب کاندي په منښکو په گلاب
چې د سپې اوازې يې واورم هسې خوښ شم — لکه څوک په نغمه خوښ وي د رباب
ما وې گوندې مخ يې وينم په خوب کې — باري چيرې شي بې ياره د چا خواب[6]

په غزل کې خو دوه بيته انتخاب وي[7]

د تمام غزل دی انتخاب

٤٩ — ٦٤١

هر مطرب چې غوږ ته تاو کا د رباب — په داتا وکې زما زړه کاندي خراب[8]
چې سامع يې په نغمه په ترانه شم — د پوانه شم گرپوان خيږي مست خراب
هم يې تار هم يې گفتار هسې اثر کا — چې هيڅوک يې نه طاقت لري نه تاب
يو يې ساز بل يې اواز دی دلبستيو — دريم شعر پرې آغاز کا انتخاب
څلورم يې يو ساقي د څنگه ناست وي[9] — چې مخې يې نه افتاب وي نه مهتاب
د اڅلور واړه فتنې په څلور کنجه — اوپنځم يې صراحي د مي ناب
شپږم وخت د نوبهار او وم خوانۍ دی — اتم شغل د کتاب نهم رباب[10]
چې د اهومړه آفتونه سره ټول شي — تر وخوک څرنگ ځنې کاندي اجتناب

---

(١) دوی غزل پنځه بيته په مصوره نسخه کې نشته په چاپي ديوانونو کې د "وپلوری" پر ځای "وسپاری" راغلی دی.
(٢) قلمي نسخې : "داهلال په ځای راوشي د رکاب". د "خ" دوهمه نسخه : "دهلال پر ځای يې ونښلي رکاب".
(٣) "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ : "کنډ ولی په لاس نيولی دی مهتاب". د "خ" دوهمه نسخه : "کنډ ولی په لاس سپوږمۍ هم د آفتاب".
(٤) چاپي ديوانونه : "چې په ياد کې مې سرې شونډې سپين رخسار دی".
(٥) "ق" او "ق، ک" چاپ : "راته هيڅ شي د گلونو آب وتاب".
(٦) چاپي ديوانونه : "ما وې مخ يې گوندې وينم په خوب کې باري چيرې شي بې ياره خورد وخواب".
(٧) د "خ" لومړی نسخه : "په غزل کې يو دوه بيته انتخاب وي".
(٨) په چاپي ديوانونو او د "خ" په لومړی او دوهمه نسخه کې د "خراب" پر ځای "کباب" راغلی دی.
(٩) چاپي ديوانونه او د "خ" لومړی نسخه : "څلورم يې يو ساقي تر څنگه کښيني"
(١٠) قلمي نسخې : "شپږم وخت د نوبهار او د خوانۍ او وم شغل د بياض و د کتاب"

چې داهسې دلبران پرې اثر نه کا — یا به دیو وي یا د پوال وي یا د واب
راخرګند به شي پرهیز د پرهیزګار رو — که قادر شي په شاهد او په شراب (۱)

۵۰

زه زړګی له ریا زهده (۲) پناه غواړم — د ریا زهد عذاب دی هم عتاب
۶۵۲

ورقونه لتوم د هر مکتوب — پکې غواړم خال وخط د خپل مطلوب (۳)
یا تنوردی یا دکان د آهنګر و — چې په عشق کې تصور کړم خپل قلوب
په خندا خندا ځان اچوي واورته — خدای خوک مه کړه په جذبه د عشق مجذوب (۴)
زه چې غم د هر ویانو راپه زړه کړم — له دې غمه ولاړ شي زړه راشخه ډوب
ګوره خرنګ عشق آسان کړه وعاشق ته — دا مشکل مشقتونه د ایوب (۵)
په ژړا ژړا ترهسې حده را غی — چې ځان روند کړم په یوسف پسې یعقوب
عشق دے دا چې معشوقه شوه وعاشق ته — نه رخسار د هر ویانو په اسلوب (۶)
هغه څه پوښتی له هجره له وصاله — چې په خپله هم محب شي هم محبوب

۵۱

چې نظر یې له صورته په معنو کړم (۷)
و زړګی وته یکسان شو زشت وخوب
۶۶۱

چې نظر کړم په قسمت او په نصیب — راته هیڅ شي خپل تالاش وپل ترتیب (۸)
مګر خود په خپله خدای دچا طبیب شي — ګنه نشته په جهان کې بل طبیب
راخرګند دی په سود او زیان د رقیبانو — که خدای نه کاندي خپل یار دچا رقیب (۹)
چې خپل یار دچا رقیب شي دلیل دادی — لکه خوک چې په وطن کې شي غریب (۱۰)
چې غریب شي په وطن کې فرق یې نه وي — که فرسنګ یې وي ترمیانه که جریب
ما په عشق کې هیڅ حاصل نه کړه بې غمه — هرچې وایي واره (۱۱) ښه وایي ادیب

---

(۱) مصوره نسخه: "که قادر شی خوک په شهد و په شراب" (۲) په "ق" چاپ او د "خ" لومړی نسخه کی "پرهیز" او په "ق ک" چاپ کی "امان" راغلی دی"
(۳) دامصرع په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهمه قلمی نسخه کی داسی راغلی ده: "پکې غواړم خال وخط د خپل محبوب". د "خ" لومړی نسخه: "او پکې غواړم خطوخال دهر مطلوب".
(۴) دا بیت د "خ" په لومړی او دوهمه نسخه کی داسی راغلی دی: "په خند اخند اخان اچوم واورته خدای خوک مه کړه په جذبه د عشق مجذوب". خو په لومړی قلمی نسخه کی د "مجذوب" پرځای "میزوب" راغلی دی. په "پ پ" چاپ کی داسی راغلی دی: "په خند اخند اخان اچوی بل اورته خدای چی خوک کړی په جذبه د عشق مجذوب".
(۵) چاپي دیوانونه: "ګوره عشق خرنګ اسان کړه وعاشق ته دا مشکل مشقتونه دایوب". د "خ" په لومړی نسخه کی د "ایوب" پرځای "وعیوب" راغلی دی.
(۶) دا بیت د "خ" په دوهمه قلمی نسخه کی نشته، دوی بیت چه لومړی مصرع کی د "شو" پرځای، په "پ" چاپ کی "شد" په "پ" چاپ کی "شوه"، "خ" په لومړی قلمی نسخه کی "شی" او د "پ" په دوهمه نسخه کی "واه" راغلی دی.
(۷) دا بیت د "خ" په لومړی قلمی نسخه کی داسی راغلی دی: "چې نظر یې له صورته په معنو کړم ورحان وته یکسان شی زشت وخوب".
(۸) دوی ردیف ټول بیتونه د "خ" په دوهمه قلمی نسخه کی نه دی راغلی (۹) دا بیت په "پ" چاپ کی داسی دی: "راخرګند دی سود و زیان د رقیبانو که خدای دې نه کاندی خپل یار دچا رقیب". په "پ" چاپ کی: "راخرګند دی سود و زیان د رقیبانو که خدای نه کاندی خپل یار دچا طبیب". د "خ" لومړی قلمی نسخه کی: "راخرګند دی پسو را واز د رقیبانو که خدای نه کاندی خپل یار دچا رقیب".
(۱۰) دا بیت په "پ" چاپ کی داسی راغلی دی: "چې خپل یار دچا طبیب شی مثال دادی لکه خوک چې په وطن کی شی غریب". مګر د "خ" لومړی نسخه کی او دوهمه مصرع داسی راغلی ده: "لکه خوک چې خپل وطن کی شی غریب".
(۱۱) په "پ" چاپ کی د "واره" پرځای "هغه" راغلی دی او دوهمه مصرع یې د "پ" په دوهمه قلمی نسخه کی داسی راغلی ده: "هرچې وایي واره بد وایي ادیب".

۵۲ — ۶۶۸

دښمن هم د سړي کله کله دوست شي
دوستي نه کاله رامخ سره حبيب

زه په سل رنګه راغب — ته په سل رنګه غايب
دا به څرنګ شي دلبره — چې زه مستيم ته تايب
که له جوره دې فرياد کړم — داهم نه دی مناسب
که څه وايم نه مې رسي — زه مغلوب يم ته غالب
څه سيالي برابري ده — د مطلوب او د طالب[1]
داستا مهر و محبت کړو — خدای په ما باندې واجب
درد و غم دې هومره نه دی — چې يې وکښم په کاتب
جدايي ده ډېره سخته — دا رواح اود قالب
چې مجنون په ځنګندن شو[2] — زه يې پرېښودم نائب
وصيت يې راته وکړو — په څو رنګه[3] عجايب

۵۳ — ۶۷۹

چې روزي دې شه رامخ ناڅ
زما واړه مراتب





له مې وشي له دلبره ملاقات — بيا به نه ځم له دې دره په حيات (٤)
پس له دې مې دے استوګنه خدای نصيب کا — په دا درکې که حيات وي که ممات

---

(۱) دا بيت د "خ" په دواړه نسخه کې نشته.
(۲) د "خ" دواړه نسخه: "چې مجنون له دې جهان ته".
(۳) "ق" او "ق،ک" چاپ: "په سل رنګه"
(٤) دا مصرع په "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "پا به نه سم له دې دره په حيات".

ځای لری که زه ویار وته سجده کړم (۱) — هغه یار زما قبله دی د حاجات (۲)
د خپل یار نر لعلو لبو به یې زار کړم — که شکرې وي که قند وي که نبات
د زما د یار جلوه ده چې لیده شي — لکه لمر په صومعه د سومنات (۳)
ترمالا په دلبرانو ډېر مین دي — چې خبرې کا د کشف او کرامات
د ریاله زاهدی زما توبه ده — چې یې کا ندي څوك په رسم او په عادات
په ورځ پند او نصیحت والي وبل ته — په شپه ناست وي د مغان په خرابات
دین یې دام وي د دنیا په لارې ایښی — پرې را اړوي وحشیان د مخلوقات (٤)
د هغو په لوري ستر ګې وي ختلي — چې په لاس یې سر سایه وي یا زکات

زه رحمان له هسې اهله پناه غواړم (٥) — هر چې لاف کا په خلاف د مقامات

٦٨٨ — ٥٤

آفرین د عاشقانو په همت — چې په عشق کې یك انداز وي یك جهت
نه یې هیچېرې تغیر نه یې تبدیل وي — که تمام جهان پرې والي ملامت
که څوك سل نصیحتونه ورته کا ندي — غوږ یې نه وي دهیچا په نصیحت
چې په یار پسې ترځان ترجهان تېر شي — څوك کولی شي د اهسې مشقت
که تمام عمر یې یار په ستر ګو ناست وي (٦) — تمام عمر ورسنګار پرې یو ساعت
که یو دم شي هغه یار ورڅخه لرې — هغه دم شي ورته عمر د قیامت
که د وزخ لره د یار په مینه درومي — د وزخ هم ورته جلوه (۷) کا د جنت
د عشق لارد توکل په پښو غوڅېږي — نه په پښو د ریاضت او دیانت (۸)
په تدبیر او په تالاش کله موندې شي — چې موقوف وي هغه کار په عنایت

په چاپي دیوانونو کې د "ځای لری" پر ځای "ښایي دا" راغلی دی.
دامسری د "خ" په لومړی نسخه کې داسې راغلی ده: "هغه یار که قبول که دعا حاجات". "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "هغه یار زما قبله دی هم حاجات".
دامسری په "پ" چاپ کې داسې راغلی ده: "لکه لمر په صومعه او په سومنات". په "پ" چاپ کې داسې راغلی ده: "لکه لمر په صومعه وسومنات".
دا بیت د "خ" په لومړی قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "ایښی دام وی د دنیا په لارې نیسی پرې را اړوي د حشیان او مخلوقات".
دا بیت د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "زه رحمان له هسې علم پناه غواړم هر چې لاف کا په خلاف د مقامات".
د "خ" په لومړی قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "زه رحمان حال پناه غواړم وخدای ته هر چې لاف کا په خلاف د مقامات".
دا مسری د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلی ده: "که تمام عمر مې یار په عبر کې ناست وی".
دا مسری د "پ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلی ده:
"د وزخ هم ورته کوڅه کا د جنت".
د لومړی قلمي نسخه کې داسې راغلی ده: "نه په پښو د ریاضت د دیانت".

دعاشق خاطر له غیرو پاک پزه دی　　د دریاب په مخ کې نه وي نجاست

خدای چې زړه د مطلوب کانی کړ رحمانه (۱)
کانی پروت د طالب په عمارت

۵۹۹　　۵۹



وصال شپې بدله په بیلتون شوه الغیاث
دقیامت خوارۍ راپیښه په ژوندون شوه الغیاث

مالاطمع د وصال د نعمتونو تري کوله
ناګهان کاسه (۲) نسکوره د ګردون شوه الغیاث

هغه چارچې مې په لاس وه زړه پرې نه وم پوهېدلی (۳)
اوس چې پوه شوم له اختیاره مې بېرون شوه الغیاث

د وصال په طمع طوق د جدایۍ شو راپه غاړه
هغه طمع چې زما وه اوس طاعون شوه الغیاث (٤)

په حکمت په عقل پیتې د عشق اخستې خوک نه شې (۵)
په دا کارکې ما تله د افلاطون شوه الغیاث

ما رحمان دیار وصال په اسانۍ موندلی نه دی (۶)
زرد رویې مې سرخ رویې په ګرخون شوه الغیاث

۷۰۵　　۵۶

یار یاري راسره نه که الغیاث
نه یې ترس شي نه یې کړکه الغیاث

سرومال واړه زما و دلارام ته
نه ارزېږي په کنجکه الغیاث

په حملو حملو مې زړه وړې نه پوهېږم (۷)
افریدی ده که ختکه الغیاث

بیلتانه یې پیښور راته تنور کړو
له خیبره تر اټکه الغیاث

---

(۱) دابیت د "خ" په قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "چې خدای زړه د مطلوب نرم کړ رحمانه کانی بوټی پروت طالب په عمارت".
او د دې بیت دوهمه مصرع د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلې ده: "کانی پروت وی د طالب په عمارت".

(۲) په چاپي دیوانونو کې "پیاله" راغلی ده.

(۳) د "خ" دوهمه نسخه: "زړه پرې هېڅ نه پوهېدلم".

(٤) دابیت په مصوره نسخه کې نشته.

(۵) مصوره نسخه: "په حکمت په عقل کله څوک په عشق پوهېږی".

(۶) د "خ" لومړی نسخه: "ما رحمان مثال په اسانۍ موندلی نه دی." د "پ پ" چاپ کې د "اسانۍ" پرځای "اشنایي" راغلی ده.

(۷) د "خ" لومړی نسخه: "په حملو حملو یې زړه راغځیدو".

خوچې راکاږي چوګان په مخ دزلفو — ګوی زما داخراب زړه که الغیاث
هیڅ سبب لیده نه شي جفا کاندي — نه پوهیږم چې څه که الغیاث
په اخلاص وپه راستی ورته ولاړیم — یار جفا هومره په څه که الغیاث(۱)
سل خبرې که له صدقه ورته وکړم — یار یوه راسره نه که الغیاث
چې مې وینې له رقیبه سره خاندي — په ژړا مې لیمه سره که الغیاث

۵۷ — زه ربانج مدام دیار په رضا درومم
یار په خپله رضا تله که(۲) الغیاث — ۷۱۵

چې ویلی مې له تادی داحدیث — سرنامه دهر انشاء(۳) دی داحدیث
چې آغاز مې کړ په مدحه دخوبانو(٤) — څکه ګنج بې بهادی داحدیث
په ثنا دل پسند ودلرباؤ(۵) — دل پسند او دلربادی داحدیث
لکه باد د صبحدم چې غونچه واکا — هسې رنګه دلکشادی داحدیث
چې اوصاف مې دسرو شونډو پکې راوړه — خوږ تر قند وتر حلوادی داحدیث
نه پوهیږم چې او به دي دحیا تو — که نفس دمسیحادی داحدیث
دغونډ ژبو شاعرانو دخولې نه دی — څکه هسې رنګ صفادی داحدیث
ستا دمخ ته که څوك شمس وقمر وایي — دروغ نه دی په رښتیادی داحدیث

۵۸ — که څوك وایي چې چاکړی داحدیث دی
ربانج وایي چې زما دی داحدیث — ۷۲٤



ې برهم کا عاشقي دچا مزاج — حکیمان یې درمانده شي په علاج
په آشنا پسې تل ژاړي په دوه سترګو(۶) — داوبو په ځای خونابه کاندي اخراج

(۱) دا بیت او وروستی دوه نور بیتونه په قلمي نسخو کې نشته. "ق، ک" چاپ: "یار وفا راسره نه کا الغیاث"
(۲) د "خ" لومړی نسخې کې د "تله که" پر ځای "نه که" راغلی دی.
(۳) د "خ" دواړو قلمي نسخو او د "پ" په دوهمه نسخه کې: "سرنامه دهر اشنا دی داحدیث".
(٤) د "خ" دوهمه قلمي نسخه: "چې آغاز مې کړه مدح دخوبانو".
(۵) د "پ" دوهمه او د "خ" لومړنۍ قلمي نسخه: "په ثنا دل پسند و دلبرانو".
(۶) دا مصرع د "خ" په لومړنۍ قلمي نسخه کې داسې راغلې ده: "په اشنا پسې تل له دواړو سترګو".

دواړه لاس يې وي له دواړو کونو وللي
ډوب وي تل دعاشقۍ په لوی امواج (١)

په هغو کې چې څه بوی دعاشقۍ وي
پاکې نه وي بوی درسم او درواج

ابراهيم ادهم څه هسې نادان نه ؤ
چې نظر يې يا په تخت ؤ يا په تاج (٢)

مجنون هسې رنګ مين په ليلی نه ؤ
چې په نور وي موقوف وي احتياج (٣)

ليونتوب له ليونيو تلونی نه دی
که يې راج په خونه وژي که تاراج

که يې سر لکه منصور غوندې په دار شي
دغه دار دی و راج وته معراج

٥٩ ٧٣٢





سه طلب ډهر ويانو سرګردانی زما روح
لکه باد دګل په بوی پسې پريشان دی زما روح

ستا دحسن وآفتاب ته ځان سپاري په تبسم کې (٤)
لکه صبح دژړا په ځای خندان دی زما روح

چې مې وليده دستا دجمال عکس په خپل ځان کې
هم په داد آيينې په خپل روښان دی زما روح (٥)

ستا دمخ د آيينې له برکته زما جانه
هميشه لکه توتي هسې ګويان دی زما روح

---

(١) دامدری په "پ" چاپ او د "خ" په لومړی قلمی نسخه کی داسی راغلی ده : " ډوب وي تل دعاشقۍ په امواج ".

(٢) دابيت د "پ" په دوهمه او د "خ" په لومړی قلمی نسخه کی داسی راغلی دی : " ابراهيم ادهم هسې نادان نه دی چې نظر يې يا په تخت وی يا په تاج ".

(٣) دابيت د "پ" په دوهمه قلمی نسخه کی داسی راغلی دی : " مجنون هسې رنګ مين په ليلی نه دی چې په نور وي موقوف دی احتياج ".
د "خ" په لومړی قلمی نسخه کی دابيت داسی راغلی دی " مجنون هسې رنګ مين په ليلی نه دی چې له نوره يې موقوف وی احتياج ".

(٤) چاپی ديوانونه : "ستا دحسن وآفتاب ته چې سپارلی ځان شبنم دی". د "خ" لومړی نسخه : "ستا دحسن آفتاب ته ځان سپارلی د شبنم کې ".
مصوره نسخه : " ستا دحسن وآفتاب ته ځان بسپارم په شبنم کې".

(٥) چاپی ديوانونه : " چې مې ستا دجمال عکس دی ليدلی په خپل ځان کې هم په داد آيينې په خپل حيران دی زما روح ".
د "خ" لومړی نسخه کی لومړی مصرع داسی ده : " چې يې وليد دستا دجمال عکس پخپله ".

لکه رنګ دمیونابوچې لپده شي په شیشه کې
هسې رنګ په ضعیف تن کې نمایان دی زماروح

منتظر دې دوصال دګلستان یم تل ترتله
سرترپایه د شبنم په څېر چشمان (۱) دی زماروح

چې حاصله مې له حسنه روښنایي شوه په طلب کې
شپه او ورځ لکه آفتاب په لار روان دی زماروح (۲)

ستا په زلفو په رخسار پسې زمانې یم (۳) بې وطنه
مسافر د هندوستان وخراسان دی زماروح

٧٤٠

ستا وصال دی رابښلی زماروح
ستا هجران دی رانیولی (٤) زماروح

ستا په مخ پسې یې مخ ونیو راهي شو (٥)
له صورته دی وتلی زماروح

چې هرګز ملك الموت پرې نه پوهېږي
هسې شان دی تاوکښلی زماروح

ځان یې هسې ستا په مینه پسې ورک کړ
چې هېچا نه دی لیدلی (٦) زماروح

که وې هم به تا څخه وې که یې خدای کا
نه دی بلې خواته تللی زماروح

بلبل نه دی داچې الوځي په ګلو
ستا په لور دی الوتلی زماروح

چې یې خاورې کړ صورت دستا په در کې
سرترعرشه دی وکښلی زماروح

نه یې پېژنې چې څه دی یا څه نه دی
نورچا نه دی پېژندلی زماروح (٧)

٧٤٩

زه زمانې له خپله ځانه خبر نه یم (٨)
چې په څه رنګ دی وکښلی زماروح

---

(۱) "ق، ک" چاپ کې "ګریان" راغلی دی.
(۲) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۳) په چاپي دیوانونو کې د "یم" پر ځای "شو" راغلی دی.
(٤) په چاپي دیوانونو او د "خ" په لومړۍ او مصوره نسخه کې "پېرودلی" راغلی دی.
(٥) چاپي دیوانونه: "ستا په مخ پسې مې درست وجود رهی شو". د "خ" لومړۍ نسخه: "ستا په مخ پسې مې وینې رهي شوې".
د "خ" دوهمه نسخه: "ستا په مخ پسې مجنون غوندې رهي شو" او مصوره نسخه: "ستا په مخ پسې مخ ونیو چې رهی شو".
(٦) په چاپي دیوانونو کې "موندلی" راغلی دی.
(٧) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(٨) چاپي دیوانونه: "زه زمان له خپله یاره خبر نه یم چې یې څه شان دی کوتلی زماروح".
د "خ" دوهمه نسخه: "چې په څه رنګ دی و تلی زماروح".

ما سحر سبا لیدلی ؤ دچا مخ — چې مې درسته ورځ ونه لیده داستا مخ
داخو مخ زما وتاوته خدای هیڅ کړ — گنه هر یو آشنا گوري د آشنا مخ
د پر مخونه د جفا دې راڅرگند کړل — لا به کله راڅرگند کړې د وفا مخ
خو د مرگ په تما چه اوښتی نه دی — اوښتونی له تا نه دی دا زما مخ (۱)
زه په تاپسې راغلی په دا مخ یم — که ته نه وی ما به څه کول په دا مخ
ما به څه لره په تاپسې ژړا کړه — که موندې شوی بل دستا په څیر زیبا مخ
د رقیب طمع مې نه وه ستا په در کې — رادې وښود په جنت کې د بلا مخ (۲)
زه به څرنگ د رقیب و مخ ته گورم — کله اهل سنت گوري د ترسا مخ
د چکنا چکنی بیلتون په نیمه شپه وی — ستا زما په حال خماز شود سبا مخ (۳)

۷۵۹ رحمان ستا په مخ داورانه دنیا گوري — ۶۲
خدای بې تا راڅرگند مه کړه د دنیا مخ (٤)

کله شولا کله خرید اریم ستا د مخ — تېر ترسر و ماله په بازاریم ستا د مخ (۵)
بې دستاله مخه نور مې هیڅ په مخ کې نشته — هسې رنگ نتلی په ناتاریم (۶) ستا د مخ
هیڅ په ستر گونه ویم داخپل صورت چې کومه دی — د وب ترهسې حده په انواریم ستا د مخ (۷)
درد و آه و کاږم بهانه د تماکو کړم (۸) — سوی لوغرن مدام په ناریم ستا د مخ
نور و گرې واړه همگې د دنیا کار کا — زه همیشه غرق په انتظاریم ستا د مخ

---

(۱) چاپي دیوانونه او د "خ" لومړی او دوهمه نسخه : " اوښتونی له تا مه گنه زما مخ ".
(۲) "ق، ک" چاپ : " په جنت کی خدای را وښود د بلا مخ ". نور چاپي دیوانونه او د "خ" دوهمه نسخه کی : " په جنت کې دې را وښود د بلا مخ ".
(۳) دا بیت په قلمي نسخو کی نشته.
(٤) چاپي دیوانونه : "خدای بې تا ورڅرگند مه کړه د دنیا مخ ".
(۵) دا غزل د "خ" په لومړی نسخه کی نشته.
(۶) په مصوره نسخه کی د " ناتار" پر ځای " انتظار" راغلی دی.
(۷) د "خ" دوهمه نسخه : "سوی لوغرن یم زه په ناردا ستا د مخ "
(۸) قلمي نسخې : " دود و آه و کاږم بهانه د تماکو ". او دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کی نشته.

شکر چې بې خلاص کړم د نور خلقو له منته
سر په سجده ایښی منت باریم ستا د مخ

٦٣

هره خوا چې درومم زه رانج د زړه په سیل (١)
بل مطلب مې نشته طلبگاریم ستا د مخ

٧٦٦

چې پیدا شوه ستا چشمان د اهسې شوخ
نور به نه وي مردمان د اهسې شوخ
کجې زلفې کج ابرو لکه چې ستا دی (٢)
نه لرم شته نه ماران د اهسې شوخ
د پرغمونه شوخ شوخ شته په دا دنیا کې (٣)
ولې نه لکه هجران د اهسې شوخ
مگر دیو وي چې بې غم وي په هجران کې
گنه نه به وي انسان د اهسې شوخ
دا فتنې او فسادونه به و وچیږي
چې پیدا نه وي آسمان د اهسې شوخ
دا شاله غمه زړه د آشنا نه چوي
آفریده کړه خدای جهان د اهسې شوخ (٤)
چې یوسف یې د دنیا په مطاع ورکړ (٥)
پیدا مه شه بل کاروان د اهسې شوخ

٦٤

چې بوسه له یاره غواړي بې ادبه
خدای دی نه کاندې رانج د اهسې شوخ

٧٧٤

بادشاهانو که قصرونه کړل بنیاد
ما د عشق عمارتونه کړل آباد (٦)
نوم د کوم یوه بادشاهسې یاد یږي
لکه نوم چې د مجنون او د فرهاد (٧)

---

(١) "ق ک" چاپ کې د (سیل) پر ځای "مینه" راغلی ده. (٢) د امرې په "پ" چاپ کې دا سی راغلی ده: "کج زلفان کج ابروان لکه چې ستا دی". د "پ" لومړی نسخه: "لکه کجې زلف کج ابرو دستا رکه سج دی". او د "پ" په دوهمه قلمی نسخه او د "خ" په دواړو قلمی نسخو کې دا امرې دا سی راغلی ده: "لکه کجی زلف کج ابروی ستا دی".

(٣) د امرې په "پ" چاپ کې دا سی راغلی ده: "د پرغمونه شوخ شوخ شته په جهان کې". په "پ پ" چاپ او د "خ" په لومړی نسخه کې دا سی راغلی ده: "د پرغمونه شوخ شوخ شته دی په جهان کې". د "پ" په دوهمه نسخه کې: "د پرغمونه شوخ شوخ شته په دا جهان کې". او د "خ" په دوهمه قلمی نسخه کې دا سی راغلی ده: "د پرغمونه شوخا شوخ شته په دنیا کې".

(٤) دا بیت د "خ" په دوهمه قلمی نسخه کې نه دی راغلی او د "خ" په لومړی قلمی نسخه کې دا سی راغلی دی: "دا شاله هجره زړه دا شنا چوي افریده کا خدای جهان د اهسې شوخ".

(٥) د امرې د "خ" په لومړی نسخه کې دا سی راغلی ده: "چې یوسف غوندې د دنیا په مطاع پلوړی". د "پ" دوهمه نسخه کې: "چې یوسف د دنیا په متاع پلوړی". راغلی دی.

(٦) دا بیت په چاپي دیوانونو او د "پ" په دوهمه قلمی نسخه او د "خ" په لومړی قلمی نسخه کې دا سی راغلی دی: "بادشاهانو که قصرونه کړل آباد ما د عشق عمارتونه کړل بنیاد". او د "خ" په دوهمه قلمی نسخه کې دا بیت دا سی راغلی دی: "بادشاهانو خو قصرونه کړه آباد ما د عشق عمارتونه کړه آباد".

(٧) د امرې په "پ" چاپ او د "خ" په قلمی لومړی نسخه کې دا سی راغلی ده: "لکه نوم دی د مجنون او د فرهاد".

عشق عاشق لره یوهسې پیر استاد دی — چې به نه وي بل داهسې پیر استاد (۱)
دغه واړه کرامات دعاشقی دي — چې څوك قطب کا څوك غوث کا څوك اوتاد (۲)
د دنیا چارې همه واړه فاني دي — څوك په څه کا په داچارو اعتماد (۳)
لکه سیوری چې دلمر په مخ کې گرځي — نه استوگنه چیرته کاندي نه استاد
هیڅ وفایې له هیچا سره و نه کړه — که جمشید وُ که بهمن وُ که قُباد
که جمشید وُ که بهمن وُ که قُباد وُ — که نمرود وُ که فرعون وُ که شداد (٤)
رسولي یې ترمراده هیڅوك نه دي — همه واړه هسې پاتې شونا مراد
نه چاختم نه دعا ورپسې وکړه — که یې آل که یې عیال وُ که اولاد (۵)

۶۵ — زه زمانې له جوړه د زمانې له جوړه د ومم — ۷۸۵
خپل صاحب لره په داد او په فریاد

که قاصد یې د مقصود — اواره کړه زیان او (۶) سود
هرچې درشي ستا په مخ کې (۷) — واړه وگنه بهبود
هرچې وي سپوا له خدایه — واړه وگنه نابود (۸)
رضا پاسله وقضا ته (۹) — مدام خوښ اوسه خوشنود
وهستی وته جلوه کا (۱۰) — لکه ابر هسې د و د
ته وځان وته نظر کړه — چې قبول یې که مردود
نندارچې د خپل صورت شه — چې مسلم یې که جهود

---

(۱) دا بیت د "خ" په لومړی قلمي نسخه کې نه دی راغلی.
(۲) دا بیت د "خ" په لومړی قلمي نسخه کې نه دی راغلی او په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې یې لومړی مصرع داسې راغلی ده: "دغه واړه کرامت دعاشقی دی".
(۳) دا مصرع په چاپي دیوانونو او د "خ" په دواړو قلمي نسخو کې داسې راغلی ده: "څوك به څه کا په داچارو اعتماد".
(٤) دا بیت د "خ" په لومړی قلمي نسخه کې نه دی راغلی او لومړی مصرع یې په چاپي دیوانونو کې داسې راغلی ده: "که جمشید وُ که بهمن که کې قُباد وُ".
(۵) دا بیت د "خ" په لومړی قلمي نسخه کې نه دی راغلی.
(۶) یوازې په "پ پ" چاپ کې "او" راغلی دی په نورو ټولو قلمي نسخو او "پ" چاپ کې "و" راغلی دی.
(۷) دا مصرع په چاپي دیوانونو کې داسې راغلی ده: "پ" چاپ :- "هرچې درشي ستا په وړاندې". د "پ" لومړی نسخه: "هرچې درشي په مخکښې" او د "خ" په دوهمه نسخه کې: "هرچې درشي په مخ کې".
(۸) دا بیت په "پ پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "هرچې دی بغیر له خدایه همه وشمیره نابود".
لومړی مصرع یې د "خ" په لومړی نسخه کې داسې راغلی ده: "هرچې درشي له خدایه" په "پ" چاپ او د "پ" په دوهمه نسخه کې د دې مصرع د "هرچې وي" پر ځای "هرچې دی" راغلی دی.
(۹) دا مصرع په "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "رضا وسپاره قضاته". او د "خ" په لومړی قلمي نسخه کې داسې راغلی ده: "رضا پاسوله قضات".
(۱۰) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "جلوه کا" پر ځای "نظر کړه" راغلی دی. او دا مصرع د "خ" په لومړی قلمي نسخه کې داسې راغلی ده:
"وهستی وه جلوه کړه".

اُمتی دابراهیم شه — تابع مه شه د نمرود
دغفلت له خوبه پا څه — څوبه اوسي خواب آلود
مُقید(۱) اومشغول اوسه — په دعا او په درود
آسمان طوره په رکوع شه — زمین طوره په سجود
هر(۲) اشیا دحق ثنا کا — په نغمه لکه داود
که بیدار شي خود به اوري — په هر لوري داسرود(۳)
که آیاز شي بندگۍ کي(٤) — نور به ناز کړي په محمود
هر(۵) اسباب د بنود بدو — مُهیا دی هم موجود
که دانایي وبله بیل کړه — فرموده ونا فرمود(٦)
چي سپند نه شي په اور کي(۷) — نه وي خوند دبوی دعود(۸)
ځان له غشه(۹) پاک نه کړه — لکه بحر نا معدود
هلاك ځکه شو رحمانه — چي پي پاك نه شو وجود(۱۰)

۸۰۵ — ٦٦

بي د یار له ذکره
نه زده بل گفت وشنود

زه که لافه دوفا کوم هر چند(۱۱) — هغه یار مي باور نه کا په سوگند
زه بي یاره هسي زیست کړم پیجهان کي — لکه زیست وي(۱۲) په مجمر کي دسپند

---

(۱) یوازی د "پ" په لومړی نسخه کی "متعبد" راغلی دی په نورو ټولو کی "مقید" راغلی دی.
(۲) په "پ" چاپ کی د "هر" پر ځای "ټول" راغلی دی.
(۳) دا بیت د "خ" په لومړی قلمی نسخه کی نه دی راغلی او لومړی مصرع یی په چاپی دیوانونو کی داسی راغلی ده: "که بیدار شی خود به واوری".
او د "خ" په دوهمه قلمی نسخه کی دا مصرع داسی راغلی ده: "که بیدار شی دا به اوری".
(٤) دا مصرع په "پ" چاپ کی داسی راغلی ده: "که ایاز خوندي بنده شی". په "پ" لومړی نسخه کی داسی راغلی ده: "که ایاز شي بندگۍ کي".
او د "خ" په لومړی قلمی نسخه کی دا ټول بیت داسی راغلی دی: "له ایاز شه په بندگي پي نور به ناز کړ په محمود".
(۵) په "پ" چاپ کی د "هر" پر ځای "ټول" راغلی دی. او دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کی نه دی راغلی.
(٦) دا بیت د "خ" په لومړی او د "پ" په دوهمه نسخه کی نه دی راغلی او لومړی مصرع یی په "پ پ" چاپ کی داسی راغلی ده: "هر دانایي وبله بیل کړه".
(۷) په "پ" چاپ کی د "چي" پر ځای "څو" راغلی دی.
(۸) دا مصرع د "خ" په دواړو قلمی نسخو کی داسی راغلی ده: "نوی خوند بوی دعود". د "پ" په دوهمه نسخه کی: "نوی خوند وبوی دعود".
او په "پ پ" چاپ کی داسی راغلی ده: "نه وی خوند او بوی دعود".
(۹) په "پ پ" چاپ، "پ" چاپ، د "پ" په دوهمه نسخه او د "خ" په لومړی نسخه کی د "غشه" پر ځای "خبثه" او د "خ" په دوهمه نسخه کی "غلوغشه" راغلی دی.
(۱۰) دا بیت د "خ" په دواړو قلمی نسخو کی نه دی راغلی په "پ" چاپ کی داسی راغلی دی: "هلاك ځکه شي رحمانه چي پاك نه شي داوجود".
په "پ پ" چاپ کی دا بیت داسی دی: "هلاك ځکه شه رحمانه چي پاك نه شه داوجود".
د "پ" په دوهمه نسخه کی دا بیت داسی راغلی دی: "هلاك ځکه شه رحمانه چي پاك نه شه داوجود".
(۱۱) د مصرع په چاپی دیوانونو کی داسی راغلی ده: "زه که لافی دوفا کړم هر چند". د "خ" په لومړی نسخه کی د "کړم" پر ځای "کوم" او د "خ" په دوهمه نسخه کی "وهم" راغلی دی.
(۱۲) د "خ" په لومړی نسخه کی د "وی" پر ځای "دی" راغلی دی.

آبرویې د طالبانو خپل مطلب[1] وي
آبرویې د غلامانو خپل خاوند

لکه یار مې سربلند دی په جهان کې
په تاثیریې هسې زه شوم[2] سربلند

چې مې مدحه د خویانو کړه آغازه
هر کلام مې دل پذیر شو[3] دل پسند

لکه خوندلري زما خوږې خبرې
په شکرو کې هم نشته هسې خوند

هغه قند چې خدای زما په خوله کې کېښود
حلوایانو څخه نشته هسې قند

لکه زه چې سخندان وهنرمند یم
بل به نه وي سخندان وهنرمند[4]

په اشعارو کې قوت ناك لکه مزری یم
ولې نه یم دمزري په څېر گزند

هم په مدحه بند پوهېږم هم په هجوه
ولې نه یم په داچارو دېر خورسند[5]

بې له عشقه که مې عیب که مې هنر دی
ما غوڅ کړی دی له ځانه بل پیوند

زه عاشق یم سروکار مې دی له درده[6]
نه خلیل نه داود زی یم نه همند

چې وما ته نصیحت کا څوك په عشق کې
گویا پلار ته نصیحت کا ندي فرزند

هر سړی چې آیینه په لاس کې خاندي
گویا کا ندي په خپل ځان پوري یې شخند

رنگ ریزان دی اول خپلې زړې رنگ کا
بیا هاله دې وریځ ته وایي پند[7]

٨٢٠ ٩٧

ې مې یار ولېد په سپېره داغیارگه
له غېږته مې لېږه شوه په خونبارگه[8]

د غه حق د بلبلانو په جانب دی
خدای دې نه کا مبنگیرك په لاله زارگه[9]

---

(١) د "خ" په لومړی نسخه کی د "مطلب دی" پرځای "مطلب دی" راغلی او د "خ" په دوهمه نسخه کی "محبوب دی" او د "پ" په دوهمه نسخه کی "مطلوب دی" راغلی دی.

(٢) په چاپی دیوانونو، د "خ" په لومړی نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کی د "شوم" پرځای "یم" راغلی دی.

(٣) په "پ" چاپ کی د "شو" پرځای "دی" راغلی دی.

(٤) دا بیت د "خ" په لومړی قلمی نسخه کی داسی راغلی دی: "لکه زه چی سخندانه هنرمندیم بل به نه دی سخندانه هنرمند".

(٥) دا بیت د "خ" په لومړی قلمی نسخه کی نه دی راغلی او په چاپی دیوانونو او د "پ" په دوهمه نسخه کی یې لومړی مصرع داسی راغلی ده: "هم په مدح هم په هجو بند پوهېږم". خو د "خ" په دوهمه قلمی نسخه کی دا مصرع داسی راغلی ده: "هم په مدح بند پوهېږم هم په پوچو".

(٦) دا مصرع په چاپی دیوانونو کی داسی راغلی ده: "زه عاشق یم سروکار مې دی له عشقه". د "خ" په دواړو او د "پ" په قلمی نسخو کی د "سروکار" پرځای "سرویکار" راغلی دی.

(٧) دا مصرع په "پ پ" چاپ کی داسی راغلی ده: "نور بیا هاله دی رحمان ته وایی پند"

(٨) مصوره نسخه: "خدای دی نه کا مبنگیرك په لاله زارگه".

(٩) دا بیت په مصوره نسخه کی نشته.

زه په وصل کې هجران هسې پیژمه(۱)
لکه څوك چې خالي لاس وي په بازارګډ

زړه مې بې خپله نګاره آرام نه کا
که هر څوې کړم په نقش وي په نګارګډ(۲)

په امید د زلفو ونښتم په دام کې
روهیلي وم ساده دل په هندوبارګډ

د دیدن په ګدایي کې مې ننګ نه شي
د رویزه کړم د بتانو په دیدارګډ(۳)

د وفا د ګلو پاڼې پکې نشته
کاشکی مه وی د دې هر په ګلزارګډ

که پخوا تر آشنایي بیلتون لیدی شوی
هیڅ بنده به د خدای نه وُ په داکارګډ

زه ولاړ یې د فردوس له غمه خلاص کړم
چې په کلي په کوڅه شوم د خپل یارګډ

۶۸ ۸۲۹

له بزرګۍ(۴) هغه پاك پروردګار
موقوف مه شه په سړي د سړي کار

په سړي چې د سړي غرض موقوف شي
نور بې آبه بې حرمته شي رو زګار

احتیاج هسې بلادی په جهان کې
چې پلار زوی کا د زوی او زوی د پلار

که د پیر په خپل مرید باندې غرض وي
هیڅ یې نه وي په مرید باندې وقار(۵)

زمانه هسې په مخه ده بې رویه
چې غالب کا په اسلام باندې کفار(۶)

په ساعت کې شاه ګدای کا ګدای شاه کا
دا فلك حکمه باله شي کج رفتار(۷)

چې همه عمر یې تاج وي په سر ایښی
ور په سر کا ندې ګډې د خس وخار(۸)

---

(۱) د "خ" په دوهمه نسخه کې "خراب کړم" راغلی دی.
(۲) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۳) چاپي دیوانونه، د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه: "د رو بزګرم د بتانو په بازارګډ".
(٤) د "خ" په لومړی نسخه کې "په پاکۍ" راغلی دی.
(۵) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته.
(۶) دا بیت په "پ" چاپ او "ق" چاپ کې نشته.
(۷) د "خ" دوهمه نسخه: "دا فلك حکمه پیدا شو کج رفتار".
(۸) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.

چې قادر نه په درهم و په دینار وي په هغو باندې ګنجونه کا انبار

۶۹

زمانې د رحمان زړه دی کباب کړی
له احواله یې څوك نه دي خبردار

۸۳۸

هومره اوښکې مې بهیږي په رخسار (۱) چې غرقاب مې هم ګریوان دی هم کنار
هغه یار مې هسې ناست د زړه په سر دی لکه اپښی چې (۲) چا ګل وي په دستار
که څوك وائي چې مار کله په کټ خیژي زه خوړلی یم په کټ د زلفو مار (۳)
خو د یار بیمارې سترګې خدای خونې کړې ګنه خون کله کولی شي بیمار (۴)
که په دار شم زه د یار له لاسه خوښ یم سرو قد دی زما یار او زما دار (۵)
بسکه (۶) دا چې زه په یار پسې غوڅ غوڅ یم خدای دې نه کا لکه زه یم هسې یار
هومره جور لکه یار له ما سره کا (۷) یاد مې نه دی هومره جور دا غیار
دلبران کوډې جادو کړي زړونه اخلي هغه وایه چې بې کوډ وي دلبدار (۸)
چې د زړونو له نماخلو بې پروا دي (۹) تر وکه زړه د سړي یوسي څه په کار

۷۰

په ګریبان یې تل د اوښکو باران اوري (۱۰)
نه ورکیږي د رحمان د زړه غبار

۸۴۸

چې دې زړه پورې ترلی استوار دا جهان دې دنیکه دی که د پلار (۱۱)
ته خپل پلار او نیکه وګوره چې څه شول هسې ستا دی په هغو پسې رفتار (۱۲)

---

(۱) د "پ" لومړی نسخه او د "خ" لومړی نسخه : " هسې سړې اوښکې مې بهیږی په رخسار".
(۲) په "پ" چاپ ، د "پ" په دوهمه نسخه او د "خ" په لومړی نسخه کی د " چې " پرځای " د " راغلی دی.
(۳) دامسری د "خ" په لومړی او د "پ" په دوهمه نسخه کی دا سی راغلی ده : " زه خو وخوړم په کټ د زلفو مار".
(۴) دامسری د "خ" په لومړی نسخه کی دا سی راغلی ده : " ګنه خون کله کول شی په بیمار".
(۵) دامسری په "پ" چاپ کی دا سی راغلی ده : "سرو قد دی زما یار زما دلدار". د "خ" په لومړی نسخه کی : "سرو قد دی زما یار هم زما یار". په دوهمه نسخه کی "سرو قد دی زما یار دی دغه دار". او د "پ" په دوهمه نسخه کی دا سی راغلی ده : "سرو قد دی زما یار هم زما دار".
(۶) په "پ" چاپ کی د " بسکه" پرځای " بس کړه" راغلی دی.
(۷) دامسری په "پ" چاپ کی دا سی راغلی ده : " هومره جور لکه یار چې ما سره کا". په "پ پ" چاپ کی "هومره جور لکه چې یار ما سره وکړ" د "خ" په لومړی نسخه کی "هومره جور لکه یار راسره کاندی". په دوهمه نسخه کی "هومره جور لکه یار چې له ما سره کړ". او د "پ" په دوهمه نسخه کی دا سی راغلی ده : "هومره جور لکه یار سره وکړ".
(۸) د "پ" په لومړی او د "خ" په دوهمه نسخه کی : " دلبری او دلجوئی خو کو ډګر کړی ده د کوډګرو هغه وایه چې دلبرشی هم دلدار".
د "پ" په دوهمه نسخه کی : "دلبری خو کو ډګرهم په کو ډو وکا هغه وائي چې دلبرشی هم دلدار".
د "خ" په لومړی نسخه کی : " دلبری خو کو ډګرهم په کو ډو وکا هغه وائي چې دلبرشی هم دلدار".
(۹) د "پ" لومړی نسخه : " چې د زړونو له نماخلو بې پروا یې".
(۱۰) دا بیت د "خ" په لومړی قلمی نسخه کی دا سی راغلی دی : " په ګریوان مې تل د اوښکو باران وورې نه ورکیږی د رحمان د زړه غبار".
(۱۱) د دې غزل د "خ" په مصور نسخه کی لومړی پنځه بیتونه نه دی راغلی او هم نوموړی غزل د "خ" په لومړی قلمی نسخه کی نشته.
(۱۲) دامسری په چاپی دیوانونو کی دا سی راغلی ده : " هسې ستا دی هم په دوی پسې رفتار".

تل پرومې دوستي پل دی پرې تېرېږي — کړی نه دی چا په پل باندې قرار
هسې نه چې زه تنها (۱) وتا ته وایم — راغله لاړه ستا په طور صد هزار
دعوه مه کړه په ناحق بې خپل نه کړې — پردی شهر، پردی ملک، پردی دیار (۲)
چې استوګه په پردی وطن کې کاندې — هغه نه لرې دهیڅ واك واختیار (۳)
که هزار قسمه وخورې په یو کار کې — نه کا څوك په مسافر واعتبار (٤)
چې په صبح شګفته شې په شام رژې — څه امید دی د ګلونو په ګل زار (۵)
که دې ورور که دې عزیز دی که دې یار (۶) — مه یې ورور مه یې عزیز ګنه مه یار

۷۱ — ۸۵۸

چې پیدا شې هګې واړه فنا شې
اې رحمانه دا جهان دی دا یې کا

خو جفا قبوله نه کړې دا غیار — وبه نه وینې په سترګو مخ د یار
چې اول یې خار زرغون شې په پهلو کې (۷) — غونچه هاله شګفته شې په ګلزار
جنت چا په ریاضت موندلی نه دی — ولی بویه هر بنده لره خپل کار (۸)
که مونده شوی خوشحالي په خوشبوئې — پروت به نه وو په چندن باندې سنا مار (۹)
آب ترلعلو د لاله ګلونو (۱۰) ډېر دی — بخت دی دا چې خوك عزیز کاندی خوك خوار

۷۲ — ۸۶٤

هسې زیب کا په بیاض د رحمان شعر
لکه زلفې د خوبانو په رخسار

---

(۱) په چاپي دیوانونو کې د "تنها" پر ځای "یوازی" راغلی دی.
(۲) د "پ" لومړی نسخه او د "خ" نسخې: "دعوه مه کړه په ناحق په خپل نه کړی پردی ملک، پردی شهر، پردی دیار".
د "پ" په دوهمه نسخه کې دا سی راغلی دی: "دعوی مه کړه په تحقیق بې خپل نه کړې پردی شهر، پردی ملک، پردی دیار".
(۳) د "پ" په لومړی نسخه او د "خ" په لومړی نسخه: "هغه نه لری هیڅ واك واختیار". او د "خ" په دوهمه قلمی نسخه کې دا سی راغلی ده: "هغه نه کړی هیڅ واك وخپل اختیار". د "پ" په ګډه نسخه کې د دې بیت د لومړی مصرع د "استوګنه" پر ځای "استوزه" راغلی دی.
(٤) د "پ" لومړی نسخه او د "خ" نسخې: "که هزار قسمه وخورې په ماله کې نه کا څوك په مسافر واعتبار".
د "پ" په دوهمه نسخه کې دا سی راغلی دی: "که هزار قسمه وخورم په ماله کې نه کا څوك په مسافر واعتبار". او دا بیت په مصوره نسخه کې نه دی راغلی.
(۵) دا بیت په "پ" چاپ کې دا سی راغلی دی: "چې سبا شګفته کېږی ما سبام رژې څه امید دی په ګلونو د ګلزار".
د "پ" په دوهمه نسخه کې لې لومړی مصرع دا سی راغلی ده: "چې په صبح شګفته کېږی په شام رژې".
(۶) دا مصرع په "پ" چاپ کې دا سی راغلی ده: "که دې ورور که دې عزیز وی که دې یار وی".
په "پ پ" چاپ کې دا سی راغلی ده: "که دې ورور که دې عزیز او که دې یار وی".
(۷) دا مصرع د "خ" په لومړی نسخه کې دا سی راغلی ده: "چې اول له خار زرغون په بهار کې".
(۸) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې دا سی راغلی دی: "جنت چا په زاهدی موندلی نه دی ګنه بویه هر بنده لره اختیار"
(۹) دا بیت د "پ" په لومړی نسخه کې دا سی راغلی دی: "که مونده شوی خوشبوئې په خوشبوئې پروت به نه وُ په چندن دپاسه مار".
په "پ پ" چاپ کې دا سی راغلی دی: "که موندی شوی خوشبوئې په خوشحالۍ کې پروت به نه وُ په چندن باندې سنا مار".
د "خ" په لومړی نسخه کې دا سی راغلی دی: "که موندی شوی خوشحوئې له خوشبوئې پروت به نه وُ د چندن دپاسه مار".
د "پ" په دوهمه نسخه کې دا سی راغلی دی: "که موندی شوی خوشحوئې له خوشبوئې پروت به نه وُ په چندن دپاسه مار".
په مصوره نسخه کې دا سی راغلی دی: "که مونده شوی خوشبوئې بې خوشبوئې پروت به نه وُ په چندن باندې سنا مار".
(۱۰) د پېښور په چاپي دیوانونو، د "خ" په لومړی، دوهمه نسخه او د "پ" په نسخو کې د "ګلونو" پر ځای "ګلونه" راغلی دی.

خوك دې راكاندې قسم په كردگار — كه درم لرم په كورکې يا دينار (۱)
نه دينار او درم نه لرم په كورکې — ولې نور عالم مې بولي دنيادار
هم په داچې نه له ځايه چېرته خوځم (۲) — نه دهيڅ يوه مخلوق يم منت بار
نه مې ښکته ملك لېدلی دی نه پورته — خبر نه يم په يمين او په يسار
آب وخوراك كه آسيا په ځای راوسي — په خپل كورکې مې سكون دی هم رفتار (۳)
لكه ونه مستقيم په خپل مكان (٤) يم — كه خزان راباندې راشي كه بهار
توكل مې لاس پښې سره كړل په نكر بزو — چې په ځای يې كښولی يم قرار (۵)
چې زما په باب دې ښكلی دې راوسي — كه راحت دی كه زحمت دی وار په وار (۶)
چې هر ده هزار قومونه يې پيدا كړل — مربي مې دی هغه پروردگار (۷)
كار همه په اراده دخدای موقوف دی — هيڅ موقوف نه دی دچا په اختيار (۸)

غم به هيڅ يې ونه كا په دنيا كې — كه خه كېږي د رحمان په اختيار (۹)

۷۳ — ۸۷۵

دغه يار دی دا اغيار — دغه گل دی دغه خار (۱۰)
دغه گل دی دغه خار دی (۱۱) — دا منصور دی دغه دار (۱۲)

---

(۱) دا بيت د "پ" په دوهمه نسخه كې نه دی راغلی او لومړی مصرع يې په مصوره نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه كې داسې راغلی ده: "كه خوك راكاندې قسم په كردگار".
(۲) د "پ" په لومړی نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه كې "د روم" راغلی دی.
(۳) دا بيت د "پ" په لومړی نسخه او د "خ" په لومړی نسخه كې داسې دی: "آب وخوراك كه آسيا په ځای راوسي — په خپل كور كې هم سكون دی هم رفتار".
د "خ" په لومړی نسخه كې داسې راغلی دی: "آب خوراك مې هم په ځای راوسېږي — په خپل كور كې مې سكون دی هم رفتار".
(٤) د "پ پ" په چاپي ديوانونو، د "خ" په نسخو او د "پ" په لومړی نسخه كې "مقام" راغلی دی.
(۵) د "پ" لومړی نسخه: "توكل مې لاس او پښې كړه په نكر بزو — چې په ځای كې يې ښولی يم قرار".
(۶) دا بيت په مصوره نسخه كې نه دی راغلی، په "پ" "پ پ" كې داسې راغلی دی:
"چې ځما په باب كې كښلی دی راوسي — كه رحمت دی كه زحمت دی وار په وار".
"پ پ" چاپ: "چې زما په باب خه ښكلی دی راوسي — كه رحمت دی كه زحمت دی وار په وار".
"د خ" لومړی نسخه: "چې زما په باب كې دې هغه رسېږي — كه راحت دی كه رحمت دی وار په وار".
د "پ" دوهمه نسخه: "چې زما په باب يې ښكلي وما رسي — كه راحت وی كه زحمت وي وار په وار".
(۷) د "پ" لومړی نسخه: "مربي يې دی هغه پروردگار".
د "خ" لومړی نسخه: "مربي مې وه يې هغه پروردگار".
د "خ" دوهمه نسخه: "منزه دی هغه پاك پروردگار". نو موږ دا بيت په مصوره نسخه كې نه دی راغلی.
(۸) دا بيت په مصوره نسخه كې نه دی راغلی، د "خ" په لومړی نسخه كې داسې راغلی دی: "كار هغه په اراده دخدای موقوف دی — هيڅ موقوف نه دی زما په انتظار".
د "پ" دوهمه نسخه: "كار كاهمه په اراده پورې موقوف دی — هيڅ موقوف نه دی دچا په انتظار". د "پ" په لومړی نسخه كې يې دوهمه مصرع داسې راغلی ده:
"هيڅ موقوف نه دی زما په اختيار". د "خ" په دوهمه نسخه كې دا مصرع داسې راغلی ده: "هيڅ موقوف نه دی زما په اختيار".
(۹) دا بيت په مصوره نسخه كې نه دی راغلی او د "خ" په لومړی نسخه كې دا بيت داسې دی: "غم يې هيڅ ونه كه په دنيا كې — كه خه كېږي د رحمان په اختيار".
د "پ" لومړی، دوهمه او د "خ" دوهمه نسخه: "كه خوك كېږي د رحمان په اختيار".
(۱۰) دا غزل په مصوره نسخه او د "خ" په لومړی نسخه كې نه دی راغلی. د دی بيت دوهمه مصرع د "خ" په دوهمه نسخه كې داسې راغلی ده: "دغه گنج دی دغه مار".
(۱۱) په چاپي ديوانونو او د "پ" په دوهمه نسخه كې د "دی" كلمه نه ده راغلې.
(۱۲) دا مصرع د "خ" په دوهمه نسخه كې داسې راغلی ده: "دغه [illegible] مار".

دا رقیب دی د احبیب دی — دغه گنج دی دغه مار[1]
دغه عشق دی دغه عقل — دغه غم دی دا غمخوار
دا هجران دی دا وصال دی — دا خزان دی دا بهار[2]
دا طاعت دا معصیت دی — دغه نور دی دغه نار
دا عالم دی دا جاهل دی[3] — دا خفته دی دا بیدار
دا رحمان دی دا جانان دی[4] — دا طبیب دی دا بیمار

۷۴ — ۸۸۳

هرچې نه وي خوار وزار — په طلب دخپل دلدار[5]
ترپړونې يې صدقه شه — دهغه عاشق دستار
هزار حیف دی هزار حیف دی — هزار څه لا صد هزار
چې عاشق په عاشقۍ کې — نه حلال وي نه مردار
نه پتنګ دخپل چراغ وي — نه بلبل دخپل ګلزار
نه مجنون غوندې رسوا وي — نه منصور غوندې پېدار

دواړه نه کېږي رحمانه — یا به یار شي یا به بیزار

۷۵ — ۸۹۰

دا څه مخ دی منور — چې هم شمس دی هم قمر[6]
دا څه زلفې دی مشکینې — چې هم مښک دی هم عنبر
دا څه پیوسته ابرودې[7] — چې هم نیش دی هم نشتر
دا څه سترګې دي قاتلې — چې هم سیف دي هم خنجر
دا څه شونډې دي مې ګونې — چې هم مې دی هم شکر

---

(۱) دا بیت د "خ" په دواړو نسخو کې داسې راغلی دی: " دا رقیب دی دا حبیب دا حبیب دی دا بیمار "
او دوی بیت لومړی مصرع یې "پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "دا رقیب دی دا حبیب".
(۲) دا بیت اوله دی نه درودسته بیتونه د "پ" په دواړو نسخو کې نه دی راغلی او دوی بیت لومړی مصرع یې "پ" چاپ کې داسې راغلې ده: " دا هجران دی دا وصال ".
(۳) په "پ" چاپ کې د "دی" کلمه نه ده راغلې.
(٤) په "پ" چاپ کې "دی" نه دی راغلی.
(۵) دا غزل په مصوره نسخه د "خ" په لومړۍ نسخه او د "پ" په دواړو نسخو کې نه دی راغلی.
(۶) دا غزل د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه او مصوره نسخه کې نه دی راغلی.
(۷) دا مصرع په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده "دا ابرو څه پیوسته دی".

داخه سپین سپېڅلي غـــــابنډي — چې هم دُر دی هم گـــــوهر
داخه سپب زنخـــــدان دی — چې هم سیم دی هم ثمـــــر
داخه قد اوخه قـــــامت دی — چې هم گل دی هم عـــــرعر
داخه ملاده باریك وضـــــع — چې هم موی دی هم کمـــــر
داخه زړه دی د خوبـــــانو — چې هم موم دی هم حجـــــر
داخه یار دی نه پوهـــــېږم — چې هم دل دی هم دلـــــبر
داخه بت دی زمـــــاربه[1] — چې هم بت دی هم بشـــــر

۷۶ — داخـــــه شعر د رحمـــــان دی[2] — ۹۰۳
چې هـــــم گنج دی هـــــم هنر

تل به نه وي شگفته گلزار د عمر — نه به جوړ وي همیشه بازار د عمر[3]
لکه سیند دا باسیند په غورځي[4] د رومي — هسې یون دی په تلوار تلوار د عمر
لکه برق چې مخ څرگند کاندي بیا نه وي — هسې تیز دی بې سکون رفتار د عمر[5]
سرکشي لري ترهسې حده پوري[6] — چې نیوی نه شي هیڅوك[7] مهار د عمر
چې سمندي نه جلب لري نه واگي — خود به پر یوځي عاقبت شهسوار د عمر[8]
په ساعت د سلوکالو یاری پرې کا — بې وفا دی هسې رنگه یار د عمر[9]
خپل صورت به د حباب په ستر گو گوري[10] — که څوك وکاندي په زړه کي شمار د عمر
نه له کوره چې رته حمد نه سفر کرم[11] — بې سفره مې غوښې بې لار د عمر
عاقبت به داجل په مقراض غوڅ شي — پیوسته به مدام نه وي تار د عمر

۷۷ — بیایي وار په داد نیا نشته رحمان[12] — ۹۱۳
په هرچا باندې چې تیر شو وار د عمر

---

(۱) د "پ" په دوهمه نسخه کی داسی راغلی ده : " داخه یار دی نه پوهیږم".
(۲) داسی په چاپی دیوانونو او د "خ" په دوهمه نسخه کی داسی راغلی ده : " داخه شعر دی رحمانه".
(۳) "ق" چاپ : " تل به نه وی شگفته بهار د عمر نه به جوړ وی همیشه گلزار د عمر".
د "پ پ" چاپ : تل به نه وی شگفته بازار د عمر نه به جوړ وي همیشه بهار د عمر".
(٤) د پیښور په چاپی دیوانو کی "غورځنگ" راغلی دی. (۵) قلمی نسخی : "هسې تیز دی په سکون رفتار د عمر".
(۶) د "خ" لومړی نسخه : "سرکشی نه وی ترهسې حده پوري". (۷) په "ق، ک" چاپ کی "هرگز" راغلی دی.
(۸) دا بیت په مصوره نسخه کی نشته. (۹) چاپی دیوانونه : " بې وفا په هسی رنگ دی یار د عمر".
(۱۰) پیښور په چاپی دیوانونو کی "په خپر دگوری" راغلی دی.
(۱۱) د "پ" نسخی او د "خ" دوهمه او مصوره نسخه : "نه وځم چې رته له کوره نه سفر کرم". د "خ" لومړی نسخه : "نه سفر کرم نه له کوره چې رته حمد".
(۱۲) د "پ پ" چاپ او د "خ" دوهمه نسخه : " بیایي وار په دنیا نشته رحمانه".

زه تا پرشوی یم ترسـر — په طلب د خپل دلـبر
خوژوندی یم په دنیـا کې — پرې به نه ږدم دغـه در
د آشنا په طلب گـرځم — وچې شوندې لیمـه تر[1]
یو قدم مې دی په بحـر — بل قدم مې دی پـه بر
دواړه لاس مې دي نیـولي — هم په شام هم په سحـر
مناجات مې دی وخـدای ته — که یې ووینم بشـر
همیشه له خپله بختـه — گله من یم مـرور
چې په مایې پـیر زونه کړ[2] — د خوبانو یو نظـر
هم یې ونه ښود ومـاته — بې له عشقه بل هـنر
عاشقي مې خدای رسـوا کړه — په جهان کې لکه نمـر
نصیحت را باندې نـه کا — لکه موی هومره اثـر
واوره غوږ باسه نـاصحه — کوتاه وایم مختـصر
په مولا مې دي سوگنـدوي — هم په روح د پیغمـبر
جار واته مې بیرته نشـته — چې عالم[3] شو راخـبر
ترمینه به یې زار کـړم — که مې سـیم دی که مې زر
که مې سیم دی که مـې زر دی — که مې دُر دی که گوهـر[4]

زه له رحـمان ترهر څه تیریـم — ۷۸
تیر بـه نه شم تر دلـبر — ۹۳۰

پورته بدر را سنکاره شو سنکته نمر — سنکته پورته واړه مخ دی د دلبر
نمر سپوږمۍ مې د پالنگ د پاسه رغړي[5] — چې مې یار په بالښت ولگوي سر
په سرو سپینو د ولعلو یې غوږ پرک شي — چې مې غوږ کاندي د اوښکو په در در[6]

---

(۱) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۲) د "پ" لومړی نسخه: "چې په مایې زو ونه کړ".
(۳) د "خ" په لومړی او دوهمه نسخه کې د "عالم" پر ځای "جهان" راغلی دی.
(٤) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته په چاپي دیوان نو او د "خ" لومړی نسخه کې دوهمه مصرع داسې ده: "که مې دُر که مې گوهر".
(۵) د "خ" دوهمه نسخه: "نمر سپوږمۍ مې یې پر پالنگ د پاسه رغړي".
(۶) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.

چې دې وويني[1] په مخ مې اوښکې درومې — لکه موم چې په آفتاب شي برابر
بل مذکور د سخنگويو ستر گونه زده — بې له دې ذکره چې الله اکبر
ضد دی اوروا وبه بې ديار له شونډو — چې هم اوردی هم اوبه دي د کوثر[2]
په شرابو کې خوند نشته د شکرو — ديار شونډې هم شراب دي هم شکر
که سل ځله پټ ترشونډو لاندې خاندې — نه پټېږي آب د لعل و د گوهر
د اخو مالره خدای راکړه گنه نشته — هسې بت په بتخانه کې د آذر
پس له دې به يې په نام د ملک[3] بوم — هم په دا چې نشته د ارنگه بشر

که رمانخ صاحب نظر باله شي بنايي
چې مدام ديار په مخ لري نظر

۷۹ — ۹٤۱

هسې تله کاندی وگورته ياران ژرژر — لکه تله کا وخپل کورته کاروان ژرژر[4]
هسې ژرژر مرگ په موږ ه شتابي کا — لکه لو د پاخه کښت کا دهقان ژرژر[5]
هسې ژرژر د دنيا وبله اوړي[6] — لکه اوړی وبله ريگ روان ژرژر[7]
هسې ژرژر صورتونه دي نرېږي[8] — لکه رژي لاله زار په خزان ژرژر.
هسې ژرژر د اشرين عمر تېرېږي — لکه بحر چې بهېږي روان ژرژر

هسې زرزر ځنبول د بنو نه وي[9]
لکه د رومي له جهانه رمانخ ژرژر

۸۰ — ۹٤۷

چې په زور ورسره نه يې برابر — د هغو تر ځنگه مه کښېنه زړور[10]
زور ور اوراوبه دي فهم وکړه — چې ډوب نه شي يا ونه سپږي بشر[11]

---

(۱) په "ق،ک" چاپ ، "ق" چاپ او قلمي نسخو کې "چې يې وويني" راغلی دی.
(۲) دا بيت په "پ" چاپ ، "ق" چاپ او "ق،ک" چاپ کې نشته
(۳) د "خ" په لومړی او دوهمه نسخه کې د "ملک" پر ځای "فرښتو" راغلی دی.
(٤) دا غزل په مصوره نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته ، دوهمه مسری يې په "پ" چاپ کې داسې راغلی ده : "لکه تله کاندي خپل کورته کاروان زرزر".
په "پ" چاپ کې "لکه د رومي چې خپل کورته کاروان زرزر". په مختلط نسخه کې "لکه تله کاندي وکورته کاروان زرزر". او د "خ" په لومړی نسخه کې داسې راغلی ده : "لکه د رومي وخپل کورته کاروان زرزر".
(۵) دا مسری د "خ" په لومړی نسخه کې داسې راغلی ده : "لکه لو د چې په کښت کې کا دهقان زرزر". او په "پ" چاپ کې د "پاخه" پر ځای "پاسه" راغلی دی.
(٦) دا مسری د "خ" په دوهمه نسخه او د "پ" په مختلط نسخه کې داسې راغلی ده : "هسې زرزر د دنيا وبله ته اوړي".
(۷) دا مسری د "خ" په لومړی نسخه کې داسې راغلی ده : "لکه اوړی وبله ريگ دبيابان زرزر".
(۸) دا مسری د "خ" په لومړی نسخه کې داسې راغلی ده : "هسې ژر ژر صورتونه وبله رېژي".
(۹) په "پ" چاپ کې داسې راغلی ده : "د بنو زنبل هم هسې زرزرنه وي". د "خ" په لومړی نسخه کې "د بنو وبله ول هم هسې زرنه وي".
د "خ" په دوهمه نسخه کې "د ادبنو زنبول هم هسې زرزرنه وی" او د "پ" په مختلط نسخه کې داسې راغلی ده : "د بنو زنبول هم هسې زرنه وي".
د "پ" لومړی نسخه : "د بنو زنبول هم هسې ژرژرنه وی".
(۱۰) دا غزل په مصوره نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(۱۱) دا بيت په "پ پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "زور آور خو اوراوبه دی فهم وکړه چې ډوب نه شي يا وربت نه شي په شمار".

زندګي که بې اوبو بې اوره نه شي — تل هم اپښي هېچانه دي په تهتر (۱)
خدای ورمه وله سپلاب دچا په خونه (۲) — که په قطع (۳) هم اوبه وي د کوثر
ودې نه لګېږي اور په کورد هېچا (۴) — که رڼايي وي د شمس او د قمر
چې بې درست صورت غلبل شي په اغزيو (۵) — وخوړمه شه دهغې ونې ثمر
دهغه دېوال په سيوری څوك کېښنه (۶) — چې ولاړ وي لکه زوړند چاود کمر
چې په ګېډې دې خوخېږي مخ يې ورك شه (۷) — که د سر وزرو چاره وي يا خنجر
ودرياب ته اچاوه نه شي ځان خوږ وي (۸) — ګنه ډېردي په درياب کې دُر ګوهر
ناکرده سودونه ډېردي په جهان کې — سود هغه دی چې د خېر وي نه د شر (۹)
چې له آبه له رحمته سره نه وي — خدای ورمه کړه وچاهسې سيم وزر (۱۰)
زورور که رسوي وچاته فيض — له دې فيضه سره وکنه ضرر
په ياری د زورور و غلط مه شه — مګر دا چې تر ده ، ته يې زورور
په هرګاه چې دی مغلوب وي ته غالب يې (۱۱) — تر وهاله يې قدمونه ږده په سر
يا خودا چې که قدمې يې په درنه ږدې — دغه پسه يې ځان وګنه پېدر (۱۲)

چې هنرګنې ياري د زورورو — ۸۱
بول وکړمزه رنګ په داهنر (۱۳) — ۹۶۳

---

(۱) دابيت په "پ" چاپ کی داسی راغلی دی: " زندګی که بی له اوره اوبو نه شی تل هم نه دی هېچا اپښی پرې تهتر". د "خ" په لومړی نسخه کی: " ناب هم اپښی هېچا نه دی په تهتر". اود "خ" په دوهمه نسخه کی داسی راغلی دی: "تل هم اپښی هېچا نه دی پرې تهتر".

(۲) دامصرعی د "خ" په دوهمه نسخه کی داسی راغلی دی: " خدای دی ورمه ولی سپلاب دچا په خونه".

(۳) په قلمی نسخه کی د "هم" پرځای "يې" راغلی دی.

(۴) دامصرعی په "پ پ" چاپ ، د "خ" په لومړی او دوهمه نسخه کی داسی راغلی ده : " ودی نه لګېږی اور دچا په خونه". اود "پ" په لومړی نسخه کی دامصرعی داسی راغلی ده : " ودی نه لګېږی اور په کور دچا".

(۵) دامصرعی د "پ" په لومړی نسخه کی داسی راغلی ده : "چی درست صورت غلبل کا په اغزيو" په "پ پ" چاپ کی داسی راغلی ده : "چې يې ټول صورت غلبل شی په اغزيو". د "خ" په لومړی نسخه کی " چی دې درست صورت غوخېږي په اغزيو". اود "خ" په دوهمه نسخه کی داسی راغلی ده : " چې يې درست صورت زخمی شی په اغزيو".

(۶) د "خ" په لومړی نسخه کی : " دهغې دېوال په سوری څوك مه کښېنه " اود "خ" په دوهمه نسخه کی داسی راغلی ده : "دهغه دېوال په سوری کېناست مه شې".

(۷) دامصرعی د "پ" په لومړی نسخه کی داسی راغلی ده : " چې په ګېډه دی خوخېږی مخ يې تورشه". په "پ پ" چاپ کی : " چی په ګېډه دی خښېږی مخ يې ورك شه". د "خ" په لومړی نسخه کی " چی په ګېډه کی خوخېږی رنګ يې ورك شه ". اود "خ" په دوهمه نسخه کی داسی راغلی ده : " چی په ګېډه دې خوخېږي مخ يې ورك شه".

(۸) د "پ" لومړی نسخه : " واوبو ته اچا وه نه شی ځان خوخوږ دی". د "خ" په لومړی نسخه کی " واوبو اچا وه نه شی ځان خوږ دی". اود "خ" په دوهمه نسخه کی داسی راغلی ده : " ځان شيرين دی و درياب ته اچول نه شی".

(۹) دامصرعی د "خ" په لومړی نسخه کی داسی راغلی ده : " سود هغه دی چی يې خير دی له شر".

(۱۰) " پ پ" چاپ : " خدای ورمه کړه چا ته هسې سيم وزر".

(۱۱) دامصرعی په "پ" چاپ کی داسی راغلی ده : " په هر وقت چی ته غالب ودی مغلوب وی". د "خ" په لومړی نسخه کی : " په هرګا چی دی غالب وی ته مغلوب لی" اود "خ" په دوهمه نسخه کی دابيت داسی راغلی دی : " په هر کار چی ته غالب يې دی مغلوب وی تر وهاله يې قدمونه ږده په در".

(۱۲) چاپی ديوانونه : " يا خودا چی ته قدم يې په درنه ږدې هله پسه يې ځان وګنه پېدر".

(۱۳) دامصرعی په چاپی ديوانو کی داسی راغلی ده : " ده رحمان کو مه بول په داهنر". اود "خ" په لومړی نسخه کی داسی راغلی ده : " بول وکړم درحمان په داهنر".

په نظر دې بصر — لکه شام هسې سحر (۱)
لکه شام هسې سحر — لکه سنګ هسې ګوهر (۲)
لکه سنګ هسې ګوهر — لکه خاوري هسې زر
لکه خاوري هسې زر — لکه خیر هسې شر
په نظر يې معلومېږي — هر واره برابر
که څوك ښه ورسره وکا — تر بدۍ يې وي بتر (۳)
که څوك بد ورسره وکا — تر نېکۍ يې وي بهتر (۴)
نه په بد ويل زهیر وي — نه پر ښه وي دچا زبر (۵)
په ثواب او په خطا يې (۶) — نه دلیل وي نه نظر
نه آګاه په خپل بهبود وي — نه آګاه په خپل ضرر
نه په عیب څه پوهېږي (۷) — نه پوهېږي په هنر
لکه روند او کور چې ګوري (۸) — هسې هېڅ نه وي خبر
له طاعت له ګناهه — څه خبر وي ځناور (۹)
ځناور و نور څه نه زده — يا يې رغبت (۱۰) وي يا يې څر
داخوته يې زما نفسه — چې دې زه کړم کوز و کر
تمام ووتی (۱۱) له عقله — په دنیا پسې اوتر

---

(۱) دا غزل په مصور نسخه کې نه دی راغلی او هم د "پ" په دوهمه نسخه کې يې د سربیتونه نه دی راغلی.
(۲) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: " لکه سنګ هسې ګوهر لکه شام هسې سحر".
(۳) دا بیت د "پ پ" چاپ کې داسې راغلی دی: " که څوك ښه ورسره کاندې تر بدۍ يې وي بتر".
په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی: " که څوك ښه ورسره کاندې تر بدۍ وي لا بتر".
(۴) — دا بیت په "پ پ" چاپ کې داسې راغلی دی: " که څوك بد ورسره کاندې تر نېکۍ يې وي بهتر".
په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی: " که څوك بد ورسره کاندې تر نېکۍ وي لا بهتر".
(۵) دا بیت په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی: " نه په بد ويل زهیر وي نه پر ښه وي دچا زبر".
په "پ پ" چاپ کې داسې راغلی دی: " نه په بد ويل زهیرېږي نه په ښو دچا زر و ر".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې: " نه په بد ويل زهیرېږي نه پر ښه وي دچا بر".
او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: " نه په بد ويل زهیر وي نه پر ښه يې دچا زبر".
(۶) داسې په "پ پ" چاپ کې داسې راغلی ده: " په ثواب او په خدايي سپي".
(۷) داسې په چاپي دیوان کې داسې راغلی ده: "نه په عیب باندې پوهېږي". او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی ده: " نه په عیبو څه پوهېږي".
(۸) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "ګوري" پر ځای "ګرځي" راغلی دی.
(۹) د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "ځناور" پر ځای "شناور" راغلی دی.
(۱۰) په چاپي دیوان او قلمي نسخو کې، پرته د "پ" له لومړۍ نسخې څخه د "رغبت" پر ځای "خوب" راغلی دی.
(۱۱) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "دوتې" پر ځای "دوتم" راغلی دی.

نـــــــــــه دې فرض د خدای ادا کړه — نه سنت د پیغمـــــــــــبر
نـــــــــــه دې مرګ په زړه کې یاد وی[1] — نه خواری دې د محشـــــــــــر
اوده پـــــــــــروت یې دادې نه زده — چې په خوالرم سفـــــــــــر
پـــــــــــه هر دم د رنځه د رومي — که پوهیږی دا بشـــــــــــر
هغـــــــــــه تور وېښته دې خه شول؟ — چې هم مښک وو هم عنـــــــــــبر
هغـــــــــــه قد دې مجنون بید شو[2] — چې چنار وُ هم[3] نښـــــــــــتر
تـــــــــــن دې درست زیر وز برشو — زړه دې نه شولر وبـــــــــــر
تـــــــــــر پنجا وشسته تېرشوې — ته لاځان بولې پســـــــــــر[4]
نـــــــــــه دې ترس شی نه دې وېره — نه په زړه باندې اثـــــــــــر[5]
بـــــــــــل به نه وی لکه ته یې — هسې شوخ اوځیـــــــــــگر وو
پـــــــــــه غفلت دې عمر تېر کړ — نه رهرو شوې نه رهـــــــــــبر
عبـــــــــــادت دې په ریا شو — لکه ډك په لاکـــــــــــوزر
لکـــــــــــه قلب[6] ناسره ګهـــــــــــر — پټ په زړو کې حجـــــــــــر[7]
لکـــــــــــه زړی په میوه کې — درون سنګ بېرون ثمـــــــــــر
لکـــــــــــه پټ وي په دانه کې — سل اغزیه د شجـــــــــــر[8]
لکـــــــــــه سحر چې برپای کا — سحرګر او جادوګـــــــــــر
لکـــــــــــه تش صورت بې روح[9] — چې تصویر کا مصـــــــــــو
لکـــــــــــه تش کډوبې مغزه — میان خالي وی تن پـــــــــــرو

---

(۱) دامصرع په چاپي دیوانونو کې داسې راغلې ده: " نه دې مرګ په زړه یاد یږی ". او د "خ" په لومړی نسخه کې داسې راغلې ده: "نه دی مرګ په زړه کې یاد دی".

(۲) دامصرع په "پ" چاپ او "ب پ" چاپ کې داسې راغلې ده: " هغه قد دې مجنون بید شد". د "خ" په لومړی نسخه کې "هغه قد د مجنون خه شو". او د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: " هغه قد دې مجنون بید شی ".

(۳) په "پ" چاپ کې د "هم" پرځای "یا" راغلی دی.

(٤) دابیت د "خ" په لومړی نسخه کې نه دی راغلی لومړی مصرع یې په "ب پ" چاپ کې " ترپنجاه وپنځه تېرشوې "، په "پ" چاپ کې " ترپنځوس - ترپنځه تېرشوی "، د "خ" په دوهمه نسخه کې: " ترپنجاه ترپنجاه تېرشوی ". او د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی ده: " ترپنجه ترپنجاه تېرشوی ".

(۵) دابیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.

(٦) په "ب پ" چاپ کې د "قلب" پرځای "کلپ" راغلی دی.

(۷) د "پ" په دوهمه نسخه کې د "حجر" پرځای "خنجر" راغلی دی.

(۸) دابیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.

(۹) دامصرع د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی ده: " لکه تش صورت په روح کې ".

لکـــــــــه بې لاسه لستونی — سر تر پایه پای ترســـــــــر
لکـــــــــه تګ اودغه بازوي — په مرغانو کې ډګـــــــــر (١)
لکـــــــــه بې نمله ناوې — چې په سر کاندي میـــــــــزر (٢)
تـــــــــر میز لاندې چاخه زړه — چې دختردی که مـــــــــادر (٣)
نـــــــــه یې حسن نه جمال وي — غولوي خلق په زیـــــــــور
هـــــــــی له هسې فریبانو (٤) — لکه زورند چاود کمـــــــــر
نیـــــــــم په مخکه کې دننه — نیم په سروي لکه نغـــــــــر (٥)
پـــــــــه دستار کې یې مسواک وي — تر بغل لاندې خنجـــــــــر
پـــــــــه ایرو کې پټ بخرې — په وینو کې پـــــــــټ ژور (٦)
پـــــــــه شپه وینې د مظلوم خوږې (٧) — سباکینې په ممـــــــــبر
پـــــــــه زړه تور لکه تبې (٨) وي — په مخ سپین لکه قمـــــــــر
د دنیـــــــــا په طلب ګرځي — خپل ځان بولي قلنـــــــــدر (٩)
کلیمـــــــــه په ژبه وایي — په زړه ندلري بـــــــــاور
پـــــــــه مثال د منافقو (١٠) — نه مسلم وي نه کافـــــــــر
نـــــــــه مسلم وي نه کافر وي — نه پخلا نه مـــــــــر
پـــــــــریشان ګرځي سر وهلی — کوی په کوی اودر پـــــــــه در
همیشه رفت وآمد کا (١١) — د زردارو په ګـــــــــنه
پـــــــــه کوڅه د دنیا دارو — ګوخورګي کالکه خـــــــــر
اورنـــــــــګ زیب هم یو فقیر و — چې ټوپی یې وه په ســـــــــر
وتـــــــــوپی وته یې شاګرد — چې قادر شو په افســـــــــر (١٢)

---

(١) د "خ" په دوهمه نسخه کی د "ډګر" پرځای "دیګر" راغلی دی. (٢) په "پ پ" چاپ کی "خادر" راغلی دی.
(٣) په "پ" چاپ اود "پ" په دوهمه نسخه کی "وی" راغلی دی. (٤) د "پ" په لومړی نسخه کی "هیڅ له هسې فریبانو"، په "پ پ" چاپ کی "هیڅ توبه له هسې فریبانو"، اود "خ" په دوهمه نسخه کی داسی راغلی ده: "هیڅ توبه له فریبانو".
(٥) دا بیت په چاپي دیوانونو کی داسی راغلی دی: "نیم په زمکه کی دننه نیم برسیره لکه". د "خ" په لومړی نسخه اود "پ" په دوهمه نسخه کی یې دوهمه مصرع داسی راغلی ده: "نیم برسیره لکه نغر" اود "خ" په دوهمه نسخه کی داسی راغلی ده: "نیم په سروی لکه زغر".
(٦) دا بیت د "خ" په لومړی قلمی نسخه کی نه دی راغلی اود "پ" په دوهمه نسخه کی د "ژور" پرځای "ژاور" راغلی دی.
(٧) دا مصرع د "خ" په لومړی نسخه کی داسی راغلی ده: "په شپه مال د مظلوم وخوری". (٨) د "خ" په لومړی نسخه کی "کودی" راغلی دی.
(٩) په "پ پ" چاپ کی "بولی ځان په قلندر"، د "خ" په لومړی نسخه کی "خسرو بولی قلندر"، د "خ" په دوهمه نسخه کی "خپل سر بولی قلندر"، اود "پ" لومړی نسخه کی "ځان بولی قلندر" راغلی دی.
(١٠) په قلمی نسخو کی "منافقانو" راغلی دی.
(١١) دا مصرع د "پ" په دوهمه نسخه کی داسی راغلی ده: "همیشه یې رفت امد دی". (١٢) دا بیت د "خ" په دوهمه قلمی نسخه کی نه دی راغلی.

خـــــــــوبي هومره فقيري وه — چې څه نه و و ميســـــــــــر
چـــــــــــې فلك يې ياري وکړه — نوري ملك کړ مسخـــــــــــــر
گـــــــــوره څه چاري يې وکړې — په عيال (۱) دخپل پـــــــــــدر
وار پـــــــــه وار يې ترتيغ تېر کړ — دخورم تمام تـــــــــــبر
يـــــــــو تېر دخورم څه و — ډېر عالم يې کړ د بـــــــــــر
تمـــــــامي جهان يې ونغرد (۲) — چې يې لاس شو باندې بـــــــــر
پـــــــــه فريب فريب يې خپل کړ — بيجاپور او بهانـــــــــــگر (۳)
بيـــــــــجاپور او بهانگر څه وو — لاجنجي او جنجـــــــــاور (٤)
هـــــــــم يې هند په ډکه واخست (۵) — هم کابل هم (۶) پېښـــــــــور
بيـــــــــايې ذکر شو په زړه کې — بادشاهي دهفت کشـــــــور (۷)
لـــــــــه حرصه ورته هيڅ شوه — هم دارا هم سکنـــــــــدر (۸)
خيـــــــــال يې داو په خاطر کې — چې به خپل کړم بحر و بـــــــــر
بـــــــــاري ورځ ورځنه (۹) لاره — وخت پرې راغی مازديـــــــــگر (۱۰)
نـــــــــه يې مراد دزړه حاصل شو — نه يې يخ کړ خپل تـــــــــــــر
همـــــــــگي شوه ځنې پاتې — که يې ملك وکه لښـــــــــــکر
خـــــــــالي لاس له دنيا ووت — لکه عين دروېزگـــــــــــر

---

(۱) د "خ" په لومړي نسخه کې د "د" پرځای "په" راغلی دی.
(۲) د "پ" لومړی، دوهمه او د "خ" لومړی نسخه : "تامي جهان يې ونغرد" او د "خ" په لومړي نسخه کې دې راغلی ده : "تامي عالم يې ونغښت".
(۳) د امدې په "پ پ" چاپ کې دې راغلی ده : "بيجاپور او بهاگ نگر".
د "خ" په لومړي نسخه کې : "پنجاب پور او بهاگ نگر".
د "خ" په دوهمه نسخه کې : "پنجاپور بهانه گر".
او د "پ" په دوهمه نسخه کې : "پنجاپور و بهاك نگر".
او په مصوره نسخه کې : "بيجاپوره و بهاك نگر". راغلی ده.
(٤) د بيت په "پ" چاپ کې دې راغلی دی : "بيجاپور بهان گرځه وو لاچينجا وچينجاور".
"پ پ" چاپ : "بيجاپور بهاگ نگر څه وو لاجنجي او جنجا ور".
لومړی مصرع يې په مصوره نسخه کې : "بيجاپور و بهاك نگر څه وه". د "خ" لومړي نسخه کې د بيت دې راغلی دی : "پنجاب پور بهاك نگر څه وو لاچنجي چنچاور".
د "خ" په دوهمه نسخه کې : "پنجاپور بهان گرځه وو لاچنجا و چنجا ور". او نومړی بيت د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(۵) په "پ پ" چاپ او د "خ" دوهمه نسخه کې د امدې دې راغلی ده : "هم يې هند په ډکه واخست"
او د "خ" په لومړي نسخه کې دې راغلی ده : "هسې هند په ډکه واخست".
(۶) په چاپي ديوانونو کې د "هم" پرځای "او" راغلی دی.
(۷) د بيت د "خ" په لومړي نسخه کې دې راغلی دی : "بيايې ذکر شو په زړه کې هم دارا هم سکندر".
(۸) د بيت اوله دې نه وردسته بيتونه په مصوره نسخه کې نه دي راغلي او هم نومړی بيت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(۹) په چاپي ديوانونو کې د "ورځنه" پرځای "ورځنې" راغلی دی. (۱۰) په قلمي نسخو کې "نازيگر" راغلی دی.

له دنیايي هېڅ يونه وړه — مګر شو يې يو څـــــاده

خـــــوار حيران په ځمکه پر يووت — بې بالين او بې بســـــتر[2]

نـــــه پوزی شو تری دلاندې[3] — نه تر لاندې شو تغـــــر

دبنـــــې[4] په څېر خفيف شو — چې ثقيل ؤ لکه غـــــر

دسپـــــلاب په مخ کې لاړ شو[5] — لکه خس او[6] يـــــاوزر

حـــــق يې پاتې په ګردن شو — دسپاهي او دچاکـــــر

اوس يـــــې زړه په روح دعاکرم — که يې خدای کا بهـــــروړ

حـــــق تعالی يې په نصيب کړه — شېرين حوض دکوثـــــر[7]

دجنـــــت په خوشبويي[8] — خدای دماغ کړه معطـــــر

پـــــه درست هند باندې[9] يې حق ؤ — هند يو شپه وه دی يو لمـــــر[10]

دذې لمـــــر په روښنايي[11] — تام هـــند ؤ منـــــور

پـــــه رڼايي خلقو[12] زيست کړ — نه څه خوف ؤ نه خطـــــر

خوچـــــې مخ يې په غروب کړ — نور پيدا شو شور وشـــــر[13]

چـــــې په نام[14] داورنګ زيب ؤ — وخوړ ګاوهغه دفتـــــر

اوس نـــــوبت دشاه عالم دی — دور طور شو ديګـــــر[15]

---

(۱) دامسری په "پ پ" چاپ کی داسی راغلی ده: "مګر شيری يو شاده" اود "خ" په دوهمه نسخه کی دامسری داسی راغلی ده: "مګر دشو يو يو خاده".

(۲) په چاپی ديوانونو کی دابيت داسی راغلی دی: "خوار حيران په ځمکه پر يووت بې بالينه و بې بستر".
د "خ" په لومړی نسخه کی: "خوار حيران په ځمکه پروت ؤ بې بالينه بې بستر".
د "خ" په دوهمه نسخه کی يې دوهم مصرع داسی راغلی ده: "بې بالينته بې بستر".

(۳) دامسری په "پ پ" چاپ اود "خ" په لومړی نسخه کی داسی راغلی ده: "نه شو تره لا نـــد يې"

(۴) د "خ" په دوهمه نسخه کی د "بنې" پرځای "بنو" راغلی دی.

(۵) په "پ پ" چاپ کی "لاړو" راغلی دی.

(۶) په چاپی ديوانونو، د "خ" په لومړی نسخه اود "پ" په دوهمه نسخه کی د "او" پرځای "وي" راغلی دی.

(۷) په "پ پ" چاپ کی: "حق تعالی که يې نصيب کا شه شيرين حوض کوثر". راغلی دی.
د "خ" په لومړی نسخه کی يې لومړی مصرع داسی راغلی ده: "حق تعالی يې پرې نصيب کړه".

(۸) دامسری په قلمی نسخو کی داسی راغلی ده: "دجنت په خوشبو يې".

(۹) د "خ" په دوهمه نسخه کی د "ؤ" پرځای "دی" راغلی دی.

(۱۰) دامسری په چاپی ديوانونو کی داسی راغلی ده: "هند يو شپه وه دی ؤ نمر". د "خ" په لومړی نسخه کی داسی راغلی ده: "هند شپه وه دی لوز".

(۱۱) دامسری د "پ" په لومړی نسخه کی داسی راغلی ده: "دده نمر په روښنايي"
اود "خ" په لومړی نسخه کی داسی راغلی ده: "ددې لوز تر روښنايي".

(۱۲) په چاپی ديوانونو، د "خ" په دوهمه نسخه اود "پ" په دوهمه نسخه کی د "خلق" پرځای "خلکو" راغلی دی.

(۱۳) دابيت په "پ پ" چاپ کی نه دی راغلی.

(۱۴) په چاپی ديوانونو کی "نوم" راغلی دی.

(۱۵) دامسری په "پ پ" [illegible] راغلی ده: "دور اوطور يې شو ديګر"، اود "خ" په لومړی نسخه کی داسی راغلی ده: "دور نور وشد ديګر".

خدای زده څه باندی شي پښه — چې عاشوړ شي که اختر (۱)
رنګارنګه بازی کاندي (۲) — دا آسمان دی بازیګر
ګهې تلخ شي لکه زهر — ګاه شیرین لکه شکر (۳)
چې څې وشوه هغه وشوه — لا به کېږي مقدر (٤)
ما خو نوم دا ورنګ وا خست — دا احوال دی دهر
هر سړی ډېلي خوني — هم بادشاه دی هم سرور
هر چې اهل د دنیا دي — واړه هسې دي اکثر

دا بیان دور و دراز دی (۵)
رحمان وکړ مختصر

۸۲ — ۱۰۵۶

که د عشق لاره اغزنه ده هر ګور — د عاشق په پښو څپلۍ دي داور (٦)
که دیدن د ګلعذار په انتظار شي (۷) — زما سترګې دی شبنم غوندې څاور
تیغ د اوسپنې محتاج د نرم آب دی — قرب وحلم یو په سل دی زیات تر زور (۸)
له لویې له سرکښی زما توبه ده (۹) — خدای څوك مدکړه د آسمان په څېر نسکور
خدای زده څه سودا به پښه په بازار شي — د بازار خبرې نه شي په خپل کور (۱۰)
دا همه واړه عاشق لره پیدا شوه (۱۱) — که تهمت که ملامت دی که پیغور
جفا جور ناز وکبر د خوبانو (۱۲) — ما په ځان دي قبول کړي لکه پور

---

(۱) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کی داسی راغلی دی: "خدای زده څه چاری شي پښې چې عاشوړ شي که اختر".
د "خ" په لومړی نسخه کی داسی راغلی دی: "خدای زده څه بازی پښه چې عاشوړ شي یا اختر".
او په چاپي دیوانونو کی دوهمه مصرع داسی راغلی ده: "عاشورا شي که اختر".

(۲) دا مصرع په "پ" چاپ کی داسی راغلی ده: "رنګارنګ بازی کاندی". "پ، پ" چاپ: "رنګارنګي بازی کاندی".
د "خ" په لومړی او دوهمه نسخه کی او د "پ" په دوهمه نسخه کی داسی راغلی ده: "رنګارنګ بازی کاندی".

(۳) دا بیت په "پ" چاپ کی داسی راغلی دی: "ګهې تلخ شي لکه زهر ګه شیرین لکه شکر".
په "پ پ" چاپ کی: "ګاهی تلخ شي لکه زهر ګاه شیرین لکه شکر".
د "خ" په لومړی نسخه کی داسی راغلی دی: "ګهې تلخ شي ګاهی زهر ګاه شیرین لکه شکر".
د "خ" په دوهمه نسخه کی داسی راغلی دی: "ګهې تریخ شي لکه زهر ګاهی شیرین لکه شکر".
او د "پ" په دوهمه نسخه کی داسی راغلی دی: "ګاه تریخ شه لکه زهر ګاه شیرین لکه شکر".

(٤) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کی نه دی راغلی. لومړی مصرع یې په قلمی نسخو کی داسی راغلی ده: "چې وشو وهغه وشو".

(۵) د "پ" دوهمه نسخه: "دا بیان دور و دراز ده".

(٦) دا غزل په مصوره نسخه کی نه دی راغلی او د دی بیت دوهمه مصرع په "پ پ" چاپ کی داسی راغلی ده: "د عاشق په پښو کې دی څپلۍ داور".

(۷) دا مصرع په چاپي دیوانونو کی داسی راغلی ده: "که دیدن دیار موندې په انتظار شي".

(۸) دا بیت د "خ" په لومړی او د "پ" په دوهمه نسخه کی نه دی راغلی او د دی بیت دوهمه مصرع د "پ" په لومړی نسخه کی داسی راغلی ده: "قرب وحلم یو په سل دی تر زور".

(۹) دا مصرع د "خ" په لومړی نسخه کی داسی راغلی ده: "که لویې ده که سرکشی زما توبه ده". او د "خ" په دریمه نسخه کی داسی راغلی ده: "له لویې له سرکشی مې توبه ده".

(۱۰) دا بیت په قلمی نسخو کی نه دی راغلی.

(۱۱) په "پ" چاپ کی د "شوه" پر ځای "دی" راغلی دی.

(۱۲) دا مصرع په "پ پ" چاپ کی داسی راغلی ده: "ناز وجور وکبر د خوبانو". او په "پ" چاپ کی داسی راغلی ده: "جفا ناز وجور وکبر د خوبانو".

راحت بې زحمته نه دی چا موندلی (۱) — غم ښادي دي ددې دهر خورا وورور

۸۳ — ۱۰۶۵

رحمان هسې په خپل یار پسې غوڅ غوڅ یم (۲)
لکه غوڅ په خپل اولاد وي پلار او مور

پس له مرګه که څوك ارت غواړي خپل ګور — که حق وایم هومره ارت دې بویه کور (۳)
تر ځان زیاته که چارخه په کاڼه ده — ځان په لوپشت کړه چې دی خوري او ږده سور
چې جامه دچاکوتاهه یا اوږده شي — ورکاوه شي هنرمند لره پیغور
هر سړی چې په حساب کې تیر وبیر شي — ملامت پرې وایه کیږي لور د لور
چې لایق د ملامت او د تهمت شي — ځای لري که بې عزت شي هم سر تور
چې عزت حرمت یې نه وي په جهان کې — هغه هسې ژوندون وسوزه په اور
بې عزت سړی به خوښ دهیچا نه وي — مګر هسې بې عزت وي ځیني نور (٤)
خپل مجلس یې تر جمله مجلسه خوښ وي — په هر ځای چې سره جمع شي خمسور (۵)
هر هم جنس له خپله جنسه سره خوښ وي (۶) — نریب کاهره کښیده په خپل انګور
نابینا په خپله سیمه کې بینا وي — بینایان په پردی ملك شي کروکور
که ته نه یې بدکردار ه بد ملنه — کښیدی منه بدکردار سړی په غور (۷)
درست صورت دیوه نوك په درد درد منده شي (۸) — وران شي شهر دیوه سړي په تور
چې یو غاښ په خوله کې زوړند شي یا ووځي — درسته خوله پرې بدنمایه شي هر ګور (۹)

---

(۱) دامسرې د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی ده: " راحت نه دی بې زحمته چا موندلی ".
د "پ" په دوهمه نسخه کې لومړی مسرې داسې راغلی ده: " راحت نه دی چا موندلی بې زحمته ".

(۲) دامسرې په "پ" چاپ، د "خ" په لومړۍ نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی ده: " رحمان هسې په خپل یار پسې غوڅ غوڅ ذی ".
د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی ده: " زه رحمان هسې په خپل یار باندې غوڅ غوڅ یم ".
د "پ" لومړۍ نسخه: " زه رحمان هسې په خپل یار پسې غوڅ غوڅ یم ".

(۳) د "پ" لومړۍ نسخه: "پس له مرګه که ارت څوك ګڼي خپل ګور — که حق وایم هومره ارت بویه کور ".
په مصوره نسخه کې لومړی مسرې داسې ده: " پس له مرګه که څوارت کوي خپل ګور ".

(٤) "ق" چاپ: " بې غیرت سړی به خوښ دهیچا نه وي — مګر هسې بې غیرت وي ځیني نور ".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "ځیني نور" پرځای "خم خور" راغلی دی.

(۵) د "خ" لومړۍ نسخه: "په هر ځای چې سره ورسیشي خلور". د "پ" لومړۍ نسخه: " په هر ځای چې وبله ورشي خمسور ".

(۶) دابیت اوورسې ټوله غزله په مصوره نسخه کې نشته، چاپي دیوانونو کې لومړی مسرې داسې ده: "هر هم جنس له خپل هم جنس سره جوړه وي".
د "خ" لومړی او دوهمه نسخه: "هر هم جنس له خپله جنسه سره جوړ وي".

(۷) دابیت په "پ" چاپ، "ق" چاپ او د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته. د "پ" په لومړۍ نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې
سړی په غور". او د "خ" په دوهمه نسخه کې دابیت داسې دی: " که ته نه یې بدکردار ه بدعمله کیدی منه بدکردار سړی په کور ".

(۸) دامسرې د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

(۹) دابیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

یوسړی چې په کوړمه کې د چاکرم شي — واړه گرم کاکه پنځه دي که څلور (۱)
بدکردار زوی پیدا مه شه له موره — ابته کاندي ناموس د پلار و مور
هر څوك خپله خوشحالي له خدایه غواړي — باري (۲) نه شي دغه کار په زر و زور
خدای په خپل قدرت څوك لوی وځوك هلك کړه — نه چې هر ښځه د پیلی شي یا لاهور
د تنگو پورونه هر څوك وبله کاندي — بخت هیچا ورکړی نه دی ځبله پور
د چاتاج په سر زرین خنجر ترملا وي — د چا پنډ په سر په ملا تومبلی لور
څوك په آس د پاسه سوروي توغ دوړاندې — څوك زیرکلی گرځاوه شي په خره سور

ای رحمانه د خدای نوم به چا وانخست — ۸۴
که د خدای چارې په پلار شوې یا په مور — ۱۰۸۶



تا دې خواب آلود وستر گو خواب راځنه یوو ر — لبودې (۳) لذت د میوناب راځنه یوو ر
نه مې اوښکې پاتې شوې نه صبر په صورت کې — ډېرې بې صبرې د مخ آب راځنه یوو ر (۴)
زړه مې په نغمو نغمو سوری کړ مطربانو — عقل ساقیانو په شراب راځنه یوو ر (۵)
یو ساقي بل یار دریم مطرب سره یو ځای شول — زړه یې له گوگله په شتاب راځنه یوو ر
څه شوکه یې یوو ر خراب (۶) دل مې تري قربان شه — نور چاوړې نه دی خپل احباب راځنه یوو ر (۷)

---

(۱) چاپي دیوانونه : " یوسړی چې په کوړمه کې د چا بدشي . واړه بدشي که پنځه دي که څلور".
(۲) د "خ" دوهم نسخې کې " موندې نه شي " راغلی دی.
(۳) په چاپي دیوانونو کې " شونډې د" راغلی دی.
(۴) " ق ،ک" چاپ : " ډېرې بې صبرې مې د زړه آب راځنه یوو ر".
"ق" چاپ : " ډېرې بې صبرې مې د مخ آب راځنه یوو ر".
"پ ،پ" چاپ : " ډېرې بې صبرې دې د مخ آب راځنه یوو ر".
(۵) دابیت د "خ" په دوهم نسخې کې نشته . "پ ،پ" چاپ کې لومړی مصرع داسې ده: " زړه مې په نغمو سره سوری کړ مطربانو ". "ق" چاپ : " زړه مې په نغمو سوری سوری کړ مطربانو".
(۶) په چاپي دیوانونو کې "خسته" راغلی دی (۷) دابیت د "خ" په لومړی نسخې او مصوره نسخې کې نشته.

خط دې تور حرفونه مخ دې پاڼې دکتاب کړې[1] — شغل دکتاب دې بل کتاب راڅخه یوړ[2]
هر اسباب چې ما څخه د زهد د پرهیز وُ[3] — واړه تا د حسن په اسباب راڅخه یوړ[4]

کړی ماران زړه په زړه کې نقش د محراب وُ — ستا آبرو یو نقش د محراب راڅخه یوړ
خراب زړه[5] مې د دلبر وهوا یوړ — د هواله وړ یو چا زده چې چا یوړ
گوښې گوښې ښایسته مې زړه وکاږې — زه وکوم یوه ته وایم چې تا یوړ[6]
چې مې زړه لره د تورو زلفوځای غوښت[7] — هغه زړه راڅخه ډېرې ژړا یوړ
د سپلاب په مخ کې کله د چا خوب شي — شېرین خواب راڅخه ډېرې ژړا یوړ
هغه رخت چې مې د صبر د سکون وُ — هیڅ رانه کړ هوشانو وېرې یوړ
هغه عقل چې یې لاف د خود رایې کړې — په یوه پیاله د میو مینا یوړ[8]
که یې یوړ خسته دل مې ترې قربان شه — نا آشنا وُ وړی نه دی آشنا یوړ[9]

هیڅ ناحق پرې شوی نه دی که حق وایم
معشوقې د ماران زړه په رضا یوړ

---

(1) په چاپي دیوانونو کې "دی" او د "خ" په درې واړو نسخو کې "شوی" راغلی دی.
(2) "ق" چاپ او "ق،ک" چاپ :
"شغل دکتاب دې خورد وخواب راڅخه یوړ".
د "خ" لومړی نسخه : "دشرم یا د ننگ وُ"
او د "خ" په دوهمه او مصوره نسخه کې د "زهد د تقوی" راغلی دی.
(4) "ق،ک" چاپ : "واړه ستا د حسن دې سپلاب راڅخه یوړ".
(5) په قلمي نسخو کې "دل" راغلی دی.
(6) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(7) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته، په "ق،ک" چاپ کې لومړی مصرع داسې ده :
"چې مې زړه مینه په تورو زلفو کړله".
(8) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته، په چاپي دیوانونو کې داسې دی :
"هغه عقل چې یې لاف د خود رایې کړې — په یوه پیاله یې واړه له ما یوړ".
د "خ" لومړی نسخه : "هغه عقل چې یې لافې د خودۍ کړې".
(9) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.

لکه کاندي په کوتر و نظر باز — هسې زړه یم د دلبرو نظر باز

زه و نور چاته خبرې د راز نه کړم[1] — بې هغو چې موی[2] مژګان لري د راز

بل بادشاه لره محال دی ملک د زړه و نو — مګر مخ دچا محمود شي خال ایاز[3]

ستا تر[4] زنې تر سیب پورې راښکاریږي — نورې زنې د خوبانو لکه پیاز[5]

د تصویر له ګلو طمع د بوی مه کړه — بې وفا دي واړه تُرکي د مجاز[6]

هغه یار که په خپل ناز خوښ و خرم دی[7] — زه هم خوښ یم همیشه د یار په ناز

همیشه می لاس نیولی دی دعا[8] کړم — چې مدام دې د یار ناز وي زما نیاز

که څوک آه و فریاد بنه ګڼي په عشق کې[9] — زه په عشق کې د غه کار ګڼم غماز

بنادي هر چېرې د غم په اندازه وي — هسې غم دی د بنادی په انداز[10]

نیستی واړه[11] د هستی په دنبال ګرځي — نه د وبېږي په اوبو کې تش جهاز

دا قاعده ده لکه لوړ هومره ژور وي[12] — یو صورت دی هم نشیب شي هم فراز

چې یکسان ګوري هم شاه و هم ګدا ته[13] — هسې یار دی د رحمان غریب نواز

---

(۱) په چاپي دیوانونو کې دامسرې داسې راغلی ده: "زه و نور چا وته د راز خبرې نه کړم". (۲) د "پ" په دوهمه نسخه کې "دوی" راغلی دی.

(۳) د "خ" لومړۍ نسخه کې دامسرې داسې راغلی ده: "مګر مخ دچا محمود حال دا ایاز" او په همدې مسرې کې د "شي" پرځای د "پیښور" په چاپي دیوانونو، مصوره نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې "وي" راغلی دی.

(٤) د "پ" له لومړۍ نسخې او مصورې نسخې نه پرته په ټولو نورو کې د "تر" پرځای "د" راغلی دی.

(۵) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی: "ستا د زنې تر سیب پورې ښکاریږي نورې ترکې او خوبانې لکه پیاز".

(۹) دامسرې په "پ" چاپ کې داسې راغلی ده: "له منقوشو مرغونه خبرې آواز". (۷) د "پ" له لومړۍ نسخې نه پرته په ټولو نورو کې د "وی" پرځای "دی" راغلی دی.

(۸) په مصوره نسخه، د "خ" لومړۍ نسخه، د "پ" دوهمه نسخه، په "پ" چاپ او "پ پ" چاپ کې د "دوعا" پرځای "خواست" او "ق ک" چاپ کې "سوال" راغلی دی.

(۹) دامسرې د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی ده: "که څوک آه و فریاد و نه کړی په عشق کې". (۱۰) دامسرې په چاپي دیوانونو کې داسې ده: "هسې غم د دې دنیا دی په انداز".

(۱۱) د "پ" په لومړۍ نسخه کې د "واړه" پرځای "هر چېرې" راغلی دی. (۱۲) دامسرې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی ده: "دا قاعده ده لکه لوړ هومره په حور وي".

(۱۳) دامسرې د "پ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی ده: "چې یکسان ګوري وشاه و و هم ګدا ته". په چاپي دیوانونو کې داسې راغلی ده: "چې یکسان ګوري هم شاه ته هم ګدا ته".

که بې ځایه زرکې نه وښکی آواز — نه صیاد ځنی خبر ؤ نه شهباز (۱)
سکه له دې خبرې هسې معلومېږي — خپل صورت دی هرسړی لره غماز (۲)
د منصور وحال ته گوره حال یې څه شو (۳) — خدای دې فاش دهیچا نه کاندې پټ راز
دریغه دریغه که ورستی عقل روېږی وی — دانجام خبرې نه شي په آغاز
نیک عمل دعالمانو (٤) نیک فرزند دی — خدای خوک مه کړه شراب خور او قمارباز
چې فرزند یې شراب خور او قمارباز شي (٥) — نور یې کانی شي د پلار په خونه ساز
خدای له هسې زاهو زاده امان راکړه (٦) — چې بې دین بې دیانت شي بې نماز

۸۸ — ۱۱۲۲

چې منکر پرې اعتراض کولی نه شي
دادې شعر دی رماح نه که اعجاز

بد اختر به نیک اختر نه شي هرگز — مرغ چوچه به در گوهر نه شي هرگز (۷)
که مکان یې په آسمان دی (۸) غزا وشوه — ستاره به شمس وقمر نه شي هرگز
که یې اصل له یوې ځمکې وي څه شو — بید به سرو صنوبر نه شي هرگز
که همه عمر باران ور باندې ووري — خس به گل د پیغمبر نه شي هرگز (۹)
له نااهلو وفا طمع ومه کړه (۱۰) — گنده نل به نیشکر نه شي هرگز
که تورغر له ځایه خوزي وبه خوزي (۱۱) — ولې نور به مقدر نه شي هرگز

۸۹ — ۱۱۲۹

د رماح نه په باب چې وشوه هغه وشوه
مکرر (۱۲) به دا دفتر نه شي هرگز

---

(۱) دا غزل په مصوره نسخه کی نشته.

(۲) دا بیت په چاپی دیوانونو کی داسی راغلی دی: "هم له دې خبرې هسې معلومېږی خپل آواز دی هرسړی لره غماز".
او د "خ" په لومړی نسخه کی داسی راغلی دی: "لحکه له دې خبرې هسې معلومېږی چې خپل صورت دی هرسړی لره غماز".

(۳) د "پ پ" چاپ کی د "څه شو" پر ځای "څه دی" راغلی دی.

(٤) په چاپی دیوانونو او د "پ" په لومړی نسخه کی د "عالمانو" پر ځای "عاملانو" راغلی دی.

(٥) په چاپی دیوانونو او د "خ" په لومړی نسخه کی د "شي" پر ځای "وی" راغلی دی.

(٦) دامسری په "پ" چاپ کی داسی راغلی ده: "خدای له هسې زاوزاده امان وکړه".

(۷) دا غزل په مصوره نسخه کی نه دی راغلی او د دې بیت د دوهمی مسری "مرغ چوچه" په چاپی دیوانونو کی "مرغ پچ" د "خ" لومړی نسخه کی "مرغچی" او د "خ" په دوهمه نسخه کی "مرغ بچه" او د "پ" په دوهمه نسخه کی هم "مرغ پچ" راغلی دی.

(۸) په "پ" چاپ او "ق، ک" چاپ کی د "دی" پر ځای "وی" راغلی دی.

(۹) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کی نه دی راغلی، دوهمه مسری یې د "خ" په دوهمه نسخه کی داسی راغلی ده: "خس به گل صنوبر نه شی هرگز". او لومړی مسری یې د "پ پ" چاپ کی داسی راغلی ده: "که همه عمر باران ور باندې وشی".

(۱۰) په "ونه کړې" راغلی دی.

(۱۱) دامسری د "پ" په لومړی، دوهمه او د "خ" په لومړی نسخه کی داسی راغلی ده: "که تورغر له ځایه کوزی وبه کوزی".
دا اول بیت د "خ" په لومړی نسخه کی داسی راغلی دی "که تورغر له ځایه گرځی وبه گرځی ولې تور به مقدر نه شی هرگز".

(۱۲) د "پ" په دواړو نسخو کی د "مکرر" پر ځای "مکدر" راغلی دی.

ق ص

پښته سپین سترګی تاریکي غاښ کنډاس
نه وکاږي د دنیا له چارو لاس

په هرطور(۱) چې یې مومې پسې درومې
نه په چپ لوري صرفه کړې نه په راس

یو وپښته د عقیدې دي په تن نشته
سر تر پایه هسې ډوب(۲) یې په وسواس

خدای رازق بولې او رزق بولې له کسبه
په دا شناخت وځان ته وایي حق شناس

هسې رنګ په بد صفت یې موصوف شوی
چې هیڅ نه پوهیږم ناس یې که خناس(۳)

په دوی کې به ورنه شي تر توحیده
که پیشوا کړې هتر خضر هتر الیاس(٤)

واړه زهر وقاتل نغري که پوهیږې
که سیواله خدایه نغري هر انفاس

امر دادی چې له نفي لاس کوتاه کړې
او که نه وي خپسر وګنه مواس(۵)

خیر دادی چې له شره وجار وځے
په دا چارو کې هیڅ نشته کوز وپاس(۶)

که زما ویل دروغ یا کوز وپاس وي
ته پخپله په خپل زړه وکړه قیاس(۷)

له سر په غرض واړه سړی توب دی
نه چې پټ وي د سر وزر و په لباس(۸)

څه په دا به عراقي او ترکي نه شي
که په خړه باندې څوك سوزشي که په آس(۹)

---

(۱) په قلمي نسخو کې "په هرطور" راغلی دی.

(۲) د "پ" په لومړۍ نسخه کې "ډوب یم" راغلی دی.

(۳) دا بیت په "ق، ک" چاپ، او د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته، په نورو چاپي دیوانونو کې دا سی دی:
"هسې رنګ په مذبذب صفت موصوف شوې نه پوهیږ مد چې ناس یې که خناس".
د "پ" په لومړۍ نسخه کې یې دوهمه مصرع دا سی ده: "چې هیڅ نه پوهیږم ناس یې که خناس"

(٤) له دې بیت نه وروسته بیتونه په "ق، ک" چاپ کې نشته.

(۵) د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا بیت نشته.

(۶) د "خ" لومړۍ نسخه: "امر دادی چې له نفي وجار وزې په دا چارې کې هیڅ نشته کوز وپاس".

(۷) د پیښور چاپي دیوانونه او قلمي نسخې: "ته پخپله په خپل زړه کې وکړه قیاس".

(۸) د "خ" لومړۍ نسخه: "له سر په غرض واړه سړی خوی دی نه چې پټ وي زرد مسو په لباس".
د "پ" لومړۍ نسخه: "له سر په غرض واړه سړي هوس دی نه چې پټ وي مس د زر و په لباس".
د "پ پ" چاپ: "که سړی یې غرض واړه سړی هوش کا نه چې پټ وي د سر وزر و په لباس".

(۹) د "خ" لومړۍ نسخه: "که دخړه په سر سړی وی د آس".
د "پ" په لومړۍ نسخه او "خ" په دوهمه نسخه کې: "که دخړه پر سر سړی کړی د آس".
مصوره نسخه: "که دخړه په سر سړی سوزشی که د آس".

دتشنه خوله اوبو سره مطلب وي — نه تش اپښی بې اوبو د زروطاس[1]
هر زاهد چې په ریا زهد نا زېږ ي — د خر بښت گومان يې کېږي په اماس
دا زما عاجز امید دی که رب کاندي — په قیامت به مې شفیع شي خیر الناس[2]

٩٠ — ١١٤٥

اې رباح ناله که څه کار دی خو د دین دی[3]
نور کار ونه بې وفا دي بې اساس
تېر شو درست عمر زما په داهوس — که مې وپوښتي چې څوك يې یا څه کس[4]
یو پرسش د هغه یار مالره بس کا — چې څه کس وي خو يې یوه وپناوي بس[5]
هزار حیف دی چې په هر نفس تري تښتم — هغه لورته چې مې تله دي هر نفس
چې يې زه په هر نفس له خدا یه غوارم — هغه کله کله وینم په د بر پس[6]
که یو خس وي په محتاجولکه کر ورشي[7] — خدای دې نه کا څوك محتاج دیوه خس
هر مرغه په خپله جاله کې همای دی — که کا رغه که مښگیرك دی که ققنس
که شهباز لره سینه ده د تنزري — عنکبوت لره سینه ده د مگس[8]
خو چې خاورو لره ورشي برابر شي — که چا غوندی وي اغوستی که اطلس[9]

٩١ — ١١٥٤

هم هغه يې ژړوي چې خند وي يې[10]
نور څوك نشته د رباح فریاد رس
که څوك فخر کا په ننگ او په ناموس — دا په عشق کې نه ارزېږ ي یو فلوس[11]
که اغوستی يې زري جامې وي څه شو — گنه یا مرغ زرین دی یا طاؤس[12]

---

(١) د "پ" لومړی نسخه : " نه تش بې اوبو د سیمو زروطاس".
مصوره نسخه : " نه چې تش کټوری د سیم وزروطاس".
(٢) دا بیت د "ق" چاپ نه نقل شو.
(٣) د "خ" په نسخو کی د "دین" پر ځای "خدای" راغلی دی.
(٤) دا غزل په "ق ،ک" چاپ کی نشته.
(٥) "پ" چاپ : " که څه کس وي خو يو وي ورلره بس".
د "پ پ" چاپ : " که څه کس وي خو يو وار وي ورله بس".
"ق" چاپ : " که څه کس وي خو يو حرف ورلره بس".
د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه : " چې څه کس وي خو هم يو دې دی بس".
د "خ" دوهمه نسخه : " چې څه کس وي خو يې يو ولی وی بس".
(٦) د "خ" لومړی نسخه : " هغه کله دوینم په د بر پس".
(٧) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کی نشته ، په چاپی دیوانونو کی لومړی مصرع دا ده : " که یو خس وی په محتاجو لکه غرایشی".
(٨) د "خ" لومړی نسخه : " که شهباز لره تا به ده د تنزري عنکبوت لره تا به ده د مگس".
(٩) په "پ" چاپ کی "چا اطلس" ، او د "پ" په لومړی نسخه کی "یا اطلس" راغلی دی.
(١٠) چاپی دیوانونه : "هم هغه مې خندوی چې ژړوي مې بل څوك نشته د رحمان فریاد رس" او د "پ" په لومړی نسخه کی "نور څه نشته" راغلی دی.
(١١) دا بیت په مصوره نسخه کی نشته
(١٢) دا بیت په مصوره نسخه کی نشته ، او لومړی مصرع يې د پیښور په چاپی دیوانونو کی داسی راغلی ده : " که اغوستی يې زرین لباس وی څه شو".

که یې تاج وي په سرا ښې غزا وشوه — په نظر زما هدهدی یا خروس (۱)
نه یې فهم او فراست وي نه یې عِلم — خالی نقش لکه عکس د معکوس (۲)
نه یې مغز نه دانه وي په خرمن کې — عبث هسې په سر لوني واړه بوس (۳)
د مجاز له اهله طمع د خیر مه کړه — تامي شر او شدت دی د الوس (٤)
ودانې یې همه واړه ویرانې د ه — راشه وګوره ما نمه د کیکاوس (۵)
که زما په ګفتګوی کې زیات و کم وي — څوك دې ګډ کا په دا ښهر کې جاسوس (٦)
ساقي جام او باده راوړه چې بې خود شم — خدای څوك مه کړه په خودۍ کې محبوس (۷)
که څوك وغواړي تامه دنیا واړه — زما یار غوندې به نه وي بل عروس (۸)

حسن دیار وینم په پرده کې (۹)
نه پټېږي نور د شمع په فانوس

۹۲ — ۱۱٦۵



وره څه بلند مقام دی د اخلاص — چې جهان واړه غلام دی د اخلاص (۱۰)
که له ځمکې و آسمان ته خاته ګران دی (۱۱) — د اسفر په یوه ګام دی د اخلاص

---

(۱) دا بیت په مصوره نسخه کی نشته. (۲) دا بیت په مصوره نسخه او د "پ" په مختلط نسخه کی نشته، لومړی مصرع یې په "پ" چاپ کی دا هی راغلی ده: " نه یې فهم فراست دی نه یې عقل". او د "پ پ" چاپ کی دا هی راغلی ده: "نه یې نقش او فراست دی نه یې عقل".

(۳) دا بیت په مصوره نسخه کی نشته، دوهمه مصرع یې په "پ" چاپ کی دا هی ده: "عبث هسې خالی لونی په سر بوس".

(٤) دا بیت په مصوره نسخه او د "پ" په مختلط نسخه کی نشته، د "پ پ" چاپ کی دا بیت دا هی راغلی دی:
" د مجاز له یاره طمع د خیر مه کړه — تامی شر او شدت دی یا سالوس"
د "پ" لومړی نسخه "د مجاز له یاره طمع د خیر مه کړه — تامی شر او شدت د له او الوس".
او د "خ" په لومړی نسخه کی یې لومړی مصرع دا هی راغلی ده: " د مجاز له اهل دله طمع مه کړه".

(۵) په چاپی دیوانونو کی د "کیکاوس" پر ځای "قیانوس" راغلی دی، او دا بیت په مصوره نسخه او د "پ" په مختلط نسخه کی نه دی راغلی.

(٦) دا بیت په مصوره نسخه او د "پ" په مختلط نسخه کی نشته او دوهمه مصرع یې د "خ" په لومړی نسخه کی دا هی راغلی ده: " څوك دې وکه په دا ښهر کی جاسوس".

(۷) دا بیت د "پ" په مختلط نسخه کی نه دی راغلی، دا بیت په "پ" چاپ او مصوره نسخه کی دا هی راغلی دی: " ساقی جام د باده راوړه چې بیخود شم — خدای څوك مه کړه په خودۍ کی محبوس".
په "ق، ك" چاپ کی: "ساقی جام د میو راکړه چې بیخود شم — خدای څوك مه کړه په خودۍ کی محبوس". په "پ پ" چاپ کی: " ساقی جام د میو راکړه چې بی خود شم — خدای دی مه کړه په خودۍ کی محبوس څوك". د "خ" په لومړی نسخه کی لومړی مصرع دا هی راغلی ده: " ساقی جام د بادې راوړه چې په خود شم".

(۸) دا بیت د "پ" په مختلط نسخه کی نشته، د "خ" په لومړی نسخه کی د "بل عروس" پر ځای "یک عروس" راغلی دی (۹) د بیجنور په چاپی دیوانونو او د "خ" په دواړو قلمی نسخو کی دا مصرع دا هی راغلی ده: " رحمان حسن د یار وینم په پرده کی".

(۱۰) دا غزل په مصوره نسخه کی نشته، په "پ" چاپ او د "پ" په لومړی نسخه کی دا بیت دا هی راغلی دی: " څه عجب بلند مقام دی د اخلاص — چې جهان واړه امام دی د اخلاص".
او د "پ" په دوهمه نسخه کی د "مقام" پر ځای "مکان" راغلی دی. (۱۱) دا مصرع د "خ" په دوهمه نسخه کی دا هی ده: " له دې ځمکې و آسمان ته خاته ګران دی".

چې خبر کا مخلصان له غیبه علمه[1] — داهمه واره الهام[2] دی د اخلاص
د رواج او رسم عمر مدام نه وي — لکه[3] عمر چې مدام دی د اخلاص
بې اخلاصه د اسلام حلاوت نشته — که اسلام دی خو اسلام دی د اخلاص[4]
څه عجب دی که مستان ترې چاپېر ناوي — هر ساقي څخه چې جام دی د اخلاص[5]
څه عجب دی که همائي په دام نښلي — هر صیاد څخه چې دام دی د اخلاص
پس له مرګه به دا مهر و اخلاص نه وي — که اخلاص کړې نن هنګام دی د اخلاص[6]

۹۳ — ۱۱۷٤

د رواج کلام په داسبب شیرین دی
چې یې هر کلام ، کلام دی د اخلاص

که ترستوني دې شي ګوټ له جام خاص — هغه دم به شي د غم له شیبو خلاص[7]
تل په سپینه جامه تګی بدلیده شي — ته د اعامي چاري مه کړه خاص الخاص
که دوبې نهنګ ځان ته ، یو لقمه کړې — زر به را وړي په تحقیق سره غواص
په لباس به دې آسان په صورت ګران شي — مشکلات به دې اسان شي له اخلاص
که نغمه د محبت په غوږ و واورې — په فلک به شي زهره غوندې رقاص
معنوي صورت پیدا کړه که مېړه یې — فایده څه ده د بوتانو له اشخاص
د بل څیز په خاصیت به هغه ګوري — چې خبر نه وي د مینې له خواص

۹٤ — ۱۱۸۲

چې تا رچه ورځینې رخت د مینې نکه
غم دا راوسه جانانه له رصاص

که ګوهر د عشق په لاس راکړي غواص — بیا هاله یې دی له ما سره اخلاص[8]
په کاله به د رقیب غمونه زور شي — که مې یار کاندي حساب له خاص الخاص

---

(۱) دا مصرع په چاپي دیوانونو او د "پ" په دوهمه نسخه کی داسی ده : " چې خبر کا مخلصان له علم غیبه ".
(۲) د "پ" په لومړی نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کی " اعلام " راغلی دی .
(۳) په قلمي نسخو کی "لکه" راغلی دی .
(٤) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کی نشته . په چاپي دیوانونو کی یې لومړی مصرع داسی ده :" بې اخلاصه حلاوت د اسلام نشته".
او د "خ" په لومړی نسخه کی داسی ده : " بې اسلامه د اخلاص حلاوت نشته".
(۵) دا بیت د "پ" په دواړو نسخو او د "خ" په دوهمه نسخه کی نشته او لومړی مصرع یې په "پ" چاپ کی داسی ده : " څه عجب دی که مستان وی ترې چاپېره". او د "خ" په لومړی نسخه کی داسی ده :" څه عجب دی که مستي یې دی له جوره".
(٦) دا بیت د "ق ، ک" چاپ او د "پ" په دوهمه نسخه کی نشته خو لومړی مصرع یې د "خ" په لومړی نسخه کی داسی ده : " پس له مرګه چې دا مهر اخلاص نه وي.
(۷) دا غزل یوازې او دیوازې د "خ" په دوهمه نسخه کی راغلی دی ، په نورو قلمي نسخو او چاپي دیوانونو کی نشته.
(۸) دا دواړه یوازې او دیوازې د "خ" په دوهمه نسخه کی راغلی دی ، په نورو قلمي نسخو او چاپي دیوانونو کی نشته .

پہ کمند دمستي مینې دخوبانو — بندي مه کړې خدای دحشره پورې خلاص

پہ ﷺ باندې نظر دکرم وکړې
اې چې یې د پاك الله پہ دربار خاص

٩٥ — ١١٨٦

ساقي راکړه تہ وما تہ جام درقص — زہ آرزو پہ زړه لرم مدام درقص
دہ وې اوس بہ دخوښۍ ساعت پہ تاشي — مغنی راکړ وما پیغام درقص
مسقي(١) علم خپل استاد راتہ تعلیم کړ — رانمایې کړ هر تار مقام درقص
سرې پاس ترنغمہ فلکہ خرگندیږي — چې پہ چاوشي ارشاد اعلام درقص
چې جلوه پرې د محبوب لہ لورې کیږي — هرگز نشتہ پہ هغہ اشام درقص
لیاقت یې هر وگړي څخہ نشتہ — پہ لایقو باندې وي انعام درقص

خوبي سا پہ وجود شتہ عبدالرحمان
حقیقت بہ هومبرې نہ کہ تام درقص

٩٦ — ١١٩٣

ضم

ګلہ تہ نہ کړې پہ بل چا باندې غرض — بل بہ هم نہ کا پہ تا باندې غرض(٢)
راکہ گدای دبل پہ غولي غرض(٣) نہ کړې — سپی بہ نہ کا پہ گدا باندې غرض
پہ ساحل کشتی دهیچا نہ دوبیږي — کہ څوك نہ کا پہ دریا باندې غرض
خلوتیان پہ خپل خلوت کې فراغت دي — درسوا دی پہ رسوا باندې غرض
دا دنیا پہ احمقانو ده ودانہ — دا فانہ کا پہ دنیا باندې غرض

زہ ﷺ دعشق پہ درد کې هسې خوښ یم(٤)
چې مې نشتہ پہ دوا باندې غرض(٥)

٩٧ — ١١٩٩

(١) پہ اصل نسخہ کې پہ هجې د دول لیکل شوې ده. (٢) دا غزل پہ مصوره نسخہ کې نشتہ، دوهمه مسرې یې پہ "ب" چاپ او "ق" نسخې کې داسې راغلې دی: "بل پہ نہ کا نه کہ پہ تا باندې غرض".
(٣) د "خ" پہ لومړۍ نسخہ او د "ب" پہ دوهمه نسخې کې "گدا" راغلې دی. (٤) دا مسرې د "خ" پہ لومړۍ نسخې کې داسې ده: "زہ رحمان بہ دانا کام کوم تو توبہ". (٥) دا مسرې د "خ" پہ دوهمه نسخې کې داسې ده: "چې مې نشتہ پہ بل چا باندې غرض".

په دربار کومه د سنګلي ډلبر عرض — په هر دم په هر ساعت مقرر عرض[1]
که قبول شي د مولا په پاك دربار کې — دا په روی د شاه نبی پیغمبر عرض
په مانند د ګریال په پنځه وخته — په شورش د غله خوف د سفر عرض
بې خاوندۀ د کار (و) کله څه کېږي — څه که کار ته همیشه که قلندر عرض

۹۸ — ۱۲۰٤

دا ځان بې نبي کله د رخښتن ته
شوی کولی د بل نکار سراسر عرض

که مې یار په دیدن سر غواړي عوض — ورقربان شه چې دلبر غواړي عوض
چې هستي واړه نیستي کاندي واصل شي — ګند کچکول دې قلندر غواړي عوض
د دوهمې په اوربه څه حاجت موقوف وي — عاشقي ترې خاکستر غواړي عوض
خپل صورت ورته بافه کړه ته د مشکو — یار مجمر لره عمبر غواړي عوض
دلباس له سنګلیو طمع بوسه مه کړه — د بوسې په د کړه زر غواړي عوض
د دې دهر له تګې وېره وکړه — د کمتری په ځای بهتر غواړي عوض
د عشق د رخه په اسانه لوسته نه شي — په دا ځای کې زیر و زور غواړي عوض

۹۹ — ۱۲۱۲

په یو ځله به ترې خلاص نه شي رحمانه
سر و مال دې مقرر غواړي عوض



مع مه کړه په دنیا کې د نشاط — بیا به نه مومې نشاط په دا بساط[2]
لکه راغله بیا به هسې ځنې درومې — دا جهان دی د هر ویو یو رباط[3]
تر هر ګام لاندې کوهی دی د دې دهر — اینبی بویه هر قدم په احتیاط

---

(۱) دا د دواړه غزلی د "خ" له دوهمې نسخې نه نقل شوی.
(۲) دا غزل په مصوره نسخه کې نشته.
(۳) دا بیت په چاپي دیوانونو او د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "لکه راغلې بیا به هسې ځنې درومې دا جهان د هر ویو دی رباط".

ودانا وته په دا جهان ښکارېږي — هم جنت او هم دوزخ او هم صراط
په عاشق به هېڅ دهشت درقیبانو — که یې نه کړي له خوبانو اختلاط
له کم ذات بې دیانته بې نمازه — طمعه مه کړه دنیکۍ دیو قیراط (۱)

غم دترکو ترړ ماح هسې چاپېر شو (۲) — ۱۰۰
لکه وسکنې جامه په چا خیاط — ۱۲۱۹

نن نګار وماته راکړ دیاري خط — وې یې واخله دامې دی د دلدارۍ خط (۳)
دغمازله دوراهۍ تراهې وکړه — ځای به بایاې د مکار په جواري خط
چېرې نه وې چې یې څېرې په غفلت کړې — تل یې اوله په تمیز په هوښیارۍ خط
په مدت سره به ستا انجام ته رسې — اسان کله دی د استاد ریاري خط
دغفلت له خوبه پاڅه بیدار ې کړه — تل وتاته سپارلی د بیدارۍ خط
برابر د خط په حکم قدم کېږ ده — که ته غواړې په عقبی د نامالرۍ خط

له مېزانه که امان غواړې رحمانه — ۱۰۱
تل خو اوله په ډېر عجز په زارۍ خط — ۱۲۲۶



ومه کله دي، پاڅه والي واعظ — هرچې والي واره سنه والي واعظ (٤)
چې دی ماله خپله یاره لرې باسي — نور به څه ورته اومه والي واعظ (٥)
جاروانه زماله یاره ډېر مشکل دي — زیاتي څله دوباره والي واعظ

---

(۱) دابیت د "پ" په دواړو نسخو او د "خ" په لومړی نسخه کی نشته او لومړی مسری یې د پېښور په چاپی دیوانونو کی داسی راغلی ده:
"له کم اصله بی دیانته بی نمازه" او د "خ" په دوهمه نسخه کی دا مسری داسی ده: "له کم اصلو بی دیانتو بی نمازو"
(۲) دا مسری په "ق، ک" چاپ کی داسی ده "غم دترکو درحمان هسې چاپېر دی". (۳) دا غزل د "خ" له دوهمی نسخی نه نقل شو. (٤) دا غزل په مصوره نسخه، د "پ" په دواړو نسخو او د "خ" په لومړی نسخه کی نشته. (٥) دابیت په "پ" چاپ او "ق، ک" چاپ کی داسی راغلی دی. "دی چی ماله خپله یاره لری باسی نور به څه ورته اومه والي واعظ". د "خ" په دوهمه نسخه کی داسی دی: "چی ته ماله خپله یاره لری باسی زه به څه درته وایم والي واعظ".

په خوب و پستو خبرو يې غلط شوې[1]* — داخوارې خوارې تراخه والي واعظ
څوك به څه باور دده په نصيحت كا — چې له يارې جارواته والي واعظ
زه بې عشقه بل يو كار كولی نه شم — ډېر له عشقه تښتېده والي واعظ
اعتبار يې په نرمۍ په گرمۍ مه كړه[2] — داتا وده تا وده ساره والي واعظ

اوريدونكی يې ح ن د ويل نه يم[3] — ۱۰۲
بهتر دادی چې نور نه والي واعظ — ۱۲۳٤

بلبلان كه له گلزاره مومي حظ — مشتاقان له خپله يارې مومي حظ[4]
زه د عشق له تاوده اوره بهره مند يم — سمندر له سره انگاره مومي حظ
د چمن غونچې واذ سحر باد كا — عاشقان خوله ريباره مومي حظ
په طلب يې نفع مند شوم له هرچا نه — تل ښكاري له خپله ښكاره مومي حظ
مجنون بيامونده خوښې په بيابان كې — هر منصور له تېره داره مومي حظ
څوچې ملك د جهان زير و قدم نكا — په خپل ځای به څوك قراره مومي حظ
شگفته چې د غونچې غوندې سحروي — هغه ژمی به بې شماره مومي حظ
په ښندل د سر مې سر د وصل بيامونده — وپاري تل له وپاره مومي حظ

چې نيولی يې خپل ځان د غم واورته — ۱۰۳
ح ن ځكه له انواره مومي حظ — ۱۱٤۳

له تندي چې آتش بل كړه مدام شمع — ځكه بيامونده له خلقو اكرام[5] شمع[6]
په انوار يې منور اهل ابصار شو[7] — لا به كله شي ښكاره د انعام شمع

---

* . د دې مخ د متن پايلكونه دی په (۷۸) مخ كی ولوستل شي .

پتنګان یې لوړ په لوړتر مخ خرخېږي(۱) ځکه(۲) نه کوي په سول کې آرام شمع
وسېږه ته ځان زما په شعله باندې ګړه پتنګ ته په رموز کې کلام شمع(۳)

۱۰۴ ستا مجلس دخاصوخاصو(۴) سرفرازو
۱۲۴۸ د رحمان په څېر نه مومي هرعام شمع

ګله دې پرې کړه له وګړیو رښتیا طمع نور بادشاه یې هرګز مه کړه له چا طمع(۵)
زړې رنګ د آشنایۍ مبدل شي پیدا مه شه د اشنا له اشنا طمع
چې له ښکلیو ددې دهر وفا غواړي دنادان په څېر یې شي د کیمیا طمع
چې مراد غواړي د زړه له مهرویانو ستا په دام کې نیوای شي د عنقا طمع
خدای د عقل جواهر ورته بخښلي له نادانو به څه شان کا د انا طمع
ځکه سپی د فقیر پښې اولمن نیسي چې د خدای له دره پرې کا ګدا طمع

۱۰۵ له دغه رنځ یې طاعون، تبه لهتر دی
۱۲۵۵ ای رحمانه خدای دې مه کړه پیدا طمع

ریوګل د ستاد باغ روشن تر دی تر چراغ روشن تر دی تر چراغ هر یوګل د ستاد باغ(۶)
ستاد باغ و دبن زاغ په نظر زما همای دی په نظر زما همای دی ستاد باغ و دبن زاغ(۷)

---

(۱) د پېښور چاپي دیوانونه او د "پ" لومړی نسخه : پتنګان دی لوړ په لوړ تر مخ خرخېږي". د "خ" دوهمه نسخه : " پتنګان یې لوړ په لوړ تر مخ تیرېږي". (۲) "ق، ک" چاپ کی "هغه نه کوی" راغلی دی. (۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کی نه دی راغلی په عوض یې دا بیت راغلی دی : " لوړ د لوړه جهان واړه که روښانه چې شی بله په هرځای په مقام شمع".
(۴) د "خ" په دوهمه نسخه ، "پ" چاپ او "ق، ک" چاپ کی د "خاصوخاصو" پر ځای "خاص الخاصو" راغلی دی.
(۵) دا غزل د "خ" له دوهمی قلمی نسخی نه نقل شو.
(۶) دا غزل په مصوره نسخه کی نشته (۷) دا بیت په قلمی نسخو کی دا رنګه راغلی دی { "ستاد باغ د بنو زاغ په نظر زما همای دی
په نظر زما همای دی ستاد باغ د بنو زاغ".
او د "پ" چاپ کی د "همای دی" پر ځای "همای ده" راغلی ده.

د (۷۷) مخ د متن مربوط پایلیکونه :-
(۱) دا مصرع د "خ" په دوهمه نسخه کی دا رنګه ده : "په خوږو پستو خبرو خلط مه شه". (۲) دا مصرع په چاپي دیوانونو او "پ" په لومړی نسخه کی دا رنګه ده : " اعتبار یې دښه والي په ګرځه مه کړه". او د "خ" په دوهمه نسخه کی دا رنګه ده : " اعتبار د نرګه په ګرځه مه کړه". (۳) دا مصرع د "خ" په دوهمه نسخه کی دا رنګه ده : " اوریدونی یې رحمان دوبل نه دی".
(۴) دا غزل د "خ" له دوهمی قلمی نسخی نه نقل شو. (۵) په "پ" چاپ کی "آرام" راغلی دی (۶) دا غزل په مصوره نسخه ، د "پ" په دواړو نسخو او د "خ" په لومړی نسخه کی نشته.
(۷) دا مصرع د "خ" په دوهمه نسخه کی دا رنګه ده : " په انوار دې منور اهل ابصار شوه".

د درد منو په دماغ ستاد درخاورې عنبرۍ
دعاشق د تېر داغ په آسمان دعشق آفتاب دی

ستاد درخاورې عنبرۍ د درد منو په دماغ
په آسمان دعشق آفتاب دی دعاشق د تېر داغ (۱)

۱۰۶

دزړه فراغ نه شي نه شي بې خوبانو (۲)
نه شي نه شي بې خوبانو د رحمان دزړه فراغ

۱۲۶۰

ف

ورنګ زیب اوشاهجهان غوندی اشراف
که دې تن په لویې لوی دبه یې خه کړې (۴)
بوالهوس دې عاشقی ته هوس نه کا
دمکې په بزرګۍ کې هیڅ شک نشته (۶)
که په سل دریا به غسل دځان وکا (۸)
کشتۍ هم چې ډېره ډکه شي ډوبیږي
صابرانو صبر پر پښو دحریصان شول

صدقه شه تر منصور غوندی نداف (۳)
مه کړه خدای چې کوه طور شي کوه قاف
دا دروغ دی چې زړه وزشي بوریاباف (۵)
ولې خر به حاجی نشی په طواف (۷)
ګومان مه کړه چې به سپی شي پاک وصاف
د مسرف بلا په ځان شي خپل اسراف (۹)
نه څه عدل شته په ځان کې نه انصاف (۱۰)

---

(۱) دا بیت د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې دی: "دعاشق د تېر په اسمان باندې افتاب دی په اسمان باندې افتاب دی بل دعاشق د تېر داغ".
(۲) د "خ" لومړی نسخه: "درحمان دزړه فراغ به به نه شي بې خوبانو- به به نه شي بې خوبانو درحمان دزړه فراغ".
د "خ" دوهمه نسخه: "درحمان دزړه فراغ نه شي بې خوبانو- نه شي بې خوبانو درحمان دزړه فراغ".
(۳) دا غزل په منصوره نسخه کې نه دی راغلی.
(۴) په چاپي دیوانونو کې: "که یې تن په لویې لوی وی ته به یې خه کړې".
په "پ" چاپ کې داسې ده: "که دې تن په لویې لوی دی ته یې خه کړې".
د "خ" لومړی نسخه: "که دې تن په لویې وه دی به یې خه کړې".
د "خ" دوهمه نسخه: "که دې تن په لویې لوی وی ته به یې خه کړې".
(۵) د "خ" لومړی نسخه: "بوالهوس دې عاشقی ته نظر نه کا دا دروغ چې زور وزشي بوریاباف".
(۶) د "خ" لومړی نسخه کې داسې دی: "دمکې په بزرګۍ کې شک نشته".
(۷) د "پ" لومړی قلمي نسخه: "ولې خر به حاجی نشی په طواف".
(۸) د "پ" په نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې: "که په سل دریا به غسل دځان وکا".
(۹) د "پ" لومړی نسخه: "د مسرف به ځان بلا شه خپل اسراف".
(۱۰) د "پ" لومړی نسخه: "نه څه عدل شته په جاکې نه انصاف".

داخلورمذهبه واړه سره لیو دي (١)
ماوتا پکې پیدا کړا اختلاف

دهمه واړو ملکونو خښتن یو دی (٢)
که دوزخ دی که جنت دی که اعراف

شهیدان نه دي هغه خون فروشان دي (٣)
که (٤) خوني ته خون بهانه کا معاف

دکاذب ژبه په خوله کې وچه ښه ده
لکه توره دلرګیو په غلاف (٥)

ددیوال په سر به خوځغلي ترکومه
دروغژن چې په دروغه کاندي لاف (٦)

آب وتاب دناکره مهر وي خومره
خونظر پرې شوی نه دی دصراف (٧)

ددنیا په دولت ناز مکړه رحمانه
دایموی دی په نظر دموی شګاف (٨)

مدحه او هجوه دحبیب او درقیب کړم (٩)
نه زده بله هجوه بله لاف

١٠٧

١٢٧٥



چې پای بند شو دلیلی په اشتیاق
مجنون واچاوه (١٠) ونوروته طلاق

چې دمیو دمطرب په خوند خبر شو (١١)
فراموش کړه صوفي نفل داشراق

جام دمیودی یا رقص دخوبانو
په هرځای چې وبله جمع شي عشاق (١٢)

په نسیاؤ نظر نه کاندي بې نقده
که څوک حوري ورته ستایي که براق (١٣)

چې حاصله د دلبر یګانګي شي (١٤)
ددویمه خبرې نه کاندي مشتاق

---

(١) په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهمه نسخه کې دا مصرع داسې ده: " داخلورواړه مذهبه سره یو دی ".
(٢) دا مصرع د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: " دا همه واړه ملکونه دخښتن دی. او په درې واړو چاپي دیوانونو کې د "یو دی" پرځای "خدای دی" راغلی دی.
(٣) د "پ" لومړۍ نسخه: " شهیدان نه دی هغه خود فروشان دی ". د "خ" لومړۍ نسخه: " شهیدان نه دي هغه خود خون فروشان دي " او د "خ" دوهمه نسخه: " شهیدان نه دی هغه واړه خون فروشان دی ".
(٤) د "پ" له لومړۍ نسخې نه پرته په نورو ټولو کې د "که" پرځای " چې " راغلی دی.
(٥) په چاپي دیوانونو کې داسې ده: " که توره دلرګی وی په غلاف ". (٦) په "پ" چاپ کې دا مصرع داسې ده: " دروغژن چې په دروغو وهلی لاف ". د "ق، ک" چاپ او د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا مصرع داسې ده: " دروغژن به په دروغو کاندی لاف " (٧) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته دی. بیت لومړۍ مصرع د "پ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: " آب وتاب دناسره مهر وی هومره ". د "پ پ" چاپ کې داسې راغلی ده: " آب وتاب دناکرده مهر وی هومره ". او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده " آب وتاب دناسره مهر دخوی هومره ". (دپایلیک پاڼه په ٨١ مخ کې)

حرکت له ځایه نه کالکه شمع
کړي اورد عشق[1] بلبري په تاراق[2]

هسې خوښ وي ځپل یار په درد غم کې
ته به والي چې بادشاه دی د آفاق

هسې محوه وي د عشق په میوناب کې[3]
چې خبر نه وي په وصل[4] په فراق

لاظاهر په صورت وي په معنی نه وي
لکه کښلی د "لا" لفظ وي په اوراق[5]

څوپې تن په کارو[6] زارکې فنا نه شي
نه جار باسي مخ آسونه د عراق

د عراق آسونه کار په اشارت کا
په کوتل په وهل کار کوي اولاق[7]

چې خدای پوه کړ[8] د بنو په ځنبل پوه شو
چې پوه نه شو نه پوهیږي په شلاق

کړي سرځي کړي مال ځي خدای دې نه کا[9]
د طالب اود مطلوب ترمیان نفاق

د قسمت پاسي[10] په لاس نیولی ناست یم
نه پوهیږم چې به جفت شي که به طاق

ته چې پند والي ناصحه و رواح ته
کاشکي نور کړي هغه کښلی د میثاق[11]

١٠٨ ١٢٩٠

د (٨٠) مخ د پاڼیکې پاته :

(٨) د دې بیت لومړی مصرع د "خ" په لومړنۍ نسخه کې داسې ده : "په دنیا او په دولت نازمد کړه رحمانه"
په "پ" چاپ او "ق، ک" چاپ اود "پ" په دوهمه نسخه کې "موشکاف" راغلی دی .

(٩) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته خو دا بیت په "پ" چاپ او "ق، ک" چاپ کې داسې دی: { "مدح وهجو د حبیب و د رقیب کړم
رحمان نه زده بله هجو نور اوصاف".

د "پ پ" چاپ کې دوهمه مصرع داسې ده : " رحمان نه زده بله هجوه بل اوصاف".
د "خ" په لومړنۍ نسخه کې دا بیت داسې راغلی دی : "مدح خوبه د رقیب و د حبیب کړم رحمان نه زده بل سخن و بل اوصاف".

(١٠) دا مصرع په "ق، ک" چاپ کې داسې ده : "مجنون واچوه لوز و بنځو ته طلاق". د "پ" په نسخو او د "خ" په لومړنۍ نسخه کې "واچول" راغلی دی.

(١١) "پ" چاپ : چې د محبه ود طرب په خوند خبر شه". د "خ" لومړنۍ نسخه : "چې د میو د مطرب له خوند خبر شه".

(١٢) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته د دوهمې مصرع د "وبله" پرځای ، په "ق ، ک" چاپ کې "سره" او د "خ" په لومړنۍ نسخه کې "خپله" راغلی دی.

(١٣) د "خ" په دواړو نسخو کې "نقدو" راغلی دی.

(١٤) د "پ" لومړنۍ نسخه : "چې حاصلې یې د دلبرو یگانگی شی". په "ق ، ک" چاپ او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده : "چې حاصل
یې د دلبر یگانگی شی". د "خ" لومړنۍ نسخه کې داسې ده : "چې حاصل یگانگی شی د دلبرو" او د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې ده:
"چې حاصل یې یکایکی شی د دلبرو".

---

(١) په چاپي دیوانونو کې د "عشق" پرځای "په سر" راغلی دی.

(٢) په "ق، ک" چاپ کې "براق"، د "خ" په دوهمه نسخه کې "په تاراق"، او د "پ" په دوهمه نسخه کې "بلاق" دی.

(٣) د "خ" لومړنۍ او د "پ" په دوهمه نسخه کې دا مصرع داسې ده : "هسې محوه وی د عشق په میوناب".

(٤) د "خ" په لومړنۍ نسخه کې "وی" راغلی دی.

(٥) دا بیت په "پ" چاپ ، "ق ، ک" چاپ او د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې دی : "که ظاهر په صورت وی په معنی نه وی لکه کښلی د "لا" لفظ وی په اوراق".
په همدې ترتیب یې لومړی مصرع په "ق ، ک" چاپ او د "خ" لومړنۍ نسخه او مصوره نسخه کې په پورته ډول راغلی ده . لومړی مصرع یې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده :
"د اظاهر په صورت وی په معنی نه وی". او په "ق، ک" چاپ کې یې دوهمه مصرع داسې راغلی ده : "لکه لیک وی د "لا" لفظ په اوراق".

(٦) د "پ" په دوهمه نسخه کې "کاروبار" راغلی دی. (٧) دا بیت په مصوره نسخه کې نه دی راغلی ، دوهمه مصرع یې په "پ" چاپ او "پ پ" چاپ کې داسې راغلی ده : "په وهل
په کوتل کار وی د ایلاق". په "ق ، ک" چاپ کې داسې ده : "په وهل په ملښکل کار وی د ایلاق". د "خ" په لومړنۍ نسخه کې داسې ده : "په وهلو په
کوتلو وی د الاق". او لنډمړی بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "د عراق کار وه کار په اشارت کا په وهل په کوتل کار وی د علاق".

(٨) دا بیت د "خ" په لومړنۍ نسخه کې نشته په لومړی مصرع کې یې د "پوه کړه" او په چاپي دیوانونو کې "پوه کړل" راغلی دی. (٩) دا مصرع د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې ده :
"که یې سرځی که یې مال دی خدای دې نه کا". په چاپي دیوانونو کې د دې بیت د دوهمې مصرع د "میان" په ځای "منځ" راغلی دی. (١٠) په "پ" چاپ او
"پ ، پ" چاپ کې "پاڅي" او "ق ، ک" چاپ کې "باز ی" راغلی دی. (١١) دا مصرع په مصوره نسخه او د "خ" په لومړنۍ نسخه کې داسې ده : "کاشکي نور کړي هغه شوی د میثاق".

خدایه څه شوه هغه ښکلي ښکلي خلق
په ظاهر په باطن سپین سپیڅلي خلق

هیڅ خندا مې له دې خلقه سره نه شي
ژړوي مې هغه تللي تللي خلق

خبر نه یم چې وکومې خواته لاړ شوه
لیږه نه شي هغه مالیدلي خلق

لکه ځګ چې داوبو په مخکې درومي[1]
هسې درومي په جهان راغلي خلق

دریغه یو ځله خو بیا په جهان راغلی
له جهانه په ارمان وتلي خلق

هزار حیف دی چې په خاورو کې لاړه شي[2]
په چوواو په چندن لړلي خلق

واح هسې ګوښه خوند له خلقه بیاموند
چې هرګز نه دی داخوند موندلي خلق

۱۰۹

۱۲۹۷



ې په زړه مې تور لحد شي ډېل ځاک
بې مزې شي هم مې خوب هم مې خوراک

چې د خوب او د خوراک مزه شي ورکه
نور له مرګه برابر شي هغه ژواک

غلط وایي چې څوک عمر ورته وایي
هغه عمر چې تیریږي په پخساک

نن سپېره په خاورو ډکه خوله جګړیم
چې آخر مې دا خوراک دی دا پوشاک

ځای لري که ځان ژوندی په ځمکه خښ کړم
چې مې پس له مرګه ځای دی یو مغاک

ګویا شوي دي هغه چې شدني دي
زه پخوا تر هلاکت یمه هلاک

زړه چې روغ وي ګریوان کله څیراوه شي
له ګریوانه معلومیږي د زړه چاک

تن وځای وجامه پاک هله په کار دي[3]
چې رومبی شي د چا زړه له غیر وپاک

سړی بوی چې درون بیرون یې یو وي
نه هغه چې بیرون زړوي درون لاک

---

(۱) د "پ" لومړی نسخه ، د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه : " لکه نغر چې داوبو په زمله درومي ". او د "خ" دویمه نسخه : " لکه نغر چې داوبو په مخکې درومي ".
(۲) په " ق " چاپ کې " ګنده " راغلی دی.
(۳) " ق " چاپ او " ق ، ک " چاپ : " تن وځای وجامه کله په کار یږي ". د " خ " لومړی نسخه : " تن وځای جامه هاله د چا په کار وي ".

له سرپه غرض واره سرپیتوب[1] دی — که په سرکې یې طره وي یا مسواك
د دنیا چارې همه واره فاني دي — خوك یو دوه ورځې خوشحال وي خوك غمناك
په ساعت کې خوك خوشحال کا خوك ملال کا — دا خویونه لرغوني دي د افلاك[2]

۱۱۰ — ۱۳۱۰

چې څه کاندي واره خدای دی نور څوك نشته
ځان څه دی څه یې واك دی څه ادراك[3]

ماتوي مې خوله په سوك — خراشي مې زړه په نوك[4]
که ناري وهم که ژاړم — پروا نه لري[5] یو چوك
راشئ کوري منصفانو — د دلبرو دا سلوك
لکه گل په لاس د طفل — زما زړه کا شوك په شوك[6]
د چشمانو په غمزه یې — ژوبل ژوبل یم ټوك ټوك
په توسن د فلك سورشي — د ستارگې دي په سر هوك
هیڅ اثر ورباندې نه کا — د درد منو د درد و د دوك[7]

۱۱۱ — ۱۳۱۸

ای رحمانه چې عاشق شي
ځان دې ژاړي کوك په کوك

زړه مې تراشي د ښو په تېره نوك[8] — ماته وي مې دود پرش غابس واره په سوك
په غمزو د تورو سترگو یم ورژلی[9] — ژوبل ژوبل پروکې یم ټوك ټوك[10]
که ناري وهم که خاوري په سر لوم[11] — نا رواشه که پروا لري یو چوك[12]
لکه گل چې خوك د طفل په لاس ورکا — هسې رنگ دې زما زړه کړ شوك په شوك[13]

---

(۱) په "پ" چاپ او قلمي نسخو کې "سرې ښو" راغلی دی.
(۲) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته په چاپي دیوانونو کې وړی دی: "په ساعت کې خوك خوشال کا خوك غمناك کا داخویونه هیشه دي د افلاك".
(۳) د "خ" دوهمه نسخه: "چې څه کاندي واره خدای کاندي رحمانه سرې څه دی څه یې واك څه یې ادراك".
(٤) دا غزل د "خ" په لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کې نشته.
(۵) د "خ" په دوهمه نسخه کې "لرم" راغلی دی.
(۶) "ق" چاپ او "ق، ك" چاپ: "زما زړه یې کړو شوك په شوك".
(۷) د "خ" په دوهمه نسخه کې "د زړو دوك" راغلی دی.
(۸) دا غزل د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته، او د پېښور "ق، ك" چاپ کې د "نوك" پر ځای "خوك" راغلی دی.
(۹) د "پ" لومړۍ نسخه کې: "په غمزو د تورو سترگو مې ورژلی". او د "خ" په لومړۍ نسخه کې په دې شکل ده: "په غمزو د تورو زلفو مې ورژلی".
(۱۰) دا مصرع په "پ" چاپ کې داسې ده: "ژوبل ژوبل وکې یم ټوك ټوك".
(۱۱) د "پ، پ" چاپ او "ق، ك" چاپ کې "نولم" راغلی دی.
(۱۲) په "پ" نسخو او د "خ" په لومړۍ او مصوره نسخه کې "خوك" راغلی دی.
(۱۳) د "پ" لومړۍ نسخه: "هسې رنگه زما زړه کا شوك په شوك". "ق، ك" چاپ: "هسې رنگه دې زما زړه کړو شوك شوك". د "ق" چاپ: "هسې رنگه دې کړ زړه زما شوك شوك". او د "خ" دوهمه نسخه: "هسې رنگ یې زما زړه کړ شوك په شوك".

که له ډېره درد وغمه مې زړه وچوي — ورته هېڅ دي زما دردو زما دوك[1]
درست جهان يې په غم ډوب کړ سرتر پايه[2] — که گدای دی د دې دهر که ملوك
د آسمان په نيلي سورلکه آفتاب شي — د زرېفتو دستار کېږدي په سرهوك
که انصاف لرئ په زړه کې منصفانو[3] — راشئ گورئ د دلبر و د اسلوك
زه به ولې د خپل يار ثنا نه وايم — چې سحر سحر ناري وهي تل غوك[4]
چې عاشق د دلبرانو په جمال شي[5]
اې رحمانه خان دې ژاړي کوك په کوك

١١٢ — ١٣٢٨

چې علاج کولی نه شي د قسمت خوك — ترو به څه وايي وچاته نصيحت خوك[6]
هغه چارې چې موقوفې په تقدير دي[7] — کړی يې نه شي په محنت په مشقت خوك
که نظر کا وقضا وهم رضا ته[8] — په هېچا باندې دې نه کا ملامت خوك[9]
د مطلوب جفا وفا واړه هنر دی — چې پوهېږي د حکماؤ د حکمت خوك[10]
غم په خان دچا پېر زودی باري څه کا؟[11] — چې د خدای په کروکې نه لري قدرت خوك[12]
د ابليس وريا ضت نه دې نظر کا — څه غرور کا په طاعت په رياضت خوك[13]
علت لا رشي عادت نه ځي له سړي نه — خدای دې نه کا ندې په باه چار عادت خوك[14]
زه رحمان د بېلتانه سيلاب يم وړی
که لاس را کا ندې د خدای په محبت خوك

١١٣ — ١٣٢٩

---

(١) دا بيت د "خ" په لومړی نسخه کی نشته . د "خ" په دوهمه نسخه کی يې لومړی مصرع داسی ده : "که له ډېره درد وغمه مې زړه چوي ." په مصوره نسخه کی داسی ده : " که له ډېره غمه مې زړه چوي".

(٢) دا مصرع د "خ" په لومړی نسخه کی داسی ده : " درست جهان يې سره ډوب کړ سرتر پايه ". او د "خ" په دوهمه نسخه کی داسی ده : " درست جهان په غم کې ډوب دی سرتر پايه ".

(٣) دا مصرع په "ق" چاپ کی داسی ده : " که انصاف لرئ په زړه د منصفانو".

(٤) دا بيت د "پ" په لومړی نسخه او د "خ" په لومړی نسخه او مصوره نسخه کی نشته . په "ق ،ک" چاپ کی يې دوهمه مصرع داسی ده : "چې سحر سحر ناري وهي هم غوك ".

(٥) دا بيت په چاپي ديوانونو کی داسی راغلی دی : " چې مين د دلبرانو په جمال شوي اې رحمانه خان وژاړه کوك په کوك". او هم يې د وروستۍ مصرع د "خ" په لومړی نسخه کی داسی ده : " اې رحمانه خان وژاړه کوك په کوك".

(٦) دا غزل د "پ" په دوهمه نسخه کی نشته او د دوهمه مصرع يې په "ق ،ک" چاپ کی داسی راغلی ده : " ترو به څه وايي وماته نصيحت خوك".

(٧) دا مصرع په "ق ،ک" چاپ او "ق" چاپ کی داسی ده : " هغه چارې چې موقوفه په تقدير وي ".

(٨) د "پ" لومړی نسخه : " که نظر کا وقضا و رضا ته ". " ق ،ک" چاپ او "ق" چاپ : " که نظر کا هم قضا او هم رضا ته ".

(٩) مصوره نسخه او د "خ" دواړه نسخې ، "ق ،ک" او "ق" چاپ : " په هېچا باندې به نه کا ملامت خوك".

(١٠) په ټولو چاپي ديوانونو ، مصوره نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کی دا مصرع داسی ده : "څه پوهېږي د حکماؤ په حکمت خوك".

(١١) دا مصرع په چاپي ديوانونو کی داسی ده : " غم د چا په خان پېر زودی باري څه کا". په مصوره نسخه او د "خ" په لومړی نسخه کی داسی ده : " غم د چا په خان پېر زودی ولې څه کا" او د "خ" په دوهمه نسخه کی داسی ده : " غم پر خان د چا پېر زو ندی باري څه کا".

(١٢) د "پ پ" چاپ او "ق ،ک" چاپ کی د " قدرت " پر ځای " طاقت " راغلی دی .

(پاته په (٨٥) مخ کې)

په ښايست زما د يار نه دي خبر څوك — که خبر شي پري به نه ږدي دغه در څوك (۱)

د دنيا چاري همه واړه فاني دي — نرنا حقه خاوري لوني په خپل سر څوك (۲)

چې قبول شي په درگاه د هر ويانو (۳) — دهغه (۴) په خبر به نه وي بختور څوك

که زما د يار په مخ د چا نظر شي — وبه نه کا وبل مخ وته نظر څوك (۵)

که هر څو دلبران ډېر دي (۶) په جهان کې — بل به نه وي زما يار غوندې دلبر څوك

د ديدن طاقت يې هيچا څخه نشته — وآفتاب ته کتی نه شي برابر څوك

عاشقي يوه پايه ده عجايبه — دغه کار کولی نه شي هم هر هر څوك (۷)

له هجرانه بله سخته بلا نشته — خدای دې نه کاندي زخمي په دانبتر څوك (۸)

مخ به بل خواته هرگز ونه جارباسي — چې شي ستا په خمار وستر گوابتر څوك

وبه نه رسيږي تا ته په آسانه — ستا په غم چې خاوري نه کاندي په سر څوك

ارمانونه به کوي زار زار به ژاړي (۹) — چې حاصله گونته نه کا په ششدر څوك

هومره نوم د عاشقی وربانديې مه ږده — چې د يار په غم کې نه شي قلندر څوك

هغه نه کاندي نظر وسيم و زرته — چې په لوردخپل آشنا کاندي نظر څوك

په گلونو د گلزار به ميل نه کاندي (۱۰) — چې خوبونه کا د يار په خاکستر څوك

ل (۸۴) مخ پاته :

(۱۳) په "پ" چاپ ، "پ پ" چاپ ، "ق" چاپ ، مصوره نسخه او د "خ" لومړی نسخه کی داسی دی : "چې غرور کا په طاعت په ریاضت څوك"
په "ق ، ك" چاپ کی د "چې" پرځای "که" راغلی دی او د "خ" په دواړو نسخو کی د "ریاضت" پرځای "عبادت" راغلی دی.

(۱۴) د "پ" لومړی نسخه : "علت لا رشي عادت نه ځی له سره يه خدای دې نه کا په بده چاره عادت څوك".
"ق" چاپ : "خدای دې نه کاندي په بدچاره عادت څوك".
په مصوره نسخه کی دوهم مصرع داسی ده : "خدای دې نه کاندي په بده چاره عادت څوك".
د "خ" په دواړو نسخو کی لومړی بيت داسی دی : "علت لا رشي له سره نه عادت نه ځی ـ خدای دې نه کاندي په بدو چارو عادت څوك".

---

(۱) داغزل د "پ" په دواړو نسخو کی نشته.

(۲) د "پ" لومړی نسخه : "نرنا حق خاوري څه لوني په سر څوك".
په "ق ، ك" چاپ کی داسی ده : "نه نا حقه خاوري لوني په خپل سر څوك".
په "ق" چاپ کی : "د دنيا چاري فاني واړه فانی دی نرنا حقه خاوري لوني په خپل سر څوك".
مصوره نسخه : "پرنا حقه خاوري لوني په خپل سر څوك"
د "خ" دواړو نسخو : "نرو نا حقه خاوري لوني پر سر څوك".

(۳) دا مصرع د "خ" په لومړی نسخه کی داسی ده : "چې قبول شي په درگاه د خوبرويانو".

(۴) د "خ" په دواړو نسخو او مصوره نسخه کی د "هغه" پرځای "هغوی" راغلی دی.

(۵) دا مصرع په چاپی ديوانونو کی داسی ده : "وبه نه کاندی بل خوا وته نظر څوك".

(۶) د "خ" په لومړی نسخه کی د "دی" پرځای "شی" راغلی دی.

(۷) په قلمی نسخو کی د "هر هر څوك" پرځای "هر څوك هر څوك" راغلی دی.

(۸) دا بيت او په دې بيت پسې شپږ نور بيتونه په موجوده قلمی نسخو کی نشته.

(۹) دا مصرع په "ق" چاپ کی داسی ده : "ارمانونه به کوی په زار زار ژاړي".

(۱۰) دا بيت په "ق ، ك" چاپ کی داسی دی : "په گلونو د گلزار يې مينه نه وی".

بې رهبره یون دعشق په لارې ګران دی — دلته بویه چې پیدا کاندي رهبر څوك[1]

چې بیلتون په سترګو ویني آشنایي کا[2]

۱۱۴ — ۱۳۵۲

د ملګرو په خبر به نه وي بې هنر څوك

چې مشغول نه وي د ترکو په جمال څوك — نور به څه کا په جهان کې اشتغال څوك[3]

دبل خط په عبارت به څه نظر کا — چې نظر کا ندي دستا په خط وخال څوك[4]

نور خوبان دستا ترمخ پورې دي هسې[5] — لکه بل کا د آفتاب په مخ مثال څوك[6]

چې عنقا شو اهل دل په دا دنیا کې — ترو به څه وایي وچا وته احوال څوك[7]

که عاشق په عشق کې ژاړي هیڅ ګرمنه دی — په داهسې درد کې نه لري مجال څوك[8]

چې یې قیل وقال له یاره سره وشي[9] — له نورچا سره به څه[10] کا قیل وقال څوك

چې په اصل کې خدای نه دی پیدا کړی — ترو به څه غواړي دستا دمخ مثال څوك[11]

سرخرویي دهر سړي په حیګر خون ده — نه هغه چې په سر اچوي سور شال څوك[12]

مخ رونګی دی دعاشق[13] په خپلو اوښو — په دانه شي چې یې مږي په رومال څوك

---

(۱) دابیت د "خ" په لومړی نسخه کی داسی دی: " بې رهبره یون دعشق په لار کی ګران دی دلته بویه چې پیدا کاندي رهبر څوك".
لومړی مسری یې د "پ" په لومړی نسخه کی داسی ده: " بې رهبره یون په لار دهر چا ګران دی". خو مصوره نسخه کی د (ی) پرځای "کښې" راغلی ده
او هم دامسری د "خ" په دوهمه نسخه کی داسی ده: " بې رهبره رسیده ویار ته ګران دی".

(۲) دابیت د "خ" په لومړی نسخه کی داسی دی: "چې بیلتون وینې په سترګو آشنایي کا درحمان په خبر بل نه وی رهبر څوك".
لومړی مسری یې د "خ" په دوهمه نسخه کی داسی ده: "چې رقیب په سترګو ویني آشنایي کا".

(۳) داغزل د "پ" په دوهمه نسخه کی نشته.

(٤) دابیت په "پ" چاپ، "پ، پ" چاپ او "ق، ک" چاپ کی داسی راغلی دی: "دبل خط په عبارت به نظر نه کا چې نظر وکاندي ستا په خط وخال څوك".
او لومړی مسری یې په "ق" چاپ کی داسی ده: "بیا بل خط وعبارت ته نظر نه کا" او دامسری د "خ" په دوهمه نسخه کی داسی ده:
" دبل خط په عبارت به نظر نه کا".

(۵) دامسری په چاپي دیوانونو کی داسی ده: " نور خوبان دی ستا ترمخه پورې هسې".
د "خ" لومړی نسخه: " نور خوبان دستا ترمخه پورې هیڅ دی".

(۶) دامسری په "ق، ک" چاپ کی داسی ده: " لکه بل کا د آفتاب مخ کی مثال څوك".

(۷) دامسری په "ق، ک" چاپ کی داسی ده: " نور به څه وایي وچا ته دزړه حال څوك".
په "ق" چاپ کی داسی ده: " ترو به څه وایي وچا ته د زړه حال څوك". ګر په لومړی مسری کی د "چې" پرځای "که" راغلی دی.
او د "خ" په دوهمه نسخه کی په لومړی مسری کی د "عنقا شو" پرځای "عنقا شی" راغلی دی.

(۸) دوې بیت لومړی مسری په "ق، ک" چاپ کی داسی: "چې په اصل کې ژاړي هیڅ ګرمنه دی".
لومړی مسری یې د "خ" په دوهمه نسخه کی داسی راغلی ده: " که عاشق په عاشقی کې ژړا کاندي هیڅ ګرمنه دی".
په مصوره نسخه کی یې، په دوهمه مسری کی د "په داهسی" پرځای " بیا داهسې" راغلی دی.

(۹) په چاپي دیوانونو کی " نه وی" راغلی دی.

(۱۰) په مصوره نسخه کی د "څه" پرځای "نه" راغلی دی.

(۱۱) دابیت په "ق، ک" چاپ او مصوره نسخه کی نشته.

(۱۲) دامسری د "خ" په لومړی نسخه کی داسی ده: " پیدا نه شي چې په سر کاندی سور شال څوك".
د "پ" لومړی نسخه " نه هغه چې په سر کاندی سور شال څوك".
په "پ" چاپ او د "خ" په دوهمه نسخه کی د " کاندی" پرځای " واچوی" راغلی دی.

(۱۳) د "پ" په لومړی نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کی د "عاشق" پرځای "دهر چا" راغلی دی.

ددنیا چاري فاني دي مرد هغه دی[1] چې نظر کا په حرام او په حلال څوك
هرچې کر کا ذوربشو غنم غواړي له خاطره دې بېرون کا دغه[2] خیال څوك
سړی بویه چې په نیك عمل نازېږي[3] نه چې ناز کا ددنیا په ملك ومال څوك

۱۱۵ — ۱۳۶۵

که یې شعر درمان مومند ترغوږ شي[4]
غوږ به نه باسي په شعر دخوشحال څوك

که په بخت کم بختان نه واخسته دل څوك په حضور به له تا ولې بیلیدل څوك[5]
ودیدن وته دې هرچا رضا کېږي ولې حکم بې له تا نه لري بل څوك
که یې لاس دخدای په چارو رسیدلی بې مقصوده به یو دمرنه سهیدل څوك
دایو سړی ما داستا شکرانه کړی بس ناحق مې وېروي په سرودل څوك
داهمه شومیت زما دی چې را رسي گنه ته اودچا زړونه بدول څوك
که په مینه دلیلی مبتلا نه وای خوار مجنون په دې بیدیا غرونه ځنگل څوك

۱۱۶ — ۱۳۷۲

مین هره بلا کاندي که با ورکړي
گنه زه عبدالرحمن هومره ویل څوك



غره واغونده ملا وتره په جنگ دغه پسه[6] معرکه لوه دنگ
وبې ننگ وته دننگ خبرې مدکره[7] پاځان وگنه په خپلو وینو رنگ

---

(۱) دامسری د "خ" په لومړی نسخه کی داسی ده : "ددنیا چاري همه داره فاني دي".
(۲) په مصوره نسخه کی د "دغه" پرځای "هغه" راغلی دی.
(۳) په "ق،ك" چاپ او "ق" چاپ کی د "نازېږی" پرځای "یادېږی" راغلی دی.
(٤) دامسری د "خ" په لومړی نسخه کی داسی ده : "که یې شعر در همند درحمان ترغوږ شي". په "ق،ك" چاپ کی د "تر" پرځای "په" راغلی دی.
(٥) داغزل د "خ" له لیکمی قلمی نسخه څخه نقل شو.
(٦) د "خ" په لومړی نسخه کی "معرکې" راغلی ده او د "خ" په دوهمه نسخه کی "موکې" راغلی دی.
(۷) دامسری په مصوره نسخه کی داسی ده : "وبې رنگ وته درنگ خبره مدکره".

تنګیالی چې یوځل مخ کا په یولوري[1] — نور هیڅ نه وینې کوهی وي که ګرنګ[2]
هیڅ له ځانه له جهانه خبر نه وي — چې چراغ په نظر کښې وځي د پتنګ[3]
د بلبلو چمن وته پرواز وي — داور پښتي وآتش وته غورزنګ[4]
که جهان وبې هنر وته فراخ وي[5] — یو لحد دی هنرمند ولره تنګ
هغه ښهر جوهري لره زندان دی[6] — چې یکسان وي پکې لعل ومردار سنګ
آسمان ځمکه دواړه ژامي[7] دهنګ دي — څه[8] به زیست کا څوك په خوله کې دهنګ
په ښادۍ یې هیڅ ښاد مه شه که دانا یې — غم ښادي دي[9] دري دهر څنګ په څنګ
که وصال دهغو تللیو وصال مومي[10] — تېر به نه کا په داد ورکې یو درنګ

۱۱۱ ۱۳۸۲



پښتی مي په سر دی ستا د مخ د مینې ګل — بیا مې تور لېمه دي ستا د زلفو تور سنبل[11]
ته چې آینه په لاس کې واخلې حیرانېږې[12] — زه له کومه راوړم صبوري او تحمل[13]

(۱) دامسرۍ په قلمي نسخو کې راځي ده : " تنګیالی چې یو خلمخ په هغه لور کا ".
(۲) دامسرۍ د "مخ" په لومړۍ نسخه کې راځي ده : " نور یې هیڅ نه وي که کوهی وي که ګرنګ ".
(۳) دابیت په مصوره نسخه کې نشته.
(٤) دامسرۍ په چاپي دیوانونو کې راځي ده : " سمندر کا مدام اور وته آهنګ ". د "خ" په دوهمه نسخه کې راځي ده : " داور پرستو وآتش وته غورځنګ ". او دابیت په مصوره نسخه کې نشته ، په "پ" "چاپ" کې د " وته " پرځای " وه ته " راغلی دی.
(۵) دابیت په مصوره نسخه کې نشته . د " پ " په لومړۍ نسخه کې : " که جهان وبې هنر وته فراخ دی ". په " ق ، ک " چاپ کې د " که " پرځای " د ا " راغلی دی او دامسرۍ د " خ " په دوهمه نسخه کې راځي ده : که جهان مې بې هنر وته فراخ دی ".
(۶) په چاپي دیوانونو او د "خ" لومړۍ نسخه کې " وي " راغلی دی. (۷) په " ق " چاپ کې " حامنی " او د "خ" په لومړۍ نسخه کې " چا مې " راغلی دی.
(۸) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "څه" پرځای "څو" راغلی ده. (۹) د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې " د ه " راغلی ده.
(۱۰) دامسرۍ په " ق ، ک " چاپ کې راځي ده : " که جهان دهغې ښکلو وصال موي ". په "ق" چاپ کې هم د "هغو" پرځای "هغې" راغلی دی.
(۱۱) دا غزل د " پ " په دوهمه نسخه کې نشته ، د " پ " په لومړۍ نسخه کې د "لېمه دی" پرځای " لېمه مې " او په مصوره نسخه کې " لېمه شو " راغلی دی.
(۱۲) دامسرۍ په مصوره نسخه کې راځي ده : " ته چې آئینه واخلې وې ته حیرانېږې ". او د "خ" په لومړۍ نسخه کې راځي ده : " ته چې آئینې واخلې حال ګورې حیرانېږې ".
(۱۳) دابیت په " ق ، ک " چاپ کې راځي ده : " ته چې آئینه په لاس کې واخلې حیرانېږم زه له کومه راپیدا کړم صبوری او تحمل ". او دوهمه مسرۍ یې په " ق " چاپ کې راځي ده : " زه له کومه طاقت راوړم صبوری او تحمل ".

گرځي په چمن کې منګل ډکه په ګلونو[1] — خدای زده چې ګلونه وړي یا زړونه په منګل

هم مې مښک لېدلی هم عنبر دی په جهان کې — شاباش شاباش شاباش ستا د زلفو په کاکل[2]

نه به ستا د مخ په څېر ګلشن وي چا لېدلی — نه به وي زما په څېر آهونه د بلبل[3]

۱۱۸

هسې تغافل کاستا په جور و په جفا کې
خلق[4] حیرانیږي د جان په تغافل

۱۳۸۸

هیڅ مې نه کړه په دا عمر کې حاصل — هسې پاتې شوم مردود و ناقابل[5]

مالا بوی هم د وصال موندلی نه دی[6] — تش په توره مې[7] خدای نوم کړ د واصل

هسې ډوب یم د ګناه په ګردابونو[8] — چې په سترګو مې ونه لیده ساحل

له وطنه مې په هر زمان[9] وباسي — رقیبان یې راپسې کړل محاصل[10]

که بلاده که جفاده که وفاده — دا همه واره په ما کړه خدای نازل[11]

د دنیا په پلیتۍ مې ځان پلیت کړ[12] — حیف دی دا چې نه عالم شوم نه عامل[13]

۱۱۹

توره زیره مې شوه سپینه زه حیران یم
چې جان لا نه بالغ شوم نه عاقل[14]

۱۳۹۵

---

(۱) دامړی په "پ" چاپ ، "پ پ" چاپ او "ق،ک" چاپ کی داسی ده : "ګرځی په چمن کی منګل ډکه وړی دګلو".
په "ق" چاپ کی داسی ده : " ګرځی په چمن کې منګل ډکې وړی دګلو".
د "خ" په لومړی نسخه کی داسی ده:" ګرځی په چمن کې. منګل ډکه د ګلونو".
په مصوره نسخه کی د " دګلونو " پر ځای " له ګلونو " راغلی دی او د "خ" په دوهم نسخه کی د "منګل" پر ځای "لمن" راغلی ده.

(۲) دابیت په "پ" نسخه کی داسی دی : "هم مې مشک لېدلی دی هم عنبر په جهان کې شاباش شاباش شاباش ستا په زلفو په کاکل".
په "ق،ک" چاپ کی " په دا زلفو په کاکل " راغلی دی او لومړی مصرع یې په "ق" چاپ کی داسی ده :
" هم مشک دی لیدی شی هم عنبر دی په جهان کې".

(۳) دابیت په "ق" چاپ کی داسی دی : " نه به ستا د مخ په څېر بل ګلشن وي چا لېدلی نه به وي زما په څېر هم آهونه د بلبل".
په "ق،ک" چاپ کی دوهمه مصرع داسی ده : " نه زما په څېر به وي آهونه د بلبل "
په "پ پ" چاپ کی د " آهونه " پر ځای "لاهونه" راغلی دی.

(٤) په "پ" نسخه ، "ق،ک" چاپ او "خ" دوهم نسخه او دریم نسخه کی "چې" ترمخه ده .

(۵) دا غزل د "خ" په لومړی نسخه او د "پ" په دوهم نسخه کی نشته.

(۶) دامړی په " ق،ک" چاپ کی داسی ده : "مالا بوی ستا د وصال موندلی نه دی". په "ق" چاپ کی داسی ده : " مالا بوی د وصال موندلی نه وه ".

(۷) په مصوره نسخه کی د "مې " پر ځای "یې" راغلی ده .

(۸) دامړی په تولو چاپی دیوانونو او مصوره نسخه کی داسی ده : "هسې ډوب یم ګناه په دریا بونو".
او د "خ" په دوهم نسخه کی داسی ده : " هسې ډوب ګناهونو په ګرداب یم".

(۹) په "ق،ک" او "ق" چاپ کی د " زمان " پر ځای " ساعت " راغلی دی.

(۱۰) دامړی د "پ" په نسخو او د "خ" په لومړی ، دوهم ، او دریم نسخه کی داسی ده : " راپسې کړه حاکمانو مواصل". او په مصوره نسخه کی هم د "مواصل" پر ځای "محاصل" راغلی دی.

(۱۱) دابیت په مصوره نسخه کی داسی دی: " که بلاده که جفاده که فنا دونه دا همه کړه خدای په ما باندې نازل".
په "ق،ک" چاپ کی یې دوهمه مصرع داسی ده " دا همه کړه خدای په ما باندې نازل".

(۱۲) د "پ" لومړی نسخه کی دامړی داسی ده: "د دنیا په پلیتۍ ځان مې پلیت کړ".

(۱۳) په چاپی دیوانونو کی د "عامل" پر ځای "جاهل" راغلی دی.

(۱٤) د "خ" په دوهم نسخه کی دامړی داسی ده : " چې زه ځوان لا نه بالغ شوم نه عاقل".

مه غوږ باسه د نااهلو[1] قیل وقال — په کار نه دی قیل وقال د بد سګال

یا به فخر په خپل اهل وپه نسب کا — یا به فخر کا په آل او په عیال[2]

یا به ذکر د لذت ود زینت کا — یا به فکر کا د مال ود منال[3]

یا به هسې پوچ ګوې کاندې آغاز — چې مضمون یې نه مردار وي نه حلال

د دانا او د نادان صحبت دی هسې — لکه ګډې وبله لعل وکوتی لال

لکه لعل وکوتی لال چې وبله[4] ګډې شي — یا صحبت[5] شي د عیسی او د دجال

هغه[6] عمر چې تېرېږي بې هم جنسه — تر وبه څه وي د هغه عمر احوال

د دنیا چارې[7] فاني دي مرد هغه دی — چې خبر شي په ثواب او په وبال[8]

اباسینه[9] لاڅه مجال لري په تله کې — د دنیا د چارو هېڅ نه وي[10] مجال

د دنیا چارې په مثل خواب[11] وخیال دي — څوك به څه کا اعتماد په خواب وخیال

لکه ملك ومال په خوب کې ورڅرګند شي — خو چې ویښ شي نه یې ملك وي نه یې مال[12]

لکه ځګ چې داوبو په سر لېده شي — که یې واخلي هېڅ ورنه شي په چنګال[13]

لکه دود چې غرونه غرونه څرګندېږي — تار په تار شي په یوه[14] نري شمال

لکه یخ چې د سرو په زور شي جمع[15] — هېڅ یې نه وي د آفتاب په مخ مجال

په یوه ساعت باران بیا شین آسمان شي — لکه ابر د پسرلی د پشه کال[16]

په یوه ساعت یې ساز بیایې ویران[17] کا — خاورې خټې[18] دي په لاس کې د کلال

---

(۱) دا غزل د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته، په مصوره نسخه، "پ پ" چاپ، او "ق" چاپ کې "نااهل" راغلی دی.

(۲) دا بیت په مصوره نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته، دوهمه مسرې یې په چاپي دیوانونو کې داسې ده: "یا به فکر کا د مال ود منال".

(۳) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته، د "پ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې د "لذت" پر ځای "ولدیت" او مصوره نسخه کې "دولت" راغلی دی.

(٤) د "خ" لومړۍ نسخه کې "چې" نه دی راغلی او "ق" چاپ کې د "وبله" پر ځای "سره" راغلی دی.

(۵) په قلمي نسخو کې "قریب" راغلی دی.

(۶) په "ق" چاپ کې د "هغه" پر ځای "هسې" راغلی دی.

(۷) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "د دنیا چارې همه فاني دي مرد هغه دی" راغلی دی.

(۸) په مصوره نسخه او د "خ" لومړۍ نسخه کې "چې خبر شي په حرام وپه حلال" راغلی دی.

(۹) په چاپي نسخو او د "خ" لومړۍ نسخه کې "آب دسینه" راغلی دی. (۱۰) د "خ" په دواړو نسخو، مصوره نسخه او "ق، ک" چاپ کې "نشته" راغلی دی.

(۱۱) د "خ" لومړۍ نسخه کې "خوب" راغلی دی. (۱۲) دا مسرې په "ق، ک" چاپ کې داسې ده: "که یې واخلي هېڅ ورنه شي په چنګال".

(۱۳) دا بیت په "ق، ک" چاپ کې نشته او په مصوره نسخه کې د "سر" پر ځای "مخ" راغلی دی.

(۱٤) په "ق" او "ق، ک" چاپ کې "نري باد" راغلی دی.

(۱۵) "ق، ک" چاپ: "لکه یخ چې دساره په زور دی جمع". "ق" چاپ: "لکه یخ چې دساره په زور شي جمع". د "خ" لومړۍ نسخه: "لکه یخ چې د سرو دی په زور شي جمع". او د "خ" دوهمه نسخه کې داسې ده: "لکه یخ چې د سرو او بو شي جمع".

(۱۶) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته، لومړۍ مسرې یې د "خ" لومړۍ نسخه کې داسې ده: "په یوه ساعت باران بیایې شین دی". او دوهمه مسرې یې د "پ" په نسخو کې داسې ده: "لکه ابر د پسرلی د پشه کال".

(۱۷) د "پ" په نسخو او د "خ" په لومړۍ نسخه کې "ورانه" راغلی دی.

(۱۸) په "ق، ک"، "ق" چاپ، او د "خ" لومړۍ نسخه کې "خښتې" راغلی دی.

د مجاز په معشوقو[1] کې وفا نشته — ماهزار ځله وښکلی دی دا فال
اعتمادي په ښادی او په غم مه کړه — نه یې هجر په قرار دی[2] نه وصال
ګاهې تورکودی په مخ باندې راکیښې شي — ګاهې راکیښې شي په مخ باندې رومال[3]
لکه مالګه چې څوک کېږدي په اوبو کې — زه هم هسې سرزده یم په مثال[4]
چې د مرګ وتاخت وباخت وته نظر کړم — صورت وینم د مېړي په څېر پایمال
خراب دل مې هغې غواړي بلا دا شوه — چې کهې را معلومېږي په هر کال[5]
که وصال مې دیار بیا موندهاله سیالیم[6] — ګنه نه یم زه طالح دهیچا سیال[7]

١٢٠ — ١٤١٨

بېلتانه دې هسې خوار کړ زما دل — چې له ځانه یې وېزار کړ زما دل
لاس وپښې د خلقو نېسې د عاغواړي — مینې هسې منت بار کړ زما دل
عاشقۍ هومره داغونه دي پرې ایښي — چې تمام یې لاله زار کړ زما دل
بې سببه چا ازار موندلی نه دی[8] — تا په څه سبب ازار کړ زما دل
چې د زلفو په کمند سره دې راکیښې — په بلا دې ګرفتار کړ زما دل
ستا چشمانو پکې هسې مقام ونیو — چې له غېرویې[9] وېزار کړ زما دل
زه طالح خو منت بار د عاشقۍ یم — چې مین یې په دلدار کړ زما دل

١٢١ — ١٤٢٥

چې له نازه پوشیده لرې چشمان خپل — څه به وینې مقتولان او مظلومان خپل[10]
چې کنځل راته په قهرقهر کاندې — دالا وګنې په ما باندې احسان خپل

---

(١) د "پ پ" چاپ او د "خ" لومړۍ نسخې کې د "معشوقو" پر ځای "معشوقه" راغلی ده.
(٢) د "خ" لومړۍ نسخې کې "وې" راغلی دی.
(٣) دا بیت د "خ" په دوهمې نسخې کې داسې دی: "ګاهې تورکودی په مخ باندې راکاږې ګاهې راکاږې په مخ باندې رومال". په "ق" چاپ کې د "راکیښې شي" پر ځای "راښکې شي" راغلی دی.
(٤) دا بیت په مصورې نسخې او د "خ" لومړۍ نسخې کې داسې راغلی دی: "لکه غونډ د مالګو کېږدي په اوبو کې زه هم هسې سرزده شوم په مثال". او دوهمې مړۍ یې د "خ" په دوهمې نسخې کې داسې ده: "زه هم هسې سره نه دود شم په مثال".
(٥) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نه دی راغلی. لومړۍ مړۍ یې د "خ" په لومړۍ نسخې کې داسې ده: "خراب زړه مې غواړي بلا دا شوه". او د "خ" په دوهمې نسخې کې دا مړۍ داسې ده: "خراب زړه مې زهېرېږي بلا دا شوه".
(٦) دا مړۍ د "پ" په نسخې کې داسې ده: "که وصال دیار بیا موندهاله سیالیم". او د "خ" په دوهمې نسخې کې داسې ده: "که وصال زه دیار موندهاله سیالیم".
(٧) دا مړۍ په مصورې نسخې او د "خ" لومړۍ نسخې کې داسې ده: "ګنه او س خو رحمان نه یم د چا سیال".
(٨) دا بیت په مصورې نسخې کې نشته، په لوړو قلمي نسخې کې دا مړۍ داسې ده: "بې سبب انان اخسته بند نه دی".
(٩) د "پ" په نسخې او د "خ" په دوهمې نسخې کې "دی" راغلی دی.
(١٠) دا غزل د "پ" په لومړۍ نسخې کې نشته.

گفتگو په اشارت کاندي له نازه — کله اسم دچا اخلي په زبان خپل
په گریبان باندې چې تېك وهي غوټه — عاشق کېباسي لاسونه په گریوان خپل
خریدلې لې له حیرته بې شعور شي — چې دحسن رخت خرگند کا په دکان خپل
چې خپل مخ په آینه کې ورخرگند شي — خوږ پخپله سر فروکاندي په خان خپل
چې هر څوك بې عاشقۍ وته هوس کا — گویا لوبې کا په دین او په ایمان خپل
هېڅ صرفه دچا په سر و په مال نه کا — مالیدلي دي پخپله مطلوبان[1] خپل
مجنون ملك دعاشقۍ هاله خپل کړو[2] — چې په اور باندې بې وسوخان ومان خپل
دامقام دی د هغو رنگه عالمو — چې هېڅ نه وینې په سترگو سود و زیان خپل[3]
آفرین دعاشقانو په همت شه — چې ورتېر ترسر و مال وینې جانان خپل[4]

۱۲۲ — ۱۴۳۷

هېڅ د سترگو غړو لوخوندې نه وي
چې ماتم[1] په سترگو نه وینې جانان خپل

تورلیمه مې دفراق په ژړا سپین شول — دوباره دزړه په وینو کې رنگین شول
ماوې زړه به لا دیدن کړم د یارانو — خبر نه یم چې یاران په کوچ تعیین شول
چا پتنگ غوندې ځان واچوه واورته — څوك ژوندي لکه بلبل په آتشین شول
ومرده وته دمرگ خواري شوې پېښې — اوژوندي په زندگۍ کې اندوهگین شول
دقضا سپاهیانو هسې لاس په تاخت کړ — چې پایمال هزار خسرو هزار شیرین شول
چې قدم یې په آسمان اېښودله نازه — هغه هسې نا زپرور زېر زمین شول
چې مدام یې په سنجاب دپاسه خوب کړ — اوس په ځمکه بې بستره بې بالین شول

۱۲۳ — ۱۴۴۵

دماتم[1] خاطر به ولې پریشان نه وي
چې پریشان ورڅخه جمع همنشین شول

---

۱) په "ق، ک" چاپ او د "خ" لومړۍ نسخې کې "مظلومان" او د "خ" په دوهمه نسخې کې "مقتولان" راغلی دی.
۲) د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې "بیامونده" راغلی دی.
۳) ۴) دا دوه بیتونه په چاپي دیوانونو کې نشته.



ب

له لیمه کې مې مدام — گرځي عکس دگلفام[1]
تور دستر گومې گلگون شوه — په ارزو دگل اندام[2]
بې دستر گوله خونابه — نه باده لرم نه جام
په طلب د دلارام کې — ما وند لیده ارام
زنخدان یې خدای کوهي کړ — ورپرېوځم[3] په هر گام
که یې خال غلام د مخ دی — زه غلام یم د غلام
که په عشق کې ناکام د پرې دی — دانا کام دی زما کام
خوښ یم زه په عاشقۍ کې — که نیک نام یم که بد نام
په یارۍ کې مې قبول دی — ملامت د خاص و عام[4]
د دعا په عوض غواړم — د خپل یار د خولې د شنام
ترینه کنځلو به یې زاړکړم — د غه خپل دعا سلام
تلخ گفتار یې راته خوږ دی — ترکشمشو تر بادام
هم هغه مې مسیحا دی — چې یې راکاندي پیغام[5]
مخ دیار ماه تمام دی — رحمان ولیده تمام

۱۲۴ ۱۴۵۹

---

(۱) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "گل اندام" راغلی دی.
(۲) "ق" چاپ: "توري ستر گې مې گلگون شوې په ازار د گل اندام". "ق، ک" چاپ: "توري ستر گې مې گلگون شوی په فراق د گل اندام".
(۳) په چاپي دیوانونو کې "ښوئیږم" راغلی دی.
(٤) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته
(۵) په چاپي دیوانونو کې "سلام" راغلی دی.

که مې ونمانځې ساقي په یوه جام
تر داهورته به نورخه وي احترام[1]

بس دی مالره[2] دا فیض د شرابو
چې پرې پرېږدم دا دلق ارزق فام

میخواري که په عالم کې بدنامي ده
ما تر پښودی لاندې کړی ننګ ونام

په میزان یوسر لعل وي بل سر کانی
مساوي ده عاشقي په خاص وعام

عاشقان[3] د سپین رخسار د تور وزلفو
څه پروا لري د کفر د اسلام

په مجنون باندې قلم[4] راغلی نه دی
که حلال یې په مخ ورشي که حرام[5]

حلال عشق دی په رحمان باندې راغلی[6]
په حلالو کې مدام وي احترام

١٢٥

١٤٦٦

ومحمود وته نظر کوه مدام[7]
چې غلام کړو خپلې مینې د غلام

د نیکانو مدعا خو نیک عمل دی
ساعت نه ګوري که صبح وي که شام

چې د زړه حضور یې نه وي په نمانځه کې
په کار نه دی مقتدي وي که امام[8]

چې مجنون غوندې په مینه کې صادق وي
رحمان وایي په هغه باندې سلام[9]

هم نغمې کاندې هم رقص کاهم خاندي
د رحمان په شعر ترکې د باکرام

١٢٦

١٤٧١

د هجران له دېره غمه ولې نه مرم
له دې هسې رنګ ماتمه ولې نه مرم

چې یو یار له بله یاره جدا کېږي
د دې د ورله[10] ستمه ولې نه مرم

چې هر هر سحر زما په ژړا خاندي
له دې هسې صبحدمه ولې نه مرم[11]

یار چې یار په ستر ګونه وینې خو مرګ دی
تر وزه بې خپله صنمه ولې نه مرم

چې په لږه ګرمۍ شاکاندي وګل ته
له دې بې وفا شبنمه ولې نه مرم[12]

---

(١) دامړی د "پ" په لومړی نسخه کی داسی ده: " تر دا پهورته به نورخه وي احترام".
(٢) په ټولو چاپي دیوانونو کی "سنه دی مالره" راغلی دی.
(٣) په مصوره نسخه کی "عاشقي" راغلی ده.
(٤) د "خ" په دوهمې قلمي نسخه کی "کلنګ" راغلی دی.
(٥) په ټولو قلمي نسخو کی دامړی داسی ده: "که حلال په مخ کې ورشي که حرام".
(٦) دا بیت په مصوره نسخه او د "خ" په دواړو نسخو کی نشته لومړی مړی یې په نورو قلمي نسخو کی داسی راغلی ده: "حلال عشق دی په رحمان باندې راغلی".
(٧) دامړی په قلمي نسخو کی داسی ده: "د محمود وسلطنت وته نظر کړه" او دا غزل د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.
(٨) دامړی د "پ" په نسخو او د "خ" په لومړی نسخه کی داسی ده: "په کار نه دی که مقتدی دی که امام".
(٩) دا بیت په مصوره نسخه کی نشته او د "پ" چاپ او په لومړی نسخه کی داسی ده: "رحمان والم پرهغو باندې سلام".
(١٠) په ټولو چاپي دیوانونو کی د "دور" پرځای "دهر" راغلی دی او همدې بیت لومړی مړی په مصوره نسخه کی داسی ده: "چې یو یار له بله یاره لرې باسي".
(١١) دا بیت په "ق، ک" چاپ کی نشته، او لومړی مړی یې په نورو چاپي دیوانونو کی داسی ده: "چې په هر سحر زما په ژړا خاندی".
(١٢) په مصوره نسخه او د "خ" لومړی نسخه کی دامړی داسی ده: "له دې هسې بې وفا شبنم ولې نه مرم".

چې د مرګ خواري په خوالري رحمانه[1]

١٢٧ — ١٤٧٧

لا پخوا تر دغه دمه ولې نه مرم
که په سر دهغه یار له لاسه سنګ خورم
خدای دې نه کا چې به بلې خواته څنګ خورم
عاشقي او نام ونګ دي وبله لرې
څو به عمر واړه غم د نام ونګ خورم
خدای وما وته شیرین تر نیشکر کړه[2]
که د یار له لاسه غشي د خدنګ خورم
د آشنا د بېلتانه په کار و بار[3] کې
همېشه په تندی توره د فرنګ خورم
نوکري د معشوقو کوم په عشق کې
هېڅې نه د بهلول نه د اورنګ خورم[4]
شین لوګی مې په سر چتر د ونه تخت دی
ګرد غبار د خپل دولت لکه ملنګ خورم
هم په داچې له خودی شمه بې خوده
د هجران په غم کې لېې لېې بنګ خورم
لکه څوک چې نعمتونه د دنیا خوري
زه د یار د جفا زهر په دار نګ خورم[5]
واړه زهر شي زما ترستوني درو مي
بې له یاره که همه لاچې لونګ خورم

زه رحمان به خو ژوندی په جهان ګرځم[6]

١٢٨ — ١٤٨٧

چې په بله لمبه څرخ لکه پتنګ خورم
سر مې په کار نه دی چې بې ستا ترسر قربان کړم
زړه راڅخه نشته چې بې ستا په پښو د پرېشان کړم[7]
کار د عاشقۍ اول د پېر راته آسان و
اوس هسې حېران یم چې دا کار به په څه شان کړم
د پېر و خلکو لا بې ستا د مینې دی وهلې
هېڅوک هسې مه شه لکه زه چې بې په ځان کړم[8]
نه لري مرهم د عاشق[9] زخم بې تسلیمه
داخه هسې درد نه دی چې بې دفع په درمان کړم
نه کا هېڅ د بېمن په د بېمنانو هسې چارې
ستا په عاشقۍ کې لکه زه چې بې حېران کړم[10]
ولې کافر نه وي مسلمان به شي که خدای کا
هرچا ته چې حسن و لطافت د ستا بیان کړم[11]

---

(١) په "ق ه ک" چاپ کې دا مصرع داسې ده: "چې د مرګ خواري په سر لري رحمانه".
(٢) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته، په چاپي دیوانونو کې دا مصرع داسې ده: "خدای وما وته شیرین کړ تر شکرو".
(٣) په قلمي نسخو کې "کاروزار" راغلی دی.
(٤) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته، په "پ" چاپ کې دا مصرع داسې ده: "هېڅه د بهلول نه د اورنګ خورم".
(٥) چاپي دیوانونه: "زه د یار د کوڅې خاورې په دار نګ خورم".
(٦) په چاپي دیوانونو کې "پایم" راغلی دی.
(٧) دا غزل په چاپي دیوانونو او د "خ" لومړۍ نسخه، مصوره نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(٨) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې دی: "د پېر و خلکو لا بې ستا د مینې دی وهلې هېڅوک حېران مه شه لکه زه چې بې حېران کړم".
(٩) د "خ" په دوهمه نسخه کې "د عاشقانو" راغلی دی.
(١٠) دا مصرع د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "ستا په عشق کې لکه زه چې بې په ځان کړم".
(١١) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې دی: "ولې کافر نه وي مسلمان شي که بې خدای کا وهرچا وته چې حسن لطافت د ستا بیان کړم".

١٢٩ — ١٤٩٤

وړاندې وې که ورستو آخر هسې معلومېږي
ستاله بېرحمۍ[1] به زه رحمان لاس په ګرېوان کړم

زه داهسې دیوانه او مجنون چاکړم
له رواجه له رسومه بېرون چاکړم[2]

نه پوهېږم چې داچارې په ماخوك کا[3]
لېونی د خپل نګاه په افسون چاکړم

کومې سترګې کومې بانه کومه غمزه ده[4]
ډوب شهید غوندې په خاك وپه خون چاکړم

توان توفیق خود فتنو راتخه نه و[5]
په فتنو د تورو سترګو مفتون چاکړم

١٣٠ — ١٤٩٩

هیڅ له خپله ځانه خبر نه یم[6]
چې داهسې رنګ زبون و محزون چاکړم

صبح وشام مې لاس نیولی دی دعا کړم
خواست[7] له خدایه ستا د مهر د وفا کړم

هیڅ دروغ رښتیا مې نه زده که باور کړې
ستا د پاره هم دروغ کړم هم رښتیا کړم

واړه ته یې خندول که ژړول کړې
زه پخپله نه خندا کړم نه ژړا کړم[8]

که ته نه یې راته وایه باري څوك دی
زه داهسې رنګ سر تور پښې بیل چاکړم[9]

خوب خندا د بېلتانه په حمکه نشته
څه آرام[10] به په دا دشت کربلا کړم

هره ورځ چې مې تېرېږي ستا په غم کې
زه په هره ورځ پوهېږم چې غزا کړم

یو وپښته مې د صورت کوږ شوی نه دی
هسې رنګ دې پټ پنځم په زړه ادا کړم[11]

زړه که یودی ماخوتالره درکړی[12]
مګر نور ولره نور زړونه پیدا کړم

١٣١ — ١٥٠٨

چې مې واغوست سر وپای دعا شقې
زه رحمان دې سر وپای بې سر وپا کړم

---

(١) د "خ" په دوهمه نسخه کې "بحرامی" راغلی دی.
(٢) دا غزل په مصوره نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(٣) په "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې دا مصرع داسې ده: "نه پوهېږم چې داهسې چارې خوك کا".
(٤) دا مصرع د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "که مې سترګې که بانهو که مې غمزې دي".
(٥) دا مصرع د "پ" په نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "توان توفیق دفتنو هیڅ راتخه نشته". په "ق" چاپ کې داسې ده:- "توان توفیق چې دفتنو راتخه نه وو". او د "خ" دوهمه نسخه کې داسې ده: "توان توفیق دفتنو هیڅ راتخه نه وو".
(٦) د "خ" لومړۍ نسخه: "زه رحمان له خپله ځانه خبر نه یم چې داهسې رنګ محزون وزبون چاکړم". په "ق، ک" چاپ کې د "ځانه" پر ځای "یاره" راغلی دی. او د "پ" په لومړۍ نسخه کې دوهمه مصرع داسې ده: "چې داهسې زبون ومحزون چاکړم".
(٧) په "ق، ک" چاپ کې "سوال" راغلی دی.
(٨) دا بیت د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې نشته او لومړۍ مصرع یې د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(٩) چاپي دیوانونه: "زه داهسې لېونی او مجنون چاکړم".
(١٠) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "څه بلا" راغلی دی.
(١١) د "خ" په لومړۍ نسخه او نیمګړې نسخه کې "تا راج کړم" راغلی دی.
(١٢) د "پ" نسخې او د "خ" دوهمه نسخه: "زه که یو دی خو وتا دی ماور کړی".

دستا درد به په هزار درمان ورنه کړم
دانسته به دغه سود په زیان ورنه کړم

که څوك راکاندي دنیا وعقبی دواړه
عاشقي به دې په این و آن ورنه کړم

څومې تیغ په پهلو نه دی بلو سپدلی[1]
ستا پهلو به ورقیب آسان ورنه کړم

که یو ځله مې ستا زلفې په لاس کښیوځي
یو وینته به دې په درست جهان ورنه کړم[2]

که مې چیرې لاس دستا په بوسه برشو
دانعمت به دجنت په خوان ورنه کړم[3]

څو ونه وینم ستا سترګې که یې خدای کا
عزرائیل لره به هومره ځان ورنه کړم

معشوقې دعاشقانو دین ایمان دی
زه به چالره خپل دین ایمان ورنه کړم

ستا تر زلفو پورې نورې زلفې څه دې[4]
په خاشاك به دچمن ریحان ورنه کړم

۱۳۲ — ۱۵۱۷

پرانځ دستا دلبو مې حرام دی
څو د خپلو وینو جام تاوان ورنه کړم

دا یو څرنګه ژوندون دی نه پوهیږم[5]
خوب دی خیال دی که افسون دی نه پوهیږم

جام دلبوئې[6] چې ځان په وینو مومم
تر و زلال که جګر خون دی نه پوهیږم

د پتنګ او د بلبل ترمیان حیران یم
مخ دې اوردی که ګلګون دی نه پوهیږم

په شانه سره دې تار د زلفو بیل شو
که غوڅ شوی مې نارون دی نه پوهیږم[7]

عشق په هسې رنګ مقام باندې قایم کړم
که وصال دی که بیلتون دی نه پوهیږم

د خپل زړه وعلامت وته حیران یم
چې موسی دی که قارون دی نه پوهیږم

۱۳۳ — ۱۵۲٤

پرانځ خپرې زړه تر کنګو کړه[8]
خدای زړه عشق دی که طاعون دی نه پوهیږم

بیا دې نوې شراب څښلې دې پوهیږم
په رخسار دی ګل کړلې دې پوهیږم

که هزار ځله لاس سره کړې په نکریزو
تا زما په وینو وللې دې پوهیږم

---

(۱) په چاپي دیوانونو او نور د قلمي نسخو کی "لګیدلی" راغلی دی.
(۲) دا بیت په "پ" چاپ کی نشته.
(۳) دا بیت د "خ" په نسخو کی نشته.
(٤) "ق، ک" چاپ : "ستا تر زلفو د خوبانو زلفې څه دی."
"ق" چاپ : "ستا تر زلفو پورې زلفې د جهان څه دی."
(۵) د "خ" لومړی نسخه : "دا یو څه دغم ژوندون دی نه پوهیږم".
(۶) په چاپي دیوانونو او نور د قلمي نسخو کی د "لبو" پر ځای "میو" راغلی دی.
(۷) دا بیت او ورپسې بیت د "خ" په لومړی نسخه کی نشته.
(۸) په "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کی د "کنګو" پر ځای "زعفران" راغلی دی.

معرکه زما د مرګ نه ده نوخه ده — رقیبان چې تا بللې دي پوهېږم

چې رقیب وتاغوښتو وبله وروره — ما هغه ساعت ژړلي دي پوهېږم (۱)

څه حاجت دی چې دی خط په ملالولم — چې زما په باب دې کښلي دي پوهېږم

ته خپل جور وجفا څه وایې وما ته — ما همه واړه لېدلي دي پوهېږم (۲)

رقیبان ځکه تېری په زما ځان کاندي (۳) — تا په خواپورې نښولي دي پوهېږم

۱۳۴ — ۱۵۳۱

چې له مرګه بې پروایې په هر دم — دغه هسې غم دې هېر دی په کوم غم (٤)

نور همه واړه غمونه به دې هېر شي — که یو ځل د رباندې راشي (۵) دا ماتم

چې زخمي یې سبا نه مومي په بیع — مفت مونده شي نن ساعت هغه مرهم

د مرهمو تیاري ورلره بویه — چې لا نه یې دا جل په تیغ کرم

چې دې تن له سرایه درومي توښه واخله — تر دا سرای په هورته سرای نشته محکم (٦)

د دې لارې تله څه هسې آسان نه دي — مشکلات دي په هر دم په هر قدم

که دې وېره شي له ظلمه له ستمه — نه هم مه کړه په هېچا باندې ستم

که امید لرې له رحمه له کرمه — ستا هم بویه په هرچا باندې کرم

له هرچا سره چې کړې هغه به مومې (۷) — دهېڅ تخم میوه نه درومي برهم

اجر واړه د عمل په اندازه وي — دغه د واړه سره یو دي هم درهم (۸)

اوس د ستا رضا نیکي کړې که بدي کړې — نېک وبد دې واړه کښوی شي په قلم

خدای د رزق په زېرمه مه هېروه کلک شه — ترسړي د سړي رزق دی مقدم

که ګنې چې په حرص سره څه زیات شي — زیات به نه شي دیوې ستنې ترسیم

که هزار رنګه تالاش او تردد کړې (۹) — د قسمت شوي به نه کړې زیات و کم

---

(۱) دا بیت د "خ" لومړی او مصوره نسخه کې نشته.

(۲) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(۳) د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه: "رقیبان به څه تېری په رحمان کاندي".

(٤) دا غزل د "پ" په لومړی نسخه کې نشته.

(۵) په قلمي نسخو کې "درشي" راغلی دی.

(٦) په قلمي نسخو کې "دوهم" راغلی دی.

(۷) د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه: "په هرچا باندې چې کړې هغه به مومې".

(۸) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(۹) د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه: "که هزار ځله تالاش او تدبیر وکړې".

ډېرهوا وحرص مه کوه خدای یاد کړه — دی کافي دی د عرب او د عجم
په تا فرض عبادت دخپل ځښتن دی — نه لښکري خزانې ملک وحشم
ټوک روټی یوه شړی درلره بس ده — نورهمه واړه اسراف دی مسلم
له خوراکه غرض قوت او لا یموت دی — نه چې غوښې غوړې وریژې یا غنم
له پوشاکه غرض خپسر پټول دي — نه اطلس وسقلات تاج وعَلَم
دلحد دتاریکی علاج به څه کړي — چې ته دلته کې وېرېږې په تورتم
که حرص درباندې زورشي مرګ رایاد کړه — دا علاج دی دغه رنځ لره محکم (۱)
غفلت هیڅ مناسب نه دی دسپین ږیرو — خوب روانه دی په وخت دصبحدم
مارچې سوړې لره ورشي ګوره سم شي — ته دګور په غاړه راغلې نه شوې سم (۲)
خم قامت ددنیا کارکړې عمر واړه — او په دوه رکعته نفلونه شوې خم
ځان پخوا ترهغه وژاړه که مرد یې — چې په تاباندې ژړا کا نور عالم
نور عالم چې په تا ژاړي انصاف وکړه — بې انصافه ته په څه یې خوش خرم
که زه نه وایم ته خودسترګې رڼې کړه (۳) — کوردې خورشه ته چارپای یې که آدم
اې رحمانه لکه ته چې په خدای ګرم یې — ۱۳۵ — ۱۵۵۹
بل به نه وي په جهان کې هسې ګرم

خو به صبر پیجفا د یار کوم — خو به موم دلمروخ ته ګرزوم
عاشقي او صبوري سره دروح دي (٤) — زه دالاف په دروغ خرنګه وهم
ته وماته نصیحت مه کړه ناصحه — زه داخپل تخم خپل ځان لره کرم
ما خوزده چې مینه اوردی خدای مین کرم — دانسته خپسر واورته اچوم
سر رشته مې خدای همه دیار په لاس کړه (۵) — په هرلور چې مې راکاږي پسې ځم
دآشنا دمینې لاس زما ګریوان دی — زه په دا کارې هیڅ عذر نه لرم (۶)
عاشقانو (۷) باندې حق دمعشوقو دی — حق به ولې په باطلو بدلوم

---

(۱) دا بیت د "پ پ" چاپ کې نشته.
(۲) قلمي نسخې : " ته دګور په غاړه ګرزې نه شوې سم".
(۳) قلمي نسخې : " که زه نه وایم ته خپله سترګې وکړه".
(٤) د "خ" لومړی نسخه : "عاشقي او صبوری ده سره لرې".
(۵) چاپي دیوانونه : " سورشته مې خدای د یار په لاس کې ورکړه".
(۶) قلمي نسخې : " زه په دا معامله کې عذر نه لرم"
(۷) د "پ" په لومړی نسخه کې " په عاشقانو " او د "خ" په لومړی نسخه کې " په عاشقو" راغلی دی.

ما چې مینه دیار فرضه په خپل ځان کړه — تر وله فرض و غاړه څرنګ غروم

داخه ژوند(۱) دی چې یار نه وینم په ستر ګو
زه ماخ ان په جهان ستر ګې غروم

۱۳۶ — ۱۵۶۸

په یوه غمزه د ستر ګو یې فنا شوم — سر تر پایه بې بنیاده بې بقا شوم
ما د یار له غمه د م وهلی نه دی — که مې دم وهلی نه دی هم رسوا شوم(۲)
بنه چې تن مې توی تومنه شو په عشق کې — هاله څاڅکی د شبنم وم اوس دریا شوم(۳)
زه د یار و مخ ته ګورم یار و ما ته — چې داخل په تماشا شوم تماشا شوم
په هجران کې یې ګدا وم کند په غاړه — په وصال کې یې پادشاه د امرا شوم(٤)
په خپل کلي په خپل کور کې مې خربت دی — په صدف کې یتیم د غوندې یکتا شوم(۵)
مستورې راشخه یو وړه مستو ستر ګو — رحمان ځکه پوګړي کې رسوا شوم(۶)

۱۳۷ — ۱۵۷۶

بادشاهي د ګدایانو په دعا شي(۷)
زه ماخ ان ځکه بادشاه شوم چې ګدا شوم

ترهغه حده په هورته بدسړی شوم(۸) — چې د درست جهان په ستر ګو کې اغزی شوم
دنیا واړه ځبله زیست او روزګار کاندي — خو یوزه په دغه بار کې کوږ لر ګی شوم(۹)
تمامې جهان لمن راشخه نغاړي — سپین زړګی مې اغوستی تور کوری شوم
هیڅ حاجت د هنر نشته و نصیب ته — غزا وشوه که مومند که داوزی شوم

---

(۱) په قلمي نسخو کی " داخه ژوند ون دی " راغلی دی.
(۲) دابیت د " خ " په لومړی نسخه کی نشته.
(۳) دابیت د " خ " په لومړی نسخه کی داسی دی: " بنه چې تن مې د ړی وړی شه په عشق کې هاله څاڅکی د شبنم وه اوس دریا شوم".
د " خ " دوهمه نسخه: " بنه چې تن مې د تو تومنه شو په عشق کې هاله څاڅکی د شبنم وم اوس ګیاه شوم".
او په " ق ماک " چاپ کی یې دوهمه مصرع داسی ده: " اول څاڅکی د شبنم وم اوس دریا شوم".
قلمي نسخې: " په وصال کې بیا خان وامراد شوم".
(٤) دابیت په چاپي دیوانونو کی نشته: او دوهمه مصرع یې د " خ " په لومړی نسخه کی داسی ده: " په صدف کی یتیم د غوندې یکتا شوم ".
(۵) دابیت په چاپي دیوانونو او د " خ " په دوهمه نسخه کی نشته.
(۶) دابیت د " خ " په لومړی نسخه کی نشته او څلورم نومړی غزل په مصوره نسخه او د " پ " په دوهمه نسخه کی نشته.
(۷) دا غزل په مصوره نسخه او د " پ " په دوهمه نسخه کی نشته. لومړی مصرع یې د " خ " په لومړی نسخه کی داسی ده: " ترهغه حده بیکاره بدسړی شوم ". او د " خ " په دوهمه نسخه کی دا مصرع داسی ده: " ترهغه حده پوری بدسړی شوم".
(۸) دابیت د " خ " په لومړی نسخه کی نشته لومړی مصرع یې د " پ " په نسخه کی داسی ده: " دا دنیا واړه وبله زیست و روزګار کاندی".
د پیښور په دوه نورو چاپي دیوانونو کی داسی ده: " دنیا واړه سره زیست و روزګار کاندي ".
د " خ " په دوهمه نسخه کی داسی ده:
" عالم واړه سره زیست و روزګار کاندی ".

دنوح زوی هم دیونیك نیکه نمسی ؤ[1] گنه زه هم دیونیك نیکه نمسی شوم
کل وسواس له احتیاطه پیدا کیږي زه له ډیرې هوښیارۍ نه لیونی شوم[2]

۱۳۸ ۱۵۸۳

اوس عطا د آدمیت راباندې وشوه
چې رحمان د هغه یار د کوڅې سپی شوم[3]

په ښه خوی له بدخواهانو بې پروایم په نرمۍ لکه اوبه د اورسزایم
وهرچاته په خپل شکل څرګندیږم آینه غوندې بې رویه بې ریایم
د رازعمر مې حاصل شوله راستۍ لکه سرو مدام سبزه تازه پایم[4]
هم په داسپینو جامو چې معلومیږم لکه ابر هم ګوهریم هم دریایم
قناعت مې ترخرقې لاندې اطلس دی پټ د درست جهان بادشاه ظاهر ګدایم
د غونچې په څېر په سل ژبو خاموش یم لکه بوی هسې په پټه خوله ګویایم
په ژړا مې د خپل یار دیدن حاصل کړ د شبنم په څېر له ګل سره یکتایم

۱۳۹ ۱۵۹۱

که چالار د عاشقۍ وې[5] ورکه کړې
زه رحمان د ګمراهانو رهنمایم

زه له دې جهانه[6] تلونی په شتابیم لکه پاڼه د خزان پسنه[7] په رکابیم
که هزار آبادانې کړم په جهان کې غرض دا چې نهایت خانه خرابیم[8]

---

(۱) دامسری په چاپي دیوانونو او د "خ" لومړی او دوهمه نسخه کې داسې ده: "دنوح زوی هم دنیك نیکه نمسی ؤ".
(۲) قلمي نسخې: "زه له ډیرې هوښیارۍ لیونی شوم".
(۳) "ق، ك" چاپ: "زه رحمان د هغې یار د کوڅې سپی شوم". د "خ" دوهمه نسخه: "چې زه رحمان".
(٤) دا دوه بیتونه د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.
(۵) په "پ" چاپ او "پ پ" چاپ کې د "وې" پرځای "ده" راغلی دی.
(٦) په چاپي دیوانونو کې د "جهان" پرځای "دنیا" راغلی دی.
(۷) "ق" چاپ: "پا".
(۸) د دې بیت لومړی مسری په "پ" چاپ او "ق" چاپ کې داسې ده: "که هزار آبادی کړم په جهان کې".
د "پ پ" چاپ: "که هزاری ابادی کړم په جهان کې".
"ق، ك" چاپ: "که هزار آبادی وکړم په جهان کې".
دوهمه مسری یې د "ق، ك" چاپ او "ق" چاپ کې داسې دی: "غرض دا چې عاقبت خانه خراب یم".

که مې اصل د حیاتو له او بودی — بیا خوداچې داوبو په سر حباب یم

دا جهان قصاب خانه کړه خدای وماته[1] — پای بسته ولاړ یم په غولي د قصاب یم

چې د خدای له معرفته خبر نه شوم[2] — معلومیږم چې یا دیوم یا د واب یم

که صورت مې دسړي دی زه یې څه کړم[3] — په معنی کې د چارپایو په حساب یم

لکه بت چې په رنګو ستر گو اوده وي — هسې زه په بیداری کې وړی خواب یم[4]

په طاعت په عبادت مې زړه یخ نه کړ — همیشه د معصیت په اور کباب یم

سر د خدای وعبادت ته ایښوی[5] نه شم — مدام ډوب د گناهونو په گرداب[6] یم

چې وخپلو گناهونو ته نظر کړم — سزاوار د هر عذاب[7] وهر عتاب یم

لکه څوك چې په خړ سوړ وي مخ یې تور وي — زه هم هسې په خپل خدای[8] پوری بې آب یم

غزا وشوه که گفتار لرم[9] په ژبه — زه چې کردار نه لرم کذاب یم

۱۴۰ ۱۶۰۳

---

(۱) مصوره نسخه : "دا جهان خدای قصاب خانه کړو ماته".

(۲) "ق، ک" چاپ: "چې خبر نه شوم د خدای له معرفته".
په دوهمه مصرع کې په مصوري نسخې کې د "یا د دیم" پرځای "یودد" راغلی دی.

(۳) د "پ" په نسخو کې دا مصرع داسې ده : "که صورت یې دسړی دی به یې څه کړي".
د "خ" په دوهمه نسخه کې : "که صورت مې دسړی دی په داخه شو".

(۴) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.

(۵) د "پ" نسخې : "وښکی نه شم".
د "خ" لومړی نسخه : "ایښبی نه شم".
دوهمه نسخه : "نیوای نه شم".

(۶) په چاپي دیوانونو کې "دریاب" راغلی دی.

(۷) د "پ پ" چاپ : "دهر سزا".

(۸) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته ، په "پ" چاپ ، "پ، پ" چاپ او "ق" چاپ کې دا مصرع داسې ده :
"زه هم هسې ترخبنتن پوری بې آب یم".
"ق، ک" چاپ : "ترمولا پوری بې آب یم".
د "پ" لومړی نسخه : "زه هم هسې ترخپل یار پوری بې آب یم".
دوهمه نسخه کې : "زه هم هسې تر الله پوری بې آب یم".

(۹) په چاپي دیوانونو او د "خ" لومړی نسخه کې "کوم" راغلی دی.

که هزار ځله نژدې دزړه په یادیم — زه چې یار په ستر ګونه وینم ناښادیم (۱)

که یار سل ځله وعدې د وصال وکا — زه له ډېرې تلوسې بې اعتقادیم

په جفا وې وفا یې لا رغه نه شي — پُرحذر د ناز پرور په کړی دادیم (۲)

د بې نیاز وې نیاز څه امید دکړو دی — زه پرون سلطان خسرو وم نن فرهادیم (۳)

که دیار له لاسه اور راباندې بل وي — لکه شمع مستقیم په خپل استادیم

بې مینه قراري راباندې زوګ دی — شپه او ورځ په حرکت کې لکه بادیم

که همه عمر مې یار په غېږ کې ناست وي — زه له غمه به د هجر په فریادیم

یو زمان مې د زړه مراد موندلی نه دی — پیدا کړی خدای په اصل کې نامرادیم

د وصال په یوه کال مګر برپای شم — د هفتې په هجر هسې بې بنیادیم

چې بې نوره نتیجه نشته بې غمه — حق حیران د عاشقۍ په دادادیم (۴)

په وصال کې مې د هجر طمعه نه وه — اوس حیران متحیر په دافسادیم

بې له عشقه چې مې پرې شو د پوزې (۵) — ګنه نور له جملګي قیده آزادیم

۱۴۱

که مې پیري که مې پلوري چاره نشته
زه د ماڅ د ښایسته وخانه زادیم

۱۶۱۶

که مې څوک پر فقیري شمېري (۶) فقیریم — که مې څوک پر امیري شمېري امیریم

د دلبر وصد قې له ره یې غوارم — هسې نه چې په دنیا پسې زهیریم

د خرقې خدمت (۷) مشکل دی او که نه وي — زه هر دم د دغې چارې ته خپریم

---

(۱) دا غزل د "پ" په لومړی نسخه او مصوره نسخه کې نشته.
(۲) د "خ" په لومړی او دوهمه نسخه کې "قرارداد" راغلی دی.
(۳) د "خ" لومړی نسخه: "زه همه عمر له هجره په فریادیم".
(۴) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۵) په "ق" چاپ کې "د غاړې" راغلی دی.
(۶) په مصوره نسخه کې "بولی" راغلی دی او دا غزل د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۷) د "خ" په لومړی او دوهمه نسخه او مصوره نسخه کې "حرمت" راغلی دی.

هم پند اخلم هم پند وایم وهرچا ته — زه د ځینو مرید د ځینو پیریم[1]

په هجران کې دیار خیال راسره مل دی[2] — په زندان کې له یوسف سره اسیریم

په خندا کې مې ژړا ده لکه شمع — له عالمه پټ پنهم[3] د ځان په ویریم

آزادي تر دا په هورته نوره څه ده[4] — چې بندي[5] د یار د زلفو په ځنځیریم

خوشحالي تر دا په هورته بله کومه — چې مدام په خپل اشنا پسې زهیریم[6]

چې همیش په غوږ ناري د هجران اورم — رحمان ځکه د خپل یار وخ ته ځیریم[7]

خوشحالا او دولتا مې غلامان دی[8]

زه د رحمان په پښتو ژبه[9] عالمگیریم

١٤٢ — ١٦٢٦

زه دیار په درد وغم کې غرقاب خوښیم — په دا درد کې بې طاقت او بې تاب خوښیم

که دوبیږم په اوبه یا په اور سوځم — د سر وشوند و په آتش و په آب خوښیم

چې دیار د خال و خط نښې پکې وي — زور زند سر په مطالعه د کتاب خوښیم

تر دا پوچه گفتگو یه چې یې اورم[10] — په نغمه په ترانه د رباب خوښیم

دریا ترنا قبوله عبا د ته — د ساقي په میو مست و خراب خوښیم

---

(١) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کی داسی راغلی دی:

"هم پند اخلم هم پند واخلم وهرچا ته — د ځینو مرید د ځینو مرشد د ځینو پیریم".

دوهمه مړی یې د "پ" په لومړی نسخه کی داسی ده: " د ځینو مرید د ځینو پیریم".

(٢) دا مړی په "ق" چاپ کی داسی ده: " په هجران کې د وصال خیال راسره وي". او په نورو چاپی دیوانونو کی داسی ده:

" په هجران کې خیال دیار راسره مل وي".

(٣) په "ق، ک" چاپ کې "پنهان" او د "خ" په دوهمه نسخه کی "تنها" راغلی دی.

لومړی بیت په مصوره نسخه کې نشته.

(٤) په چاپی دیوانونو کی "بله نشته" او د "خ" په لومړی نسخه کی "نوره څه دی" راغلی دی. او هم دا بیت په مصوره نسخه کی نشته.

(٥) د "خ" په لومړی نسخه کی "بنده" راغلی دی.

(٦) دا بیت په چاپی دیوانونو او د "خ" لومړی نسخه کی نشته، لومړی مړی یې د "خ" په دوهمه نسخه کی داسی ده "خوشالی تر دا پهورته د نور کومه".

او په مصوره نسخه کی دا بیت داسی دی: " خوشالی تر دا په هورته نوره څه ده چې مدام په خپل اشنا پسې دلګیریم".

(٧) دا بیت په قلمی نسخو کی نشته لومړی مړی یې په "ق" چاپ کی داسی ده " همیشه په غوږ ناري د هجران اورم"

(٨) دا مړی د "خ" په دوهمه نسخه کی داسی ده: " یو خوشال سل ختک نور مې غلامان دي".

(٩) د "پ" په لومړی نسخه او مصوره نسخه کی "شعر" راغلی دی. (١٠) د "خ" دوهمه نسخه " تر دا نور وگفتگو یو چې یې اورم". نور مړی بیت او وروسته بیت د "خ" په نیمګړی نسخه کی نشته.

چې نه علم نه تسبیح نه تلاوت وي — له دې هسې بیدارۍ نه په خواب خوښ یم
خاموشي که هر څو لویه مرتبه ده — زه له یار سره په سوال وخواب خوښ یم[1]
د طوبیٰ دونې سیورۍ مې خوښې نه دي — ستا د مخ په لمبو سوی کباب خوښ یم

۱۴۳ — ۱۶۳۵

دیار د پرې غم خوارۍ یم عاجز کړی
رحمان ځکه په خوردن د شراب خوښ یم

زه د یار په درد وغم کې شادمان یم — لکه ګل د پرپشانۍ په وخت خندان یم
ته زما وبې کسۍ ته نظر مه کړه — خدای ساتلی لکه ګنج په بیابان یم
لکه ونه د ځنګل په میوه پوره — په ویرانه ویرانۍ کې آبادان یم
یو وینته مې د صورت بې عشقه نه دی — څوکیدار په هر نفس د خپل کاروان یم[2]
د وصال مرغه[3] د اوښکو د انو راکړ — لکه د رو لعل په غاړه د خوبان یم
د کاملې عقیدې له برکته — د دوهمې په غاړه ناست شاه جهان یم
زه وښایي مې په طلب کې شوه حاصله — شپه او ورځ لکه آفتاب په لار روان یم
د آشنا د اوږدو زلفو صفت څوکړم — پلې شریه لویه لار د هندوستان یم[4]
بې مینه مې هیڅ حال د صورت نشته[5] — لکه بې مال ومتاعه تش دوکان یم
د هوس بلبل وپساه راباندې نه کا — د افلاس په کبل کې د خزان یم
ویارانو سوته خاک ترتلو لاندې — د دې نور جهان په سر لکه آسمان یم[6]
چې د یار په مینه سر ومال ښندمه — خلقه واوری هغه زه عبدالرحمان یم[7]

---

(۱) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۲) د "خ" لومړۍ نسخه کې "د خپل کردا یم" او مصوره نسخه کې "د خپل ځان یم" راغلی دی.
(۳) د "خ" په لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کې داسې ده: "د وصال مزی د اوښو د انې د اکړ".
(٤) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. لومړۍ مسرې یې د "پ پ" چاپ کې داسې ده: "چې صفت د تورو زلفو د اشنا کړم".
(۵) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته، د "خ" په دوهمې نسخه کې لومړۍ مسرې داسې ده: "بې له مینې مې هیڅ حال د صورت نشته".
(۶) دا بیت او وروسته بیت د "خ" په لومړۍ نسخه او نیمګړې نسخه کې نشته، په مصوره نسخه کې لومړۍ مسرې داسې ده: "د مارانو ترتلیو لاندې خاک یم".
(۷) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.

۱۴۴ — ۱۹۴۸

په هر دم کې نوې نوې تماشې کړم
زه ریاح دخدای وکړه وته حیران یم

چې هر دم له خپله ځانه ګریزان یم
هم په دا لکه دریاب د دروکان یم(۱)

مرګی تریخ دی چې ژوندون دچا شیرین شي
زه خورسند دیار تر وصل په هجران یم

نادانې مې دانایي شوه لکه طفل
په ناپاکو ګوهرو کې پاک دامان یم

چې د نفس د حرص ملک مې مسخر کړ
په هوا د پاسه تخت د سلیمان یم

تن مې څه کړې چې زړه یار را څخه یوړ
بیهوده د خالي خونې نګهبان یم

لکه ګل چې په نارمات کړې اوږاندوي
زه هم هسې د ژوند و د مړ و ترمیان یم

کله ځان راته ولې کله عاصي شي
نه خبر په خپل کمال نه په نقصان یم

۱۴۵ — ۱۹۵۶

خپل جانان مې هسې نقش دی په زړه کې
نه پوهیږم چې ګمان یم که جانان یم

ژوبل ژوبل د ترکانو په نګاه یم
تر دالا په دا غوښیږم چې پناه یم(۲)

چې یوسف(ع) غوندې هزار پکښې پراته دی
بند یوان د هغه سیب(۳) ذقن په چاه یم

چې لې قد و قامت نه وینم په سترګو
عندلیب په سر د سروی د خپل آه یم(۴)

د سپین مخ د تورو څنولو رغبته(۵)
منت بار د هر سفید او هر سیاه یم(۶)

---

(۱) دا غزل د "خ" له ډیرې قلمي نسخې نه نقل شو.

(۲) دا غزل د "خ" په دویمه نسخه کې نشته او د بیت په چاپي دیوانونو کې داسې راغلی دی: "ژوبل ژوبل دخوبانو په نګاه یم لا تر دانه زیات هوښیږم چې پناه یم".
په مصوره نسخه کې داسې دی: "ژوبل ژوبل دخوبانو په نګاه یم تر دالا په دا عاجز یم چې پناه یم".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې دی: "ژوبل ژوبل دخوبانو په نګاه یم لا پردا زهیږم چې لسترګو یې پناه یم".
د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې دی: "ژوبلې ژوبلې دخوبانو په نګاه یم تر وخولا په دا غوښیږم چې پناه یم".

(۳) په قلمي نسخو کې د "سیب" پرځای "سیم" راغلی دی او د "خ" په لومړۍ نسخه کې "سیم په ذقن چاه یم" راغلی دی.

(۴) دا بیت په چاپي دیوانونو کې داسې دی: "چې لې قد و قامت وینم په سترګو عندلیب په سهی سرو د خپل آه یم".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې د دوهمې مصرعې داسې ده: "عندلیب د سهی سرو د خپل آه یم".
د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "عندلیب غوندې په سروې د خپل آه یم".
د مصوره نسخې کې داسې ده: "عندلیب هسې سرو د خپل آه یم". (پاته په (۱۰۷) مخ کې)

لکه څوك چې په خره سوروي مخ يې توروي — زه هم هسې ترخپل خدای پورې روسیاه یم[1]

درقیب خبرې[2] ورم د یار د پاره — دعاګوی هم د نیك خواه هم د بدخواه یم[3]

بې له عشقه که مې عیب که مې هنر دی[4] — نه[5] خبر په عبادت نه په ګناه یم

سباخ د زلفو یې پخپله خدای راتیت کړ — ګنه زه د یار ترقد پورې کوتاه یم[6]

ځان هرګوره ناګاه راخرګندیږي — له هغې ورځې راهیسې چې آګاه یم[7]

بې صبری د یار په وصل کې مهجور کړم — د پسرلي په مرغزار کې وچ ګیاه یم

له اوله تهتر وو هم بیا آه کړم — په نارونارو[8] خروس د صبحګاه یم

په جذبو جذبو یې راښکم زه وځان ته — هغه یار مې کاه ربا دی زه یې کاه یم[9]

لکه بار دوني پوخ شي ځنې رژي — زه هم هسې بار ترلی سربراه یم

اوس مې ځای په دا جهان کې پاتې نه شو — خو ځیدلی تر[10] چمل و تر پنجاه یم

د(۱۰۶) مخ د پایلیکونو پاته: (۵) د "خ" په لومړی نسخه کی د "رخبته" پر ځای "زینته" راغلی دی.

(۶) دامسری په "ب" چاپ او "ق" چاپ کی داسی ده: " منت بار دهر سفید دهر سیاه یم".

په "ب ب" او "ق ک" چاپ کې داسی ده: " منت بار دهر سفید او د سیاه یم".

او د "خ" په دوهمه نسخه کی داسی ده: " منت بار دهر سفید و دهر سیاه یم".

---

(۱) دا بیت په چاپي دیوانونو، مصوره نسخه او د "خ" لومړی نسخه کی نشته، د "خ" په دوهمه نسخه کی یې لومړی مسری داسی ده: " لکه څوك چې په خره سورشی مخ یې تورشی".

(۲) د "ب" په نسخه او د "خ" لومړی نسخه کی "خبرې" راغلی دی او دامسری په مصوره نسخه کی داسی ده: " د رقیب خبره اورم د یار د پاره".

(۳) دامسری د "خ" په دوهمه نسخه کی داسی ده: " دوعاګوی هم د نیك خواه هو د بدخواه یم".

(۴) دامسری د "خ" په لومړی نسخه کی داسی ده: " بې له عشقه که مې عشق که مې هنر دی".

(۵) په "ق" چاپ کی د "نه" پر ځای "زه" راغلی دی.

(۶) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کی داسی دی: " سباخ د زلفو خپل خدای راته تیت کړ ګنه زه د یار ترقد پورې کوتاه یم".

(۷) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کی داسی دی: " ځان ښکاره راته هرګوره خرګندیږي له هغه د ده راهسې چې آګاه یم".

په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهمه نسخه کی لومړی مسری داسی ده: " ځان هرګوره ناګاه راخرګندیږي". د "خ" په دوهمه نسخه کی یې دوهمه مسری داسی ده: " له هغې ورځې راپه هسې چې آګاه یم". او په "ق ک" او "ق" چاپ کی داسی ده: " له هغې ورځې راهسې چې آګاه یم".

(۸) د "خ" په دوهمه نسخه کی " نارو سورو" راغلی دی.

(۹) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کی نشته، په "ب" چاپ، "ب ب" چاپ او مصوره نسخه کی یې لومړی مسری داسی ده: " په جذبو جذبو یې راکښوم وځان ته".

د "ب" په لومړی نسخه کی داسی ده: " په جذبو جذبو یې راوځکولم وځان ته".

په "ق ک" چاپ کی داسی ده: " په جذبو یې راښکمه خپل ځان ته".

او د "خ" په لومړی نسخه کی دا بیت داسی دی: " په جذبه جذبه یې راکښوم وځان ته هغه یار مې کاه ربا دی زه ګیاه یم".

(۱۰) د "خ" په لومړی نسخه کی د "تر" پر ځای "له" راغلی دی.

د رقیب علاج آسان دی بلا داشوه[1]

۱۴۶ — ۱۶۷۱

زه یمان له خپله یاره ناویساه یم

زه یودم د ستاله غمه بې غم نه یم — بې غم ستاله ذکره فکره یودم نه یم[2]

هر زیارت لره چې درومم[3] مراد مې ته یې — زه زایر[4] د بت خانې د حرم نه یم

ستا د در په تور وخاورو باندې خوښ یم — بې تا خوښ په تماشا د ارم[5] نه یم

چې د[6] ستا په تماشا یم خبر شوی — نور خبر په تماشا د عالم نه یم

بې د ستاله زیبا مخه وبل مخ ته — منتظر دیوې ستنې ترسوم[7] نه یم

که د ستا د ښکلي مخ عاشقان ډېرې — زه په وار وکې اول یم دویم نه یم

که له غمه دې ونه مرم هاله[8] وایه — چې یا دیوم یا د واب[9] یم آدم نه یم

سم قامت لکه الف یم په راستۍ کې — لکه غشی څه[10] فساد لره سم نه یم

زړه مې ستا په غمزه غوڅ دی غزا وشوه — که په لاسو په پښو روغ یمه گرم نه یم[11]

خم د زلفو یم[12] محراب دکږ و وروځو — څه[13] د مار و د لړم په څېر خم نه یم

---

(۱) دا مصرع د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده : " د رقیب علاج آسان دی که یې خدای که".

(۲) دا غزل په مصوره نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(۳) په چاپي دیوانونو او د "خ" لومړۍ نسخه کې "حمه" راغلی دی.

(۴) د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې "زاهد" راغلی دی.

(۵) د "خ" په دوهمه نسخه کې "حرم" راغلی دی.

(۶) په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهمه نسخه کې "دا" او د "خ" په لومړۍ نسخه کې "ن" راغلی دی.

(۷) په چاپي دیوانونو کې "سم"، په "پ" چاپ او د "خ" دوهمه نسخه کې "سیم" راغلی دی.

(۸) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "راته" راغلی دی.

(۹) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "دیوال" راغلی دی.

(۱۰) په "پ" چاپ، "پ پ" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "زه" او "ق" چاپ کې "و" راغلی دی.

(۱۱) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې دی : "زړه مې ستا په غمزه غوڅ دی بلا داشوه که په لاس په پښو روغ یم گرم ندیم".
د "خ" په دوهمه نسخه کې دوهمه مصرع داسې ده : " که په لاسو په پښو روغ یم گرم ندیم".
" په "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې داسې ده : "که په لاسو په پښو روغ خوگرم ندیم ".

(۱۲) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه کې "یې" راغلی دی.

(۱۳) په "پ" چاپ، "پ پ" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "زه" راغلی دی او په "ق" چاپ کې داسې ده : " پیچ وخم په څېر د مار و د لړم ندیم ".

که مې کم وبیش له لاسه واقع کېږي[1] یم سړی شکم لرم بې شکم نه یم[2]

زه ګاڼ د بېلتانه له لاسه[3] ژاړم

واقعه ده ډېره ګرانه هېڅ ګرم نه یم[4]

۱۴۱ ۱۶۸۳



سړے تېز د رومي دوران گویا برق دی درخشان[5]

د آسیا په څېر[6] گردش کا په زمین باندې آسمان

ککړه دې د سړو یو چې وړیږی تر دا میان

پیدا کېږي فنا کېږي نه یې سرشته نه سامان[7]

نه یې سرشته نه سامان شته نه یې حد شته نه پایان[8]

---

(۱) دامسړی په چاپي دیوانونو کی داسی ده : "کم وبیش که مې له لاسه واقع کېږی".

(۲) دامسړی د "خ" دوهمه نسخه کی داسی ده : "هم سړی یم نس لرم بې شکم نه یم".

(۳) په چاپي دیوانونو او د "خ" په لومړی نسخه کی "له هغه" راغلی دی.

(۴) د "پ" نسخه : " دا واقع ده ډېره ګرانه هېڅ ګرم نه یم
د "خ" لومړی او دوهمه نسخه کی داسی ده : " دا واقعه ده ډېره ګرانه هېڅ ګرم نه یم ".

(۵) د "پ" نسخه : "هسې تېز د رومي دوان گویا برق دی د آسمان".
د "خ" دوهمه نسخه : هسې تېز د رومي دوران گویا برق دی د اجهان".
مصوره نسخه : "هسې تېز د رومي روان گویا برق دی د اجهان".
د "خ" لومړی نسخه : " هسې تېز د رومي روان گویا برق دی د اسمان".

(۶) د "ق، ک" او "پ پ" چاپ کی "سیر" او د "خ" په دوهمه نسخه کی "دود" راغلی دی. (۷) قلمي نسخه : "نه یې سرشته نه سامان". (۸) "ق، ک" او "ق" چاپ
نه یې حد شته نه پایان شته نه یې سرشته نه سامان". "پ" چاپ : نه حد نه وه پایان شته نه یې سرشته نه سامان".
" پ پ" چاپ : " نه یې حد نه یې پایان شته نه یې سرشته نه سامان".

ځینې دوک وهي ښادي کا ځینې ویرکا د خپل ځان

ځینې شمع غوندې ژاړي ځینې کل غوندې خندان

که یې گوري یو گلزار دی که یې گوري یو بیابان[1]

که یې گوري یو گلشن دی که یې گوري یو زندان[2]

یوه هسې تماشا ده چې یې هیڅ نه شي بیان[3]

کیفیت یې موندې نه شي په دلیل او په برهان

چې یې کومه خوا رفتن دی[4] یا یې چیرته دی مکان

خدای خبر دی په داعلم[5]

هیڅ خبر نه دی لحان

۱۴۸ ۱۶۹۶

دیر یاران وو دگل خان او جمال خان په کار نه شو یو په وخت د زارستان[6]

دهمه وارو یارانو مخ دې تور شي[7] که به څوك وبله[8] یاري کا په داشان

چې یو یار په سیوري پروت[9] وي بل په اورکې وهغوته به څوك څه وايي یاران

هیڅ تعریف یې په داژبه وایه نه شي صد رحمت شه په یاری دگل خان[10]

---

(۱) د "پ" لومړی نسخه "زندان". د "خ" لومړی او دوهمه نسخه: "که یې گوري یو بازار دی که یې گوري یو بیابان".

(۲) دابیت په "پ" چاپ، "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کی نشته.

(۳) چاپی دیوانونه: "چې یې هیڅ نشته بیان". د "خ" لومړی او دوهمه نسخه: "چې یې هیڅ نه شی بیان". مصوره نسخه: "ځنې نه شي هیڅ بیان".

(٤) "ق، ک" چاپ، "ق" چاپ او د "خ" په دوهمه نسخه کی: "چې یې کوم خوا ته رفتن دی".

(۵) قلمی نسخی: "خدای عالم دی په داعلم".

(۶) داغزل د "پ" په نسخو او مصوره نسخه کی نشته. دوهمه مصرع یې د "خ" په لومړی نسخه کی داسې ده:

"یو هم نشته د ده کار په ځان راستان"

دوهمه نسخه: "یو یې هم په کار نه شو په ځای د راستان".

(۷) د "خ" دوهمه نسخه: "دهمه وارو یارانو مخ یې ورك شه".

(۸) "ق" چاپ: "سره".

(۹) د "خ" دوهمه نسخه: "ناست دي".

(۱۰) "پ" چاپ: "هیڅ تعریف مې په داژبه وایه نه شی- صد رحمت شه په یاری د گل خان".

د "خ" لومړی نسخه: "هیڅ تعریف یې نور په ژبه راوړی نه شی صد رحمت شه په یاری د گل خان".

د "خ" دوهمه نسخه: "هیڅ تعریف به یې په ژبه راو نه شی صد رحمت شه په یاری د گل خان".

په داهورته[1] د یارۍ شرطونه څه وي — چې په اورکې د واړه وسوځي یکسان
چې له آله له اولاده سره و سول — خدای دې نه کاڅوك داهسې مظلومان
چې په اورکې یو د بل د پاره سوځي — مالیدلي نه و وهسې مخلصان
څه رنګ شوخ و و هغه اوراوهغه خلق — چې یې مړ نه کړ و داوښکو په باران[2]
الغیاث دی الغیاث دی الغیاث دی — چې انسان کاهسې ظلم په انسان
د نمرود چارې مې ولیدې په سترګو — چې یې اچول و اوروته نبیان[3]
هم دې ځمکې دې آسمان ته تعجب کړم[4] — چې نه ځمکه په ناروشوه نه آسمان
هم دې لویو لویو غرونو ته حیران یم[5] — چې ونه لوښته له وېخه سرغلتان
له دې خپله سپیره نفسه مې زړه بد شو[6] — چې او به څښې یا خواره خوړې په جمان
عالم وایي چې قیامت به په جمعه وي — ولید ما په یکشنبه په دا دوران
هزار حیف دی چې داهسې رنګه چارې — واقع کیږی د دنیا په سود و زیان
سربنان نه وګویا د بنت کربلا و — چې سیلاب شو د سرو وینو پرې روان[7]
په عیسی او په دجال کې ګناه نشته[8] — دا مکرونه دي د نفس و د شیطان

---

(۱) د "خ" دواړو قلمي نسخو، "پ" چاپ، "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې "ترداهورته" راغلی دی.
(۲) د "خ" لومړۍ نسخه: "چې مړنه که هم داوښکو په باران".
دوهمه نسخه: "چې یې اورمړنه کړ داوښکو په باران".
(۳) "ق، ک" چاپ: "چې به یې اچول واوروته نبیان".
"پ" چاپ: "چې یې اچول داورته نبیان".
د "خ" لومړۍ نسخه: "چې یې اچول واورته مرسلان".
دوهمه نسخه: "چې یې اچول په اورکې مرسلان".
(٤) "پ" چاپ: "هم دې ځمکې هم اسمان ته تعجب کړم".
د "خ" لومړۍ نسخه: "ودې ځمکې واسمان ته تعجب یم".
دوهمه نسخه: "ودې ځمکې واسمان وته حیران یم".
(۵) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه: "ودې لویو لویو غرونو ته حیران یم".
(٦) د "خ" دوهمه نسخه: "له دې خپله کم بخت نفسه مې زړه بد شو".
(۷) دا بیت د "خ" له لومړۍ او دوهمې نسخې نه نقل شو، په چاپي دیوانونو او نورو نسخو کې نشته.
(۸) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه: "ګناه نه وه".

عزیزان یې ځبله[1] ووژل پخپله — داهمه واړه تقدیر دی د سُبحان[2]

هسې نه چې ذاتي وکړه نوربه نه کړي — چې یې زړه شي هغه کاندي بادشاهان[3]

شاه عالم اعظم وګوره چې یې سخاکړ — په خونونو واړه ملك دهندوستان[4]

ودارا او اورنګ زیب وته حیران یم[5] — چې یې څه چارې واقع شولې ترمیان[6]

د حسن حسین غزا دې څوك په زړه کا — چې همه واړه په تیغ شول شهیدان[7]

د دوی غوښې او ښکو وینو رغړ ولې — بې حسابه هسې خلق شو توفان[8]

هرچې اهل د دنیا دي حال یې دا دی[9] — که سړی دی که پیړی دی که حیوان

آدم زاد په ځمکه یوبل سره وژني[10] — په دریاب کې وبله غوښې خوري ماهیان

لکه غوښې چې ماهیان خوري په دریاب کې — په هوا کې هم دغه کا ندي مارغان

خزنده او پرنده دي د دې دهر[11] — همه واړه یوتربل مشت وګریوان[12]

مرداري د دې دنیا خوهم دغه ده — ځکه بیرته ځني ګرځي درویشان

---

(۱) د "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ : "سره ووژل".
نومورې مصرع د "خ" په لومړی او دوهمه نسخه کې داسې ده : "عزیزانو به په څه وبله وژلو".

(۲) د "خ" دوهمه نسخه : "داهمه واړه تقدیر د پاك سبحان".

(۳) د "خ" لومړی نسخه : "چې یې زړه شي هغه کاندي په داشان".

(٤) "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ : "شاه عالم اعظم وګوره چې یې سخاکړه — په خونونو واړه ملك دهندوستان".
د "خ" لومړی نسخه : "شاه عالم واعظم ګوره چې یې فساد کړ — په خونونو سره ملك دهندوستان".
د "خ" دوهمه نسخه : "شاه عالم اعظم وګوره چې بې خسا کړ — په خونونو واړه ملك دهندوستان".

(۵) "ق، ک" چاپ : "بیا دارا او اورنګ زیب وته حیران یم".
د "خ" لومړی نسخه : "ودارا واورنګ زیب وته که ګوري".
د "خ" دوهمه نسخه : "ودارا واورنګ زیب ته دې څوك ګوري".

(۶) "ق" چاپ : "چې یې څه چارې واقع شوې په ځان".
د "خ" لومړی او دوهمه نسخه : "چې یې څه چارې واقع شوې تردامیان".

(۷) د "خ" لومړی او دوهمه نسخه : "چې همه په توره ومړه شهیدان".

(۸) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته او دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی : "دوه غا ښې او ښې یې په وینو رغړ ولو — هسې بې حساب خلق شوله توپان".

(۹) د "خ" دوهمه نسخه : "هرچې آل د دې دنیا دی حال یې دادی".

(۱۰) د "خ" لومړی او دوهمه نسخه : "آدم زاد په مخ د ځمکې وبله وژني".

(۱۱) د "خ" لومړی او دوهمه نسخه : "خزنده که پرنده دی د دې دهر".

(۱۲) د "خ" لومړی نسخه : "همګې دي وبله مشت وګریبان".
د "خ" دوهمه نسخه : "همګې دي واړه مشت و په ګریوان".

۱۴۹ — ۱۷۲۵

مکاري د زمانې څه هومره نه ده
چې د رحمان يې چاته وکاندي بيان[1]

دنيا دار د دنيا کارکا زه د دين — خوانين زما په ملك دي خوشحالين[2]
هيڅ کم نه دی ترسپين مخيو دلبرانو — بلکه ښه دی زما شعر نمکين[3]
مرادله تورو سپينو واړه د لبري ده — موقوف نه دی دغه[4] کار په تورو سپين
چې رنګين رنګين مضمون پرې کښلی نه وي — څه په کار دی د بياض ورق رنګين[5]
مرتبه د سليمان چې چاله ورشي[6] — هيڅ پوره نيمګړی نه دی په نګين
خوند په خوله دی نه په څښه نه په خواره دی[7] — آب وخورکه دچا تلخ وي که شيرين
غرض خوب دی که په خس وي يا په خاروي[8] — څه حاجت دی په بستر و په بالين[9]
مصری تورهم په بدغلاف کې زنګ شي — خدای څوك مدکره د بدانو هم نشين

۱۵۰ — ۱۷۳۴

څه عجب که په ورځ مهر په شپه ماشي
د رحمان آشنا چنان دی يا چنين[10]

---

(۱) د "خ" لومړی نسخه : " چې يې زه رحمان کرم وچاته بيان ".
د "خ" دوهمه نسخه : چې رحمان يې که وچاوته بيان ".
(۲) دا غزل په مصوره نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۳) د "پ" لومړی نسخه " بلکه به دی دا زما شعر نمکين ".
د "خ" لومړی نسخه : " بلکه به دی زما سبز نمکين ".
(۴) د "خ" لومړی نسخه : " دلسته ".
(۵) د "پ" لومړی نسخه " کا ورنګين ".
(۶) د "پ" لومړی نسخه : " چې خدای چاله مرتبه د سليمان ورکا ".
د "خ" لومړی نسخه : " که خدای چاله پخه د سليمان ورکه ".
د "خ" دوهمه نسخه : " که خدای چاله نتيجه د سليمان ورکه ".
(۷) د "پ" لومړی نسخه : "خوند په خوله دی نه په خوله نه په خواره دی ".
چاپلی ديوانو نه "خوند په خوله دی نه په څکه نه په خواره دی ".
د "خ" دوهمه نسخه : "خوند په خوله په ژبه په خواره دی ".
(۸) "پ" چاپ ، د "پ پ" چاپ او "ق ، ک" چاپ : " خاوري ".
(۹) د "خ" دوهمه نسخه : " څه حاجت دی د بستر و د بالين ".
(۱۰) چاپلی ديوانونه ، او د "خ" لومړی او دوهمه نسخه : " د رحمان اشنا چنان دی هم چنين ".

که تري ولوښته شاهان او سلطانان — هېڅ نیمګړی په چانه شو د اجمان[1]

که هزار هزار فنا شي په یو دم کې — بیا پیدا شي په یو دم کې هزاران

د رفتن د آمدن حساب یې نشته — لکه بحر چې لهېږي بې پایان

یو دبل په غم نه نرم وي نه ګرم — هم دهغه زده چې وریې شي په ځان

پیغمبر غوندې صاحب تر دنیا تېر شو[2] — دا دنیا یې وړانه نه شوه په هجران

چې داهسې عالم لاندې شو تر خاورو — د چا یاد وي ما وتا غوندې سګان

که غلبیل کړم د تمامې دنیا خاورې — بیا به نه موم دارا او شاه جهان[3]

بوی د نام و د نښان یې پاتې نه شو — چې دعوی یې کړه د نام او د نښان

که دروغ وایم ته ورشه نظر وکړه — د خپل پلار او د نیکه په ګورستان

چې یې ته په دواړو سترګو ښکلولې — ګوره څه شوې هغه خولې هغه لبان

چې مدام یې په قربان قربان بللې — اوس دې غږ درباندې وکا چې قربان!

د رحمان وسوزان شعر ته حیران یم[4] — چې یې او ربل شوی نه دی په دیوان

١٥١ — ١٧٤٦

ته چې هسې ګاه یې ترش ګاه یې خندان — له عاشق سره کینه کړې که احسان

له احواله دې چانه زده چې به څه کړې — کله جور کله لطف کړې عیان[5]

رنځ راحت د عاشقانو وا ره ته یې — دا د روغ دی که وصال دی یا هجران

هغه شونډې چې خوږې دي تر شکرو — له کنځلو یې عار نه کا عاشقان

رجوعات د بنایسته ؤ چاته نه وي — هرګز نه وي سرکوزي د سروې شان

---

(١) دا غزل د "پ" په نسخو او د "خ" په نیمګړې نسخه کې نشته. د "خ" په نور و قلمي نسخو کې د "ولوښته" پر ځای "ولښل" راغلی دی.

(٢) "ق، ک" چاپ: "محمد علیه السلام تر دنیا تېر شو".

(٣) قلمي نسخې: "که غلبیل کړې د تمامې دنیا خاورې بیا به نه موې دارا او شاه جهان".

(٤) "ق، ک" چاپ: "د رحمان دې سوزان شعر ته حیران یم".

(٥) د "خ" دوهمه نسخه او نیمګړې نسخه: "کله جور کله غوږې کړې عیان"! او دا غزل د "پ" په نسخو کې نشته.

دغه هسې رنګ ښايست لکه چې ستا دی — نشته دا رنګه ښايست دهېڅ انسان[1]

قصد ترهسې حده ولې کړی ګل رخه — چې له ډېره ناز وژنې عاشقان

د مرګې صورت څه روغ له کانی نه وي — نشته کانې څخه ستا د جفا توان[2]

وهرچا[3] وته چې ستا قوت رسېږي — هلته نه رسي قوت د درست جهان[4]

ستاله جوړه زهره[5] نه لري چې آه کا — که کشور د عاشقانو شي ویران

خواره حیران لکه عاشق دی ستاله درده — خدای دې هېڅوک هسې نه کا خوار حیران[6]

لکه ډېر وايي د وصل راحتونه — د غه هسې د فرقت دی سخت زندان

د رخسار نښې دې واړه د خورشید دي — چې يې د رست جهان له نوره دی روشان

له هوسه دې هر ګل کړه خندا شوه — چې يې ولېد ستا د حسن ګلستان

کله وي چې نصیحت کاندي عاشق ته — که له حسنه دې آګاه شي زاهدان[7]

رنګ د روی دې لرې رنګ د سرو ګلونو — توري څنې دې ښا خونه د ریحان

سیاهي د نوي خط دې هسې زیب کا — لکه ښکلې واړه توري د قرآن

وکوهي ته چې لغزش کا کل خطروي — کل خیریت[8] دی کوهی ستا د زنخدان

که د د روتجلی ده ډېره ډېره — د رتاریک شي چې ظاهر شي ستا د ندان

ته سلطان د ښايسته ؤې د لبره[9] — دا نور واړه ښايسته دې نوکران

---

(۱) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کی نشته.

(۲) دا بیت په "پ" چاپ، "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې نشته، د "خ" په قلمی نسخو کې د "مرګې" پرځای "سرې" راغلی دی.

(۳) په قلمی نسخو کی "وهرکا روته" راغلی دی.

(۴) د "خ" په لومړی نسخه کی "شاه جهان" راغلی دی.

(۵) د "خ" په دوهمه نسخه کی "چاره نه لري" راغلی دی.

(۶) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه او مصوره نسخه کی نشته.

(۷) دا بیت او درېیم دوه بیته د "خ" په مصوره نسخه کی نشته.

(۸) "ق، ک" چاپ کې "خطر" راغلی دی.

(۹) د "خ" دوهمه نسخه کی "دا وادره" راغلی دی.

که دانور بنایسته ستوري ویل کیږي — ته خورشید غوندې صورت لري عیان[1]
له هرچا چې اوریده شي دغه وایي — چې بنایست دې زره نه لري نقصان

۱۵۲ — ۱۷۶۹

درولعل شو ویل درحمان خکه[2]
چې دی ستا دلعلو وشوند وشو گویان

چیرته د یار شوندې چیرته غم ددل وجان — چیرته کتې لال او چیرته لعل دبدخشان
پاك ومنزه دی عشق دنفس له خاصیته — چیرته چاه دگیدې چیرته چاه زنخدان
لږ تفاوت نه دی درندی د زاهدی — چیرته خلمي جونه چیرته کونډې یتیمان
واړه بې وقوف دي که څوك دین په دنیا پلوري — چیرته پنځه ورځې چیرته عمر جاودان
زارشه دهوا وحرص خیال ترقناعته — چیرته ملك د مصر چیرته ده د غلامان

۱۵۳ — ۱۷۷۵

نه شي د ملنگو د خانانو سره کلی[3]
چیرته عزیز خان چیرته ملنگ عبدالرحمن

فراموش مې دی دستا په مینه ځان — ځان لاخه دی بلکه عمر جاودان[4]
لکه زه چې ستا د در په خاور وخوښیم — هومره عیش وطرب نه لري شاهان
لکه زه چې ستا د غم پند ونه اخلم — هومره پند اخستی نه شي پهلوان[5]
هسې بې سروسامان یم ستا په عشق کې — چې آگاه نه یم په سر او په سامان
هسې بې شرابو مست یم ستا په مینه — چې خبر نه یم په ځمکه په آسمان
دا به خرنگ شي چې ته دکال وعده کړې — په ما نه تیریږي بې تا یو زمان

---

(۱) دابیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته ، په "پ" چاپ ، ق، چاپ ، "ق،ک" چاپ ، د "خ" دوهمې نسخه او نیمگړې نسخه کې "روښان" او مصورې نسخه کې "تابان" راغلی دی.
(۲) قلمي نسخې : " ترو ویل دحمان درولعل شو، خکه"
(۳) چاپي دیوانونه : " نه شي دخانانو دملنگو سره کلی". د "خ" په لومړۍ نسخه کې "وبله کلی" راغلی دی.
(۴) داغزل د "خ" په دوهمې نسخه کې نشته ، په نورو قلمي نسخو کې " عیش جاودان" راغلی دی.
(۵) دابیت د "خ" په نیمگړې نسخه کې نشته ، په "ق،ک" چاپ کې " دسر پند ونه" راغلی دی.

تمامي عمر دستا په طلب ورك يم لټوم دې په هر ښهر په بيابان

کله دره يې شړې که يې پرېږدې ته (۱)

۱۵۴ ۱۷۸۳

د پرمين دی ستا پر مخ عبدالرحمان

خوبه شمېرم زه غمونه د هجران هومره ډېر دي لکه ريګ د بيابان (۲)

دسړي د دښمنۍ توان مې نه ؤ خدای را پېښه د دښمني کړه د آسمان

لکه څوك چې د اوښ بار په مېږي کېږدي هسې زه يم په خپل غم (۳) پورې ناتوان

لکه اور د بېلتانه چې په ما اوري (٤) چالېدلی ګنه اوردی په داشان

د يار غم به مې هغه سړی په شمار کړي (۵) چې شمېرلي يې وېښته وي د خپل ځان

که څوك والي حال دی څه دی په هجران کې په خاطر دې تصور کا د وزخيان

ناقرار زړه (٦) مې د يار په هوا والووت تش صورت مې په ځای پاتې شو پرېشان (۷)

د يار ياد (۸) مې زړه په غټو ستر ګو يووړ لکه بت په ديوال کښلی يم حيران

ما وې زړه د مومن عرش دی خبر نه وم چې به عشق زما د اعرش (۹) کاندی ويران

عاشقۍ ترهغه حده بې هوش کړم چې نه هوښ لرم نه صبر نه سامان

لوردلوره د تهمت په غونډو ويشت شم ملامت را باندې والي درست جهان

چې دا حال ور باندې نه وي ورغلی

۱۵۵ ۱۷۹۵

په ويل به څه ګروهېږي د رحمان

---

(۱) قلمي نسخې : "چې له دره يې شړې ګناه يې کوم دی د پردستا په مخ مين دی يو رحمان". (۲) قلمي نسخې : "خوبه شمېرم - درد غمونه د هجران هومره ډېر دي لکه شګې د بيابان " . دا غزل د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(۳) "ق ،ک" چاپ : " په خپل يار پورې ناتوان " راغلی دی. (٤) د "خ" په قلمي نسخه کې داسې دی: " لکه غم د بېلتانه چې په ما اوري".
د "پ" لومړی نسخه : " لکه ستا د بېلتانه کاڼي په ما اوري". (۵) قلمي نسخې : " زما غم به د هغه سړي په شمار وي".

(٦) په "پ" چاپ او "ب پ" چاپ کې " روح " راغلی دی.

(۷) په چاپي ديوانونو ، د "خ" لومړی نسخه او نيمګړې نسخه کې " حيران" راغلی دی.

(۸) په "پ" چاپ ، "ب پ" چاپ کې " دم" ، "ق ،ک" چاپ کې " غم" راغلی دی او دا بيت د "خ" په نسخه کې نشته . دوهمه مسرې يې په چاپي ديوانونو کې داسې دی:
" لکه بت چې په ديوال کې وي حيران".

(۹) د "پ" په لومړی نسخه کې " زړه " راغلی دی.

ورکه عاشقي شه هم يې نوم هم يې نښان — زه يې هسې خوار کړم لکه شګې[1] دبيابان

زه دعشق په کارکې تېر ترسره هم ترمال يم[2] — کشکې که په سرمې دامشکل کاخدای آسان

کښېوتم دعشق په آدم خورو ګردابونو — نه په وړاندې تلی شم نه په بېرته ګرېزان

رنځ دعاشقۍ چې زه ظاهرکړم وطبيب ته — هېڅ ويلی نه شي طبيبان او حکيمان

شهريارانو ددنيا واړه ګدايان دي — زه دعشق په اوږکې سوی سرګردان[3]

نه مې حال وچاته ووې چې داخه دی — عالم واړه په فکرت تللي حيران

دعشق اوږ راباندې بل شو خدای خبر دی — اوس رسوا شوم په عالم کې چاک ګرېوان

۱۵۶

راشه عاشقي مه کړه رحمانه او که نه وي — ۱۸۰۳

تل په په اوږ ناست يې که بادشاه يې دجهان

خان سلطان ددې جهان — آخر درومي خوار حيران

دقضا په حبل تړلی — په مثال د بنديوان

شېرين خان ورڅخه درومي — نه يې زور رسي نه توان

که ښندي مال وملک واړه — هېڅ رنګ نه مومي امان

نه يې مل نه يې حامي وي — دردې ورشي په خپل خان

درمانده ورته ولاړ وي — وزيران او وکيلان[4]

هېڅ دارويې کړلی نه شي — کوز کوز ګوري حکيمان

---

(۱) په چاپي ديوانونو کې "خاک" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "لوټه" راغلی دی.

(۲) د "پ" لومړۍ نسخه: "زه دعشق په کارکې تېر ترسرومال يم".

د "خ" لومړۍ نسخه: "زه دعشق په کاردبارکې ترسرتېر يم".

د "خ" دوهمه نسخه: "زه دعشق په کارکې ترسروترمال تېر يم".

مصوره نسخه: "زه دعشق په کاروزارکې ترسرتېر يم".

نيمګړې نسخه: "زه دعشق په کارکې ترسرتېر يم باری خه کړم".

(۳) دابيت اوورپسې دوه بيتونه د "خ" له ديمې قلمي نسخې نه نقل شول. او په وزن کې له اصل غزل سره برابر نه برېښي.

(۴) د "خ" په نيمګړې نسخه کې "اميران" راغلی دی.

بادشاهي پاتې کېږي — زړه يې چوي په ارمان
چې يې روح له تنه بېل شي — نور پرې ژاړي فرزندان
يو ساعت وربانديې ژاړي — آخر صبر کا خوا ران
بيايې غسل لره واخلي — په تخته باندې عريان
په جامو يې هوسېږي[1] — مرده شوی اوغسالان
چې له قبره يې بازگشت شي[2] — مال يې يوسي ميراثيان
په مسند يې دعوی کاندي — هم دوستان هم دښمنان
سهيلۍ به يې تالا کا[3] — هغه خپل مصاحبان
نام نښان يې هسې ورک شي — لکه عين بې نشان
نه يې نقش پاتې کېږي — نه يې اسم په جهان[4]
دا دنيا آب روان ده — نه شي نقش په آب روان
که هزار رنگ ابادي کا[5] — نهايت خانه ويران
لکه بادهسې به تېر شي — کاروبار دې دوران[6]

دا بيان دور ودراز و کوتاه قطع کړ رحمان

۱۸۲٤ — ۱۵۷

---

(۱) په چاپي ديوانونو کې "خوشالېږي" راغلی دی.
(۲) په قلمي نسخو کې "بازگشت کا" راغلی دی.
(۳) چاپي ديوانونه : "سهيلۍ يې تالا کاندي".
د "خ" دوهم نسخه : "سهيلۍ دده تالا که".
مصوره نسخه : "سهيلۍ يې هم تالا که".
(٤) په قلمي نسخو کې "زمان" راغلی دی.
(۵) د "پ" لومړۍ نسخه : "که ابادي کړ هزار رنگه".
د "خ" دوهمه نسخه او نيمگړې نسخه : "که هزار آبادانې که".
(۶) چاپي ديوانونه : "هغه دور هغه دوران".
د "خ" په قلمي نسخو کې : "هغه دور د دوران".

که پخوا ترآشنایۍ وی بېلتون[1] ما به نه ؤ له چاکرۍ پیوستون

چې مې یار په سترګو ولید ماګومان کړ چې هم دا ساعت مې بیا مونده ژوندون

په نیمګړي داد خبرد فلك نه وم[2] چې به بیا شي په ستنه راڅخه ستون

نن ساعت چې له دې حاله خبردار شوم سکه ترنن وړځ بهتره وه پرون

هر زحمت چې پرما راشي شکرانه کړم[3] عاشقۍ ترهسې حداه کړم زبون

اوس که لاس پر بله مې هېڅ سودنه کا هغه چار چې مې له لاسه شوه بیرون

لکه نمر په څلورم آسمان ځلېږي محبت یې له حجابه کړم بېرون[4]

چا چې رخه له ښه مخه را کوله اوس دې سوړ په نیلي ګرځي دګردون

په داهسې حال کې څرنګ صبورۍ شي چې دښمن دې کامراني کا ته محزون

که په صبر سره تورکا مې لعل کېږي لعل یې مدکړې په داهسې شواخون[5]

د دنیا هوس په ما باندې حرام شو دهوسۍ هسې کړم شپه په مېږ تون[6]

دریغه یو ځله هغه زما په حال شوی چې وما وته لولوي صبر و سکون

وماله ان ته ځان هغه ګړۍ آسمان شي
چې دستا په غم کې[7] ناست وي سرنګون

۱۵۸ ۱۸۳۷

---

(۱) دا غزل د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته ، د پېښور په چاپي دیوانونو کې لومړۍ مصرع دا ده : " که پخوا له آشنایۍ نه وی بېلتون".

(۲) د "پ" لومړۍ نسخه : " په نیمګړی داد فلك د خبر نه یم".

(۳) دا بیت د "خ" په نیمګړی نسخه کې نشته ، په نور د قلمي نسخو کې " شکرانه" راغلی دی.

(٤) دا بیت په قلمي نسخو کې نشته.

(۵) په چاپي دیوانونو او نور د قلمي نسخو کې "ځیګر خون" راغلی دی.

(۶) دا بیت په قلمي نسخو کې نشته.

(۷) د "خ" په لومړۍ نسخه ، نیمګړی نسخه او مصوره نسخه کې "چې دیار په غم کې" راغلی دی.



پخوك مه شه گرفتار د تورو زلفو — مه اسیر شه[1] په کفار د تورو زلفو

هم په شان د تورو زلفو به پریشان وي — هرچې کاندي انتظار د تورو زلفو

د محشر په عالم کله قراري وي[2] — خوك به څه غواړي قرار د تورو زلفو

خوبي صبح[3] د قیامت د میدۀ نه شي — ورځ به نه شي شب تار د تورو زلفو

مګر شمع[4] د سپین مخ شي باندې بله — ګنه نشته بل انوار د تورو زلفو

تار په تار کا د عاشق د خاطر خونه — چې حلقې شي تار په تار د تورو زلفو[5]

چې تمام جهان یې نښتی دی په دام کې — خوك به څه کاندي انکار د تورو زلفو[6]

زه له کوم، یوه کمنده سی وکا ن م — کمند و نه دي هزار[7] د تورو زلفو

هومره زړونه یې پیلي په هر تار دي[8] — چې تسبیح کړه خدای زنار د تورو زلفو

په تندي د محتسب کا د ره ماته — چې پرې راشي د ره دار د تورو زلفو[9]

---

(۱) د "خ" لومړی او دوهمه نسخه : "اسیر مه شه"

(۲) چاپي دیوانونه او د "خ" لومړی نسخه : "د محشر عالم به کله په قرار وي"، خو "پ" چاپ کی د "کله" پرځای "څرنګ" راغلی دی.

(۳) د "پ" نسخې او د "خ" دوهمه نسخه : "ولی صبح".

(٤) مصوره نسخه : "کله".

(۵) د "خ" دوهمه نسخه : "چې حلقه شي خلقه مار د تورو زلفو". او چاپي دیوانونه، مصوره نسخه او د "خ" لومړی نسخه کی "چې حلقه شی" راغلی دی.

(۶) "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ : "څه به کاندي څوك انکار د د ر و پشانو".

(۷) د "پ پ" چاپ : "بسیار".

(۸) د "خ" لومړی نسخه : "هومره زړونه یې پیلی هر تار دي".

(۹) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کی نشته.

ملك دهند او دحبش يې واړه زېرکړ[1] — چې پېدا شو شهر يار د تور زلفو

سبا مارا نوغوندې گرځي په گنجونو[2] — نه شي هېڅ په زړه کې ډار د تور زلفو

که بل مار چيچل په لاسو يا پر پښو کا[3] — په زړه خوله لگوي مار د تور زلفو

د ماران ترقلم مښک وعنبر وړي
چې آغاز يې کړ اشعار د تور زلفو

۱۵۶ — ۱۸۵۱

اوښکې نه لري حساب زما دسترگو — بې حسابه شو سيلاب زما دسترگو

سياهي مې همه واړه سفيدي شوه — هسې پر پولې شو کتاب زما دسترگو

که مې سره دي که مې سپين دي که مې تور دي[4] — اوښکو يو وړ هر اسباب زما دسترگو

چې رخسار دهغه يار راڅخه پټ شو — حبطه شو آب وتاب زما دسترگو[5]

چې گوزارمې په داگرمو اوښکو نه شو[6] — مگر کانی دی حباب زما دسترگو[7]

که نور خلق د آفتاب په رڼا زيست کا[8] — مخ د ترکو دی له افتاب زما دسترگو

مايې خيال لره ابلق د سترگو زين کړ — قدم نه ږدي په رکاب زما دسترگو

---

(۱) د "خ" دوهمه نسخه : "ملك دهند د حبش واړه زېر زبرکړ".

(۲) د "پ" پېلوړی نسخه کی "ملکو نو" راغلی دی.

(۳) "ق ،ک" چاپ ، "ق" چاپ او د "خ" دوهمه نسخه : "که بل مار چيچل په لاسو په پښو کاندی".
مصوره نسخه : "دبل مار چيچل پرلاس ويا په پښو وي".

(٤) دابيت په مصوره نسخه کی نشته لومړی مصرع يې د "پ" پېلوړی نسخه کی داسی ده : "که مې سره دي که مې تور که مې سپين دي".
د "خ" لومړی نسخه : "که يې سره دي که يې سپين دي که يې تور دي".
د "خ" دوهمه نسخه : که مې سره دو که مې تور دو که مې سپين دو".

(۵) "پ" چاپ او د "پ پ" چاپ : "چې رخسار دهغه يار راڅخه پټ شي حبطه شي آب وتاب زما دسترگو".
"ق ،ک" چاپ : "پاتې نه شو آب وتاب زما دسترگو".
"ق" چاپ : "حيف چې پاتې شي آب وتاب زما دسترگو".
د "خ" دوهمه نسخه : "آبو تر شو آب وتاب زما دسترگو".

(۶) چاپي ديوانونه ، مصوره نسخه ، او د "خ" لومړی نسخه : "چې گوزار يې په داگرمو اوښکو نه شي".
د "خ" دوهمه نسخه : "چې گذران مې په داگرمو اوښکو نه شي.

(۷) مصوره نسخه او د "خ" دوهمه نسخه : "مگر کانی شه حباب زما دسترگو".

(۸) د "خ" دوهمه نسخه : "که نور خلک دافتاب په مخ کې گرځي".

چې مې[1] نقش په زړه سرې شونډې دیار شوې — کان دلعلو شو گرداب زما دسترگو

لکه تښتي وحشیان له مردمانو[2] — هسې وتښتېده خواب زما دسترگو

۱۶۰ — ماهرخان چې سترگې روڼې په خپل یار کړې[3]

۱۸۶۱ — اوس محال شو[4] اجتناب زما دسترگو

هرساعت زما دغوږ په تاوولو — د فلک لاسونه شنه شوه ترڅنگلو

هومره غم دبېلتانه راباندې راغی[5] — چې حساب یې نه په خوله شي نه په کښلو

هغه سترگې چې نرگس وې هم بادام وې — تېرې توري شوې زما په قتلولو

هغه شونډې چې شېرینې وې ترقندو — ماهیڅ فیض ترې بیا نه موندې بې ښکنځلو[6]

داکان ه کان ه باندې اوکښې وروځې — نورڅه نه کا بې کښې وکښو وهلو[7]

په شپه نوکې دعاشق په وینو سرې کا — سبا پورې کا نکرېزي په منگلو

دازما دقاتل لاس دی نه پوهېږم — که تر باغ وتلی خانبس دی دسروگلو

دریغه مرگ یې په دنیا کې نیمه خواشوی — ښایسته غونچې یې پرې یستې د گلو[8]

۱۶۱ — هسې بند شو په کمند دتورو زلفو

۱۸۷۰ — چې حیران یم درماحمان په خلا صولو[9]

---

(۱) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کی نشته، مصوره نسخه : "چې یې نقش".

(۲) د "پ پ" چاپ : " لکه وتښتي وحشیان له مردمانو".
"ق ،ک" چاپ : "لکه تښتي چې وحشیان له مردمانو".
مصوره نسخه : " لکه تیښتند وحشیان که له مردمانو".

(۳) د "خ" لومړی نسخه : "ماهرحمان چې په سترگو روڼی په خپل یار کړ".

(۴) چاپي دیوانونه ، مصوره نسخه او د "خ" دوهمه نسخه کی " محال دی" راغلی دی.

(۵) په مصوره نسخه کی "اوري" راغلی دی.

(۶) د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه : " لوڅه نه کړي بې کښې وو د ویلو".

(۷) دا بیت په مصوره نسخه او د "خ" په لومړی نسخه کی نشته.

(۸) دا بیت په قلمی نسخو کی نشته.

(۹) د "خ" دوهمه نسخه : "حق حیران یم زه رحمان په خلا صولو".

تا چې رنګ د میو ورکړ ولبانو — اوري پورې کړ په کور د میخوارانو
چې دې جوړه کړه لینده د کښ وو روځو — څوبه ښکار کړې په حرم د غزالانو[1]
چې دې اسمر د ځنځیر په زلفو کښېنود — معطر دې کړ دماغ د دیوانګانو
په رخسار چې دې د خط غبار څرګند[2] شو — سربلنده شوه خرقه د خاکسارانو
کاڼه غشي واړه بې رته ځي له نښې — زه از آرکړم ستا کښ وکښ و[3] مژګانو
چې زما د یار تر منځه جدایي کا — کاڼی پرېوتی په خونه د بدانو[4]
که مې چېرې خواست د خدای په درقبلې — سوال به زه د عمر کړم د هوشانو
سور پېزوان دې په سر وشوند هوسې زېبکا — لکه جیم په قلم ښکلی کاتبانو
د سر وتېك دې شهزاده په جبین پروت دی — شینکی خال دې محاصل په بندیوانو
د واړه لېچې دې وکښلې مصری تورې — د رپوهېږم سر به پرې کړې د خوارانو

ستا له غمه په ځان زړه د حرمان سوځي
لکه شمع په زیارت د شهیدانو

١٦٢ — ١٨٨١

چې کوټلی وي په تیغ ستا د چشمانو — سر حلقه دی د جمله و شهیدانو
ستا وصال د سر پرېکړې دی دلبره — ژوندي نه مومي جنت بې مردګانو
د پیرۍ سوری عاقل لره ضرور دی — دا مقام دی د سر تور و دیوانګانو
په سر پوښ محل[5] کې نور د آفتاب نه وي — دا دولت دی نازل شوی په ډاګیانو
هم په دا زماله سترګو وینې خاځي — چې دې نقش پکې رنګ دی دلبانو

---

(١) قلمي نسخې : " خوب دې زوښ کړې د حرم په غزالانو ".
(٢) د "خ" په دوهمه نسخه کې " پیدا شو " راغلی دی.
(٣) د "خ" لومړۍ نسخه : " زه اداکړم ستا کښ وکښ و مژګانو ".
د "خ" دوهمه نسخه او مصوره نسخه : " زه اداکړم ستا کښ وکښ و مژګانو ".
او د "پ" لومړۍ نسخه : " زه اداکړم ستا کښ و وروځومژګانو ".
(٤) دا بیت او وروسته څلور بیتونه په قلمي نسخو کې نشته.
(٥) د "خ" په دوهمه نسخه کې " بازار " راغلی دی.

مشکین خال دې په سر ولبوهسې زېب کا لکه مُهر په مخزن د درمرجا نو

۱۶۳ ماسیواله یاره هرچې دی رانه نه ۱۸۸۸

واړه کفر دی په دین دعاشقانو

که نظر کا څوك په کار ددرویشانو خود به وینې وقار ددرویشانو

په دغه لارې به ورشې خدای رسول ته[1] که څوك یون کا ندې په لار ددرویشانو

هرگفتار به یې دخدای په در قبول وې[2] چې قبول یې[3] وې کفتار ددرویشانو

په یوه قدم تر عرشه پورې رسې مالېدلی دی رفتار ددرویشانو

هسې گرم بازار بل په جهان نشته لکه گرم دی بازار ددرویشانو

هومره خلق یې زیارت[4] کا پس له مرگه چې بازار وې په مزار ددرویشانو

بادشاهان ددنیا واړه پرې پراته دي[5] لکه خاورې په دربار د درویشانو

هر بهار لره خزان په جهان شته دی خزان نه لري بهار د درویشانو

دجنت دباغ گلونه به یې هېرشې[6] که څوك ووینې گلزار ددرویشانو

چې دنیا یې کړه دخدای د پاره ترکه صد رحمت شه په روزگار ددرویشانو

د قارون وحال ته گوره حال یې څه شو راشه مه گوره انکار ددرویشانو

په هرچا چې دغضب لینده کا سنخه[7] خطا نه در وې گوزار ددرویشانو

---

(۱) دابیت په مصوره نسخه کی نشته د "پ" په نسخو او د "خ" په لومړی نسخه کی دامصرع دی ده: "په دغې لارې به ورشې وخدای ته".

(۲) "ق، ک" چاپ، "ق" چاپ او د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه کی "قبول شی" راغلی دی.

(۳) "پ" چاپ، "ق، ک" چاپ، "ق" چاپ کې "چې قبول یې کړه" راغلی دی.

(۴) قلمی نسخه: "طواف".

(۵) چاپي دیوانونه او د "خ" لومړی نسخه: "بادشاهان ددې دنیا واړه پراته دی".
د "خ" دوهمه نسخه: "بادشاهان ددنیا ورته پراته دی".
مصوره نسخه: "بادشاهان ددنیا واړه پراته دی".

(۶) "ق، ک" چاپ: "به دې هېرشې". د "خ" لومړی نسخه: "به یې هېر دې".

(۷) په قلمی نسخو او "ق، ک" چاپ کی "غرکه"، د "پ پ" چاپ او "ق" چاپ کی "کشه" راغلی دی.

۱۶۴ — ۱۹۰۱

درست دیوان د خان زار تر دا غزل شه[1]
چې بیان یې کړ کردار د درویشانو

د پېرزوان غمی دې زیب کا پر لبانو
توري زلفې دې ځنځیر د عاشقانو[2]

د اسورتیک دې شهزاده پر اوربل پروت دی
شینکی خال دې معاني د بندیوانو

د واړه لب دې ښایسته تر سرو یاقوتو
شر مولی ده بلهٔ ستا د ندانو

د وه رخساره دې د وه سیب د سمرقند دي
پر سینه دې د وه نارنج د رنځورانو

د واړه لیچې دې کړې کښلې مصري توري
د پوهېږم سر به غوڅ کړې د خوارانو[3]

توري و روځې دې کړې پر جبین (زیب کا)[3]
لکه جیم پر کاغذ کښلی کاتبانو

د پیرې سیوری عاقل لره خرو ردی
دا مقام دی د سر تو رو ملنګانو[4]

ستا وصال د سر پر یکړیو دی د لبره
ژوندي نه مومي جنت بې مردګانو[5]

دلیلی د کوڅې سپی پر مجنون پېښ شو
په بار بار یې ښکلاوه پر دو و عینانو

۱۶۵ — ۱۹۱۱

ما سواله یاره هر چې وي خان نه[6]
واړه کفر دی په دین د عاشقانو

که هر څو په صحرا سر شوم هم په کلیو
بیا مې نه موندهیڅ خبر د هغو تللیو

خدای زده کومې خواته لاړل حال یې څه دی
خبر نه یم د ګرنګ له پریوتلیو[7]

له دې غمه مې زړه چوي که څوک خبر وي[8]
لږ په ما هم خبر وکړئ خدای ساتلیو

پس له دې به چېرته د رومۍ ځای موکوم دی[9]
راته وایئ د دنیا په سرای راغلیو

---

(۱) مصوره نسخه : "تر یو غزل شه".

(۲) دا غزل د "خ" له دریمې قلمي نسخې نه نقل شو.

(۳) په قلمي نسخه کې "پر جبین پروت" راغلی دی. (*) دا شعر جیتو نه په ځکینیو غزلو کې تکرار راغلی دی.

(۴) دا بیت په مصوره نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

(۵) د "خ" د دوهمې نسخې کې "که څوک خبر راشي" او په مصوره نسخه کې "که څوک خبر یې" راغلی دی.

(۶) د "خ" نسخې او د "خ" لومړۍ نسخه : "پس له دې به چېرته د رومۍ ځای موکوم دی". مصوره نسخه : "پس له دې به چېرته د دم ځای مې کوم دی."
د "خ" لومړۍ نسخه : "پس له دې به چېرته د رومې ځای دی کوم دی".

گوندې ستاسو په مخ زړهم بسنده شم[1] لاس دخدای ودرته نیسی، پسند لیو
هیڅ خبرې په هیڅ لوري موندی نه شي کدې غواړې شپه اوورځ په سپرو پلیو
له ناپوهه خلکه نه کیږي پوښتنه زه وتاسې وته وایم پوهېدلیو[2]

خبر نه یم چې په باب مې کښلې څه دي؟
زه ماران په اند یښنه یم له دې ښکلیو

۱۹۱۹ ۱۶۶

ددلبرو په درګاه نه حرمت[3] لرم نه جاه
غوڅوي مې دزړه ولې[4] دچشمانو په نګاه
هومره قدر مې پرې نشته[5] لکه قدر د ګیاه
یو نظر[6] راباندې نه کا از برای عند الله
هیڅ له ځانه خبر نه یم چې یې څه لرم ګناه[7]
که له غمه یې سرپټ کړم بل سر نه لرم پناه[8]

د ماران په خیر ومه شه[9]
حال احوال دچا تباه

۱۹۲۶ ۱۶۷

(۱) چاپي دیوانونه اود "خ" قلمي نسخې : " ګوندې ستاسو په مخ زړهم پسند یده شم".
(۲) دا دوه بیتونه د "خ" له دریمې نسخې نه نقل شول اودوهم بیت د "ډوډن" په مجموعه کې هم شته.
(۳) د "خ" دوهمې نسخې : "عزت"
(٤) د "خ" دوهمې نسخې : "دزړه ویني"
(۵) چاپي دیوانونه : "هم نشته"
(۶) د "خ" لومړې نسخې : " تر دو نظر راباندې نه کا".
(۷) د "پ پ" چاپ اود "خ" دوهمې نسخې : "چې زړه څه لرم ګناه". "ق ،ک" چاپ : "چې یې زړه لرم ګناه".
(۸) دا بیت په مصوره نسخې کې نشته.
(۹) چاپي دیوانونه اودنورې قلمي نسخې : " درحال په خیر دې نه شي".

ورځ دې تېره په شومې کړه شپه له خوابه
خدای به کله یاد وې خانه خرابه

په شتاب شتاب دې تله دې که پوهېږې
غافل مه شه د دې عمر له شتابه

دلته دم او قدم دواړه په حساب دي
پل غلط له لارې مه ږده بې حسابه

راستولی خدای حساب دی په کتاب کې
خبر زده کړه له حسابه له کتابه (۱)

ته وخپلو نېکو بد و ته نظر کړه
چې بدې دې خوتېرې کړې له ثوابه (۲)

په هغه جهان به څرنګ ځواب وکړې (۳)
چې په دا جهان عاجزې له جوابه

عاقبت به تو روخاورو له درومې
ځان به څوڅنډې په ګوته له ترابه (٤)

زه دې پېژنم په اصل کې تراب یې
ته چې ځان څنډې په ګوته له ترابه (۵)

څو په دا جهان او به له تندې نه شې
په قیامت به دې سینه نه شې سیرابه

چې آفتاب یوه نېزه شې بیا به څه کړې (۶)
چې نن (۷) سیورې لره تښتې له آفتابه

دکاغذ په کشتۍ سیر کوې رحمانه
دا کشتۍ به دې مرګې کاندې غرقابه (۸)

پېرازار دچا راضي مه شه کاڅ نه
که خلاصی په قیامت غواړې له عذابه

۱۹۳۸

۱۹۸

په ورځ ناست یې بې طلبه (۹)
په شپه خوب کړې بې ادبه

لاس دې وخاته له دواړو
هم له روزه هم له شبه

---

(۱) دابیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۲) قلمي نسخې : " ته دا خپل نېک وبد وتله مخپله چې ثواب دې خوتېرې کاله عذابه".
(۳) د "خ" لومړۍ نسخه او مصوره نسخه : " په هغه جهان به څرنګه ځواب کړې". د "خ" دوهمه نسخه : " په هغه جهان به څرنګ ته ځواب کړې".
(٤) دابیت په قلمي نسخو کې نشته.
(۵) دابیت او ورپسې بیت له قلمي نسخې نه نقل شو.
(۶) قلمي نسخې : " تر دبه څه کړې".
(۷) چاپي دیوانونه : "اوس چې".
(۸) دابیت د "خ" په درد والا نسخه کې نشته. لومړۍ مسرې یې په چاپي دیوانونو کې داسې ده : " دکاغذ په کشتۍ سیل به کړې تر کومه".
(۹) په چاپي دیوانونو او د "خ" لومړۍ نسخه کې "بې مطلبه" راغلی دی.

نه دلي شوي نه هوري شوي — ترمنځ(۱) ورك(۲) شوي مذبذبه
عبادت دي په ريا شو — په مذهب کي بد مذهبه(۳)
مدام بند يي په سبب کي — بي خبر له مسببه
واړه تشي شرومبي شاري — خبر نه شوي له مطلبه
ته اوده ورباندي سور(٤) يي — آس دي يون کا بي جلبه
تن دي تش په توره وسو — آس دي داغ کړ بي منصبه(۵)
دراکب چي واك پردی شي — سوديي څه وي له مرکبه
له ژوندیو سره ناسته(٦) — له مرده ؤ مرکبه
هلك لوی شوي په اوبو کي — اوبه نه پيژني کبه
لکه کاڼی يا کو دری — په درياب کي تشنه لبه
ناآګاه ځان آګاه بولي(۷) — دا خبره ده عجبه(۸)
مرا دله زهده معرفتدی — نه تش ځان وژل اقربه

دمان شراب له عشقه
نه له کودوله عنبه(۹)

۱۶۹ ۱۹۵۳

ته شها(۱۰) يي شکر لبه — ګل رخساره سيم غبغبه

---

(۱) د "خ" دري واره نسخي : " ترميان".
(۲) چاپي ديوانونه : " ډوب شوي".
(۳) دا کلمه د "ب" په لومړي او د "خ" په لومړي نسخه کي " بي مذهبه" راغلي دي.
(٤) قلمي نسخي : " ورباندي ناست يي".
(۵) دا بيت په مصوره نسخه کي نشته.
(٦) په "پ" چاپ ، "ق" چاپ ، "ق ،ک" چاپ او د "خ" لومړي او دوهمه نسخه کي " ناست يي" او د "پ پ" چاپ کي "ناست دي" راغلي دي.
(۷) قلمي نسخي : " ناګاه خپل ځان ګاه بولي"
(۸) "ق ،ک" چاپ او د "ق" چاپ : " دا خبره عجايبه".
(۹) چاپي ديوانونه : "نه انګور نه له عنبه".
(۱۰) د "پ پ" چاپ کي " ستهلا" راغلي دي.

په نادرو کې نادره — په عجبو کې عجبه
په جمله ؤ معشوقو کې — بوالعجب یې منتخبه
بې زیوره بنایسته یې[1] — بې ترتیبه من تبه
دغه داد د الهی دی[2] — بې تالاشه بې طلبه
آب حیات چې حیات بیا موند — ستا د شونډو له سببه[3]
مخ دې سپین تر سپین سبا دی — زلفې تورې تر تور شبه
ستا د مخ عرق دانه وو — زینت رانیو له کوکبه[4]
د بنایست مخی دې نشته — تر مشرقه تر مغربه[5]
د وصال موندې دې گران دي — مگر فضل شي له ربه[6]
چې د رب فضل پرې وشي — هغه خلاص شي له غضبه[7]
داد ولت د خدای په داد دی — موندې نه شي له نسبه[8]
عشق څه هسې علم نه دی — چې حاصل[9] شي له مکتبه
مکتب حال د مذهب وایي — عشق سیوا دی له مذهبه
د عاشق مذهب هم دا دی — چې ذم نه وي بې مطلبه[10]

ستاد حسن په تعریف کې
گونگ دی[11] له ادبه

۱۹۶۹ — ۱۷۰

---

(۱) قلمي نسخې : "بې زیوره دل فریبه".
(۲) د "خ" قلمي نسخې ، " دا یو داد الهي دی".
(۳) د " خ " لومړی او دوهم نسخه او د "پ " لومړی نسخه : "آب حیاتو حیات بیا موند ستا د لبو له سببه".
(٤) د پېښور چاپي دیوانونو : " ستاد مخ عرق دانه ده زینت دار ه له کوکبه".
(٥) د امسرې په مصوره نسخې کې دا سی لوستل کېدای شي : " مگر مهر وشي له ربه ".
(٦) د بیت په مصوره نسخه کې نشته ، په نورو قلمي نسخو کې د امسرې دا سی ده : " مگر مهر وشي له ربه".
(۷) د بیت د " پ " په لومړی نسخه او د "خ" په لومړی نسخه کې نشته .
(۸) د " خ " لومړی نسخه کې "منصب" راغلی دی .
(۹) په قلمي نسخو کې "حاصلیږی" راغلی دی .
(۱۰) د بیت په مصوره نسخه کې نشته ، د "خ" په لومړی او دوهم نسخه کې : "یو دم نه وی بې مطلبه". په "ق" چاپ او "ق،ک" چاپ کې د "نه وی" پرځای "نه وی" راغلی دی .
(۱۱) په چاپي دیوانونو کې "شو" او د "خ" په دوهم نسخه کې "یم" راغلی دی .

په هر زړه چې د یار مینه شي غالبه — بله مینه یې هیڅ نه وي مناسبه
نوري واړه مرتبې به ورته هیڅ شي — که خبر شي څوك له هسې مراتبه
لیاقت یې هر وګړي څخه نشته — عاشقي یوه پایه ده عجایبه
د طلب له کوتاهۍ وېره وکړه[1] — که هر څو دې لار کوتاهه ده طالبه
عشق څرګنده خزانه ده خوارهغه شو — چې څرګنده خزانه شوه ترې غایبه
غوره[2] خط د مهرویانو ترخط نشته — که هزار رنګ کتابونه کړې کاتبه
هیڅ یې مه پوښته له فرضو له واجبو — په هغو چې عاشقي کړې خدای واجبه[3]
عاشقان ترسرو ماله یارته تېر دي — خدای دې د طائفه نه کاندې کاذبه[4]

۱۷۱ — ۱۹۷۸

زه ګاڅن دخپل صاحب په رضا زیست کړم
څه په کار دی بنده بې خپله صاحبه[5]

تا چې په دا تور و سترګو وکاته وماته — زړه دې زما تور کړله دې نور مخلوقاته[6]
ما خو چې ته ولیدې هغه ساعت مې ووې — نوره به مې مینه د زړه نه شي له تاماته
شیخان او زاهدان چې نصیحت وماته وایي[7] — نه دي خبر شوي ستا د مخ له محسناته
څه وشو که زه انګشت نما شوم ستا په مینه — لا ترما نه خوښ یې وقاضي وهم ملاته[8]
مرم په دا چې ماله تا جار باسي هغه خلق — بیا دې په دیدن ترما وړمې ځغلي وخواته[9]

---

(۱) د "خ" لومړۍ نسخه : "د مطلب له کوتاهۍ وېره وکړه".
(۲) د "پ" په لومړۍ نسخه کې "دوړ" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "لهتر" راغلی دی او هم دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته..
(۳) د "خ" لومړۍ نسخه : "په هغو چې دیار مینه شوه واجبه".
(٤) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته ، په لوړو قلمي نسخو کې دوهمه مسرې دې ده : "خدای به د طائفه نه کاندې کاذبه".
(۵) چاپي دیوانونه : "څه په کار دی دا بنده بې خپل صاحبه".
(۶) دې ردیف قول بیتونه د "پ" په دوهمه او د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې نه دي راغلي.
(۷) دا مسرې په "پ" چاپ او د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې دې راغلي ده : "شیخ وزاهدان چې نصیحت والي وماته".
(۸) دا مسرې په "پ" چاپ کې دې راغلي ده : "لا ترما نه خوښ یې وقاضي وهم ملاته".
په "پ ب" چاپ کې دې راغلي ده : "لا ترما ته خوښ یې وقاضي وهم ملاته".
د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې دې راغلي ده : "لا ترما خو مینه کړه قاضي او وملاته".
(۹) د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې دې راغلي ده : "بیا دې په دیدن ترما وړمې زغلي وخواته".

۱۷۲ — ۱۹۸٤

زه رحمان چې دې وینم یار وایم خدایه خیر کړې
ګډه ښا پېرې ده دښې آدم له ذاته (۱)

که د عقل څه اثر لرې وسر ته — لاس په سر مه شه دهر ګېډې ودر ته
په نظر دهغو خاورې سره زر کېږې — هرچې نه لرې نظر (۲) وسیم وزر ته
بې منته جام د زهر وڅښلی سبه دی — نه هغه چې منت بار (۳) وې وکوش ته
دیوسف له حاله زده کړه دغه پسه — وا یه حال د زمانې وبرادر ته
دې فلك وچاته هیڅ بسنلې نه دې — چې یې نه دی راپېرودی ځنې بېر ته
د خروار دعوی یې وګنه ممکنه — که یې پوه وې دیوې جودانې در ته (٤)
که له خدایه دې وخلق وته مخ شې — له فردوسه به دې مخ شې وسقر ته
همېشه به در په درګر ځې رتلی — داستوګنې ځای به بیا نه مومې چېر ته (٥)

۱۷۳ — ۱۹۹۳

د دې سست بدن منت په رحمان باندې
چې له خپله د ره تلی نه شې بل در ته

چې نظر کړم د خوبانو ورخسار ته — حق حیران د خدای په کړه شم ودې کار ته (٦)
له دهشته یې ریبار پوښتېدای نه شم (٧) — خدای زده څه به یې ویلې وې ریبار ته
خلوتیان لکه برده پکې خرڅېږې — غږ یې نه خېږې د حسن وبازار ته

---

(۱) دابیت په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "زه رحمان چې یار ووینم وایم خدایه خیر کړې ګډه ښا پېرې ده دښې آدم له ذاته".
په "پ پ" چاپ کې دابیت داسې راغلی دی: "زه رحمان چې ووینم یار وایم خدایه خیر کړې ګډه ښا پېرې ده دښې آدم له ذاته".
د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې دابیت داسې راغلی دی: "زه رحمان چې یار ووینم خدایه خیر کړې ګنه ښا پېرې ده دښې آدم له ذاته".

(۲) په مصوره نسخه کې "حاجت" راغلی دی.

(۳) په چاپي دیوانونو او د "خ" دوهمه نسخه کې "منت بار شې" راغلی دی.

(٤) چاپي دیوانونه: "که رتې یا جودانه به یې وې در ته".

(٥) قلمي نسخې: "داستوګنې ځای به نه مومې هیچېر ته".

(٦) چاپي دیوانونه: "آئینې غوندې حیران شم ودې کار ته".

(٧) د "پ" لومړۍ نسخه: "له دهشته یې ریبار ته کتای نه شم".

ته چې ما پوښتې د یار له حقیقته — څوك د یار خبرې کاندې واغیار ته
د درد وغم د عاشقۍ څه هومره نه دي — چې یې عقل د چا رسي ومقدار ته
زه ویار چې سره خپل غمونه شمار کړو — یار وما ته حیرانیږي زه ویار ته
د دنیا چارې همه واړه په وار شي — ما د یار غمونه نه پرېږدي وواړ ته[1]

۱۷۴ — ۲۰۰۱

ما ګاڼ هسې وزګار چېرې دی له عشقه[2]
چې غوږ ونیسي ناصح غوندې وزګار ته

ما د دهر غم وهلی دی په لته — د پیالې د صراحۍ له برکته
که اوبه دي د حیاتو په ظلمت کې[3] — ساده رویو وما راکړې بې ظلمته[4]
هغه یار چې وما جام د میو راکړ — د دسنو وینې مې وڅښې بې شدته[5]
بې خودۍ د دنیا له غمه خلاص کړم[6] — لارې بیا مونږه بیرون له شش جهته
د دښمن په دښمنۍ مې خنداکېږي[7] — لکه شمع د مقراض له خصومته
بې خیرې مې کل په خیر باندې شمېرلې — دزړه مې په خوله کې ناست یم فراغته
مې بهتر دی تر هغه چې څوك بې پېشې[8] — په یارۍ کې دې خدای نه کا څوك بې پته
داستې چې په اور سوځې مرادې دادی — چې په اور کې سوی بندیم نه بې پته[9]
خدای هاله دسړې یادشي چې دردمندشي — کمه نده دردمندي تر عبادته

---

(۱) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته او د "پ" په لومړۍ نسخه کې د "وار" پرځای "یار" راغلی دی.
(۲) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۳) "پ" چاپ او د "پ پ" چاپ کې "په توره تم کې" راغلی دی.
(٤) د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې "بې منته" راغلی دی.
(۵) د "پ پ" چاپ او "ق، ک" چاپ کې د "بې شدته" پرځای "بې شربته" راغلی دی.
(٦) د "خ" دوهمه نسخه: "بې خودۍ زه د دنیا له غمه خلاص کړم".
(۷) د "پ" نسخې او د "خ" لومړۍ نسخه: "خنداشي" او د "خ" دوهمه نسخه "خنداراشي".
(۸) مصوره نسخه کې "بې ننګ دشي" راغلی دی.
(۹) د "خ" دوهمه نسخه: "داستې چې شیرین ځان سیزي په اور کې مرادې دادی چې په اور کې سوی بندیم نه بې پته". په چاپي دیوانونو کې دوهمې مسرې د "چې" پرځای "زه" راغلی دی.

په تدبیر وپه تلاش کله مونږه شي — چې موقوف وي هغه کار په عنایته[1]
که څوك سل نصیحتونه ورته وکا — غوږ یې نه وي دهیچا په نصیحته

زه ماران په سل حلقو د زلفو بند یم — لادپاسه یو پیزوان شو بله نته[2]
۱۷۵ — ۲۰۱۳

ستا په مخ کې څه[3] حساب د جمال نشته — ځکه ما څخه د صبر مجال نشته
ته د سر و د مال وېره په ما مه کړه — وېره ما څخه د سر و د مال نشته
زه په دا سبب له وېرې سره رېږدم — چې ستا وېره کې ثواب دی وبال نشته[4]
که وعده دیوې چارې یوساعت کړې — دهغې چارې امید مې په کال نشته
د شهید وحال ته ګوره حال یې څه دی — بې تا هسې حال زما دی بل حال نشته
د وښنایي مې د چشمانو ستا دیدن دی — په دا کور کې بل چراغ او مثال نشته
په جویبار زما دسترګو سرو ته یې — په دا نهر باندې بل څه نهال نشته[5]
مخ دې بې خطه بې خاله هسې زیب کا — چې یې هیڅ حاجت په خط وپه خال نشته
مخامخ که راته وګورې دلبره — په کا ته کې دې ثواب دی وبال نشته[6]
د آفتاب په مخ کې هره ورځ زوال وي — ستا د حسن په آفتاب کې زوال نشته
په جذبه د محبت مې ځان ته راښکه — نور حاجت مې په ریبار او دلال نشته[7]

ستا په یاد و رحمان هسې رنګ مشغول دی — چې په زړه کې یې هیڅ غم د وصال نشته
۱۷۶ — ۲۰۲۵

---

(۱) دا بیت او وروسته بیت له قلمي نسخې نه نقل شول.
(۲) چاپي دیوانونه: "لادپاسه سو پیزوان شو بله نته".
(۳) په چاپي دیوانونو کې د "څه" پر ځای "چې" او په مصوره نسخه کې "هیڅ" راغلی دی.
(۴) قلمي نسخه: "چې ستا وېره د ثواب دی وبال نشته".
(۵) قلمي نسخه: "په دا نهر باندې خیر نهال نشته".
(۶) دا بیت په قلمي نسخو کې نشته.
(۷) دا بیت د "ق، ک" له چاپي دیوان نه نقل شو او په لوړو چاپي دیوانونو او قلمي نسخو کې نشته.

مخ ته که دې نمس وایم د نمس زلفې تار تار نشته — سروکه ستا قد بولم د سروې یون رفتار نشته (۱)

هر څوك چې دې ستا وآتشین رخسار ته گل وایي — پوچ وایي داوریه مخ کې وقر د گلزار نشته (۲)

زلفې دې ناحقه څوك سنبل بولي دلبره (۳) — ولې چې له مښکو سره هیڅ د کیاه کار نشته

ماچې غږ په غوږ وستا د در د سپیو واوریده — هسې رنگ بلبله په چمن کې په گفتار نشته (٤)

ستا دېدن هغه کاچې یې سر په تنه باس نه وي — ولې چې د سر د څښتن حور و وته لار نشته (۵)

یار به د رقیب په لوري خدای نه کا رحم نه (۶)

ولې چې د سپیو فرښتو سره څه کار نشته

۱۷ — ۲۰۳۱

که څوك لاس له سوده وکا بې زیان نشته (۷) — په ملنگ باندې قلنگ اوتاوان نشته

دوفا خریدار ان دې بل خوا د رومي (۸) — دامتاع د زمانې په دوکان نشته

جدایي له اشنایي نه پیدا کیږي — ناآشنا ته هیڅ غم د هجران نشته

مگر ځان وخدای ته وسپاري امان شي (۹) — کنه بله خوا د هیچا امان نشته

---

(۱) د "پ" نسخې : "قد که دی سرو بولم د سرو یون رفتار نشته".
"ق" چاپ او "ق، ک" چاپ : "سروکه ستا قد بولم د سرو خوش رفتار نشته".
د "خ" لومړی، دوهم او مصوره نسخه : "قد قد که دې سرو وایم د سرو یون رفتار نشته".

(۲) د "خ" لومړی نسخه : "پوچ وایي داوریه مخ کې بل هسې گلزار نشته".
د "خ" دوهمه نسخه : "پوچ وایي داوریه مخ کې قدر د گلزار نشته".

(۳) چاپي دیوانونه : "زلفې دې ناحقه خلك بولي د سنبل صنم".

(٤) د "پ" لومړی نسخه : "ماچې داوریده غږ دستا د سپیو — هسې رنگ بلبل هیڅ په چمن کې خوش گفتار نشته".
د "خ" دري واړه قلمي نسخې : "ماچې غږ په غوږ و واوریده ستا د سپیو — هسې رنگ بلبله په هیڅ چمن کې خوش گفتار نشته".

(۵) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه او مصوره نسخه کې نشته، په نورو نسخو کې دا بیت داسې دی : "ستا دېدن هغه که چې یې سر په تنه نه وي — ولې سر د څښتن حور و وته لار نشته".

(۶) د "پ" لومړی نسخه : "یار به د رقیب په لوري خدای نه کا رحمانه — ولې چې فرښتو سره د سپیو هیڅ کار نشته".
د "خ" مصوره نسخه کې یې دوهمه مصرع داسې ده : "حق دی چې د سپیو د فرښتو سره کار نشته".
د "خ" لومړی نسخه : "حق دی چې فرسپیو فرښتو سره روزگار نشته".
د "خ" دوهمه نسخه : "حق دی چې د سپیو و فرښتو وته لار نشته".

(۷) د "خ" دوهمه نسخه : "که څوك لاس له سوده واخلي زیان یې نشته".

(۸) "پ" چاپ او "پ پ" چاپ : "دوفا خریدار بل خوا ته دې د رومي".
د "پ" لومړی نسخه : "دوفا خریدار وبله خوا ته د رومي".

(۹) د "پ" او "پ پ" چاپ : "مگر ځان وخدای ته پاسلي په امان شي".
"ق" چاپ : "مگر ځان وسپاري خدای ته په امان شي".

هغه یار به زه ګومې خواته غواړم — چې یې هیچېرې منزل ومکان نشته
دلبران که هرڅو د پرشي په جهان کې — زما یار غوندې دلبر په جهان نشته
چې هم قدلري هم زلفې هم سرې شونډې — د غرهسې رنګ آفتاب په آسمان نشته[1]
عشق عاشق لره یو هسې ګلستان دی — چې وباغ وته یې[2] لاره دخزان نشته[3]
عاشقان په عشق کې واړه سلطانان دي — په دا شهر کې نپستګار او ناتوان نشته
که مجنون غوندې په عشق کې شو د صادق شي[4] — دلیلی په دروازه کې دربان نشته

۱۷۸ — ۲۰۴۲

دانایان به د زمانې[5] په قال پوهېږي — دلته کار دهر نااهل ونادان نشته

په دنیا کې مخ دیار دی نورخه نشته — هرچې دی دیار دیدار دی نورخه نشته[6]
چې وهجر ووصال ته یې نظر کړم — یو دوزخ دی بل ګلزار دی نورخه نشته
کارخانې چې ددې دهر لیدی کېږي — همګې دعشق سرکار دی نورخه نشته
هرمژګان یې په ماهسې چارې کاندي — والم عین ذوالفقار دی نورخه نشته[7]
بویه مردچې یې له مخه زلفې واخلي — دغه ګنج دی دغه مار دی نورخه نشته
دمحسن دحسنات صفت به څوک کړم — کوتاه والم چې بې شمار دی نورخه نشته
وهر لورته چې دزړه په غوږ وځیرشم — جوړ دمحبت بازار دی نورخه نشته
چې سپین مخ اوتورې زلفې یې لیدی شي — دغه ګنج دی دغه مار دی نورخه نشته[8]
هرطبیب ته چې ځان وښیم دا وایي — چې له عشقه دې ازار دی نورخه نشته

۱۷۹ — ۲۰۵۲

خوار زمانې که بې تامینه په بل چاکه
عین دقتل سزاوار دی نورخه نشته

---

(۱) دا بیت په "پ" چاپ، "ق، ک" چاپ، د "خ" لومړی او دوهم نسخو او مصوره نسخه کې "جهان" او په "پ پ" چاپ کې "دوران" راغلی دی.
(۲) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. (۳) د "خ" لومړی نسخه: "چې هې باغ وته لاره دخزان نشته". (٤) "ق" چاپ او د "خ" دوهم نسخه کې "صادق وی" راغلی دی.
(۵) د "پ" لومړی نسخه: "دانایان درجهان په قال پوهېږی دلته کار دهر نااهل دناتوان نشته". (۶) دا غزل د "خ" له دوهمې نسخې او د زلمی صیوا دل د څخې کتابخانې له قلمی نسخې نه نقل شو په لومړنۍ قلمی نسخو او چاپي دیوانونو کې نشته. (۷) دا بیت او وروسته دری بیتونه د "خ" په نسخه کې نشته. (۸) دا بیت د زلمی صیوا دل د څخې کتابخانې په نسخه کې نشته.

تاخو زده زما د زړه لـه احتیاجه — نور[1] مې څه پوښتې چې څه غواړې محتاجه
د طالب و مطلوب راز به ما د روښود — که ته نه وای خبردار له دې رواجه[2]
یار ته یار که حال په خوله نه وایې څه شو — وحکیم ته پټ څرګند وي له مزاجه[3]
که زما له حاله ما پوښتې حال دادی — چې بې تامې ودځ تیاره ده تر شب داجه
اشنایي به ما په کوم قوت کـوله — که خبر وی ستا د هجر لـه تاراجه
که له سلوبه یو خواست دچا قبلیږي[4] — خدای دې هیڅوك رنځور نه کا بې علاجه

۱۸۰ — ۲۰۵۹

په رماحان بلا پسې که زهیرین ي
ته مشغول اوسه له خپله تخت وتاجه

چې خبر شوم د ساقي د جام له راحه — لکه مړی ملاقي شوم لـه ارواحه
زه چې زلفې دیار وویم په خوب کې — په شپه مښك را باندې وورې تر صباحه
سبا زبری د وصال په هجور کاندې — د هیواد خبر مونده شي له سیاحه[5]
که رواکا خون خوردن د عاشقانو — څوك وتې شي د خوبانو لـه صلاحه
هر ساقي چې جام د عشق لري په لاس کې — د اپیاله یې په مستانو ده مباحه
مخ بې مینې که څوك ستایي ستایه نه شي — د ممدوح له قدره چا زده بې مداحه[6]

---

(۱) د "پ" نسخې: "بیا مې څه پوښتې"، او د "خ" په لومړی نسخه او مصوره نسخه کې "تر و مې څه پوښتې" راغلی دی.
(۲) د "پ" نسخې: "د طالب و د مطلوب روش به ما د روښو که ته نه یې خبردار له دې رواجه".
د "خ" لومړی او دوهمه نسخه: "د طالب مطلوب روش به ما د روښود که ته نه وای خبردار له دې رواجه".
مصوره نسخه: "د طالب د مطلوب دود به ما د روښود که ته نه وای خبردار له دې رواجه".
(۳) د "خ" دوهمه نسخه: "و طبیب ته خو د معلوم وي له مزاجه".
(٤) چاپي دیوانونه: "که په سلوکې یو خواست دچا قبلیږي".
(۵) دا مصرع په "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "د مهجور خبر مونده شي صباح".
همدا مصرع د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې ده: "د هواخبر مونده شي له صباح".
د "پ" په دوهمه قلمي نسخه کې هم د "خ" د دوهمې نسخې غوندې راغلې ده.
(۶) دا بیت د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې نه دی راغلی.

۱۸۱ — ۲۰۶۶

د دنیا ناوې په عقل کې دین غواړي
ای رحمانه خان یې ژغوره له نکاحه[1]

ولې تللی یې له ما مدام په څه — ترهېدلی یې هر صبح وشام په څه[2]
نه هر صبح وشام وتاوته دعا کړم — ته وما وته کوې دشنام په څه
همیشه لکه وحشي په وحشت ګرځې — یو ساعت راسره نه یې رام په څه
دایماً راتخه درومې مخ په وړاندې — لکه عمر بیرته نه ښې دې ګام په څه[3]
راته وایه زه به هم هغه کومه — رقیبانو[4] ته ښې انعام په څه
لښ پرهېز کړه له رقیبه دخدای روی دې[5] — ګډ وې سره حلال حرام په څه

۱۸۲ — ۲۰۷۳

رحمان ستا په مخ بې خنوم[6] مین دی
بې هوده دې ورته کېښود دام په څه

ولې نه ګوري وماته سم په څه — زیاته وې دغم زده و غم په څه
ستا په غم کې چې ماوینې عالم ژاړي — ژړوې راسره نور عالم په څه
په مطلب دې دسر وشونډ ونه پوهېږم — چې مې وینې د زړه څښې هر دم په څه
ودې خپلو مستو[7] سترګو ته دې وایه — چې ورژنې[8] مې قلم قلم په څه
ستمګار چې ستم کا څه بهانه کا — ته په ما باندې کوې ستم په څه

---

(۱) دامسدی په "پ پ" چاپ کې داسې راغلی ده : " اې رحمانه خان ترې ژغوره له نکاح ".
د "خ" په لومړی قلمي نسخه کې داسې راغلی ده : " اې رحمانه خان ژغوره له نکاح ".
(۲) داغزل په مصوره نسخه کې نشته .
(۳) د "خ" لومړی نسخه : "لکه عمر په سرعت ښې دې ګام په څه".
(٤) په چاپي دیوانونو کې "خمازانو" راغلی دی.
(۵) چاپي دیوانونه او د "خ" لومړی نسخه : "لښ پرهېز کړه له رقیبه خدای دپاره".
(۶) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "خنو" پرځای "زلفو" راغلی دی.
(۷) چاپي دیوانونو او د "خ" لومړی نسخه کې "برندو ستر ګو" راغلی دی.
(۸) د "پ پ" چاپ او "ق، ک" چاپ کې د "ورژنی" پرځای "داوژنی" راغلی دی.

مه کړه خدای چې څوك بې یار خوښ خرم وي — زه به اوسم بې تا خوښ خرم په څه
زه رحمان پخپله گرم یم چې ماښ شوم — دغه نور عالم مې بولي گرم په څه (۱)

۱۸۳ — ۲۰۸۱

لږ یې وپوښته چې حال یې د زړه څه دی
د رحمان له ستر گو څاڅي نم په څه

که څه وایم له هجرانه وایم څه — له دې درد بې درمانه وایم څه
توان ددم وهلو نه لرم و یارته — چې توان نه لرم بې توانه وایم څه (۲)
چې یې ووینم له ځانه خبر نه یم — چې خبر نه یم له ځانه وایم څه
دخپل زړه له حاله هیڅ راویل نه شي — له بې نامه بې نښانه وایم څه (۳)
دعشق راز چې هیچا نه دی بیان کړی — تر وبه زه له دې بیانه وایم څه
دخپل یار له غمه درست په اوښکو وږم — له دې هسې رنګ توفانه وایم څه
زه چې پروت یم دهجران په تنا ره کې — دوصال له گلستانه وایم څه
سرومال دسړي لوټ کا زړه یې یوسي — له دې هسې دلستانه وایم څه
زاغان بولي بلبلان شړي له باغه — دې دهر له باغبانه وایم څه

۱۸۴ — ۲۰۹۱

هرچې وایم تر همه واړه بهتر دي
زه رحمان به له جانانه وایم څه

څه شوکه خاموش یم ستا د عشق له آه سړه — ستا زماله مینې خلقه واړه خبر ده
هیڅوك دې په خوله دعاشقۍ لافه ونه کا — کله هم پټېږي وچې شونډې گونه زرده
اهل د دنیا واړه نامرد دي رنګ یې ورك شه — خدای دې ملاقات له هیچا نه کاله نامرده

---

(۱) دابیت د "خ" په قلمي نسخو کې نشته په چاپي دیوانونو کې داسې دی: "رحمان خود پخپله گرم یم چې ماښ شوم ولې نور عالم مې بولي گرم په څه".
(۲) دابیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته
(۳) دابیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته، د "خ" په دوهمه نسخه کې یې لومړی مصرع داسې ده: "دخپل زړه له حاله هیڅ ویلای نه شم".

کله بې دردانولره زړه دی چا ورکړی[1] — زه به صدقه کړم سل بې دردله اهل دردهٔ
بې دستاد عشق د شهیدانو له خاکدانه — کله زرغونېږي سره لاله له هره ګردهٔ[2]

١٨٥ — یو خوشحال او یو کم سل ختک نور په طبیعت کې
زار شه د ماخ ډان سرېږي له یوه فرده — ٢٠٩٧

که زما مینه په تاده خطا نده — که بې تاده ناروا ده روانده[3]
څوك چې بې دستاله مخه بل ته ګوري[4] — آیینه یې ناصفا ده صفا نده
هر عاشق چې په خپل یار پسې ژړاکا — داژړا واړه خنداده ژړانده
د دنیا په تماشا چې څوك ناز بېږي — خوهم نن یې تماشا ده سبانده
که ته سل ځله له ما سره جفا کړې — ستا جفا واړه وفا ده جفانده
هغه تېر شو چې مې مینه په غلا غلا کړه — اوس په درست جهان رسوا ده په غلانده[5]

١٨٦ — معشوقه که د خپل سر په بها مومي
و ماخ ډان وته وېرېږي ده بهانده — ٢١٠٤

له اغیار سره خندا څه په کار نده — له اغیار سره سودا څه په کار نده
سل یاره دیوه یار د پاره کړی شي — آشنایي د هر آشنا څه په کار نده
بد له بد وسره بویه نېك له نېکو — د جفا په ځای وفا څه په کار نده[6]
هر بلبل به دې ثنا کا که ته ګل شي — په خپل ځان خپله ثنا څه په کار نده

---

(١) چاپي دیوانونه او د "خ" دري واړه قلمي نسخې : " کله بې دردانولره زړه دچا وردرومي ".
(٢) دا بیت د "خ" په دري واړو نسخو کې نشته .
(٣) "ق،ک" چاپ : " بې له تاکه په بل چا ده روانده .
(٤) د "پ" لومړی نسخه : " څوك چې بې دستاله مخه ګوري د بل مخ نه ".
د "خ" لومړی نسخه : " څوك چې بې دستاله مخ د بل سر ګوري ".
د "خ" دویمه نسخه : " هر څوك چې بې د استاله مخه بل مخ ګوري ".
د "خ" مصوره نسخه : " څوك چې بې دستاله مخه بل خوا ته ګوري ".
(٥) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته ، په نورو قلمي نسخو کې : " هغه تېر شو چې مومینه په غلا غلا کړه اوس په درست جهان رسوا شوه په غلا نده ".
(٦) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته .

عشق دبوی[1] په خبرپه پټه خوله څرګندوي — په داچاروکې غوغا څه په کار نه ده
دعشق درد واړه عاشق لره راحت وي[2] — ددې هسې درد دوا څه په کار نه ده
عاشقان وحرص هوادي سره لـــرې[3] — دبیمار په ځان هوا څه په کار نه ده[4]
عاشقي نادره چاره ده په جهان کې — ولې بې خدایه سودا څه په کار نه ده[5]
که بې کرم هم هیڅ بې نه ګنم سوګند دی[6] — وابستګي ددې دنیا څه په کار نه ده
ددنیا مینه بې کاره اوریده شـــي — چې مې ولیده رښتیا څه په کار نه ده[7]

که ماڅ[ان] په جهان دبې پایم دلبره
زندګي زما بې تا څه په کار نه ده

١٨٧ — ٢١١٥

ګوره بیا به څوك ادا[8] کا په زړه غونډه — چې داهسې مسته دروي مخ بې بنده
ته چې ګل دآشنایئ له باغه غواړې — خبر زده کړه دهجران له خار وخنده
طالبان که مرور دي هم پخلا دي — بې مطلوبه دچا نه رسي داهنده
مارستم ددهر ولیده په سترګو — دخپل یار له جوړه ژاړي لکه کونده
دعاشق دلاغرۍ[9] سبب دادی — چې فرقه دمعشوق وشوه په زړه تنده
زه به حوري دجنت بې یاره څه کړم — خدای دې سرو دچا نه کاندې ارهنده
سخت ساعت دبیلتانه به مې هیر نه شي — که راوکه شي دتور لحد ګورهنده

زه ماڅ[ان] دهغه حسن دعاګوی[10] یم
چې جرګه دعاشقانو وي پرې پنده

١٨٩ — ٢١٢٣

---

(١) په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "ګل" او په مصوره نسخه کې "دبوه" راغلی دی.
(٢) "پ" چاپ، "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "عشق ودرد واړه عاشق لره راحت دي"، د "خ" په لومړۍ نسخه کې "عشق ورنج" راغلی دی.
(٣) چاپي دیوانونه: "عاشقي. حرص وهوادي سره لرې".
(٤) د "خ" لومړۍ نسخه: "دبیمار په ځای خندا څه په کار نه ده".
(٥) دابیت په "ق، ک" چاپ کې نشته، د "خ" په دوهمه نسخه کې د "سودا" پرځای "سیوا" راغلی دی.
(٦) د "خ" لومړۍ نسخه: "که بې کرمه که بې نه کرمه سوګند هم دادی".
(٧) دابیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(٨) د "خ" دوهمه نسخه او مصوره نسخه کې د "ادا" پرځای "ازار" راغلی دی.
(٩) د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "لاغرۍ" پرځای "دل آزارۍ" راغلی دی
(١٠) په چاپي دیوانونو او د "خ" دوهمه نسخه کې د "دعاګوی" پرځای "ثناخوان" راغلی دی.

ماچې جور وجفا بیا مونږه له یاره — دوفا طمع به څه کړم له اغیاره[1]

له دښنه به دښادۍ طمع څوك څه کا[2] — چې د دوست له لاسه غم شي ورد وخاره

دل آزار که دل آزار شي مانه نه شي — حیف خو دادی چې دل دار شي دل آزاره[3]

داګله هم[4] دېره دېره له هغو شي — هرچې طمع ترې د ښوکېږي بسیاره

اوس داستار ضا جفا کړې که وفا کړې — دواړه لاس مې اوس ختلي له اختیاره[5]

طالبان خو ترمطلوبه پورې پرې دی[6] — خدای دې تا بې وفا نه کا وفاداره[7]

چې له دېرې حیا نه ګوړې وچا ته[8] — څه خو مخ کړه د رګ دزړه د پاره

١٨٤ — ٢١٣٠

---

(١) دا غزل په مصوره نسخه کې نه دی راغلی.

(٢) دا مصرع د "خ" په لومړۍ نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "له دښنو به دښادۍ امید څوك څه کا".
په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "له دښنو به دښادۍ طمع څوك څه کا".
په "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "له دښمن به دښادۍ طمع څوك څه کا".
او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "له دښمنه دښادۍ طمع څوك څه کا".

(٣) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نه دی راغلی په "پ پ" چاپ کې دا بیت داسې دی: "دل آزار که دل آزار کړه مانه نه شي.
حیف خو دادی چې دلدار شي دل آزار".
د "پ" لومړۍ نسخه: "دل آزار که دل آزار کړه مانه تر نه شي
حیف خو دادی چې دل سوزن شي دل آزار".
د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې دی: "دل آزار که دل آزار مانه تر نه شي
حیف خو دادی چې دلسوزن شي دل آزار".
د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې دی: "دل آزار که دل آزار که مانه نه شي".
حیف خو دادی چې دلسوزن شي دل آزار".

(٤) په "پ پ" چاپ او د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "هم" پرځای "مې" راغلی دی.

(٥) دا بیت یوازې او یوازې د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې راغلی دی او لوزو کې نشته.

(٦) د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې د "پرې دی" پرځای "پورې دی" راغلی دی.

(٧) دا مصرع په "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "خدای دې څوك بې وفا نه کا وفاداره".

(٨) دا بیت د "پ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی: "که له دېرې حیا نه ګوړې وچا ته
څه خو مخ کړه درحمان دزړه دپاره".
په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "که له دېرې حیا نه ګوړې وچا ته
څه خو مخ کړه درحمان دزړه د پاره".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې دی: "که له دېرې حیا نه شی کتې چا ته
څه خو مخ کړه درحمان دزړه دپاره".
دوهمه مصرع یې د "خ" په دوهمه نسخه او د "پ" په دریمه نسخه کې په پورته شکل راغلې ده.

وخت د نوبهار دی زه جدا له خپله یار ۵ — دریغه دریغه چې بې یار ۵ ځې بهار ۵ (1)

او د خوب وده و نوچې د غره په سر لګیږي (2) — شنې لوخې خپرې له نسترن له چنار ۵

داخه عاجزي ده چې زه کیږم په کاغذ باندې — راشه و وې پرې ۵ دعاشقوله آزار ۵ (3)

داخه او ښکې نه دي چې بهیږي له چشمانو — وینې دي لهیږي د زړه ګوټې له پرهار ۵ (4)

رنځ مې هسې سخت دی هر زمان په ما زیاتیږي — راشه ای طبیب ګوندې مرم د رب د یار ۵ (5)

غرونه دي نرېږي چې په حال زما خبرېږي — سینه د اوښکو د رومې چې راغلی له کهسار ۵

نور څه نه دي واړه داناري د بلتانه دي — راشه که یې اوري د رباب له هره تار ۵

زه یو خوار و زاریمه ما له پاسه عاشقۍ کې — خپل دي که پردي دي راته نه ګوري له علاج ۵

١٩٠ — ٢١٣٨

ستا په عشق کې د روغژنیم سرتر سره — چې له غمه دې ژوندی ګرزم دلبر ۵ (6)

زه به ستا له غمه کله شولا مرم — باری دم د خدای په لاس دی نازپرور ۵

جدایي به مې یو دم قبوله نه کړه — که چا مرګ او بلتون اسبې وې په غوږ ۵ (7)

شام سحر مې د غه ستا زلفې رخسار دي — نور مې مد پوښته له شا مد له سحر ۵ (8)

---

(1) د غزل په قلمي نسخو کې نشته. په "پ" چاپ او "ق" چاپ کې یې دوهمه مصرع داسې ده:
"دریغه دریغه چې بې یاره شي بهار ۵".

(2) په "پ" چاپ او "ق" چاپ کې "بلېږي" راغلی دی.

(3) قلمي نسخې او لوړ چاپي دیوانونه: "راشه و وې پرې ۵ دعاشق له دل آزار ۵".
"ق" چاپ: "راشه و وې پرې ۵ دعاجز و دل آزار ۵".

(4) د "خ" دوهمه نسخه: "داخه او ښکې نه دي چې پرې زما بهیږي".
دا مې د زړه وینې چې بهیږي له رخسار ۵".

(5) د "خ" دوهمه نسخه: "درد مې نه کمیږي په زمان زمان زیاتیږي".
راي شه طبیبه ګنه مرم د خدای د یار ۵".

(6) د "خ" دوهمه نسخه: "چې له غمه دې لامرنه یم دلبر ۵".

(7) دا بیت په "پ" چاپ، "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې نشته.

(8) د "پ" قلمي نسخې: "شام سحر یار ۵ ستا زلفې ورخسار دی
هیڅ مې مد پوښته له شا مد له سحر ۵".
د "خ" په نورو درې واړو نسخو کې یې لومړی مصرع داسې ده: "شام سحر زما د ستا زلفې رخسار دی".

چې خبر دې[1] په وصال وې په هجران شوم — خبر نه یم له فردوسه له سقره
بې دستاله مخه ورځ راباندې شپه ده — روښنایي دورځې چېرې وي بې نمره[2]
هسې بې سر وسامان دې هیڅوك نه شي[3] — لکه زه چې بې سامانه یم بې سره
یوهنر مې منظور ستا په نظر نه دی[4] — که زه وکرم ستا په عشق کې سل هنره

۱۹۱ — هیڅ اثر د ماځ یان او ښکې په یار نه کا
خدای دې او ښکې دچا نه کا بې اثره — ۲۱٤۷

زه عار نه لرم په عشق کې له پیغوره — بې پروایم دستي په خپرله اوره[5]
بندي په خوله دسمندر هر دمومو[6] — څوك چې ما منع کوي د عشق له شوره
بې هجرانه زما بله خواري نشته — ولې نشته تر دا بله خواري نوره
لکه ته چې خدای هرګوره بنایسته کړې — زه یې هسې پېر بې صبره کړم هرګوره[7]
چې په تو او سپین مې اړوي دا څوك دی — که ته نه یې په مخ سپینه په زړه توره
در قیب له بدخویه به څه وایم — چې لا یار ورسره مل شي هلته ګوره[8]

---

(۱) په چاپي دیوانونو او مصوره نسخه کې "چې خبر یې" راغلی دی.
(۲) دا بیت په "پ" چاپ، "ق" چاپ او "ق،ک" چاپ کې نشته. لومړی مصرع یې د "خ" په دواړو نسخو کې داسې ده:
"بې دستاله مخه ورځ راباندې شپه شوه".
(۳) د "پ پ" چاپ کې "نشته" راغلی دی.
(٤) په چاپي دیوانونو کې "نه ستو" راغلی دی.
(۵) دا غزل په مصوره نسخه کې نشته.
(٦) د "پ" په لومړۍ نسخې کې "موم" راغلی دی.
(۷) دا مصرع په دواړو چاپي دیوانونو کې، او د "خ" په دواړو نسخو کې داسې راغلی ده:
"زه یې هم هسې بې صبره کړم هرګوره".
د "خ" په لومړۍ او د "پ" دواړو نسخو: "زه هم هسې بې صبرې کوم هر ګوره".
(۸) دا بیت په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "در قیب له بده خویه به څه وایم — لا چې یار ورسره مل شي هلته ګوره".
په "پ پ" چاپ او د "خ" په دواړو نسخو کې: "در قیب له بده خویه به څه وایم — چې لا یار ورسره مل شي هلته ګوره".
د "پ" په دواړو نسخو کې: "در قیب له بدخویه به څه وایم — لا چې یار ورسره مل شي هلته ګوره".
د "خ" لومړۍ نسخه: "در قیب له بدخویه به څه وایم — لا چې یاد ورسره بل شي هلته ګوره".

چې يې پور دمرګ ترپوره لا بدتر وي[1] — هې توبه د بېلتانه له بده پوره

دامې خپل نصيب طالع دی راسپېږي — ګنه غم کله رسېږي له غم خوره[2]

قاف ترقافه بادشاهي به يې روزي شي — چې په چاوشي داستاد زلفو سيوره

١٩٢ — ٢١٥٧

عاشقي سړی مجنون کاندي رسوا نه کړه
کنه څوك په هوښيارۍ وځي له کوره

نه رسېږي ستا وحسن وته حوره — څه به رسي ومېرمن وته مزدوره[3]

ستا ترقده ترقامته نه رسېږي — که نښتر که سپاري وي که کجوره[4]

ترقامت پورې دې سروه ده سرکوزې — ترخسار[5] پورې دې شمعه ده بې نوره

هرسړی چې دې وحسن ته نظر کا — ښا پېرۍ يې په نظر وي نا منظوره

چې تا مې دخپلو شونډو ورپه خوله کړ — طايفه دې د صوفيانو کړه مخموره

اوس ته وايه چې په څرنګ دې وستايم[6] — زه خوستا په مينه لاړم له شعوره

داجذبه د عاشقۍ نده نور څه ده — کنه کله څوك وتې شي له دستوره

اوس به زه د شب خېژۍ څه منت وکړم[7] — چې څېره دې کړه په خوب کې لا حضوره

چې په ننګ وپه ناموس ترلوره کم وي[8] — صدقه شه نا قابله زوی له لوره

---

(١) دامسړی په چاپي ديوانونو کې دې داغلی ده : "چې يې پور دمرګ ترپوره پورې چېخ دی".
د "پ" په دوېم نسخه کې : "چې يې پور دمرګ ترپوره هم بهتر وي".
د "خ" په لومړی نسخه کې : "چې يې پور دمرګ ترپور بهتر دی".
د "خ" په دوېم نسخه کې دې داغلی ده : "چې يې پور دمرګ ترپوره لا بهتر دی".

(٢) دابيت او دوېم بيت په چاپي ديوانونو کې نشته.

(٣) داغزل د "پ" په لومړی نسخه کې نشته.

(٤) د "خ" دوېم نسخه : "که نښتر که صنوبر وي که کجوره".

(٥) د "خ" په درې واړو قلمي نسخو کې "ترصورت پورې" راغلی دی.

(٦) "ق، ک" چاپ : "اوس ته وايه چې په څرنګ به دې دوست کړم".

(٧) "ق" چاپ : "اوس به څه د شب خېژۍ منت باری کړم".

(٨) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ : "چې په ننګ وپه ناموس ترلوره کم وي".
په مصوره نسخه او "خ" په لومړی او دوېم نسخه کې دابيت داسې دی : "چې په ننګ وپه ناموس ترلوره کم وي خدای دی مور کاندی په هسې زوی له لوره".

که سل ځله زویه غوره وي ترلوره — خدای دې مورکا په داهسې زویه بوره (١)
که سل ځله زوی رویاره وي ترلونو — صدقه شه نا قابله زوی ترلوره (٢)
ننګیالي تربرونه ښه دي او که نه وي — ننګیالی ترله هم ښه ده له تربوره
خوبروي بې دلبری څه په کار نه ده — لکه وني بې میوې په پانو کوره (٣)
که دغلوزی لباس وکا غزا وشوه — شهد نه دي چا موندلي بې زنبوره (٤)

١٩٣ — پاڅ دښایسته ؤ قدر پیر دی
٢١٧٢ — دطبیب له قدره چا زده بې رنځوره

چې په وخت دځنګدن وکا بې ډیره — تر ونن ولې هسې ناست (٥) یې بې تدبیره
هر سړی چې ګانده (٦) غم په مخ کې وینې — له هغه غمه لانګر ځې دلګیره
چې سبا ارمانه وي پند د پیرانو — ولې نن د پیر طلب نه کړې بې پیره
دیار یاد به دې ځای څرنګ په زړه نیسې — یاد دغیر چې لرې نه کړې له ضمیره (٧)
چې د ټولک په طلب ګرځې خدای دې هیرې — فقیرې (٨) داهسې چیرې وي فقیره
دغه غم دې خدای بدل کړه په ښادۍ — زهیر مه شې په آشنا پسې زهیره
که هر څو ښایسته پیر دي په جهان کې — وهر چا ته خپل آشنا دی بې نظیره
هر سړی دهغه مخ په رڼا ګرځې — چې یې خونه دخاطر وي پرې منیره
همیشه پراته په اوږو په اوبو وي (٩) — عاشقان دلعلو لبو له تاثیره

---

(١) دابیت په "پ" چاپ ، "ق" چاپ ، "ق،ک" چاپ او د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
د "خ" په دوهمه نسخه او مصوره نسخه کې دې دی : "که سل ځله زوی رویاره وی ترلونو صدقه شه نا قابله زوی ترلوره".
(٢) دابیت په چاپي دیوانونو کې نشته.
(٣) په "ق" چاپ ، "ق،ک" چاپ او د "خ" په دوهمه او مصوره نسخه کې د "گوره" پر ځای "پوره" راغلی دی.
(٤) په "پ" چاپ ، د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې "له زنبوره" راغلی دی.
(٥) په چاپي دیوانونو کې د "ناست" پر ځای "رنګ" راغلی دی.
(٦) په "پ پ" چاپ کې "کان" ، "ق" چاپ او "ق،ک" چاپ کې "وراندی" راغلی دی.
(٧) دابیت په "ق،ک" چاپ کې نشته.
(٨) په قلمي نسخو کې "فقیری" راغلی دی.
(٩) قلمي نسخې : "تمامی عمر په اوږو په اوبه دی".

۱۹۴ — ۲۱۸۲

زه ماخ د آزادۍ په تالاش گرځم[1]
باري نه د تو د زلفو ځنځیره

ستا په عشق کې هسې خلاص[2] لم شعوره
چې یوه خبره نه لرم منظوره

طبیبان وایي چې صبرې دارو دی
خدای فرقه زمونږ پیدا کړه ناصبوره[3]

توري هرچیرې ترلې په دښمن شي
یاره ستا سترګې دوستان وژني په توره[4]

معشوقې د زمانې شوې سره ټولې
د زړه خونه مې یې ولوټله چوره[5]

زه تنها په خرورنه یم ستاله خمه
پیدا شوې عاشقې ده له خروره[6]

هرې شپې لره ورځ شته ده په دنیا کې
زما عمر جدایۍ کړ بې له نوره[7]

هرویان وفا له هیچا سره نه کا
دا خبره په عالم کې ده مشهوره[8]

چې خبر شي واره گوتې په غاښ نیسي
په هجران کې خبر مه شې له مهجوره[9]

د رقیب له بد وسترگونه ځان ژغوري
هر عاشق چې بهره مند وي له حضوره[10]

هومره توان او توفیق نه گنم په بخت کې
چې تائب کا ماله فسق او له فجوره

په نظر د مدعیانو تود کودی وي[11]
که یې کښېنوم دکټ د پاسه حوره

۱۹۵ — ۲۱۹۴

د ماخ له[12] سترگونه بدهاله[13] وچ شي
که وچ شوی د چا نم وي له ناسوره

---

(۱) په چاپي دیوانونو کې "طلب" راغلی دی.

(۲) د "پ" په دوهمه اوده "خ" په لومړۍ نسخه کې د "خلاص" پر ځای "لاړ" راغلی دی.

(۳) دا بیت د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی او په چاپي دیوانونو کې یې دوهمه مصرع داسې راغلې ده: "خدای زمونږ فرقه پیدا کړه ناصبوره" د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "زمونږ" پر ځای "زما" راغلی دی.

(٤) دا بیت په قلمي نسخو کې نه دی راغلی په پینځو چاپي دیوانونو کې "په توره" پر ځای "بې توره" راغلی دی.

(٥) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "پچوزه"، په دوهمه نسخه کې "پې خیوره"، د "پ" په لومړۍ نسخه کې "پخبوره" او په "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "د زړه خونې پې اولوټلې پې چوره".

(٦) دا بیت په قلمي نسخو کې نه دی راغلی.

(٧) دا بیت په "پ" نسخو کې داسې دی: "هرې شپې لره ورځ شته په دنیا کې زما عمر جدایۍ کړ بې لوره". په "پ پ" چاپ کې د "کړ بې له لوره" پر ځای "کړلو بې لوره" راغلی دی. د "خ" په لومړۍ نسخه کې یې ورځ شته مسرې داسې راغلی ده: "زما عمر جدایۍ کړ بې لوره"، په دوهمه نسخه کې "جدایۍ زما عمر کړ بې لوره" راغلی ده.

(٨) دا بیت په قلمي نسخو کې نه دی راغلی. (٩) دا بیت په "پ" چاپ کې داسې دی: "له حیرته واره گوتې په غاښ نسې په هجران کې چې خبر شې له مهجوره". (١١) د "خ" په لومړۍ اوده "پ" په دوهمه نسخه کې

(١٠) دا بیت په قلمي نسخو کې نه دی راغلی په "پ" چاپ کې: "د رقیب له بد وسترگو دې ځان ژغوري هر عاشق چې بهره مند شې له شعوره". د "وي" پر ځای "دی" راغلی دی. (١٢) په "پ" چاپ کې د "له" پر ځای "د" راغلی دی. (١٣) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "هاله" پر ځای "کله" راغلی دی.

زړه مدام راته ویل چې ژاړه ژاړه — په ژړا سره د تللی اشنا غواړه[1]
مسلې دې ننګې ورپسې لنګ کړه — بې چا و نمې دننګ کښې ږده وه یې نغاړه
که دیار په سر لوئې داستا رضا وي — په خندا خندا راځه په لکه غاړه
د افلاک چې د آسیا په دود ګردش که — په دنیا کې به پرې نږدې دانه لواړه
په دنیا کې ګوره هر چې زنده سر دی — د اجل په تیغ به پرې که د دوی غاړه

دمکې خنځیر حاجیان په لاس کې نیسي
ګاګې و نیوې* دیار زلفینې دواړه

١٩٦ — ٢٢٠٠

ګاه په غارمه[2] سوځې ګهې ریږدې پساره — کله مرې له لوږې کله مرې په ډېر خواره
واړه په غوغا دې چې راغلې په دنیا دې — نه یې هغه وږې په قرار دې نه ماړه
کله لاس په سر ځبله کېږدې تواضع کا — کله وبله کېږدې لاس په توره په چاړه
خاورې د آدم چې خمیر کړې فرشتګانو — درست یې په غمونو په درد ونو ولاړه
څه شوکه څوک نن ساعت وهل که یا تر کله — پېښ به په هغه شې چې واهه شې هم تاړه[3]
څو به وې تند رسته دا زموږ بنا سسته — زه یې درمانده یم په پښتې په اخاړه[4]
بنا یې چې څوک پسله مرګه خاندې په لحد کې — هر چا چې په داژوند ن کې خپسر وژاړه[5]

---

(١) دا غزل یوازې د "خ" په دوهم نسخه کې په عین شکل راغلی دی او په نورو چاپي دیوانونو او قلمي نسخو کې نشته. (*) اصل: نیولې دي.

(٢) په چاپي دیوانونو کې "نمر" راغلی دی.

(٣) د "پ" لومړۍ نسخه "څه شوکه څوک نن ساعت واهه ویا تاړه شې — پېښ به شې هغه چې واهه شې هم تاړه".
د "خ" لومړۍ او دوهم نسخه: "څه شوکه څوک نن ساعت واهه شې یا تاړه شې — پېښ به شې هغه چې هم واهه شې هم تاړه".

(٤) دا بیت په "پ" چاپ، د "پ پ" چاپ، د "خ" په لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کې نشته. "ق، ک" چاپ: "څو به وې تند رسته دا زموږ بنا سسته — وداند خوند د بر یې درمانده شو په پښتې په اخاړه".
"ق" چاپ: "څو یې د تند رسته دا زموږ بنا یسته — زه یې درمانده یم په پښتې په اخاړه".

(٥) د "پ پ" چاپ: "هر چا چې ژوند ون کې خپل پښې سر وژاړه".
د "پ" لومړۍ نسخه: "هر چا چې په داژوند خپسر وژاړه".
"ق" چاپ: "هر چا چې په ژوند ون کې خپسر وژاړه".
"ق، ک" چاپ: "هر چا چې په ژوند وکې ګوره خپل ځان وژاړه".
د "خ" لومړۍ نسخه: "هر چا چې په داژوند خپل پخپل سر وژاړه".
د "خ" دوهم نسخه او مصوره نسخه: "هر چا چې په ژوند ون خپل سر وژاړه".

وینم واړه تلوني هېڅوك نه دي پاتې شوني — یون دي په دالاري هم دځوان هم دزاړه

زلفې د دلدار[1] دي چې هر څوك يې طلبگار دي — لوی دي که هلك دي که غټان[2] دي که واړه

سخ دهغه چا دي چې په درکې يې قبول شي — زار دهغه چا چې يې له دره وشاړه[3]

ما رحمان غوندې جواب کړو ته سلو[4]

خدای خبر چې کوم يو هغه ترکي وپلاړه[5]

١٩٧

٢٢١١

خوبه وران شي د دنيا بازاره ناره — هر نفس د بېلتانه په تاخت لتاره[6]

لا غونچې په باغ کې ستر گې سپېرې نه وي — باد خزان يې د زړه مينه کړه وبچاره[7]

هسې باد پرې د فناله لوريه والوت — د لاله خوله[8] يې پرې بسته لنـاره[9]

څه بزرگي به يې د باز و د همای وي — زباني ذکر که سل رنگ کا خراره[10]

که نه سل کاله يې تېرشي په اوبو کې[11] — په نرمه به نرمه نه شي وچه تراره

---

(١) "ق، ک" چاپ : "زلفې مې د يار دي" راغلی دی.

(٢) د "خ" په لومړی نسخه کی "پيران" راغلی دی.

(٣) دا بيت په مصوره نسخه کی نشته، په نور د قلمی نسخو کی يې دوهمه مصرع داسی ده : "زار دهغه چا دي چې له دره يې شاړه".

(٤) "ق، ک" چاپ : "ما رحمان غوندې به سلو چې سلام ورته کولو".
په "پ" چاپ، "پ پ" چاپ، "ق" چاپ او مصوره نسخه کی د "جواب" پرځای "سلام" او د "خ" په دوهمه نسخه کی "لبيک" راغلی دی. او د "خ" په لومړی نسخه کی دا مصرع داسی ده : "ما غوندې رحمان غوندې زاری وکړه ورته سلو".

(٥) په مقابله شود کتابونو او قلمی نسخو کی "ولاړه" راغلی دی، خو "دعزم د په نظر کی نيولو او نيت" په معنی د "ويلاړه" په شکل سم دی چې دهمون د ښاغلی "دوست" په قول يکې راغی.

(٦) دا غزل په مصوره نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کی نشته. دوهم بيت لومړی مصرع يې "پ" چاپ کی داسی ده : "خوبه وران شی د دنيا بازاره تاره".
په دوهمه مصرع کی يې "پ" چاپ او "ق، ک" چاپ کی د "نفس" پرځای "ساعت" راغلی دی. لومړی مصرع يې په قلمی نسخو کی داسی ده : "خوبه وران شی د دنيا بازار لتاره".
او د "پ" په دوهمه او د "خ" په لومړی نسخه کی داسی راغلی ده : "خوبه وران شی د دنيا بازار تاره".

(٧) دا بيت د "پ" په لومړی نسخه کی داسی راغلی دی : "هغې غنچې لا په باغ ستر گې سپېرې نه وي بد خزان يې د زړه مينه کړه وبچاره".
"ق، ک" چاپ : "لا غنچو په باغ کی ستر گې سپېرې نه وي . چې خزان يې د زړه مينه کړه وبچاره".
د "خ" په لومړی او د "پ" په دوهمه نسخه کی داسی راغلی دی : "هغو غنچولا په باغ ستر گې سپېرې نه وي بد خزان يې د زړه مينه کړه وبچاره".

(٨) په "پ" چاپ کی "قوله" راغلی دی.

(٩) د "پ" له دوهمی نسخی نه پرته په نورو نسخو کی "له تاره" راغلی دی.

(١٠) دا بيت په قلمی نسخو کی داسی راغلی دی : "څه بزرگی به يې د باز و همای نه شي سر زباني ذکر که سل رنگه خراره".
د "ق، ک" چاپ کی داسی راغلی دی : "څه بزرگی به يې د باز او همای وي سر زباني ذکر که سل رنگ کړه خراره".

(١١) "پ" چاپ : "که سل زر کاله يې تېرشي په اوبو کی" او د "خ" لومړی نسخه کی "که يې سل کالونه تېرشي په اوبو کې".

ترداهسی عمره نه عمر بهتر دی هرچې حال یې زنکدن شي عمر واړه[1]

۱۹۸

ترخلاصي ځني بندي سنه یې ریاح نه[2]
که دشها[3] د زلفو ځیل دې شي په غاړه

۲۲۱۸

چې غرقاب شي ترومژگان پیم دزړه نور خراب شي خانمان په نم د زړه[4]
عبث والي غم دزړه و بوالهوس ته څه پوهیږي هلکان په غم د زړه
په بل مخ باندې سپوا دیارله مخه ماترلي دي چشمان محکم د زړه
چې یې عرش او کرسي لاندې ترقدم دي بالاتر دی هسې شان قدم د زړه[5]
د خلیل ترکعبې د اکعبه ده لویه[6] که آباد کا څوك ویران حرم دزړه
که نور خلق قدمونه ښدي په ځمکه ما دی ایښی په آسمان قدم دزړه
د امکان چې د آسمان ځمکې ترمیان دی یو خلوت دی د امکان سلم[7] د زړه
زه ملهم دزړه له چا غواړم بې خدایه[8] چې کړی نه شي طبیبان ملهم دزړه

۱۹۹

صورتي همدمان پیردي په جهان کې
ولې نه مومي ریاح همدم[9] دزړه

۲۲۲۷

ساقي پورته شه دمیو جام تیار کړه عمر هیڅ معطلي نه لري تلوار کړه[10]

---

(۱) د "خ" لومړی نسخه : "ترودهسي عمر نه عمر بهتر دی هرچې حال په تنگدستی شی عمر واړه".

(۲) دامسری په قولوداره چاپي دیوانونو کی دغی راغلی ده : "ترولد خلاصه بندی سنه یې ای رحمانه" ؛ خوپه "پ پ" چاپ کی د "اي" په ځای "ته" راغلی دی. د "خ" په لومړی نسخه کی " ترخلاصی نه بندي سنه یې ای رحمانه".

(۳) په چاپي دیوانونو کی "یار" راغلی دی.

(٤) داغزل په مصوره نسخه کی نه دی راغلی په "پ" چاپ کی دابیت دهی راغلی دی : "چې غرقاب شی تورمژگان پیم دزړه نور خراب شی خان ومان په نم دزړه".
د پیښور په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهمه نسخه کی دهی راغلی دی : "چې غرقاب شی تورمژگان په نم دزړه نور خراب شی خان ومان په نم دزړه".
د "خ" په لومړی نسخه کی : "چې غرقاب شی ترمژگانو نم دزړه نور خراب شی خان ومان په یم دزړه" راغلی دی.

(۵) دابیت د "خ" په لومړی نسخه کی نشته او د "پ" په دوهمه نسخه کی دهی راغلی دی : "چې یې عرش او کرسی لاندی ترسیوری بالادی هسی شان حرم دزړه".

(۶) د "خ" په لومړی نسخه کی د "لویه" پرځای "بویه" راغلی دی.

(۷) د "خ" په دوهمه نسخه کی د "سلم" پرځای "مسلم" راغلی دی.

(۸) په چاپي دیوانونو کی "بې ربه" راغلی دی.

(۹) د "پ" په لومړی نسخه کی "ملهم" راغلی دی.

(۱۰) داغزل د "خ" په لومړی نسخه او مصوره نسخه کی نه دی راغلی ، ددې بیت په دوهمه مسری کی د "نه لری" پرځای په "پ" چاپ کی "نه کاندی" او په "پ پ" چاپ کی "نه کوی" راغلی دی.

هر دم تیغ داستا زما په گلو گرځي — هر نفس دخپل نفس له تیغه ډار کړه
ترخوږی چهورته بله بلا نشته — خادمي د بیخودانو په دربار کړه
دا پنځه ورځې ژوند ونچې غنیمت دی — شکرانه په دا نعمت دکردگار کړه (۲)
که غم خوار غواړې په غم او په اندوه کې — سبسبه دکه د شرابو اختیار کړه (۳)
څوډې دوه ستر گی غرېږي په جهان کې — نندارې په هر ساعت دخپل نگار کړه
هغه څوك دی چې تهمت پرې وایه نه شي — غوږ په هیچا باندې مه باسه خپل کار کړه
بې وفادي ددې دهر یاران وا ړه — چې دې پس له مرگه یار شي هغه یار کړه
مدعي چې په زړه ورشي هغه وایي (٤) — کوش او هوش دمحبانو په گفتار کړه

۲۰۰ — ۲۲۳۷

ماځ وایي ددنیا چارې فاني دي
البته په دا خبره اعتبار کړه

چې مې مینه خدای په تاباندې پیدا کړه — ترکه ما په هغه ورځ (۵) خپله رضا کړه
اوس دستا رضا جفا کړې که وفا کړې — ما دستا جفا قبوله په وفا کړه
گل په لعلو په گوهر کله څوك پېرې — بې له ما چې تا خندا کړه ما ژړا کړه
بې له ما چې داستا غم په هوس پېرم — کوم وگړي په هوس دغم سودا کړه (۶)
دوه یاران به دا رنگ نه وي چالېدلي — چې یوه ورته سبکنځل کړه بل دعا کړه
ما ودرست جهان ته شا وتا ته مخ کړ — تا ودرست جهان ته مخ او ما ته شا کړه (۷)

---

(۱) دا مصرع په "پ" او "ق، ک" چاپ کی داسی راغلی ده : "هردم تیغ دستا زما په گلو گرزی".
په قلمی نسخو کی داسی راغلی ده : "زما ستا په گلو گرځي هردم تیغ دې"
(۲) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کی نه دی راغلی.
(۳) دا بیت په قلمی نسخو کی نه دی راغلی.
(٤) "پ" چاپ او د "پ پ" چاپ : "مدعي چې په خوله ورشي هغه وایي".
(۵) د "خ" په دوهمه نسخه کی "په هغه دم" راغلی دی.
(۶) دا بیت د "پ" په لومړی نسخه کی نشته.
(۷) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کی نشته.

ډېرهند کې په جهان گرزي دچا یاد دي — عشق عالي پایه دهیرا ودرانجا کړه

هکم په دایې ترهمه وو[1] نام بلندش — چې قبوله عند لیب دگل جفا کړه

ناآشنا دبېلتانه لهغمه څه زده — خدای دغه خواري په بخره دآشنا کړه

عاشقان دیار ترسپیوهم زاریږي — گمه ما درقیبانو څه پروا کړه

زه ماخ ان چې ستا دحسن ثنا خوان شوم[2] — ۲۰۱

ستاله رویه درست جهان زما ثنا کړه — ۲۲۴۸

باره وتره هاله کښت وزراعت کړه[3] — تقوی دارشه هله طمع دجنت کړه

عاقلان په وړاندې چې په ورستو گوري — په دنیا کې سرانجام د آخرت کړه

سم دلاسه کار هرگوره دېرمشکل دی[4] — څولانه یې غریب زېرمه دغربت کړه

چې نور خلق ملامت درباندې وایي — لاپخوا ترخلقو خپل ځان ملامت کړه

چې عقبی ته ددنیا په اجر موې — خوهم دا عمارت هلته عمارت کړه

څوبه گوري دقیامت ورځو اوشپوته — خوهم دا جهان په ځان باندې قیامت کړه[5]

چې نیکي بدي په تله کې تلل شي[6] — خود په خپله تله واخله عدالت کړه

که لښکر دحرص هوا درباندې زور شي[7] — سردننه په قلعه د قناعت کړه

دا به نه شي چې ستا څټ اودحق مخ وي — که حق غواړې ته هم مخ په حقیقت کړه

---

(۱) په قلمي نسخو کې "ترهمايي" راغلی دی.

(۲) په چاپي دیوانونو کې "یم" راغلی دی.

(۳) د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه : "باره تروجار باسه هلته زراعت کړه".
د "خ" دوهمه نسخه : "باره وجار باسه هله کار دزراعت کړه".
د "پ" لومړی نسخه : "باره تروجار باسه هاله زراعت کړه".

(٤) مصوره نسخه : "سم لهلاسه چارې نه شي مردهاله یې".

(۵) دابیتا په مصوره نسخه کې نشته.

(۶) د "پ" لومړی نسخه ، د "خ" دوهمه نسخه او مصوره نسخه : "چې دې نیک وبد په تله کې تلل شي".

(۷) قلمي نسخې : "که لښکرې دحرص وړباندې زور شي".

هغه زړه چې عرش الله دی ګوره کوم دی — څو دې توان شي د جمله زړونو خدمت کړه

وړاندې هم واړه ستا په څېر سړي وو — ته هم پاڅه د هغو په څېر همت کړه (۱)

د دنیا چارې همه واړه فاني دي — باري پوره شه یو بل رنګه حکمت کړه (۲)

په طبیب (۳) د عاشقانو دا رونه شي — دا وو مه بل خواته دا رو د خپل جمعت کړه

څو دې حق موندلی نه دی مه جار وخه (۴) — په دامن ستر دا جهان واړه لت پت کړه

۲۰۲ — اې ملا رسانه اول ته نصیحت واخله — ۲۲۶۳

د غه پسه بیا وبل ته نصیحت کړه

هسې یمه یاره ستا په غم تازه — لکه وي هره ګیاه په نم تازه (۶)

ستر ګې وخورم که یې کړم له نمه وچې — کې مې کېږي په ژړا صنم تازه

زه به څه کړم د چا چارې بې له یاره — هر سړی په خپله ساه په دم تازه

دیار نوی نوی غم زېږ وي وصل — رغوي سوی پر هر ملهم تازه (۷)

که دې زړه له غمه وچوي دګیر مشه — کاتبان کا په چول قلم تازه

۲۰۳ — ښایسته یاران ګلونه دي رسانه — ۲۲۶۹

بېلتانه کړه اکثر مراوي کم تازه

نه یم خوښ دسی وګلونو په سایانه — خوښ یم ستا د مخ په اوربانه جلیانه (۸)

په اوسوی ښهر وران دی څه حکمت دی — سوی ستا د مخ په اوریمه بسیانه

---

(۱) د "پ پ" چاپي دیوان کی د "همت" پر ځای "خدمت" راغلی دی.

(۲) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کی نشته.

(۳) په "پ" چاپ کی "طبیعت" او مصوره نسخه کی "طلب" راغلی دی.

(۴) د "خ" لومړی نسخه کی "مه نازېږه" او د "پ" لومړی نسخه او مصوره نسخه کی "بې غم مه شه" راغلی دی.

(۵) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کی "په دامن شه"، د "پ" په لومړی نسخه کی "په دا زېږمه" او د "خ" دوهمه نسخه کی "مو دا ند شه" راغلی دی.

(۶) دا غزل د "خ" په قلمی نسخه کی نشته او لومړی مصرع یې په چاپي دیوانونو کی داسی ده: "هسې زړه یم یاره ستا په غم تازه".

(۷) قلمی نسخه: "راستوی یو نوی غم زېږی د وصل رغوی د زړه پر هر ملهم تازه".

(۸) د "پ" نسخه او "خ" دوهمه نسخه: "خوښ یم ستا د مخ د نمر وته جلیانه". د "خ" په لومړی نسخه کی "د مخ د توره" راغلی دی.

خپلوم به دې په هر رنګ چې خپلې بې — که دې موم په دروغ که په رښتیا زه
نن راغلي په جهان یو که دیدن کړې — نه به ته په جهان راشې نه به بیا زه
دا اوبدې وعدې چې ته کوې صنمه[1] — کاشکې بیا موم فرصت به دا دنیا زه
چې له دېرې حیا نه ګورې وچا ته — غوڅ کړم غوڅ کړمه دې ستا دېرې حیا زه[2]
چې له غمه له اندوهه دې مړ نه یم — سنګ آهن یم آدم نه یمه ګویا زه[3]
که جوړه تلې څوك وقبر وته دریغه[4] — ژاړم دا چې یا به ته نه یې او یا زه
همیشه دخپلو اوښکو له سیلابه — سرګردان یم تر فلکه تر آسیا زه
که څوك قیاس زما دپرو اوښکو وکا — هسې ګرځم لکه خس پاس په دریا زه[5]
زه ماران دیار ثنا کولی نه شم — کاشکې دا چې په جهان نه وی ګویا زه[6]

---

(١) د "پ" نسخې او د "خ" لومړی نسخه : " دا اوبدې وعدې چې ته کوې منم یې ".
د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده : " دا اوبدې او بدې وعدې چې کړې صنمه".

(٢) د "پ" لومړی نسخه : "چې له دېرې حیا نه ګورې وما ته غوڅ کړم غوڅ ستا دې دېرې حیا زه ".
د "خ" لومړی نسخه : "غوڅ کړم وګوره دا ستا دېرې حیا زه ".
د "خ" دوهمه نسخه : "غوڅ کړم غوڅ کړم دغه ستا دېرې حیا زه".

(٣) دا بیت په "ق، ک" چاپ کې نشته، لومړی مصرع یې د "خ" په لومړی نسخه کې داسې ده : "چې له غمه له اندوهه دې مړ نه یم ژوندی پاتې یم".
د "خ" دوهمه نسخه : "چې له غمه دې مړ نه یم ژوندی پاتې یم".

(٤) دا بیت په "ق" چاپ او د "خ" په لومړی نسخه کې نشته، د "پ پ" چاپ کې لومړی مصرع داسې ده : "که جوړه څوك تللی وقبر ته دریغه".
"پ" چاپ : "که جوړه تللی څوك وقبر وته دریغه ".
"ق، ک" چاپ : "که څوك قبر ته جوړه ورتللی دریغه ".
د "خ" دوهمه نسخه : "که جوړه تللای څوك وقبر وته دریغه".
مصور نسخه : "که جوړه تللی څوك وقبر وته دریغه ".

(٥) په قلمي نسخو کې "په دریا زه" راغلی دی.
د "خ" دوهمه نسخه : په لوی دریا زه ".

(٦) "پ" چاپ او د "پ پ" چاپ : "کاشکې نه وای په جهان کې څه ګویا زه".
"ق" چاپ : "کاشکې په دا جهان نه وای ګویا زه ".
د "پ" لومړی نسخه : "کاشکې مړ وی په جهان کې څه ګویا زه".
د "خ" لومړی نسخه : "چې جهان دیار ثنا کولای نه شم کشکې مړ وای په دنیا کې لوړ ګویا زه".
د "خ" دوهمه نسخه : کشکې نه وای په جهان کې خو پیدا زه".

ای زما دزړه آرامه راشه راشه — سرو قده گل اندامه راشه راشه

چې همه واړه خوبان دې مقتدیان دی[1] — دهمه واړو امامه راشه راشه

بې تانشته هیڅ حرمت[2] دعاشقانو — دمشتاقو احترامه راشه راشه

خدای زده بیا به هسې وخت وي که به نه وي — زه وپرېږم له ایامه راشه راشه[3]

نن[4] هنګام دی که جفا کړې که وفا کړې — چارې نه شي بې هنګامه راشه راشه

داجهان دمسافرو یو رباط دی — تله دي تله دي له دې ګرامه راشه راشه

پرې رویه، سنبل مویه، ملک خویه — عنبر بویه لاله فامه راشه راشه[5]

شپه لا پرېږده بې تاوده راباندې شپه شوه[6]

دماه تمامه راشه راشه

په دوران مې[7] هسې رنګ دلبر پیدا شه — ګویا بل دلمر د پاسه لمر پیدا شه

یا طالع دزمانې یا بخت زما دی — چې دا هسې رنګ شیرین بشر پیدا شه

چې قاصد دورك یوسف زیری پرې وکا[8] — دیعقوب دسترګو بیا نظر پیدا شه

عشق دې دا که یو فساد دی نه پوهېږم — په جهان کې چې دا شور وشر پیدا شه

دریغه نخل دعشق مدوی زرغون[9] شوی — چې له شاخه یې دغم ثمر پیدا شه

---

(۱) د "پ" لومړی نسخه : "چې همه خوبان دې واړه مقتدیان دی"
نوری قلمی نسخې : "چې دا نور خوبان دې واړه مقتدیان دی".

(۲) د "خ" په لومړی نسخه کې د "حرمت" پر ځای "حاجت" راغلی دی

(۳) دا بیت د "خ" په دواړه نسخه کې نشته.

(٤) دا بیت د "خ" په دواړه نسخه کې نشته او د "خ" په لومړی نسخه کې د "نن" پر ځای "دا" راغلی دی.

(۵) قلمی نسخې : "پرې رویه، فرښته خویه عنبر مویه سنبل مویه لاله فامه راشه راشه".

(٦) دا مصرع په "پ" چاپ او "ق، ک" چاپ کې داسې راغلې ده : "شپه لا پرېږده رونا وده راباندې شپه شوه".
د "خ" په دواړو قلمی نسخو کې د "شوه" پر ځای "ده" راغلی دی.

(۷) په "ق، ک" چاپ کې د "مې" پر ځای "کښې" راغلی دی.

(۸) د "پ" له لومړی نسخې نه پرته په نورو ټولو کې د "وکا" پر ځای "وکړ" راغلی دی.

(۹) په مصوره نسخه کې د "زرغون شوی" پر ځای "پیدا شوی" راغلی دی.

ملائیك دعشق له غمه څه خبر دي[1] — خوهم مالره داسخت سفر پیدا شه

یو دترکو بې نیازي بل عاشقي شوه[2] — په پرهر باندې مې بل پرهر پیدا شه

دنااهل زوی پلار به څه ښادي کا — چې له پشته یې لئیم[3] پسر پیدا شه

بیا به روغ دعاشقی له رنځه نه شي — په هر تن کې چې دغم[4] اثر پیدا شه

چې هنر عیب کوي، عیب هنر کا[5] — دماغ پې دود داهنر پیدا شه

۲۰۶ — ۲۲۹۸

چې نصیب[6] یې سینه چاکه زړه افګار شه — جرس ځکه په فریاد اوپه چغار شه

چې ندا دعاشقی په عاشق وشوه — دغفلت له خوبه پاڅیده بیدار شه

عبادت دریا کارڅه په کار نه دی[7] — لکه غوك هسې په بحر کې مردار شه

دجاهل زهد په زهد حساب نه دی[9] — لکه مال په خمر خرڅ دخمرخوار شه[10]

مشقت دنادانانو واره پوچ دی — لکه بې بارانه ابر تش غبار شه

علمیت دبې عملو عالمانو — لکه ګنج[11] دکتابونو په[12] خره بار شه

چې بې کاندي ونااهل وناقابل ته — نصیحت دناصحانو کوم[13] په کار شه

---

(۱) دامسری په "ق،ک" چاپ کی داسی راغلی ده: "ملائیك دعشق له زخمه خبر نه دی".

(۲) دامسری د "پ پ" چاپ کی داسی راغلی ده: "یو دترکو عاشقی بل بې نیازی شوه" اود "ق،ک" چاپ کی د "شوه" پرځای "ده" راغلی دی.

(۳) دابیت د "پ" په دوهمه نسخه کی نه دی راغلی اود "خ" په دوهمه نسخه کی یې لومړی مسری داسی راغلی ده: "دنااهلو موروپلار به څه ښادی کا". د "خ" په لومړی نسخه کی دردوهمی مسری د "پسر" پرځای "بشر" راغلی دی.

(٤) د "پ" له لومړی نسخی نه پرته په نورو ټولو کی "دغه" راغلی دی.

(۵) په "ق،ک" چاپ کی دامسری داسی ده: "چې هنر په عیب کوی عیب په هنر کا".

(۶) د "پ" په لومړی نسخه کی د "یې" پرځای "مې" راغلی دی.

(۷) دامسری په چاپی دیوانونو کی داسی ده: "عبادت دریا کار هیڅ په کار نه دی". د "خ" په دواړو قلمی نسخو کی، د "پ" په دوهمه نسخه او مصوره نسخه کی داسی ده: "عبادت دریا کارو په کار نه دی".

(۸) په "ق،ک" چاپ کی "غوندې" راغلی دی.

(۹) په مصوره نسخه اود "خ" په لومړی نسخه کی دامسری داسی ده: "دزاهد زهد په زهد حساب نه دی".

(۱۰) د "خ" په دوهمه نسخه کی دامسری داسی ده: "لکه مال چې په خره خرڅ دخمرخوارشی".

(۱۱) د "خ" په لومړی نسخه کی "پینټ" راغلی دی.

(۱۲) په قلمی نسخو کی د "پیر" پرځای "د" راغلی دی.

(۱۳) دابیت د "خ" په لومړی نسخه کی نه دی راغلی، په "پ" چاپ، "ق،ک" چاپ، مصوره نسخه، د "پ" دوهمه نسخه اود "خ" په دوهمه نسخه کی د "کوم" پرځای "څه" راغلی دی.

۲۰۷ — ۲۳۰۶

د ماخ ان کلام په غوږ دې هنر و
لکه دُر[1] په لاس د طفل هسې خوار شه

په دنیا کې له دنیا کوښه کنار شه — سمندر غوندې په اوږدې ګلعذار شه
پس له مرګه که ژوند غواړې سرګیا کړه[2] — په پرېکړې سر بیا نوی مرغزار شه
داترخې اوبه به څه کوې د بحر — خود پخپله د ګوهر په څېر آبدار شه
بې له خدایه نور دهچا منت مه کړه[3] — په وچ کاڼي باندې ونه د کوهسار شه
که دونې په څېر کل او میوه غواړې — ځان په نمر کړه سایه بان دهر خاکسار شه[4]
دست په دست که د خپل کار په دستول یې — لا تر ځان وړومبی ولاړ د بل په کار شه[5]
که دې وېره شي له خپلې درماندګۍ — د درماند و دستګیرۍ کړه خبردار شه
که هوادې د جنت په خاطر ګرځې — خاک نشین په آستانه د هغه یار شه
که په توره تاریکۍ کې رڼا غواړې — نندارې چې د یار د زلفو د رخسار شه
که په کار دې د سر وشوند و شېرینې وې — د خپل ځان په وینو سور لکه انار شه
که راضي یې چې دې باغ شي د زړه سبز[6] — په ژړا لکه باران د نوبهار شه[7]

۲۰۸ — ۲۳۱۸

د ماخ ان په عاشقۍ کې سترګې وشوې[8]
چې څوک والي عاشق روند دی هغه خوار شه

---

(۱) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "کل" راغلی دی.
(۲) د "خ" په دوهمه نسخه کې "ته سرپېې کړه" راغلی دی.
(۳) د "پ پ" چاپ : "بې له خدایه دهچا منت بار مه شه".
(٤) د "خ" دوهمه نسخه : "ځان کړه ځمکه سایه بان دهر خاکسار شه".
(۵) چاپي دیوانونه : "لا پخوا تر ځان وړومبی دبل په کار شه".
د "خ" لومړۍ نسخه او مصوره نسخه : "لا تر ځان وړومبی روان دبل په کار شه".
(۶) د "پ پ" چاپ : "که دې زړه وی چې دې باغ د زړه سبز شي".
(۷) د "پ" په نسخه کې : "کوهسار" راغلی دی.
(۸) د "خ" دوهمه قلمي نسخه کې "واشوې" راغلی دی.

بیا مې زړه د تورو زلفو مسخر شه — چې وړاس مې د حبشو تور لښکر شه
هر طرف مې د دغا غشي ګوزار کړه — ولې یوهم هسې نه وُ چې کارګر شه
وهر لورته چې غوږ باسمه غوغا ده — یا ناري د بېلتانه دي یا محشر شه
واعظان خو وعظ کاندي باري څه کا — چې د عشق په لیونیو یې ګذر شه (۱)
چې پدر غوندې یې ما ته نصیحت کړ (۲) — په دېدن دستا هغه زما پسر شه
ستا په در کې چې پراته دي نیکبختان دي — چې دستاله دره ووت در په در شه (۳)
د عشق زخم به څوک څه ګنډي رحمانه (٤) — چې ګنډون یې په پرهار باندې پرهر شه

۲۰۹ — ۲۳۲۵

هیڅ مې نه زده نه پوهېږم داخر پېر شه — چې دلدار مې د اغیار په شکل وخېر شه
زمانه مې د رقیب له لاسه وژني — چې مې سپی ګانه هغه را باندې شېر شه (۵)
د هجران غمونو هسې په عذاب کړم — هغه حمر (٦) چې مې لږ ګانه اوس ډېر شه
چې په تیغ مې لوبې کړې سزا مې داده — سبه چې غوڅ مې زده د ترکو په شمشېر شه
تېر ساعت به ډېچا په لاس کښېنوزي — اوس به څه وایم وچا وته چې تېر شه (۷)
چې مې نوشه د هجران پیاله کړه تلخه — د وصال لذت مې ټول زهر ګنډېږ شه (۸)

---

(۱) د امسرې په پېښور چاپي دیوانونو کې دا مصرع راغلې ده: "چې د عشق په لیونو باندې ګذر شه".
(۲) د امسرې په پېښور چاپي دیوانونو کې دا مصرع راغلې ده: "چې پدر غوندې وما ته نصیحت کا".
(۳) د بیت په ټولو قلمي نسخو کې نه دی راغلی او په درې واړو چاپي دیوانونو کې راغلی دی.
(٤) د امسرې د "خ" په لومړي نسخه کې دا مصرع راغلې ده: "د عشق زخم به دې څوک څه کړی رحمانه".
په "ق، ک" چاپ کې دا مصرع راغلې ده: "د عشق زخم به څوک وګنډی رحمانه".
(۵) د امسرې د "پ" په دوهمه نسخه کې دا مصرع ده: "چې مې نه ګانه هغه را باندې تېر شه".
په مصوره نسخه کې دا مصرع ده: "چې مې سپی ګانه را ته شېر شه".
(٦) په "پ" چاپ کې د "حمر" پر ځای "حیب" راغلی دی او په "ق، ک" چاپ کې د امسرې دا مصرع ده: "هغه عیب چې به مالږ ګانه اوس ډېر شه".
(۷) د امسرې د "خ" په دوهمه نسخه کې دا مصرع راغلې ده: "اوس به حال وچا ته څه وایم چې تېر شه".
(۸) د بیت د "پ" په لومړي او دوهمه نسخه کې، او هم د "خ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې نشته. د "خ" په دوهمه نسخه کې یې د روستي مصرع دا مصرع ده:
"د وصال لذت مې هسې رنګ ګنډېږ شه". په "پ" چاپ کې د مصرع دا مصرع ده: "د وصال د دولت مې کل زهر وګنډېږ شه".
په "ق، ک" چاپ کې دا مصرع ده: "د وصال لذت مې کل واړه ګنډېږ شه".

۲۱۰

چې يې نه په وفا يا د نه په جفا وي
سکه رحمان دهغه يار له دله هېر شه (۱)

۲۳۳۲

پاخه يو ځله سېر اب د عشق په جام شه
په ساغر د ماه وهر مې آشام شه

له اوله بندګي بيا ازادي ده
که مقصود د آزادۍ لرې غلام شه

د صيا دله وحشتو نو خپل سر خلاص کړه (۲)
لکه مرغ خانګي پخپله رام شه

ژوندۍ ځان په ځمکه خښ کړه لکه تخم
که لويې غواړې د خاورو په مقام شه

درست جهان د کمينې په خوې وخوړه
لکه ځمکه هسې لاندې تر اقدام شه

په نيستۍ کې د هستۍ مرتبه ګوره
نندارچې په ويرانې کې د خپل بام شه

و د ښمن وته پخپله عيب مه وايه (۳)
ځان پخوا تر مرګه وژنه مدام شه

په مستانو کې د عقل څښتن غل دی
که په نور و خلقو خاص يې د لته عام شه

اې رحمانه د بلبلو ژبه زده کړه (۴)
دغه پسه په صفت د ګل اندام شه

۲۱۱

۲۳۴۱

د دنيا د سود د پاره غمګين مه شه
غم د دين و د ايمان کړه بې دين مه شه

هر ګره، ګره کشاى لرې کم بخته
ناامېد له خدايه غوښه جبين مه شه

د پښخفته دې د ارنده چې دانه چين شي
خوې آب و دانه شته دانه چين مه شه

---

(۱) د "پ پ" چاپ : "جوړه رحمان دهغې يار له دله هېر شه".
د پېښور "ق ، ک" چاپ : "رحمان ځکه دهغه يار له دله هېر شه".
د "خ" لومړۍ نسخه : " سکه رحمان دهغه يار له دره هېر شه".
د "پ" دوهمه نسخه : " سکه د رحمان دغه يا دله دله هېر شه".
د "خ" دوهمه نسخه : " چې يې نه په جفا يا د نه په وفا وي سکه رحمان دهغه يار له دله هېر شه".

(۲) "ق ، ک" چاپ : " له اوله د صياد که ځان خلاص غواړې".
مصوره نسخه : " د وصال له وحشتو نو خپل سر خلاص کړه".

(۳) چاپي ديوانونه : " و د ښمن وته خپل حال پخپله وايه". د "پ" نسخې او د "خ" لومړۍ نسخه : " او د ښمن ته عيب خپل پخپله وايې".

(۴) قلمي نسخې : " اې رحمانه د بلبلو لفظ زده کړه".
د "خ" لومړۍ نسخه : " اې رحمانه د بلبل لفظ زده کړه ګوره".

هر مرغه چې دبل غوښې خوږې مرداري — ځان حلال کړه لکه زاني شاهين مړشه

دذرې په خېر آفتاب په طلب خپل کړه[1] — لکه تېره هسې پروت په زمين مړشه

کار په تش لستوڼي نه کېږي بې لاسه — لاس په ښېره کړه بې لاسه آستين مړشه[2]

عاشقي او خوبيني دي سره لړي — که مطلب دې عاشقي ده خودبين مړشه

په خپل کور کې دې سفر دی که پوهېږې — مسافر دهند وستان او دچين مړشه

خپل تابوت درته ولاړ زين کړی آس دی — ته په زين مړ دبل آس ودزين مړشه

۲۱۲ — چې تقوی ديانت نه لري ملا نه — ۲۳۵۱

ددې هسې همنشين، همنشين مړشه[3]

په اميد دګانده وړځ زړه ورمړشه[4] — نقد نسيه ځبله بيل کړه اوترمړشه

په اميد اميدې خلق نااميد کړل — دفلک له رهزنې بې خبر مړشه

ددنيا بادشاهان خواست کړي له فقيره[5] — ته بادشاه دهسې ملک شه خواستګر مړشه

دهمای په خېر طعمه کړه وچ هډوکي — لکه مچ طالب دشهدو شکر مړشه

ځان صدف غوندې وخاورو ته کړه ژړمه — لکه ځګ هسې دبحر په سر مړشه

په پېر عزيزدي موم دلان ترسنګدلانو — ته يوڅاڅکی شه[6] داوښکو ګوهر مړشه

حيوانات هم په تسبيح دخدای مشغول دي — ته انسان يې ترحيوانه بتر مړشه

نفس شيطان سړی وکفر ته وباسي — رحم فهم په ځان وکړه کافر مړشه[7]

---

(۱) "ق" چاپ او مصوره نسخه کې د "خپل کړه" پر ځای "ګرزې" راغلی دی.

(۲) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ : "لاس په توره کړه بې لاسه آستين مړشه".
مصوره نسخه : "لاس پکښې کړه بې لاسونو آستين مړشه".

(۳) چاپي ديوانونه او مصوره نسخه : "ددې هسې هم نشينو نشين مړشه".

(٤) چاپي ديوانونه : "په اميد دآينده و زړه ورمړشه".

(۵) قلمي نسخې : "ددنيا پادشاهان خواست کا له فقراؤ ته پادشاه دهسې ملک يې خواستګر مړشه".
"خ" يې ګډې نسخې کې د "فقراؤ" پر ځای "قصرونو" راغلی دی.

(۶) قلمي نسخې : "يوڅوڅاڅکی شه" او "خ" يې دوهمې نسخې کې "يوڅوڅاڅکی شه" راغلی دی.

(۷) دا بيت يې قلمي نسخو کې نشته.

تپ رانده وي عاشقان دیار په عیب — ته تپ روند دهغه یار په هنر مه شه

دغه ځای دبید لانوري ښایسته نه

۲۱۳ — ۲۳۶۱

د دلبر و په کوڅه دلاور مه شه

چې له سترګو مې خوناب د زړه عیان شه (۱) — له نظره مې هر سنګ د ومرجان شه

خراب زړه چې مې ژړل د یار له غمه — بیا په اجر دهغې ژړا خندان شه (۲)

کمینی له جمله آفتو خلاص کړم (۳) — لکه خاوري د دښمنو په چشمان شه

د غصې زهري شهد شول په صبر (۴) — د خلیل په څېر آتش پرې ګلستان شه

عشق یو داددی په عاشق له خپله خدا په — هسې نه چې وهرچا وته عیان شه (۵)

چې دیار زلفې رخسار مې په زړه نقش شو — خپل خلوت مې خراسان وهندوستان شه

د نحو علاج تا رخه تا رخه داروي — دغه درددی چې هم درد وهم درمان شه

چې داستاد خولو بوی وربانديې راغی — د عطار په مخ داوښکو رود روان شه

علامت داستغنا به یې څرګند وي — هغه څوك چې تېر ترحان وترجهان شه

د ګریبان په چاك کولو یې څه لاره غړوي (۶) — چې ځیګر یې ړومبی چاك ترګریبان شه

عشق دیار په رانه وچولي ولجه دی — خو چې وچولی یې غوټه کړ تا وان شه (۷)

نادانان به د دنیا غمونه کاندي — مر دهغه دی چې په زړه مه د خپل ځان شه

---

(۱) په "ق" چاپ کی "روان شه" راغلی دی.
(۲) دابیت په مصوره نسخه کی نشته.
(۳) "ق، ک" چاپ کی لومړی مصرع داسی ده: "کمینه له جمله افتو خلاص کړم".
(۴) "ق" چاپ: "د غصې زهري شو بدل په صلح".
د "خ" دوهمه نسخه: "د عیسی زهري شهد شو په صبر".
(۵) دابیت په قلمی نسخو کی نشته
(۶) دابیت د "خ" په دوهمه نسخه کی نشته.
په "ق، ک" چاپ او د "پ" په لومړی نسخه کی د "لاره" پر ځای "پر وا" راغلی دی.
(۷) دابیت د "خ" له لومړی نسخی او مصوری نسخی نه نقل شو.

نشانه دنادانی به نوره څه وي　　چې سړی په خپل گوزار[1] باندې پښیمان شه

آدمیت څه په دولت نه دی ریحانه

۲۱۴　　بت که جوړ شه دسړو زړونه انسان شه　　۲۳۷۵

که په عقل پسې لاړم په کار نه شه　　که له بخته مې یاري غوښته یار نه شه

غرونه غرونه خوب په څاڅکي او بوتښتي[2]　　یار په سینه زما داوښکو بیدار نه شه

معلومېږي زه کم بخت د درست جهان یم　　چې د درست جهان دلدار مې دلدار نه شه

ماغندي او رقیب ستایي طالع گوره　　چې سړی ورته دسپي په مقدار نه شه[3]

که یې سل ځله اقرار راسره وکړ[4]　　دا زما ناقرار زړه په قرار نه شه

دې غمونه دی چې یې وخورمه پخپله[5]　　په دنیا کې مې بل هیڅوک غمخوار نه شه

که مې سل نصیحتونه ورته وکړل[6]　　هغه خدای بې لاري کړی په لار نه شه

سهل کار دی که ریحانه په زړه ازار شوم

۲۱۵　　چې خاطر دهغې مستي ازار نه شه　　۲۳۸۳

هر ساعت که څه گوزران دی بې مخلصه　　هزار بار ارمان ارمان دی بې مخلصه[7]

که څوک وایي چې له ځانه شیرین نشته　　ولې ماته ځان تا وان دی بې مخلصه

لکه شمع په ورځ مرمه دشپې سوځم　　تمام عمر مې نقصان دی بې مخلصه

په بلبل کله بهار کله خزان وي　　په ما کل واړه خزان دی بې مخلصه

---

(۱) په "ب" چاپ ، "ق" چاپ ، د "ب" لومړنی نسخه او د "خ" په نسخو کی "کردار" او په "ق" او "ب" چاپ کی "عمل" راغلی دی.

(۲) د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه : "غرونه غرونه خوب په یو څاڅکی او به شي".

(۳) دا بیت د "خ" په دواړو نسخو کی نشته.

(٤) د "خ" دواړو نسخو : "که سل ځله نه اقرار راسره وکړي".

(۵) دا بیت د "خ" په دواړو نسخو کی نشته ، په لوړو قلمی نسخو کی لومړی مصرع دا ده : "بې غمونه مې چې یې وخوړه پخپله".
د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه : "بې غمونه چې یې وخوړ یو دبله".

(۶) قلمی نسخې : "که مې سل نصیحتونه وزړه وکړ".

(۷) دا غزل په قلمی نسخو کی نشته.

که شبنم همیش د نور رابانده وه دی — په ماکانی د آسمان دی بی مخلصه
پر غمونه د هجران رابانده تیر دی — اوس یو دم رابانده گران دی بی مخلصه
د آشنا د مینی اور وما ته گل دی — گل د اور په دود سوزان دی بی مخلصه
په وصال کی می نه مرگ لیده نه تبه — اوس می مرگ په هر زمان دی بی مخلصه
زه حیران د هغو خلقو په روزگار یم — چی ژوندون ورته آسان دی بی مخلصه

۲۱۶ — د ماخ دان

د زړه دمه په هیچا نه شی
مسافر غوندی حیران دی بی مخلصه

۲۳۹۳

چی بنکاره شو راته راز دیار له پطه[1][2] — پریشان شوم په زړه حیران له دی نمطه[3]
خوک به څه د وفا طمع کاله بنکلیو — چی د طمع لفظ خالی دی له نقطه
په کشتی د عاشقی به پل کښېنږدم — که شم داخله خارج د غم له شطه
پری کړه سر چی شی منصور وهر اشیا ته — تیره والی د قلم راځی له قطه
بیا به څو زړونه محبوبه په منگل وړی — هسی راغله لکه تکه سپینه بطه
دیار غم به دی هاله په زړه میشته شی — که دی غیر غمونه شی له دله حطه
نن کاغذ راته ریبار دیار راوړی — گوره څه به شی معلوم له دغه خطه

۲۱۷ — د ماخ دان

چی می قد د یار دراز اونه کوتاه دی
واخسته په لاس ځکه اوسطه

۲۴۰۱

دهغو چی په هجران شی سینه داغه — نور یی څه دی له ارامه له فراغه[4]
دغه ځای دی د بلبلو د توتیا نو — د چمن له گلو بیرته اوسه زاغه

---

(۱) داغزل د "خ" له دوهمی نسخی نه نقل شو.
(۲) دیار له پطه = دیار له پته، د قافیی د تسمون په غرض یی "پت" په "پط" لیکلی دی.
(۳) نمط = نمت = دالی هم د قافیی د تسمون په غرض په "ط" لیکلی دی.
(٤) داغزل د "خ" له دوهمی قلمی نسخی نه نقل شو.

په شمام يې سرتر پايه معطر شوم — نن د يار د زلفو بوی راغی له باغه
تر قيامته به محمود بې خوده اوسم — که يو گوت راکا ساقي له دې ايا غه
زه به ستا په درکې عمر واړه تېر کړم — د مجنون مې تل روزگار کېده له راغه

٢١٨ — ٢٤٠٧

ستا په نور به زه تاج د ايران صورت ستې کړم
که يې وينم يو ځل جبين چراغه

ما به ولې کړو فرياد او فغان دريغه — که آشنا وی راسره جا ودان دريغه (١)
له فراقه مخ دزړه په وينو وينځم — کاشکې نه وی مرگ بيلتون پنهان دريغه
فرزانه بلبل په وخت د بهار ژاړي — چې آخر به باندې راشي خزان دريغه
زه حيران ودته ولاړ په ستر گو وينم — چې دايم راځنی د روې ياران دريغه
يو ذره مې په طاعت کې تېره نه کړه — گران بها عمر مې لاړ رايگان دريغه

٢١٩ — ٢٤١٣

سرکښی کې تېر ترحده بيچاره يم
که قوت د طاعت راکړو رحمان دريغه

که يو ځل مې هغه يار وليدی دريغه — سرفراز مې سرگردان وليدی دريغه (٢)
چې تمام جهان په عقل غلبيل کړمه — زيږ مريزه مې پيکان وليدی دريغه
د وجود گلزار يې درست سره اغزی شو — خارستان مې باغستان وليدی دريغه
روغ صورت لکه بادشاه صحت يې تخت دی — ناست په تخت مې شاه جهان وليدی دريغه
د تن ښهر يې خرابه خرابې شوه — بيا مې دا خراب ودان وليدی دريغه
لکه زه چې له مخلوقه گريزان يم — سگ مې هسې گريزان وليدی دريغه
دا سبق راته تعليم شکستگي کړه — چې روغ کار مې شکستگان وليدی دريغه

---

(١) دا غزل يوازې او يوازې د "پ پ" چاپي ديوان کې راغلی دی په نورو چاپي ديوانونو او قولوقلمي نسخو کې نشته.
(٢) دا غزل د "پ پ" چاپي ديوان نه نقل شو.

سخت ساعت ځمکه آسمان راته یکسان کړه
فرق د ځمکې د آسمان ولیدی دریغه

ودې خپلې حیرانۍ وته حیران یم
چې حیران صورت شادان ولیدی دریغه

د قرآن او د حدیث په کتو خوښ شوی
بیا په لاس حدیث قرآن ولیدی دریغه

چې زما زحمت پیغور ګنې وما ته
ما هغه د ځان په شان ولیدی دریغه

خپل یاران مې له زحمته په ژړا دي
ما دغه یاران خندان ولیدی دریغه

د آشنا زلفې مې ولیدی په لاس کې
بند په لار د هندوستان ولیدی دریغه

صبح وشام مې ګدایي د یار د در کړی
په دا کار مې ځان مهمان ولیدی دریغه

د ځانې او آدم خان په ارمان لاړل
لرې ماله زړه ارمان ولیدی دریغه

مخامخ مې ګفتګوی له یار سره کړی
د یار ما دغه احسان ولیدی دریغه

چې خطا دې واړه عفوه کړې ګرانه
یار مې هسې مهربان ولیدی دریغه

۲۲۰ ۲۴۳۰

ته ناحق په ما کینه کړې کینه ناکه
په کینه به آیینه نه کړې ته پاکه (۱)

څوک بې وجهې چا ته توره تیره اخلی؟ (۲)
خپل عمل دی چې د نیا یې کړه هلاکه

چې خندایې د بلبل په آه سرد کړه
خدای دګل ګریبان پاره کړ سینه چاکه

ځکه سپینې شوې اول د حباب سترګې
چې له بغضه په دریاب چوې تنها کړه (۳)

که تن ځمکه کړې زړه تخم باران اوښکې
لکه نخل سر به وکاږې له خاکه

---

(۱) د "پ" نسخې : " په کینه به آئینه نه کړې ځیاکه ".
د "خ" لومړی نسخه : "په کینه به آئینه نه کړې خپل پاکه".
په مصوره نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې ده : " په کینه به آئینه نه کړې څه پاکه".
د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده : " په کینه به آئینه څه کړې پاکه".

(۲) د "پ" په لومړی نسخه کې دا مصرع داسې ده : "څوک بې وجهې چا ته توری تویې اخلی".
د "خ" په دوهمه نسخه کې "توری تیری" راغلی دی او د "پ" په دوهمه او د "خ" په لومړی نسخه کې د "بې وجهې" پرځای "ناحق" راغلی دی.

(۳) دا مصرع په **تو لو** چاپي دیوانونو کې په لاندې ډول راغلې ده : "چې له بغضه په دریاب چوی تنها کړه".

بالا دست به شي هاله په نور و نو[1] — که تعلیم د زیر دستی و اخلي[2] له تاکه

بیا به نه مومي د ترکو والك و حکم — خو ونه وځي د جهان له جمله[3] واکه

د هغه جهان ژوندون به هغه[4] مومي — چي لاس و کان يي د دې جهان له ژواکه[5]

ته چي ژغوري سر و مال په عاشقي کې — عاشقي د اهسي چيري وي کا واکه[6]

چي د اهسي بزرگ مبلمه و کوته بیايي — اول غولي پاکيزه کړه له خاشاکه[7]

په دوئي کې به و نه شي تن توحيده — خو ضمير دې خالي نه شي له اشراکه[8]

د اهمه واړه حجاب دی چي لېده شي — نور دې حسن بالاتر دی تر افلاکه[9]

په ظاهر لباس غلط د سړي مه شه — مينځ يې گوره له چغزی او له متاکه[10]

اولیاء په جهان کې ځرگند نه دي — چي پاك ژوي خپسر[11] نغاري له ناپاکه

هيڅ وفايي له هيچا سره و نه کړه — تر و ماح[12] به خه ما نه کاله افلاکه

۲۲۱

۲۴۴۵

---

(۱) د "پ" په دوهمه نسخه کې "خلق" راغلی دی.

(۲) د "پ" په لومړی نسخه ـــــــــ کې "اخلي" راغلی دی.

(۳) په چاپي دیوانونو کې د "درست جهان له واکه" راغلی دی او د "پ" په لومړی نسخه کې "له جمله ژواکه" راغلی دی.

(٤) په چاپي دیوانونو کې "هاله" راغلی دی.

(۵) د "خ" په دوهمه نسخه کې دا مصرع راغلی ده: "چي ځان و باسي د دې جهان له شراکه".

(۶) په "پ" چاپ او "پ پ" چاپ کې راغلی ده: "عاشقي د اهسي چيري ده کا واکه".
او په "ق، ک" چاپ کې راغلی ده: "عاشقي د اهسي کله ده کا واکه".
مگر په مصوره نسخه کې راغلی ده: "اول غولي پاکيزه کړه له خاشاکه".

(۷) دا بيت په مصوره نسخه او د "خ" لومړی نسخه کې نشته.
لومړی مصرع يې په چاپي دیوانونو کې راغلی ده: "چي د اهسي لوی مبلمه ته کورته بیايي".

(۸) دا مصرع په مصوره نسخه کې راغلی ده: "خو د خپلسره خالی نه شي له اشراکه".

(۹) په چاپي دیوانونو، مصوره نسخه، د "خ" لومړی نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې "له ادراکه" راغلی دی.

(۱۰) قلمي نسخې: "په ظاهر لباس غلط د دنیا مه شه میان يې گوره چي چغزی دی که متاکه".
د "پ" په دوهمه نسخه کې يې لومړی مصرع راغلی ده: "په ظاهر صورت غلط د دنیا مه شه".

(۱۱) په مصوره نسخه، د "خ" په دوهمه نسخه کې "خپل سر"، او د "خ" په لومړی نسخه کې "خپل ځان" راغلی دی.
دوهمه مصرع يې په "ق، ک" چاپ کې راغلی ده: "چي پاك روی مخ سر نغاری له ناپاکه".
په "پ پ" چاپ کې راغلی ده: "چي پاك روی پسنه وس نغاری له ناپاکه".

(۱۲) په "پ" چاپ کې "مانه" راغلی دی.

هسې نه چې زما یار واړه جفاکه — صد چندان لکه جفا هومره وفاکه[1]

لکه زړه چې په خپل یار باندې مین یم — یو په سله هومره مینه یار په ماکه

زړه یې[2] وړی په احسان دے نه په جور — مجنون ځکه په لیلی پسې ژړاکه

درست جهان د خوبو یانو ناز بردار دی[3] — نه یوازې د غم نازنان[4] په ما او تاکه

خشکل نه ګوري ماخ د ان وهغه مخ ته[5] — چې فرښتې یې هم د حسن تماشاکه[6]

۲۲۲ ۲۴۵۰

چې خپله یې[7] د سیلاب په مخ شوه لکه — د حباب تماشا ګوره تر دمکه

هیڅ وسا نه ده په کار دیان په سیوری — که تري لاندې وي داوسپنو کوډیکه[8]

دا دلاندې به همه واړه چیت پیت شي — مګر سر وي چاوکښلی تر فلکه

چې په اصل خدای نسکور وي پیدا کړی — څوک به څه خوري د دې دهر له سنانکه[9]

چې دښمن یې وي له دوسته اړ ولی[10] — د هغو احتیاط بویه له کومکه

راشه واچوه د نفس وخولې ته خاوری — خوري نه ده خوله د ګور په خاورو کې

هرچې ده که یې د ګور په خاورو خوله شي — په هغو باندې حرام ده نوره څکه

---

(۱) دا غزل د "پ" په دواړو نسخو کې نشته.

(۲) د "پ" په نسخو کې د "یې" پرځای "مې" راغلی دی.

(۳) په مصوره نسخه او د "خ" دواړو نسخو کې "نازپرور" راغلی دی.

(۴) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "یار" راغلی دی.

(۵) دا مصرع په "پ" چاپ او "پ پ" چاپ کې داسې ده: "نه به ګوري رحمان خشکل هغه مخ ته".
د پشور په لوړو دوو چاپي دیوانونو کې داسې ده: "نه به ګوري رحمان خرنګ هغه مخ ته".
د "خ" په دواړو نسخو کې داسې ده: "خشکله به نه ګوري رحمان وهغه مخ ته".

(۶) دا مصرع په چاپي دیوانونو کې داسې ده: "فرښتې چې یې د حسن تماشا کا".
په مصوره نسخه کې داسې ده: "چې فرشته یې هم د حسن تماشاکا".

(۷) په قلمي نسخو کې "چې یې خوند د سیلاب په مخ شوه لکه" راغلی دی.

(۸) چاپي دیوانونه: "لاتري لاندې وي د څولرګو کوډلکه".
د "خ" دواړو نسخو: "که تر لاندې څوک داوسپنو کوډیکه".

(۹) قلمي نسخې: "څوک به څه خوري د سپهر له سنانکه".
په "ق" چاپ کې لومړۍ مصرع داسې ده: "چې په اصل خدای نسکور دی پیدا کړی".

(۱۰) قلمي نسخې: "چې دښمن یې دوست نمای وي اړ ولی".

۲۲۳ — ۲۴۵۸

که نور خوك مبارکی کا وبله نوري
وماح دان ته دې خپل یار وي مبارکه

ګډه وتره په پرې سره کلکه[1] — دروقتی طمع ومدکره له فالکه
هر سایل چې سوال دنان کا له آسمانه — ګویا غواړي په کچکول کې اوښ مکه[2]
له آسمانه چې خوك طمع د وفا کا — دغه طمع یې طاعون ګنه[3] بې شکه
له باران سره یې هسې بلې وورې — چې هر زخم یې بدتر وي[4] تر توپکه
که په چاې شفقت او مرحمت شي — ظلم جور یې بدتر وي[5] تر . . .
مو به نه شي هیڅ سړی بې قناعته — که یې خونه وي په سیم وزر پکه
بیا به نه مومي کمال بې کمینه — که خیمه یې وي[6] په عرش دپاسه لکه
که جهان په نور عالم باندې فراخ دی — په تنګ چشم باندې تنګ شي تر څپکه[7]
د دې دهر په یارانو کې آب نشته — که یې غواړې ترسما وتر سمکه
تر څې[8] اوښکې د عاشق آب و نمك دی — خدای دې نه کا خوك بې آب وبې نمکه

۲۲۴ — ۲۴۶۹

دا دراز اندیښنې مدکره ماح دانه
د دنیا چارې په تله دي تردمکه

که په هجر کې خوك ما پوښتی له حاله — حال خودادی چې ناتوانیم بې مجاله
زه دیار په دیدن ځکه شتابي کرم — چې د عمر بقا نه وینم ترکاله

---

(۱) دا غزل په مصوره نسخه کې نشته.
(۲) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ : " ګویا خیر غواړی کچکول کې له اوښ مکه".
(۳) د "خ" په دواړو نسخو کې "ګنهم" راغلی دی.
(٤) د "خ" لومړی او دواړه نسخو کې "تیره وي" راغلی دی.
(۵) دا بیت په "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې نشته په لوړو چاپي دیوانونو او د "خ" په لومړی او دواړو نسخو کې د "بتروی" پرځای "تپروی" راغلی دی.
(۶) په چاپي دیوانونو کې "دې وي" راغلی دی.
(۷) په چاپي دیوانونو کې "تر چشمکه" راغلی دی.
(۸) په "ق" چاپ، "ق، ک" چاپ او د "خ" لومړی نسخه کې "تر شې" راغلی دی او د "خ" په دواړو نسخو کې "دپړی" راغلی دی.

ناصر احمد (عزیز)
NASEER AHMAD (AZIZ)

چې تر حسن تر جمالـه يې زاړه نه شوم — شرمنده يم د خوبانو تر جمالـه
ته وماته نصيحت مه کړه ناصحه — عشق بې نيازي دی لـه ثوابه لـه وبالـه
بې دخپل آشنا د حسن لـه تعريفه — هيڅ مې مه پوښته لـه نوره قيل وقالـه
ما د عشق په درس کې نور څه لوستي نه دي — بې لـه زلفو بې لـه خطه، بې لـه خالـه
په دنيا په آخرت مې دې خدای نه کا — بې نصيب د هر ويانو لـه وصالـه

۲۲۵ — ۲۴۷۷

کـه يار سر په ديدن غواړي مه جاړوځه
دغه حکم ساح کړی دی دلالـه

خو تر ميانه وړانه نه کړې د تن پولـه — وبه نه رسې تر خدايه تر رسولـه
خدای وتاته دين دنيا په غوره کېښوه — تا دنيا کړه په داد وار وکې قبولـه
تر حرص پېهور ته بلـه بلا نشته — دا بلا دستا په خونه شوه نزولـه
يو ساعت د خدای په ذکر مشغول نه شوې — تمام عمر د خپل ځان په غم مشغولـه
چې باقي زندگاني په فاني پلورې — ځان په کوم دانش دانا بولې مجهولـه
لـه خالقه روګردان شوې و مخلوق ته — بيا وځان ته عاقل وايې نامعقولـه
نصيحت لکه هلک د باندې تېر نه شو — د دنيا په شيرينۍ پسې ملولـه

۲۲۶ — ۲۴۸۸

چې ساح غوندې خوسند نه شې په نوکۍ
خلاص به نه شې په هيڅ رنګ د زړه لـه نوکۍ

خبر نه يم چې يې راوستم لـه کومه — بيا مې کومې خواته استوې چې درومه
لکه روند چې لاس دبل په اوږه کېږدي — هيڅ ژوره لوره نه وي ورمعلومه
خدای راپيښه نړۍ لاړ کړه نالپدلې — لکه وړانه ما شوه چې وې(۱) سرګومه

---

(۱) په قلمي نسخو کې د "چې وې" پر ځای "هسې" راغلی دی.

خراب زړه مې تورو زلفو ته هوس کړې
باري کبوتر دمارغه په څېر په لومه[1]

هسې کوډې عاشقي رابانده وکړې
چې سنګين خاطر مې نرم شو تر مومه

چې بې هېڅ له خدايه ترس او وېره نه شي
الغياث د دلبرانو له رسومه[2]

کله راکاندې شراب دلعل لبو
کله جام دزهر و راکاندې چې شومه[3]

د مطلوب له طالبانو چې ځان شمېرې[4]
اې ښاغلې اول سيال شه بيا يې مومه

۲۲۷ ۲۴۹۳

اعتماد[5] به په دنيا کوې تر کومه
دار فتاد به پسې شا کوې تر کومه

څو به پټ له مرګه ګرزې سپينه ږيره
په روښانه ورځ به غلا کوې تر کومه

چې د دهر له يارانو وفا غواړې
صيادې به د عنقا کوې تر کومه

د پېرې علاج په دانګ په لوړ نه شي[6]
دغه کار به په عصا کوې تر کومه

په غفلت به خدامېد د مرګ مت کړې
د ناسور د رنځ د وا کوې تر کومه[7]

ته چې پند وايې ناصحه و ښاغلې ته
شکايت به د قضا کوې تر کومه

۲۲۸ ۲۵۹۹

شمع د دلبر ستګې عاشق پرې پروانه
ځان پرې خپل جليا کاشي يې خونه ويرانه[8]

مطر په معنې کې د دلبر دمينې بحر
شو صدف دستګو واړه پرې په دردانه[9]

---

(۱) دا بيت د "پ" په نسخو کې داسې دی : "خراب زړه مې لوړو زلفو ته هوس کړې ولې کبوتم دمرغه په څېر په لومه".
د "خ" په درې واړو نسخو کې يې دوهمه مصرع داسې ده : " ولې کبوت دمرغه په څېر په لومه".

(۲) قلمي نسخې : " الغياث دی د دلبر وله رسومه".

(۳) په مصوره نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا مصرع داسې ده : "کله جام دزهر و راکه چې يې شومه".

(٤) قلمي نسخې : " ته چې ځان طالب شمېرې د مطلوبانو اې ښاغلې تر وکه سيال يې بيا يې مومه".
د "خ" په دوهمه نسخه کې يې لومړۍ مصرع داسې ده : " چې يې ځان طالب شمېرې له مطلوبانو ".

(۵) په ټولو قلمي نسخو کې "اعتبار" راغلی دی.

(۶) دا مصرع په قلمي نسخو کې داسې ده : " دپېرې علاج په دانګ وېره نه شي".
د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده : " د پېرې علاج په دانګ وېره د ول نه شي .

(۷) دا بيت يوازې او يوازې د "خ" په دوهمه نسخه کې راغلی دی په "ورد" ټولو قلمي نسخو او چاپي ديوانونو کې نشته .

(۸) دا غزل يوازې او يوازې د "پ" په لومړۍ نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې راغلی دی . دې بيت دوهمه مصرع د "پ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده : " ځان په خپل جليا کاشي يې خونه ويرانه".

(۹) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته .

غم مې د زړه وینې تر چشمانو راپېرون کړې — اوښکې نه دي وینې ولې شوې دا ځانه (۱)

زه په داله ستر گوستند د اوښکو بیایم — یې چې ماهي د وصال وی په آب خانه (۲)

شوه چشمه د ستر گوستاد غم په وینو صافه — ځکه مې همیش اوښکې لهیږې روانه (۳)

خیر د دیدن وخوارها شوته ارزانی کړه — ته دلبر غني یې د خپل مخ په خزانه

اوښکو د فراق د باندې زور وکړ زما — هیڅ پروایې نه شي بې پروا هم مستانه (٤)

عقل د ماځ دان دې په جفا سره مسلوب کړ — مکره مکره هسې بده یارا نه (۵)

۲۲۹

۲۵۰۷

د پېر عمر مې تېر کړ بیهوده په زمانه — نو دې زما سر وي او د ترکو آستانه

هیڅ مې حاصل نه کړه په شیخي او په تقوی کې — پس له دې مې وار دی هرچې شي په میخانه

شیخ وشیخي ورد ووظیفه او ذکر فکر — زه او ساقي جام وباده چنگ وترانه

زه وزاهد نو ته حیران یم د وی وما ته — دیوانه به ده خندد وده به دیوانه (۶)

گنج د د روزار شه د عاشق تر شاخلي اوښکو — نه خر وار د عقل نه د عشق یوه دانه (۷)

تیغ د یار له لاسه په مړی د عاشقانو — هسې لذت کاندي جور د میو پیمانه (۸)

خدای لره به ورشم په سودا د یار له مخه — بل مقصود مې نشته په کعبه په بتخانه

زه له دې پېر مینې په تش بوی د یار شیدا شوم (۹) — تل دلمد وختولې او به دي بهانه

---

(۱) د "خ" دوهمه نسخه : "غم مې د زړه وینې له چشمانو راچېږې — ولې چې لهیږې د وصال دی آب خانه".

(۲) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(۳) د "خ" دوهمه نسخه : "شوې چشمې د ستر گوستاد غم په اوښکو صافې — ځکه همیش اوښکې تر مې لهیږې روانه".

(٤) د "خ" دوهمه نسخه : "هیڅ پروایې نه شي بې پروا یار دی مستانه".

(۵) د "خ" دوهمه نسخه : "عقل د ځان دنیا سره مسلوب کړ — مکره یاره مکره هسې نده یارانه".

(۶) قلمي نسخې : "دیوانه به ده میخند د وده به دیوانه".

(۷) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.

(۸) چاپي دیوانونه : "هسې لذت کالکه د میو پیمانه".

(۹) په چاپي دیوانونو او د "خ" په قلمي نسخو کې "شیدایم" راغلی دی.

"څکله زاهد زهد کا دیو جنت د پاره — سر بند لی نه شي په اوربل د جانانه (۱)
ګوره د منصور هسې په دار نه شي ځمانه — مګره دا د عشق خبرې مستې رندانه (۲)
بله نښانه د عاشقۍ نشته ناڅ (۳) — بې نام و نښان شه که يې غواړې نښانه

۲۳۰ — ۲۵۱۸

تل ژړا فرياد کړم د دلبر پر آستانه — کله به وماته مخ ښکاره که مستانه (٤)
زه لکه مجنون ولاړ په طمع د ليلا يم — اوس به ليلۍ راشي پر سپين مخ زلفې شانه
راغلم ستا زيارت له که مې زړه يقين نو نه شي — تيک پاڼ وان مې د واړه پيره ستا دي شکرانه
تيغ د معشوقې دې په ګردن دی عاشق النبي — هسې رنګه زيب که لکه مې په پيمانه

چيرې د منصور ريپه د ود سنګسار نه شي ځمانه
مه ګوره د عشق خبرې د پرې رندانه

۲۳۱ — ۲۵۲۳

کله مخ د يوه خوا کا ځابونه (۵) — خدائے به ورکا وخوبانو ثوابونه
کله وي چې يو په رنګ د هغه يار شي — که هزار شي په آسمان کې آفتابونه (۶)
په ګرداب د زنخدان کې هسې غرقيم — هيڅوک مه شه غرق په هسې ګردابونه (۷)
لکه زه چې يې له غمه په عذاب يم — خدائے دې نه ښ دي په چا هسې عذابونه
ګفتګوی مې چې څه اش و رباندې نه کا — که له غمه يې تصنيف کړم کتابونه
په يوه ځواب مې رد کا هزار سواله — هسې کاندي د سوالونو ځوابونه

---

(۱) دا دوه بيتونه په قلمي نسخو کې نشته.
(۲) د "خ" دوهمه نسخه : "مه وايه ربنتيا خبرې د پرې رندانه".
(۳) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(٤) دا غزل د "خ" له دوهمې قلمي نسخې نه نقل شو.
(۵) د "خ" نيمګړې نسخه : "سکه يوه خوا کاله مخ ځابونه".
(۶) د "خ" نيمګړې نسخه : "که هزار شي افتابونه ګهتابونه".
(۷) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

هیڅ پایاب[1] دفن فریب یې موندې نه شي — څوك به څه غواړي د بحر پایا بونه

که لږ سترګې وبله کړې دم راته وایي — په یارۍ کې عالم نه کاندي خوبونه[2]

مال وملك یې همه واره او به یوسي — د هغو سترګو چې درومي سپلابونه

دکعبه ودروځو محراب ته یې حیران یم[3] — څه نسبت لري بتان ومحرابونه

ماهاله له پارسایي ولاس وکښلی[4] — چې په لاس کړل مطربانو ربابونه

۲۳۲ — ارغواني جامې یې واغوستې ماح نه — بیا یې جوړ کړل ستا د قتل اسبابونه — ۲۵۳۵

راکوي د بیددګۍ[5] پیغورونه — بلوي مې په تندي باندې اوږونه

نور څه نشته واړه غوښې دي دزړونو — چې وژلی[6] شي د ترکو په تیغونه[7]

هرنګاه یې په وکښود زړونو شړي — همیشه راباندې آزمایي زورونه

خدای دې تور د تورو سترګو چاته نه کا — عالمونه یې ورکړې په تورونه[8]

یو د حسن اور یې بل کړ په جهان کې — په دا اور باندې[9] یې وسوله پرکورونه

زه دیار په مینه غل کړم رقیبانو — ګنه نور یې کوم راپورې روپورونه

۲۳۳ — د ماح دعاشقۍ هسې غږ وشو[10] — چې برپا ئې شوه په هر ښهر کې شورونه — ۲۵۴۲

---

(۱) په "ق" چاپ او د "خ" نیمګړې نسخې کې "پایان" راغلی دی.
(۲) دا بیت په مصوره نسخه او د "خ" په نیمګړې نسخه کې نشته.
(۳) د پېښور چاپي دیوانونه او قلمي نسخې: "دابر ولو د محراب ته یې حیران یم".
(٤) په چاپي دیوانونو، مصوره نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې "وللی" راغلی دی.
(۵) "ق، ک" چاپ کې "دا کاده شی دبیدر دو پیغورونه". په مصوره نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې "بې ننګۍ" راغلی دی.
(۶) د پېښور چاپي دیوانونو کې "وژلی" راغلی دی.
(۷) په قلمي نسخو کې "پیغورونه" راغلی دی.
(۸) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۹) په چاپي دیوانونو کې په دواړو مصرعو کې د "یې" پرځای "دې" راغلی دی.
(۱۰) په "ق" چاپ کې "زور شو" راغلی دی.

په خاطر مې غلبه شول ستا غمونه — لږ د خدای د پاره کېږ ده قدمونه
څه خو قیاس زما د پېر واو سنګو وکړه — چې مې چېرې وو په تن کې دا زلمونه (١)
هر چې ستا په دم ژوندي وي نه رغېږي (٢) — که بې تا په ځان پوکې هزار دمونه
که هزار هزار دمونه په ځان پوکا — نور به نه کا په دمونو قسمتونه (٣)
له قسمته خلاصېده هېچا نشته — که داخل شي دمکې په حرمونه
سړی کله په کوښښ ترځایه رسي — خو د خدای له لاسه نه وي (٤) کرمونه
چې توانګر د قناعت په خزانه شي — نور به څه کاندي دینار و درهمونه (٥)

قسم وخوري له خوبانو بیا یې مات کا

٢٣٤ — ٢٥٥٠

څه باور دی د ښځو په قسمونه
ژوندي کاندي د دنیا کاروبارونه (٦) — په مړو پر بوته د خاورو انبارونه
څوک سر تور، پښې بیل خاورو لره درومې — چا کانډه دي په سر ایښي دستارونه
ښه استوګنه د دوورونو سره نه شي (٧) — بلکه یو ځله اخلي ازارونه
دیوې وني (٨) له ښاخه پیدا کېږي — په چمن کې هم ګلونه هم خارونه
هومره خلق مړه وړ له دنیا درومې — چې یې نه په چا حساب شي نه شمارونه
یو یو واري په هر چا باندې تېرشوي — همېشه په هېچا نه وي دا وارونه
د پېر تود ژمي، بازارګي مې تر سر تېرې دي — څوک دې نه کا په ما قنج و بازارونه

---

(١) په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهمه نسخه کې "ر و د و ن ه" راغلی دی.
(٢) د "پ پ" چاپ: "ستا د حسن مار چې یې وخوري نه رغېږي".
(٣) د "خ" په دوهمه نسخه کې "د ق ل م و ن ه" راغلی دی.
(٤) دا بیت په "ق" چاپ او "ق. ک" چاپ کې نشته.
(٥) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(٦) د "پ" په نسخو او د "خ" په لومړۍ نسخه کې "کار و روزګارونه" راغلی دی.
(٧) په قلمي نسخو کې "ښه تو ښه" راغلی دی.
(٨) د "پ" په نسخو او د "خ" په دوهمه نسخه کې "دیوې د ماڼې" راغلی دی.

۲۳۵ — ۲۵۵۸

جدايي د آشنايانو هر دم کا ندي
په ماڅ ښکاره باندې دتوره و گوزارونه

پټ پناه مې په خاطر لګي اوروونه
چې رايادشي د مينو بشرونه (۱)

تل جرس درته واهه دکوچ ډليال شئ
پردپسانو زلمو وتري بارونه

راشه ورشه حال يې وګوره چې څه دی
پرمينو باندې پرپواته قبرونه

تاچې داشيرين بشر خاورې بيابان کړه
ترشيرين بشر يې وخاته خاورونه

هامين چې تالپده اوس لپده نه شي
دې بند شوې دلحد په حصارونه

۲۳۶ — ۲۵۶٤

يوه ذره د محبت ورکړه ماڅ تلا
چې بې تا يې په زړه نورنه شي فکرونه

دريغه ولپدی يو ځل هغه مخونه (۲)
چې دراز لري مژګان دراز قدونه

دراز قد دراز مژګان دراز زلفې
ودې شوندې وده خوله واره غاښونه

دآسمان شمس و قمر به تري قربان کړم
هم دځمکې په سر واره سره ګلونه

چې يې ووينم په مخ مې اوښکې درومې
دسپرلي له مخه ودې بارانونه

که يو ځل دې مخ ووينم په ستر ګو
ما په زړه کې قبول کړي دي نذرونه

دهجران په شپه سوکت راته سوا اوروشي
يو زمان مې باندې نه لګي ارخونه (۳)

چې په سپينو اننګو دې زلفې زانګي (٤)
ښامارا ان دې دچند نو په ښاخونه

۲۳۷ — ۲۵۷۲

که خلای غم دجدايي ودته آسان کا
و ماڅ ودته اسان دي نو غمونه

---

(۱) داغزل د "خ" دوهمې قلمي نسخې نه نقل شو.
(۲) د "پ پ" چاپ : " دريغه دمې لپدی يو ځل هغه مخونه".
"ق" چاپ او "ق ک" چاپ : " دريغه ووينم يو ځل هغه مخونه".
(۳) داد ورپسې بيت په قلمي نسخو کې نشته.
(٤) "پ" چاپ : " لوتري زلفې دي په سپينو لپچو زانګي".

که ستا خپله سیاه روي نه وي دښمنه — آیینه زما د زړه نه ده ښکنه (۱)
ته چې ما ته په نظر د عیب ګوري — دغه عیب واړه ستا دي عیب جنه
خپل صورت په آیینه کې هر څوك ویني — که څېره د چا صفا وي که ریلنه (۲)
چوهاري د حلال خوږ په نامه بولي — له ښو خلقو بد ګوي نه ده ممکنه
ته چې بدله بله والي زه وېرېږم — چې بې خپله بدي نه کړې معینه
ترهغه به مومې عیب ستا څرګند شي — وهرچا وته چې کړې د چا غندنه (۳)
هر رنګ تخم چې کړې هغه به اخلې (۴) — خپله خپله میوه نیسي هره ونه

که له خپله عیب حان ژغورې ماحانه
دهچا له عیبه مه کوه پوښتنه

۲۳۸

۲۵۸۰

ما وې زه نه کړم په خوبانو باندې مینه — مینه د خوبانو وچوي د صورت وینه (۵)
خدای زما په بخره عاشقي کړه له ازله — خوښ یم په دا بخره که تن خرده که شپېنه
ممکه هغه سوکې هرچې اوږو باندې بل وي — له غه خلقه شوه د نخو روتماش بینه
ښه تو ښه مې نه شي په تش داد د کوردو کلي — مرد بویه چې واخلي د غم پېټی له غمګینه
نور عالم به خه کړم زه مرید د هغه کښم — هرچې وما راکا یو پیغام له نازنینه
خوبه سوك په ستر ګو غړوم له هسې غمه (۶) — خوبه مې تل وینې د زړه خالي له آستینه
سرد رحمان د رومې د هجران په تېره توره (۷) — ته یې نګاهبان شې یا اله العلمینه

---

(۱) دا غزل د "خ" په دوهم نسخه کې نشته.
(۲) د "خ" په لومړي نسخه کې "پلمنه" راغلی دی.
(۳) چاپي دیوانونه: "چې هرچا وته دې کړې ده خندنه".
د "خ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې "دچا" پر ځای "دحان" راغلی دی.
(۴) په چاپي دیوانونو کې "یوسي" او د "خ" په دوهمه نسخه او د چاپ لومړي نسخه کې "مومې" راغلی دی.
(۵) قلمي نسخې: "زه به نوره نه کړم په بنا نو باندې مینه — کشکې که مې څوك کښلی نوره وراته کاله حینه"
(۶) دا بیت د "خ" په نسخه کې نشته او د پېښور په چاپي دیوانونو کې لومړی مصرع دې دا ده: "خوب دواړه ستر ګې غړوم له هسې غمه".
(۷) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې نشته. "ق" چاپ کې لومړی مصرع دې دا ده: "سرد رحمان د رومې د هجران په تېره توره".

۲۳۹ — ۲۵۸۸

اورد جدایی په ماځان دی لګیدلی[1]
وخت دی که مدد کړي یا میران محی الدینه

یادوې په خوله مکه او مدینه — نسکور پروت یې د عورتې په سینه
زورند سړی که غونچه مراقبه کړي — پټ دې نقش د زړه رخت دی رنګینه[2]
داطلسو قبا غواړي نه یې مومي — له ناکامه دې خرقه کړه پشمینه[3]
عبادت دې خوتړی تر معصیت کا[4] — څه خوونیسه وځانته آیینه[5]
کینه بده ده بې شکه جنګ حرام دی — نه له نفس و له شیطان سره کینه[6]
تر ناپاکو ناربنه ؤ، وې[7] بهتره — پاک دامنه پرهیزګاره ارتینه
د مردانو کار له نفس سره جنګ وې — نه زنان غوندې له نقش و نګینه[8]
د دینداری ارتینې تر یوې کوښې — صدقه شه سل بې دینه ناربنه[9]
نیکوکار سړی بهتر دی که خو د سال وې — ترسپین ږیره، بدکردار دې بنه
بدکردار، که صد ساله شي[10] و ماځان ته — خرګند بې لکه طفل شبینه[11]

۲۴۰ — ۲۵۹۸

بیا دې مخ دی جارو تلی څه بلا شوه — دا بلا له کومه لوریه را پیدا شوه

---

(۱) دا بیت په چاپي دیوانونو کی نشته. د "خ" په لومړی نسخه او مصوره نسخه کی داسی دی: "اورد جدایی په ماځان دی لګیدلی نه یې نګهبان شي یا الله العلمینه".
(۲) د "خ" په لومړی نسخه کی دا مصرع داسی ده: "پټ دی نفس د زړه رخت دی رنګینه".
د "خ" دوهمه نسخه: "اندرون دی لکه نقش رنګینه".
(۳) د "خ" لومړی نسخه: "جامه".
(۴) "ق، ک" چاپ: "یې".
(۵) دا بیت په مصوره نسخه کی نشته، لومړی مصرع یې په "ق، ک" چاپ کی داسی ده: "معصیت به دې خپل تر عبادت کړی".
(۶) دا بیت په مصوره نسخه کی نشته.
(۷) چاپي دیوانونه: "ده"، مصوره نسخه: "دی"، د "خ" دوهمه نسخه: "نه".
(۸) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کی نشته، "پ" چاپ: "نه ښځو غوندې له نقش نګینه".
د "خ" لومړی نسخه: "نه زنانو غوندې نقش نګینه".
(۹) دا بیت په مصوره نسخه کی نشته او د "خ" په دوهمه نسخه کی د "کوښې" پرځای "نوکه" اغلی دی.
(۱۰) چاپي دیوانونه او نوری قلمي نسخې: "وې".
(۱۱) "ق، ک" چاپ: "بدکردار که صد ساله وې خو ځان ته هسې ښکاري لکه طفل شبینه".

ورځ چې واورې دغه هسې نه وي خړوې — لکه نن چې دخپل یار وماته شا شوه (۱)

دازما په یار کې مړه و وفا نشته — که دنیا واړه بې مړه بې وفا شوه

چې یې هېڅ له خدایه ترسا دوپره نه شي — په نصیب مې یوه هسې دلربا شوه

چې وحسن ته یې گورم حیرانیږم — راڅرگنده یوه هسې تماشا شوه

څه دحد ودحساب خبره نه ده — بې صبري مې ترحسابه زیاته لا شوه (۲)

قراري مې په طلب کې شوه حرامه (۳) — بې غمي مې په مذهب کې ناروا شوه

چې راښکلی مې پرې غشی دعا و — هغه نښه مې ونه وپشته خطا شوه

لکه پوچ بادام بې مغزه بې حاصله — هسې پوچه بې حاصله مې دعا شوه

عاشقي چې مې له خلقو په غلا غلا کړه — هغه غلا مې په تمام جهان رسوا شوه

څه مهره به له نسیا معاملو مو م — چې مې نغده په ورغوي کې نسیا شوه

در دبې ته جار وتوشو راته پورې — په نصیب مې بله نه وه داوه دا شوه (٤)

یوه بخره هرسړي له خدای ورکړه — زما بخره آشنایي دخپل آشنا شوه (۵)

دتدبیر په دام به څه شکل کښېوزي — معشوقه چې مې په مثل دعنقا شوه

ورځ چې واورې دغه هسې نه وي خړوې — لکه نن چې دخپل یار وماته شا شوه (۶)

چې یې زړگی زېړ رخسار زما دخاورو — عاشقي نه وه په باب زما کیمیا شوه

څه حکمت دیار په مینه کې خدای کښېود — چې عاشق له هم درد شوه هم دوا شوه

دابارانو نه دی چې وورې له آسمانه — دمرغانو په ښکار باندې ژړا شوه

۲۴۱

۲۶۱۶

---

(۱) دابیت په چاپي دیوانونو کې نشته.
(۲) قلمي نسخې: "په هغه خوا شوه" راغلی دی.
(۳) چاپي دیوانونو: "قراري مې په طلب کې یې حرام شه".
(٤) دابیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۵) د "خ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې "هر اشنا" راغلی دی.
(۶) دابیت په چاپي دیوانونو کې نشته.

چې په نور څه پوري زړه تړې بې خدايه
څه پوهېږې چې په ځای کړې که بې ځايه (۱)

داخونشته چې به تل تر تله پاتې
که بيا پاتې خو تر سلو کالو پاته

که دې سل کاله شي عمر خو به تېر شي
دغه پسه بيا به څه کړې راته وايه (۲)

سم له لاسه (۳) چارې نه شي مرد هغه دی
چې بېدار وي و غليم وتله ورايه

ته په اصل کې سړی يې خار وې نه يې (۴)
د چار پايو چارې مه کوه د وپايه (۵)

مرتبه به دې د چ او دمېږې شي
زړه په غوبو غوښو مه تړه همايه (۶)

موړ به نه شي ته په حرص بې قناعته
اې په تخت داورنګ زيب ناسته ګدايه (۷)

وړاندې سرای له توښه تړه (۸) رنګه
خو سفر دې کړی نه دی (۹) له دې سرايه

۲۴۲ ۲۶۲۴

په حالت د عاشقانو نظر بويه
په زيارت د شهيدانو ګذر بويه

بې مرشده خبر څوك د مريد اخلي
غوڅ په غم د خرزندانو پېدر بويه

بې ريباره رسېده ويار ته ګران دي
په کوڅه د هر و يانو رهبر بويه

بې هنره چا دولت موندلی نه دی
په خدمت د صاحبانو هنر بويه

ستا له سترګو مې هر ګوره ملاحظه شي
له دې هسې سياه دلانو (۱۰) حذر بويه

---

(۱) د "ق، ک" چاپ : "راته وايه دا په ځای کړې که بې ځايه".
د "خ" لومړی نسخه : "څه دې زده چې خدای په ځای کړې که بې ځايه".
د "خ" دويمه نسخه : "څه دی زده دی چې په ځای کړې که بې ځايه".
د "پ" لومړی نسخه : "څه دې زده چې دا بې ځايه کړ کا بې ځايه".
(۲) د "خ" دويمه نسخه : " دغه پسه به نور څه کړې راته وايه".
(۳) د "خ" لومړی نسخه : " هم له لاسه".
(۴) د "خ" لومړی نسخه : "چار پای نه يې". مصوره نسخه : " خار وی مدشه".
(۵) "ق، ک" چاپ : " خودرايه". "ق" چاپ : " مدشره چار پايه".
(۶) قلمی نسخې : "زړه په غوبو په غوښو مدتړه همايه".
(۷) د "پ" نسخه : " موړ به نه شي په حرص بې قناعته که يې په تخت داورنګ ناسته ګدايه".
(۸) د "خ" لومړی او مصوره نسخه : " واخله".
(۹) د "خ" لومړی نسخه : " نه وی".
(۱۰) د "خ" په لومړی نسخه کې د "سياه دلانو" پرځای "سياه مارانو" راغلی دی.

بنه چې ستر ګې خدای ملالې کړې تر کو — لږ په زړه د ظالمانو اش بویه
ستا په داغ (۱) به هر یو زړه مشرف نه شي — دغه تاج د بزرګانو په سر بویه

۲۴۳

چې خبر د تاج ان نه اخلي یار بد کا
بادشاهان له ګدایانو خبر بویه

۲۶۳۲

زړه مې ورکړ و خود رای — هرچې شي تکیه په خدای
په سودا د عاشقۍ کې — یا به شاه شم یا ګدای
یا به کېنم و د وحدته — یا په سیورې د همای

---

(۱) "پ پ" چاپ کی د "داغ" پر ځای "یار" او د "خ" په لومړی نسخه کی "تاج" راغلی دی.

چې خدای کاهغه به وشي — نه بل خدای لرم نه ځای
بې دلبره به ون نه کړم — بل هیڅا ته د زړه رای[1]
پای بوسي به یې پرې نه زړم — څومې رسي د ست و پای
یا خدا ده په جهان کې — یا ژړا ده په وای وای[2]
تر دا دوو چارو پهورته — نور څه نشته په دا سرای
عاشق بویه چې صادق وي — نه خودکام ونه خود رای
خالے دې نه کاڅوك په عشق کې — جو فروش گندم نمای

۲۶۴۳ — ۲۴۴

زه ساحر پهکار پوهېږم
که مې مل شي کار فرمای[3]

کشلې زه خاورې ایرې دستا د درواے — چې قدم دې همیشه زما په سر واے
خو یو ځله زما ستا وبله مخ شوی — نور مې موخه ستا د غشیو په تهتر واے[4]
تمام تن مې د رنجو په ځیر اوړه شوی[5] — خو په ما د تور و سترگو یو نظر واے
په زړه رنگ په سپینو اوښکو به ما بیا موندے؟ — که د ترکو ملاقات په سیم و زر واے
ملامت به په ما څه لره وایه شو — که د ستا د دلبرۍ نه څوك خبر واے[6]
مرتبه که ستا د عشق شي ورځ گنده — ملایك به واړه والي چې بشر واے[7]
تماشا به زما هله د ښکاره شوه — که ته ما غوندې بیدل وای زه دلبر واے

---

(۱) قلمي نسخې : " نور وهیڅا د زړه رای ".
(۲) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۳) د "پ" په نسخو او د "خ" دوېم او مصوره نسخې کې د " مل شي " پر ځای "مل وی" راغلی دی.
(٤) قلمي نسخې : " نور مې موخه ستا وغشیو ته تهتر واے ".
(۵) د "خ" قلمي نسخې : " تمام تن مې د رنجو په ځیر وور وور واے ".
(۶) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۷) په قلمي نسخو کې " که بشر وای " راغلی دی.

پہ خونباں بہ زما ستر گو غوندې نہ ؤ کہ پہ مخ مې دتیر و تود و پرهر وائے

ستا پہ درد کې طبیب والي و حمان ته ۲۶۵۲

لا بہ بنہ وی کہ دې حال تر دا بتر وائے ۲۴۵

یو یو داغ پہ تہ تر اپنبی دهرچادی کہ بادشاه د ولایت[1] دی کہ گدادی

سرابي پہ سر چشمہ د دنیا نشتہ تشنہ لب یې گوښی گوښی پہ غوغادی

لږ راحت پہ د بس زحمت باندې مونده شي ددې دهرخس حرام شه[2] کہ وریادی

د دنیا ښادي بیخمہ مونده نہ شي لږ خیرات د شوم لہ کوره پہ بلادی

فراغت پرې باندې ولې حرام نہ وي چې داخل پہ سراچہ ددې دنیادی

د مجنون د حال پوښتنہ بہ څوك څہ کا جهان واره کوراکور مجنون لیلادی

عشق یو هسې رنګ افسون پہ عالم پوکړ چې عاشق پہ تود و ستر گو نابینادی

دهرچا یې بخره ودکړه گوښې گوښې خپل قسمت دهر سړي جدا جدادی

ورکړه راکړه همګي د بل پہ لاس دي دلته دخل نہ زمادی نہ دستادی[3]

پہ هرڅه چې د صاحب د زړه رضا شي[4] پہ بنده کہ ناروا دی هم روادی

خوا ناخوا کہ یې رضاوي کہ یې نہ وي د قسمت رسد[5] رضا او نارضادی

خان جهان سپالی بویه و هغه تہ[6] چې یې حکم جاری شوی پہ هرچادی

---

(۱) د "خ" پہ دواړو نسخو کی د "ولایت" پر ځای "زمانې" راغلی دی.

(۲) پہ چاپی دیوانونو کی "حرام دی" راغلی دی.

(۳) دابیت د "خ" پہ دواړو نسخو کی نشته پہ "پ" چاپ کی دابیت داسی دی:

" ورکړه راپېرودہ ټول دبل پہ لاس دی هلته دخل نہ ستادی نہ زمادی".

" ق، ک" چاپ: " ورکول او اخستل دبل پہ لاس دی".

" پ، پ" چاپ او "ق" چاپ: " ورکول راپېرودل دبل پہ لاس دی".

د "پ" لومړی نسخه او د "خ" لومړی نسخه: " ورکړه راپېرودہ همه دبل پہ لاس دی".

(۴) د "خ" پہ دواړو نسخو او نیمګړې نسخه کې "پہ هرکار" راغلی دی.

(۵) د "خ" پہ دواړو نسخو کی "دقسمت شوی" راغلی دی.

(۶) د "خ" دواړو او نیمګړې نسخه: "خان ایمان سپالی بویه وهغه تہ".

دهر چا په لاس چې حکم حاکم ورکا — جهان واړه دهغه په مدعا دی

چې مولا ورسره مل نه وي — که لښکر یې ورسره وي یک تنها دی

۲۴۶ — ۲۶۶۶

هسې رنګ نعمت راکړی خدای وما دی — چې هیڅ خیز ځایې نشته بې بها دی (۱)

یو خوا چې یې په شکل د آدم کړم — دویم دا چې محمد صلعم مې رهنما دی

لاس وینې غوږ وستګې خوله اوژبه (۲) — یو صورت مې په خواسم مسما دی

آسمان ځمکه، لمر، سپوږمۍ اوروښانستوری — درست جهان مې ونظر ته تماشا دی

شپه او ورځ دماه وهر له پرتوه — مخ د ځمکې راته درست نقره طلا دی

په شپه مښک په ورځ کافور راباندې وړی — درست صورت مې پکې غرق سرتر پا دی

په هر دم زندګانی بخښې وما ته — هر نسیم دیار له لوری مسیحا دی (۳)

د چمن وس وګلونو ته چې کوم — هر هر ګل راته د دوا په په خندا دی

د ګلګونو میو نا وې راته ناسته — زنګاری قمیص اغوستی دمینا دی

خپلې وینې په ورغوی کې نیولې — هر ساغر دمی فروش جان فدا دی (۴)

دشنه (۵) رود په غاړه ناست سرود په لاس کې — هر مطرب لکه بلبل هسې ګویا دی

سپین مخونه سرې لښتې دي د دلبرو — هر دیدن یې د آفتاب په څېر رڼا دی (۶)

---

(۱) قلمي نسخې : "چې هیڅ هیڅ ځایې نشته بې بها دی".
"ق، ک" چاپ : "چې ځایې هرګز نشته بې بها دی".

(۲) د "خ" دوهمه نسخه "لوږه" راغلی دی.

(۳) دابیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(۴) د "پ" لومړی نسخه او د "خ" دوهمه نسخه : "هر ساغر دمی پرستو جان فدا دی".
د "خ" لومړی نسخه : "هر ساغر دمی پرخښکو ځان فدا دی".

(۵) په چاپي دیوانونو کې "سند رود" راغلی دی.

(۶) دابیت په "پ" چاپ، "ق" چاپ، او "ق، ک" چاپ کې نشته. په قلمي نسخو کې یې لومړی مصرع داسې ده :
"سپین مخونه سرې لښتې د دلبرو".

٢٤٧ — ٢٦٧٩

چې داهسې معرفت يې پرې پېرزوکړ[1]
په تاج باندې منت دپاك مولادې

داچې مست په ميو راغې ياران دچادې
بيا به تاخت کاپه کوم غولي ولاردچادې[2]

چې زړه سوی يې دحرم په صيدهم نه شي
دابې درداوبې صرفې گوزار دچادې[3]

ماخونه دې شوك بې وچې آزار کړي
داچې ما آزار وي آزار دچادې[4]

چې يې درست جهان دمخ په زنارېست کا
دا آفتاب غوندې روښان رخسار دچادې

چې بلبل بې رسېدې ترگلو نه شي[5]
دادنه په حرم گلزار دچادې

٢٤٨ — ٢٦٨٥

چې هېڅ ترس په زړه کې نه لري تاج[6]
دانا ترس او بې پروا نگار دچادې

غواصان که گوهر غواري گوهر دادې
بيدلان که دلبر غواري دلبر دادې[7]

زما ياران غوندې به بل يو دلبر نه وي
دجمله ؤ دلبرانو سرور دادې[8]

خوند دلبر او دچاه زنخدان يې[9]
راشه گوره زمزم دادې کوثر دادې

چې يې وصل او هجران وته نظر کړم[10]
زه گومان کړم جنت دادې سقر دادې

---

(١) د "خ" دوهمه نسخه : " چې نعمت دمعرفت يې پرې پېرزوکړ".
(٢) داغزل د "خ" په مصوره نسخه کې نشته او د "خ" په دوهمه نسخه کې د "غولي" پر ځای "لوري" راغلی دی.
(٣) قلمي نسخې : " چې زړه سوی يې دحرم په صيد نه شي دادغشي بې صرفې گوزار دچادې".
د "خ" دوهمه نسخه : " دابې درلغه بې صرفې گوزار دچادې".
(٤) دابيت د "پ" په لومړۍ نسخه کې نشته".
(٥) د "پ" په قلمي نسخه کې " ترگله" راغلی دی . د "خ" لومړۍ نسخه : " چې بلبل يې رسېدې نه شي ترگلو".
(٦) د "خ" لومړۍ نسخه : " چې هېڅ ترس يې په زړه نه کېږي رحمانه دانا ترسه نا فرمان نگار دچادې".
د "ق ك" چاپ او د "ق" چاپ : " دانا ترسه بې پروا گوزار دچادې".
(٧) داغزل په مصوره نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته .
(٨) د "خ" دوهمه نسخه : "زما ياران غوندې به بل پرجهان نه وي دجمله ودلبرانو سردار دادې".
(٩) د "خ" لومړۍ نسخه : " خوند دلبر ودچاه زنخدان دې".
د "خ" دوهمه نسخه : " خوند دلبر يې او چاه يې زنخدان دې".
(١٠) د "پ" نسخې : " چې وصل وهجران نه يې نظر کړم".
د "خ" لومړۍ نسخه : " چې دوصل وهجران وته يې گورم".
د "خ" دوهمه نسخه : " چې وهجران ووصال وته يې نظر کړم".

ته خطبه په منبر څه لولې خطیبه — قدم کېږده په ځان باندې منبر دادی
دکعبې سفر آسان دی مردهاله یې — که له ځانه سفر وکړې سفر دادی (۱)
هرمنع چې دلجوئي دقلندر کا — هغه نه دی قلندر، قلندر دادی
چې توانګر دقناعت په خزانه شي — بل توانګر په جهان نشته توانګر دادی

داهنر نه دی چې خاورې شوک سره ندکا
چې زرخاورې کا ماح لانه هنر دادی

۲۶۹۴ ۲۴۹

هغه زړه چې ستا دعشق په اوکباب دی — که مرهم وربانديې کېږدې دې ثواب دی
حجابونه له اغیارو منا سب دي — دیدارانو په یاری کې څه حجاب دی
بې له تا چې ښایست ریې بې حسابه — نور ښایست دجهان واره په حساب دی (۲)
ښاپیری که هرڅو دپرې ښایسته دي — په هغو کې هم ستا حسن انتخاب دی
لکه ګل (۳) چې تر آفتاب پورې خجل دی — دغه هسې ستا ترمخ پورې آفتاب دی
دادمیو څه مستي او سرخي نه ده (٤) — تیغ دستر ګو دې په وینو کې غرقاب دی

زه ماح ران به ځواب څه کوم ویاران ته
وژوندیو ته دمریو څه ځواب دی

۲۷۰۱ ۲۵۰

دساقي په لاس کې جام دمیو ناب دی — مطرب ایښی په زانو باندې رباب دی
ته چې ما وته توبه والې ناصحه (۵) — په دا وخت کې چا څه دتوبې تاب دی
زه چې ځان منعه کوم دعشق له کاره — په داهسې کار کې کوم سود او ثواب دی (۶)

---

(۱) چاپي دیوانونه : " دمکې سفرآسان دی مردهغه دی چې له ځانه سفر کاندی سفر دادی ".
(۲) چاپي دیوانونه : " په هغو کې هم ستا حسن انتخاب دی " یعنی دری بیت دهمه مصری او وروسته بیت لومړی مصری په چاپي دیوانونو کې نشته.
(۳) په قصه خوانی چاپ او " ق ، ک " چاپ کې د " ګل " پر ځای " شمع " راغلی ده.
(٤) قلمي نسخې : " دادمیو دمستی سرخي نه ده ".
(۵) د " خ " لومړی نسخه : " ته چې ماته توبه فرمایې ناصحه ". مصوره نسخه : " ته چې ما وته توبه ښیې ناصحه ".
(۶) دا بیت اوله دې نه وروسته بیتونه په مصوره نسخه کې نشته . په " ق ، ک " چاپ او " ق " چاپ کې د " کاره " پر ځای " لاری " او د " خ " په دواړو نسخو کې " اوره " راغلی دی.

دا آسمان چې لوی په عقل کې باله شي — په محیط د عاشقۍ کې یو حباب دی (۱)

محتسب په رقص گډ شو باك یې نشته — صوفي پر وت په میخانه کې مست خراب دی (۲)

هرچې ژغوري سر ومال په عاشقۍ کې — هغه کسرۍ کوره په مخ کې د سپلاب دی

په رقیب باندې غفلت راغی وبده شو — یار پلوله مخه واخیست بې حجاب دی (۳)

ته چې خوب غواړې (۴) په عشق کې راته وایه — کوم چاکرۍ د مزدې په خوله کې خواب دی

بې عمل که کتاب کېږدي په سرخه شو — گویا ایښی یې تر پښو لاندې کتاب دی

چې دشر له عملونو نه خیر غواړې — تشنه لب غوندې سر شوی په سراب دی (۵)

د دښمن له مکارۍ نه و وېرېږه — په نرمۍ یې غلط مه شه سنگ دراب دی

عبادت په شتاب هسې کړه ترانه (۶) — ۲۵۱

لکه غم چې دې تلونی په شتاب دی — ۲۷۱۳

چې تر سنگ وتر آهنه یې زړه سخت دی — زړه هغه لره ورکړی مالک بخت دی

خدایه کله به هغه غل راته اسیل کړی (۷) — چې لوټلی یې زما د خاطر رخت دی

هومره غم به نور په هیچا باندې نه وي — لکه غم چې د خپل یار په مایك لخت دی

---

(۱) د "خ" دوهمه نسخه : " په محیط د عاشقۍ یو حجاب دی ".
(۲) دا بیت د "خ" له لومړۍ او دوهمې نسخې څخه نقل شو .
(۳) دا بیت د "خ" له لومړۍ او دوهمې نسخې څخه نقل شو .
(۴) "ق ، ک" چاپ : "کوی" او "ق" چاپ کې " وایې " راغلی دی .
دا مصرع د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده : " ته چې خوب په عاشقۍ کې له ما غواړې ".
(۵) د "خ" لومړۍ نسخه : " که سر و لعلونه خبر خبر غواړی ".
د "خ" دوهمه نسخه : " چې دشر عې له عملونو خبر غواړی تشنه لب غوندې سر شوی په سپراب دی ".
(۶) د "خ" دوهمه نسخه : " عبادت په شتابد کوه رحمانه ".
(۷) په قلمي نسخو کې " یاغیان " راغلی دی .

مګر بېل په تېره تېغ شي یاران له یاره — ګنه ښاخ له خپله شاخ سره درخت دی[1]
د پالنګ او دپېړۍ[2] حاجت یې نشته — د یارانو نشستن دزړه په تخت دی

۲۵۲ — ۲۷۱۹

چې له ډېره درده وخت پېژاندی نه شي
په ځان[3] باندې بې یاره هسې وخت دی

ستاله لاسه په ماجوړ دی که داد دی — زما مراد خو واړه ستا د خاطر مراد دی[4]
ستا په مینه کې زماله مخه تښتي — که آفت دی که آسیب دی که فساد دی
هر هدا د چې راکاوه شي ستا په مینه — په لېمه زما قبول هغه اهداد دی
که تمام جهان مې پر پوځي په لېمه کې — بې تا نه راخرګندېږي نه مې یاد دی
ماچې غوږ د استاد عشق په ترانه کړ — نصیحت مې نور دزړه په غوږ ویاد دی
اوس زماله ننګ و نامه سره خه دي — چې دې نام د عاشقۍ را باندې زیاد دی
هر ګلشن چې له ګلرخه بې نهره وي — د عاشق په نظر غولی د صیاد دی

۲۵۳ — ۲۷۲۷

د ځان[3] وتوان ته ګوره هومره ناز کړه
چې د او سپنو روغ نه دی آدم زاد دی

که یې هر و محبت که یې عناد دی — ما د یار په یاری کړی اعتماد دی[5]
زه او یار که په تن دوه په معنی یو یو — هزار خونې واړه ښهر یو بغداد دی
هېڅ بېلتون زما د یار و بله نشته — کار همه واړه موقوف په خپل میعاد دی
زه خپل آه آتشین له خدایه غواړم — د آشنا خاطر که موم دی که فولاد دی
هېڅ موقوف د معشوقې په حسن نه دی — د عاشق خاطر په خپله مینه ښاد دی

---

(۱) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کی نشته . په نورو قلمی نسخو کې یې دوهمه مصرع داسې ده : " ګنه ښاخ له خپله درخته سره درخت دی".
(۲) د "خ" په لومړی نسخه کی " شرېد " راغلی دی.
(۳) قلمي نسخې : " په ځان دیار له غمه هسې وخت دی ".
(٤) په چاپي دیوانونو کی " زړه " راغلی دی.
(۵) په قلمی نسخو کې " اعتقاد " راغلی دی.

چې د آه و د فریاد طاقت یې نه وي — هر سکوت دې طاقت آه فریاد دی
سل په دا رنګه نومونه د عشق نوري — لکه نوم چې د مجنون او د فرهاد دی
چې یې زړه شي هلته کېني هلته پاڅي — عشق د عقل و دهن کړه داماد دی
بادشاهان په عاشقۍ کې ملنګان شي — ما او تا غوندې وګړی د چا یاد دی
چې پریشان دیار د زلفو په خبر نه وي — جمعیت د هغو زړونو لوی فساد دی
که رښتیا له خرابۍ سره ګنج وي — خرابات دې بنیاد و بیخ بنیاد دی
که کمال د کمینې په اندازه دی — فوقیت د شاګردانو په استاد دی
که په یار پسې ترخان ترجمان تېر شي[1] — په رحمان زمونږ هسې اعتقاد دی

۲۵۴ — ۲۷۴۱

چې د انور شاعران کاندي هغه نه کا
ترجمان کړی نوی نوی اجتهاد دی[2]

په خاطر باندې مې ستا د غم غبار دی — همېشه مې په زړه پروت انبار انبار دی
که رهبر وي ګمراهانو لره خضر — عاشقانو لره خضر ستا ریبار دی
ګوندې چېرې خوک د خدای په در قبول وي — ستا له لاسه مې فریاد په هر دیار دی
د شهیدو پرهار و نوته نظر کړه — هسې رنګه مې له دوستر ګو خونبار دی
چې د غم په بار یې زړه دی زما کښلی — هم هغه مې په زړه کښلی په بار بار دی[3]
چې هر دم مې د غمزو په تورو وژني — لا مې زړه د هغه ستر ګو منت بار دی[4]
دا آسمان دې د هغو په مدعا وي — چې په ما باندې یې کړی ستا اخبار دی

۲۵۵ — ۲۷۴۹

که یار سل ځله جفا ورسره کاندي
د ترجمان دا هسې کله اعتبار دی

---

(۱) دا بیت په "پ پ" چاپ او "ق، ک" چاپ کی نشته.
(۲) دا بیت د "پ" په لومړی نسخه کی نشته.
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کی نشته. د "پ" په لومړی نسخه کی د دوهمه مصرع دا هی ده: "لا مې زړه د هغو ستر ګو منت بار دی".
(۴) دا بیت د "پ" په لومړی نسخه کی نشته.

کمینې یو نادر کاردی — چې کمال ځنې اظهار دی
چې اختیار یې کمینې کړه — په دانه کې پټ خروار دی
چرګ په دوه پیسې حلال شي — باز په سل روپۍ مردار دی
چې آسمان شو سرګردان شو — چې زمین شو برقرار دی
نسبتر ګوره سرکښې کا — انګور ګوره نګونسار دی
ذره خواره شوه آفتاب شوه — ابر خورب دی غبار دی[1]
کوه بلند شو سیه سنګ شو — لعل وړ شو بزګوار دی[2]
لوی آسمان توره تبې شو — هلک لمر څره انوار دی[3]

۲۵۶ وړ سړی ګوره ۲۷۵۸
چې لوی فیل یې بار بردار دی

زلفې دې له ډیرې دراز یه پای تر سړی — یا د بنفشې لښتې خورې په صنوبر دی
لب دې آب حیات دی یا شکرې یا نبات دی — یا خوږه غلط شوم[4] تر همه وار وبهتر دی
قد ته دې څوک نه شي رسیدی له بلندی — ولې چې معراج وته خاته د پیغمبر دی
ما چې ستا بنایست ولم سپوږمۍ سره په تول کړه — تللې په میزان کې تر آسمانه سپوږمۍ لمر دی
خاخکې له آسمانه په هرچا وورې یکسانه — پرخه په واښه شي په صدفوکې ګوهر دی[5]
بخت دی چې یې څوک متمکن کړه په تخت باندې — څوک دغم په خار سره پاره پاره جګر دی[6]

---

(۱) قلمي نسخې : " ذره ضعف شوه افتاب شوه ابر خورب شو تش غبار دی".
(۲) په "ق، ک" چاپ کې "ابدار دی" راغلی دی.
(۳) "ق، ک" چاپ : " نمر هلک نور الانوار دی"
نور چاپي دیوانونه : " هلک لمر ضره انوار دی".
د "پ" لومړی نسخه : "هلک لمر شو خره انوار دی".
(٤) په قلمي نسخو کې "بیم" راغلی دی د بیت لومړی مصرع په "ق" چاپ کې دې ډول : "لبې ستا آب حیات دی یا شکر دی یا نبات دی".
(۵) دا بیت د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې نشته.
(۶) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

بادچې دې په زلفو باندې قصد د پریشانۍ کړ — ځکه یې ګردونه د جهان واړه په سر دي

هله به سړی شي چې دې نوم عبدالرحمان شي — اوس سړی په څه یې که دې لوستی زړه وزړه دی[1]

سپینې اوښکې، زړه خسار دې لې دولته[2] — ۲۵۷ — ۲۷۶۷

ای ناصح انته دا د عاشقانو سیم وزر دی

دنیا دار که مستغنی په سیم وزر دی[3] — هنرمند و څه ګنج د خپل هنر دی

بیهوده به[4] زور ور وحان ته وایي — د دنیا سړی که هر څو زور ور دی

هسې مه وایه چې زه یم په جهان کې — پیدا کړی خدای دس دپاسه سړی دی

حینې حینې یې ولیان پیغمبران کړل — نه چې هر سړی ولي او پیغمبر دی[5]

جودانه قدر یو لعل یکې پیدا شي[6] — نور جهان واړه د تور وکا نوغړ دی[7]

یو بادشاه دی چې لښکرې پسې د لوی — نه په هر یوه سړی پسې لښکر دی[8]

پیدا کړي خدای سړی په تفاوت دي — هسې نه چې جهان واړه برابر دی[9]

که د عمر و رفتن ته څوک نظر کا — دا به وایي چې آفتاب د نماز دیګر دی[10]

چې یې[11] سر په حمکه ایښی وي ویار ته[12] — په آسمان باندې ختلی لکه نمر دی

---

(۱) دا بیت په قلمي نسخو کې نشته.

(۲) دا بیت په "پ پ" چاپ کې نشته.

(۳) د "پ" لومړۍ نسخه: "دنیا دار که دنیا دار په سیم وزر دی".

(٤) د "پ" لومړۍ نسخه کې د "به" پر ځای "و" راغلی دی.

(۵) د "پ" لومړۍ نسخه: "حینې حینې یې ولیان پیغمبران کا — هر سړی نه اولیا نه پیغمبر دی".
د "خ" لومړۍ نسخه: "نه چې هر یو اولیا او پیغمبر دی".
د "خ" دوهمه نسخه: "حینې حینې اولیا د حینې نبیان وو — نه چې هر یو اولیا و پیغمبر دی".
مصوره نسخه: "حینې حینې اولیا و پیغمبران کړه — نه چې هر یو اولیا و پیغمبر دی".

(۶) د "پ" لومړۍ نسخه: "جودانه قدر چې لعل یکښې پیدا کا".
نورې قلمي نسخې: "جودانه قدر یو لعل یکښې پیدا کړه".

(۷) د "خ" دوهمه نسخه: "نور جهان واړه تور کا نی او نوغړ دی".

(۸) د "پ" لومړۍ نسخه: "نه په هر چا پسې کړی خدای لښکر دی".

(۹) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. لومړی مصرع یې په "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې د "سړی" پر ځای "هر څوک" راغلی دی.

(۱۰) د "خ" دوهمه نسخه: "دی به وایي چې رفتن د نماز دیګر دی".

(۱۱) "ق، ک" چاپ: "چا چې".

(۱۲) "پ پ" چاپ: "خپل یار ته".

تعجب زما د پیروا وسنکو مه کړه[1] — ما موندلی په دا بحر کې گوهر دی

دریا خرقه یې خدای مه کړه په غاړه[2]

۲۷۷۸

۲۵۸

ما ران کوه دستار ترلی قلندر دی

دواړه سترگې مې کړې دستا په لور دي — مدام د وینې د فراق په آب شوې دي

زه یو سپی یم چار چشمه دستاله سپیو — چې مې ستا ودرته دوه سترگې خلور دي[3]

کنډولي مې د دو وسترگو ستا په طمع — وهر دې[4] وته نیولي کوډیه کوډ دي

چې مې خال دترکو ولید په خپل زړه کې[5] — دواړه کسي مې وزړه وته نسکور دي

اعتبار د زمانې په اشنا مه کړه — همگې واړه دخپلو رختو چور دي[6]

ما قبول د رقیب نازکر ستا د پاره — سود و زیان په دا جهان کې خو اوورد دي

۲۵۹

۲۷۸۵

په ما ران باندې گمان داهسې مه کړه[7]

چې بې تا په نور څه غولېږي هغه نور دي

ستاله غمه مې په سر کې هسې شور دی — گویا میشت[8] مې په سر شهر دلاهور دی

په افسون و په جادو د تو دو سترگو — خراب دل مې له جمله عالمه تور دی

---

(۱) د "پ" لومړی نسخه : " ته زما په دې وا وسنکو عیب مه کړه ".
د "خ" لومړی نسخه : " ته زما د دې وا وسنو ته عیب مه کړه ".
د "خ" دوهمه نسخه : " ته زما د دې وا وسنکو غیبت مه کړه ".

(۲) د "خ" دوهمه نسخه : " دریا خرقه دې خدای مه کړه په غاړه ".

(۳) دا بیت په "پ" چاپ کې نشته. د "خ" لومړی نسخه کې لومړی مصرع داسې ده : " زه یو سپی چار چشمه یم دستا د سپیو ".
دوهمه مصرع یې مصوره نسخه کې داسې ده : " چې ستا ولور ته مې دوه سترگې خلور دي ".

(٤) چاپي دیوانونه : " وهر لور ته ".

(۵) مصوره نسخه او د "خ" لومړی نسخه : " چې مې خیال دترکو ولید په خپل ځان کې ".
د "خ" دوهمه نسخه : " ما چې خیال دترکو ولید په خپل ځان کې ".

(۶) دا بیت د "خ" دوهمې قلمي نسخې نه نقل شو.

(۷) چاپي دیوانونه او نوری قلمي نسخې : " په رحمان باندې داهسې گومان مه کړه ".
د دوهمه مصرع د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې ده : " چې بې تا به په نور څه غولېږي نور دي ".

(۸) "ق" چاپ او "ق،ک" چاپ کې "جور" راغلی دی.

کې مې زړه له غمه چوي راته وايي — غم د هجر دغه مدګنه لا نور دی
د هجران په بيماري کې راته معلوم شو — چې اخستی مې آزار د پلار و مور دی
دا دنيا په مثال کوږ شو د غمونو — چې په هسې کور ناز يې هغه کور دی
دا جهان نه د چا خپل دی نه به خپل شي — چا په خپله رضا پرېښو چا په زور دی
چې د مرګ په پور وړيو کې يو ومري — دی د وارو پو ورين زړه او ورور دی[1]

۲۶۰ — ۲۷۹۳

که ما ګران[2] په عاشقۍ بې عزت کېږم
ما په سترګو قبول کړی دا پېغور دی

که دلدار په دلدارۍ زما قدم بند دي — ګويا هر قدم په لارې[3] د حرم بند دي
ځای لري که بې منته بوسه راکا — کوم کريم په چا منت د خپل کرم بند دي[4]
معشوقه مشفقه بويه مهربانه[5] — نه قارون چې په ځان اسم د حاتم بند دي
خدای وما وته ګلونه د جنت کړل — که دا غونډ مې په زړه باندې د غم بند دي
هسې پېتالم[6] دا زېړ رخسار له خلقو — لکه زړه چې څوک له خلقو پټ پنهم بند دي
هېڅ مانه دې څوک له مستو[7] سترګو نه کا — کوم يو مست دی چې قدم په لارې سم بند دي
راحت بې زحمته نه دی چا موندلی[8] — کوم طبيب دی چې په دوغ صورت مرهم بند دي

---

(۱) دا بيت د "خ" په دواړه نسخو کې نشته.
(۲) د "خ" لومړی نسخه : " که رحمان په عاشقۍ کې غيرت نه کړی ".
(۳) مصوره نسخه : " په لوړی ".
(٤) دا بيت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.
(۵) "پ" چاپ : " معشوقه شفيقه بويه مهربانه ".
د "خ" دواړه نسخه : " معشوقې مشفقې بويه مهربانې "
(۶) "ق" چاپ او د "خ" دواړه نسخه : " پټ ګرزم ".
"ق، ک" چاپ او مصوره نسخه : " پټ سالم "
(۷) د "خ" لومړی نسخه : " بر مند وستق ګو ".
(۸) چاپي ديوان : " راحت نه دی بې زحمته چا موندلے ".

زه هرگوره ترخپل صمد پورې شرمېږم[1] — برهمن چې سر په پښو دخپل صنم بندي

واسمان ته لاس دعقل نه رسېږي[2] — داخو عشق دی چې په عرش کرسي قدم بندي

۲۶۱

زه تاج ګانې تاج ګنم دیاں له لاسه

۲۸۰۳

کدمې پنډه په سر دجود دستم بندي

دنیا کاروبار واړه غولول دي[3] — داګمان په هیڅ مه کړه چې مې خپل دي

هیڅ مزه په داجهان کې پاتې نه شوه — دایخ خوری په اوبو پوری کول دي[4]

کدې دوه کاسې دانې وي په کندو کې[5] — پس له شامه هسې وایه[6] چې دبل دي

پوزه غوږ دغوښو شته په هرچا پورې — کدشرم[7] پوزه غوږ غواړي باطل دي

کدته دوه[8] اوړې عیبونه دبل شمار کړې — بل به تا ته هسې وایي چې ستا شل[9] دي

نصیحت دناصحانو اثر نه کا — دسړې اوسپنې خوشې تاکول دي[10]

۲۶۲

دانا اهل همدمان دي نه پوهېږم

۲۸۱۰

کدمې دتاج ګانې پنډې په ګوګل دي

---

(۱) "پ" چاپ او د "خ" لومړی نسخه : " زه هرگوره ترخپل صنم پوهېږم شرمېږم ".
"ق" چاپ : " زه هرگوره خپل صنم پورې شرمېږم".
"ق، ک" چاپ : " زه هم گوره خپل صنم پورې شرمېږم".
"پ پ" چاپ : " زه هرگوره ترصنم پورې شرمېږم".
مصوره نسخه : " زه هرگوره ترخپل یار پورې شرمېږم ". نومړی بیت د "خ" په دوهمه قلمی نسخه کی نشته.

(۲) "پ، پ" چاپ : " واسمان ته لاس دعقل نه رسېږي".
"ق، ک" چاپ : " دې اسمان ته لاس دهیچا نه رسېږي".

(۳) "پ پ" چاپ : " ددنیا چارې همه واړه غولول دی". د "پ" لومړی نسخه : " ددنیا روزګار همه وبله غولول دی".
د "خ" لومړی نسخه : "ددنیا روزګار همه واړه غولول دی". د "خ" دوهمه نسخه : " ددنیا کاروبار واړه غولول دی".

(٤) د "خ" دوهمه او مصوره نسخه : "هیڅ مزه په داجهان کی طمع مه کړه دایخ خوری په اوبو پورې کول دی". د "خ" لومړی نسخه :
"هیڅ مزه په داجهان کی طمع مه کړه یخ خوری داوبو پورې کول دی". چاپی دیوانونه : " دیخ سوری په اوبو پورې کول دی".

(۵) د "خ" لومړی نسخه : "په کندو دل کې".

(۶) چاپی دیوانونه او د "خ" لومړی نسخه : "وایي".

(۷) مصوره نسخه : "سر".

(۸) چاپی دیوانونه : "یوا ودوه". د "خ" لومړی نسخه : " دوه دیری". د "خ" دوهمه نسخه : " دوې نورې"، مصوره نسخه : " دوه ".

(۹) چاپی دیوانونه او توری نسخې : " سل ".

(۱۰) قلمی نسخې : " بیهوده دسړې اوسپنې کوتل دی".

سپین رخسار ومشکین خال دی وبله ضم دے (1) — یا محمود او ایاز ناست سره همدم دي

که دي مخ په زلفو پټ شو باك يې نشته — د حیات او به هم پټې په توره تم دي

ستا د زلفو له رخساره له سر و شونډو — پیدا شوي شام شفق د صبحدم دي

په دهن کې دې غاښونه تجلي کا — یا غوټې په غونچه کې د شبنم دي (2)

نه چې اوس زمانه غوخ ستا په غمزه دی — چاره غوښې لا قدیم سره په غم دي

بې ژړا وچاته نه ګوري سیه چشم — د نرګس غوږېده د جوی په نم دي

راحت نه دی چا موندلی بې زحمته — ستا جفا و وفا دواړه منقسم (3) دي

ستا د حسن د تعریف له برکته

٢٦٣ — د ساح د شعر کوکې پر عالم دي — ٢٨١٨

چې د څنګه مې دلبر په لاس کې جام دی — نن او رنګ د زمانې زما غلام دی

مدام کله وي د نیا د دنیا دارو — بې له عشقه چې دولت یې مستدام دی

دهارون خرخ پای نیلی دی د سپهر — خو به دوکا چې یې دو په سر د بام دی (4)

د دنیا چارې په مثل دي د سیوري — د آفتاب په مخ د سیوري څه مقام دی

که یې صبح ښایسته دی خنده رویه — بیا یې هسې په هر صبح پسې شام دی

نه په مهر کې آرام شته نه په ماه کې — په دنیا راغلی هر یو بې آرام دی

بیغمي په دنیا چې ده ساح نه

٢٦٤ — یو بیغم دې خوك را وښیي کدام دی — ٢٨٢٥

ما دستا ولمن ته اچولی دا چل خان دی — ستا دی زمانه دی که دانا دی که نادان دی

---

(1) د "خ" لومړی او دوهمه نسخه : "که دي مخ په زلفو پټ دی باك يې نشته".
(2) د "ق" چاپ او "ق ، ک" چاپ : "یا غوټې چې په غونچه کې د شبنم دی".
(3) قلمي نسخې : "مغتنم".
(4) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

خپله سرکشي لويي مې واړه خړاموش دي
هسې مې ځان ستا ولوی قامت ته حيران دی

بې له تاکه سيل[1] په گلستان کړم دگلونو
نه پوهيږم هيڅ چې گلستان دے که زندان دی

چا پېژاندم زه چې عاشق نه وم په جهان کې
اوس مې ستا له رويه نوم رسوا په درست جهان دی

دې هم ولې تېر شول د مجنون بې نام ونقشه[2]
عشق دی چې عاشق له هم نام دی هم نشان دی

لوی ترکوم چينجی دے پس وانه چې افسانه شو
واړه په سبب د عاشقی دی نمايان دی

واړه د خپل ځان په نظر گوره که دانايي
اې عبدالرحمانه جهان درست عبدالرحمان دی

۲۶۵ ۲۸۳۲

په نامه د هغه خدای مې دا بيان دی
چې يو نوم يې په نومونو کې سبحان دے

هم[3] بادشاه دی د جمله بادشاهانو
هم دهر يوه سلطان په سر سلطان دے

هغه کار چې وهرچا وته مشکل دی[4]
هغه کار واړه وده وته آسان دی

څوك آفتاب شي په آسمان راخپږ ولی[5]
ده آفتاب راخپږ ولی په آسمان دی

څوك دنمر په مخ حجاب شي غوږ ولی
ده پټ کړی نمر په ابر کې پنهان دی[6]

څوك په شپه کې شي مهتاب[7] پيدا کولی
ده په شپه کې پيدا کړی ماه تابان دی

څوك يو څاڅکی پرېستی شي له آسمانه
نزول[8] کړی ده په مونږ باندې باران دی

څوك شي روح نو پستی په يوه ما شي
ژوندی[9] کړی ده په روح تمام جهان دی

---

(۱) "پ" او "ق" چاپ کې "سير". او په قلمي نسخو کې "گذر" راغلی دی.
(۲) د "پ" په لومړی نسخه کې "نام ونشانه" راغلی دی.
(۳) د "پ" په لومړی نسخه کې د "هم" پر ځای "دی" راغلی دی په "پ پ" چاپ کې يې دوهم مصرع داسې ده: "هم دهر يوه په سر باندې سلطان دی".
(٤) د "ق، ک" چاپ: "هغه کار واړه په ده باندې اسان دی".
(۵) "ق" چاپ: "څوك افتاب شي واسمان ته خپږ ولے".
(۶) له مصوری نسخې نه پرته په لوړو نسخو کې "پنهان" راغلی دی.
(۷) د "خ" لومړی نسخه: "افتاب". او دا بيت په "ق، ک" چاپ کې داسې دی:
"څوك په شپه کے شي مهتاب راخپږ ولے ده په شپه کے خپږ ولی ماه تابان دی"
(۸) "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې "نازل" راغلی دی.
(۹) قلمي نسخه: "زنده".

خوك وسنگ شي رنگ دگلو ورکولی — ده وسنگ ورکړی رنگ دارغوان دی[1]
خوك له خاورو شي يو گل پيدا کولی — ده له خاورو پيدا[2] کړی گلستان دی
خوك له اوره شي اوبه پيدا کولی — ده له اوره پيدا کړی زمستان دی[3]
خوك له سنگه شي گوهر پيدا کولی — پيدا کړی ده له سنگ درومرجان دی[4]
خوك شي رزق وهر[5] مخلوق ته رسولی — دی دهر يوه مخلوق روزي رسان دی
خوك بنده له ايمان شي ورکولی — ده ورکړی هر مومن له ايمان دی[6]
خوك له حمکي وآسمان ته شي ختلی[7] — ده عيسی له ورکړی دامکان دی
خوك له خدای سره خبرې شي کولی — ده موسی مشرف کړی په داشان دی[8]
خوك ايښودی په توسن دهوا زين شي[9] — ايښی ده په هوا تخت د سليمان دی
خوك په سپينه زيره پاڼي ترقيامته[10] — ده په خضر باندې کړی دا احسان دی
چې په ده شي هغه کار په هيڅ نه شي — هر توانا د ده ترتوان پورې ناتوان دی
په اوبو کې يې دکاني کوت بنا کړه — ده ورکړی پکې اورله امان[11] دی

---

(۱) "ق، ک" چاپ : "خوك شي سنگ ته ورکولی رنگ دگلو سنگ ته ده ورکړی رنگ دارغوان دی".
"ق" چاپ : "خوك شي سنگ ته ورکولی رنگ دگلو ده وسنگ ورکړی رنگ دارغوان دی".
د "خ" لومړی نسخه : "خوك شي سنگ له دگلو رنگ ورکولی ده وسنگ ورکړی رنگ درغوان دی".
د "خ" دوهمه نسخه "ده ورکړی سنگ ته رنگ دارغوان دی".

(۲) د "خ" له دوهمی نسخی نه پرته په لوړو نسخو کی "زرغون کړی" راغلی دی.

(۳) دابيت په "پ" چاپ، "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کی نشته

(٤) دابيت د "خ" په لومړی نسخه کی نشته.

(۵) د "خ" دوهمه نسخه : "وکل مخلوق ته". په "ق" او "ق، ک" چاپ کی دا مصرع داسی ده : "خوك شي رزق رسولی هر مهرې ته".

(۶) دابيت د "پ" په لومړی نسخه کی نشته. د "خ" لومړی او مصوره نسخه کی د "مومن" پرځای "بنده" راغلی دی.

(۷) قلمی نسخی : "خوك له حمکي وآسمان وته ختی شي".
"ق" او "ق، ک" چاپ : "خوك له حمکي وآسمان ته دی ختلي".

(۸) دابيت د "خ" په دوهمه نسخه کی نشته.

(۹) په چاپي ديوانونو کی د "هوا" پرځای "اسمان" راغلی دی.

(۱۰) "ق" چاپ : "خوك تر ديره به وپاڼي ترقيامته".

(۱۱) چاپي ديوانونه : "مکان دی"
لومړی بيت د "خ" په دوهمه نسخه کی نشته.
په "پ" چاپ او د پښور په چاپي ديوانونو کی د "کوت" پرځای "گوت" راغلی دی.

په سجده[1] یې ځمکې سردی لګولی — هم یې زورند په رکوع سره آسمان دی
هره ونه په قیام ودته ولاړه — هر ګیاه یې په تسبیح سره زبان[2] دی
همه واړه په تسبیح دده مشغول دي — که ملک دی که پیری دی که انسان[3] دی
هر ماهي یې په دریاب کې حمد[4] وایي — هر مرغه یې په چمن کې ثنا خوان دی
حق په حق یې ثنا هیچا کړې نه ده[5] — نه له هیچا واقع شوی دا بیان دی
مخلوقاتو هسې نه دی پیژندلی — لکه ده سره[6] چې قدر دخپل ځان دی
حد پایان یې هیڅ سړی موندلی نه دی — معرفت یې هسې بحر بې پایان دی
نه هیڅوک دده په خبر دده په شان دي — او نه دی دچا په خبر دچا په شان دی[7]
نه یې زیان نه یې زوال نه یې نقصان شته — دی[8] بې زیانه بې زواله بې نقصان دی
نه یې مثل نه مثال نه یې مکان شته — دی بې مثله بې مثاله بې مکان دی[9]
پاک یې وګمه بې شکه بې ګمانه — له هغوچې دچا شک دچا ګومان دی[10]
نه یې څوک په سترګو وینې نه لیدی شي[11] — او بې چونه بې چوګونه نمایان دی
که څوک وایي لیده نه شي لیده نه شي[12] — او که وایي وهرچا ونه عیان دی

---

(۱) په چاپي دیوانونو کې "سجود" راغلی دی.
"پ پ" چاپ کې دوهمه مصرع داسې ده: "زورند سرهم په رکوع سره آسمان دی".
(۲) د "خ" دوهمه نسخه: "ګویان دی"
(۳) قلمي نسخې: "که سړی دی که پیری دی که حیوان دی".
(٤) د "خ" دوهمه نسخه کې د "حمد" پرځای "ثنا" راغلی دی.
(۵) "پ" چاپ، "پ پ" چاپ او "ق، ک" چاپ: "حق په حق یې هیچا نه ده ثنا کړې".
"ق، ک" چاپ کې دوهمه مصرع داسې ده: "نه هیچا نه واقع شوی دا بیان دی".
(۶) قلمي نسخو او "پ" چاپ، "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې د "سره" پرځای "شخه" راغلی دی.
(۷) دا بیت په "پ" چاپ، "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې نشته.
(۸) د "خ" دوهمه نسخه کې د "دی" پرځای "او" راغلی دی.
(۹) دا بیت په "ق" چاپ کې داسې دی: "نه یې مثل نه مثال نه یې پایان شته دی بې مثله بې مثاله بې پایان دی".
په "ق، ک" چاپ کې یې دوهمه مصرع له "ق" چاپ سره یوشان ده په لوړو چاپي دیوانونو او قلمي نسخو کې یې لومړی مصرع داسې ده: "نه یې مثل نه مثال نه یې مکان شته".
(۱۰) مصوره نسخه: "له هغوچې دچا فکر په بل شان دی".
(۱۱) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "که یې څوک په سترګو وینې لیدی نه شي".
(۱۲) د "خ" دوهمه نسخه: "که څوک وایي چې لیده نه شي لیده نه شي".

منزه دی له جمله وجهتونو — او بیا هر جهت په ده باندې ودان دے (۱)
بې پردې به حسن چا نه وي لیدلی — که څوك والي چې لیده شي تش گومان دے (۲)

له زرگونو صفتونو راشه گوره — ۲۶۶
چې یې کړی نیم صفت عبدالرحمان دی (۳) — ۲۸۶۸

زړه مې ستا په ذکر فکر گلستان دی — تن مې ستا له غمه پاڼه د خزان دی
ستا د غم له هجره هسې نهره مندیم — چې په ستر گو کې مې جوړ د روان دے (٤)
ستا کتو (۵) مې عجب زخم په زړه وکړو — چې هم وینې تري نهیبې هم خندان دی
هسې رنگ مې د خپل زړه له وینو واخست — چې ځان درست راته په شکل د جانان دی
که دستا د زلفو مار کاندي خونونه — ما موندلی ځنې عمر جاودان دی
ځنگدن که هر څو تریخ وتلخ وایه شي — ستا د لبو په مدد آب حیوان دی
آشنایي ترجدا الحه کمزور دے نه ده — معطر په بوی د مصر د رست کنعان دے
لکه لمر په ځلوم آسمان لیده شي — محبت په سل حجابه کې عیان دی
نور د شمع په فانوس کله پټیږي — عشق د عقل په پرده کې نمایان دے
که دستا په مخ کې بوی د حجاب نشته — زه له دې ځلې (۶) وایم چې نهان دی

---

(۱) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۲) دا بیت د "خ" له دوهمې نسخې نه نقل شو.
(۳) د "ب" لومړی نسخه : "له هزار وصفتونو باور مه کړه — چې یې کړی دا صفت عبدالرحمان دی".
"ق" چاپ او "ق، ک" چاپ : "له زرگونو صفتونو راشه گوره — یو صفت یې کړی ما عبدالرحمان دی".
د "خ" لومړی نسخه : "له هزار صفتو یې اوانه کړه — چې یې کړی دا صفت عبدالرحمان دی".
د "خ" دوهمه نسخه او مصوره نسخه : "له هزار وصفتونو باور وکړئ — چې یې کړی نیم صفت عبدالرحمان دی".
(٤) دا بیت او وروسته بیتونه د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته په چاپي دیوانونو کې دا بیت داسې دی : "ستا د هجر په غم هسې لجړه مندیم — چې په ستر گو کې مې جوړ د روان دی"
د "خ" په لومړی نسخه کې دوهمه مصرع داسې ده : "چې له ستر گو مې د میو جوی روان دی".
(۵) په "ق، ک" چاپ کې "ستا لبدو" راغلی دی.
(۶) په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "مینې" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "حیا" راغلی دی.

طاوس رنګې زلفې چادې سمې کړې[1] — چې هر موی یې په خوږ نګه په خوشادی
بې پردې به حسن نه وي چا لېدلی — که څوك وایي چې لیده شي تش ګمان دی[2]
ښادي غم غوندې اسانه موندې نه شي — سود په خپلو وینو لعل د بدخشان دی
که وصال په هر زمان وای هسې درېغه — لکه غم چې د هجران په هر زمان دی
بې دستاله ملاقات چې مشکل شو — نور مشکل واړه په ما باندې اسان دی
هم په دا راته اسان شوه نور غمونه — چې ستا غم د حد په هور ته راته ګران دی
قافله د صبر هېڅ وپسا پرې[3] نه کا — ستا له غمه مې منزل دنډه ویران دی
یو نفس به دې له دره بېرته نه شم — څومې یو نفس[4] باقي په دا جهان دی
لکه سر وسامان ستا د زلفو نشته — هسې زړه زما بې سر و بې سامان دی
لکه تا چې تور ګیسو په مخ پرېشان کړه — هم مې هسې خراب زړه پسې پرېشان دی

خواره خاطر به د ګاڅ سلامت څوی
چې ګذر یې ستا په چاه زنخدان دی

۲۶۷ — ۲۸۸۹

ستا د عشق حرفونه تور نه دي ګلګون دي — هم په دا چې نوشته په جګر خون[5] دي
تش به نه شي هغه غم د عشق له میو — چې یې خاوري د فرهاد و د مجنون دي[6]
د دنیا چارې همه واړه فاني دي — دا د ستا جور و فا ولې افزون دي
مقتولان ستا د غمزو دي لاله نه دي — چې په سره کفن له حمکې راپېرون دي

---

(۱) چاپي دیوانونه : " طاوس رنګه زلفې دې چا هسې ګره کړې".
د "خ" دوهمه نسخه : " طاوس رنګه زلفې نه دي چا لېدلی که څوك وایي چې لیده شي تش ګمان دی".
(۲) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه اونیمګړې نسخه کې نشته.
(۳) د "پ" لومړی نسخه او د "خ" په لومړی نسخه کې : " ما باندې نه کا" راغلی دی.
(٤) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "دم نفس" راغلی دی.
(۵) دا غزل په قلمي نسخو کې نشته.
(۶) "ق، ک" چاپ : "یاره ستا جور و جفا ولې افزون دی".

چې يې هيڅ بها زلمیو څخه نشته — جونه نه دي سکه ګنجونه دقارون دي
بادشاهان په يوه دم کې ګدايان کا — مالېدلي فسادونه دګريون دي

د خالق دزړه خوناب مګر قبول شي
چې مخونه د دلبرو پرې ګلګون دي

۲۶۸

۲۹۹۶

غم دې هسې غلبه شو په ما باندې — چې مې ځای نه شي د ننه نه دباندې
له زګېرويه مې نور خلق په عذاب شول — تل د وچولۀ کبله سوځي تاندې
زه دستا په غم کې شمع غوندې ژاړم — ته زما په ژړا صبح غوندې خاندې
زړه مې هسې ستا په لوري آويزان دی — لکه زلفي دې په مخ دي آويزاندې
ما دې ستا داند پښتو په اوږدې سوې — د دنيا اند پښتني واړه لکه سپاندې
دا دستور دی چې لوی (۱) غم په سړي وشي — نور غمونه يې همه شي تر پښتو لاندې
هر چې ما په نصيحت له تا جارباسي — بيا دې ستا په لوري د (۲) مې ترما وراندې

سړه لمبه ګوره چې څه کا په وچ کې
مخ دیار په خالق هسې چارې کاندې

۲۶۹

۲۹۰۴

په دنيا کې که څه کار دی خو د دين دی — د دې کار په کننده ئې آفرين دی
چې تقوی او ديندارې يې شي په بخره — دهغو د سعادت ستوری قرين دی
قناعت مې هسې خوند په خوله کې کېښود — چې وچ تمک مې په ډهن کې انګبين دی
بې هاتيانو بې اوښانو بادشاهي کا — د زړه پوزي تمو کر کې بې قالين دی
چې په خواست د حاجت پورته کا لاسونه — د آسمان د ملايکو پرې آمين دی
چې قبوله کهتری کا په دنيا کې — دهغو په بهتری باندې يقين دی

---

(۱) په قلمي نسخو کې "يو" دغلی دی.
(۲) د "تخ" دوهمه نسخه: "هغه تله کا ستا ولوره ترما وراندې".

تل دلوري اوبه درومي وژوندته — حق تعالی کمال ورکړی وکمین دی
خاکساري دخاکسارانو مرتبه ده — که زړوکی یې خیرن وی زړه یې سپین دی
دسرکښو سرکه وړشي وآسمان ته — په دوه وړځې پسې ځای زمین زمین دی
چې سنبوه یې وي په سرکې اولوي کا — درحمت لیاقت نه لري لعین دی
که صورت یې ډېرې، سړي بالې شي — په معنی کې سړی نه دی شیاطین دی

که تاج سره متاج دنیا نشته
شکر داچې نه خودرای دی نه خودبین دی

۲۷۰ ۲۹۱۶

مخ دیار شمس وقمر دې واړه یودي — قد دس وصنوبر دې واړه یودي
حاجت نه لرم په شهد وپه شکر و[1] — لب دیار شهد وشکر دې واړه یودي
که بې یاره په بستر دپاسه پرېوتیم — نار وخار ودابستر دې واړه یودي
چې ودرو ودیوار ته یې نظر کړم — باغ بوستان اوغدر دې واړه یودي
چې غبار یې دکوڅې راباندې راشي — داغبار مشک وعنبر دې واړه یودي
خدای دیار له هجره هیڅوک خبر مه کړه — تاخت وقتل داخبر دې واړه یودي
هغه دم چې سړی درومي له جهانه — تودې خاورې سیم وزر دې واړه یودي
قلندر چې په رښتیا قلندري کا — خان، سلطان وقلندر دې واړه یودي
وردې نه شي په پردې ملک حمکه هیڅوک[2] — کور وکرا ومبصر دې واړه یودي
چې دې نه پکې یو یار نه دې آشنا وي — هغه شهر بحر وبر دې واړه یودي
په دکان دنابینا وجوهر یانو — خرمهره لعل وگوهر دې واړه یودي
پسران دې عار زماله عشقه نیکا — پاک عاشق پسر[3] پدر دې واړه یودي

---

(۱) د "خ" لومړی نسخه: "حاجت نه لري په شهدو په شکرو".
(۲) په قلمی نسخو، "پ" چاپ، "ق" چاپ، او "پ پ" چاپ کی دا مصرع داسې ده: "وردې نه شي په پردې حمکه هیڅوک".
(۳) دابیت په "پ" چاپ کی نشته او په مصوره نسخه کی د "پسر" پرځای "پیر" راغلی دی.

۲۷۱

غزا وشوه که ځان ستالی وی ته
بې هنره گا وخر دې واړه یو دي

۲۹۳۰

په سبب د ظالمانو حاکمانو گورا وګورا او پېښور دې واړه یو دي[1]

چې داهسې لاس په لاس دنیا پېښوي
دا دنیا په مثال پوله مرگ سیلاب دی
جل ځلمی لا واده نه وي سره کونډه وي
قافلې چې په دنیا کې شوې داخلې
داسفر به په هغو باندې آسان وي
چې بې وخته ارمان کا په وخت اوده وي
په هر شان چې یار خوښېږي زه هغه کرم[3]
دیار غم مې لکه تاج وي په سر ایښی
معشوقې په عاشقانو خود پوهېږي

خه چوه چندان په ځان پورې مبنودي
د سیلاب په مخ کې خه پوله ایښودي
دا رنگ چارې د مرگې د خرخښودي
بیا هم هسې معلومېږي چې دلښودي[2]
چې ترکوچ پخوا په زېرمه د توښودي
د هغو عالمو بېرې د وکښودي
خپلول د صاحبانو په پېښودي
نور غمونه مې همه لاندې ترپېښودي
دلته خه د عاشقۍ نښې د ښودي[4]

۲۷۲

مې خواران کړي خبرشي له مستۍ نه
د میخانې د میخانې شراب د خښودي

۲۹۴۰

زه بلبل ستا د وصال یم بوستان خه دی
چې آشنا شي ستا له دره له د پواره
چې روزي یې شهادت شي ستا له تیغه
چې مسکن یې د زه ستا د زلفو خم شي

ستا د وصل په نسبت گلستان خه دی
انتظار یې په روضه د رضوان خه دی
احتیاج یې په چشمه د حیوان خه دی
وهغوته د عطار د دکان خه دی

---

(۱) دا بیت د "خ" په نسخو کې نشته، په "ق" چاپ او "ق،ک" چاپ کې د مصرع دا ده: "گورا وګورا او پېښور دې واړه یو دي".
(۲) "ق" چاپ، "ق،ک" چاپ، په "مصرعه" په او د "خ" په دواړو نسخو کې "دتلو دي" راغلی دی.
(۳) قلمي نسخې: "په هر رنگ چې یار خوښېږي زه یې کرم".
(۴) د "خ" دواړو نسخو کې "ایښودي" راغلی دی.

هرچې لاندې خپل وجود تر خپل قدم کا — عرش یې لاندې تر قدم شي آسمان خدی
بوالهوس که بوسه غواړي له تا خه شو — هر رنګ هر رنګ ویل کاندې نادان خه دی
زه چې ستا له غمه ژاړم آه فریاد کړم — برق و رعد چې کاره دي باران خه دی
ځان جهان مې هسې ستا په مینه هېر دے — نه پوهېږم چې ځان خه دی جهان خه دی
ته چې نه ګورې وماته لږ مې پوه کړه — په داکار کې دې ضرر او نقصان خه دی
که ستا سترګې دې قاتلې زه مقتول یم — وایه نو دې په خاطر کې ارمان خه دی
زه بې صبره یم که مهر دستا نشته — له دې دوارو دې په زړه کې ګومان خه دی
چې مې وینې تر مې خه پوښتې له حاله — له عیانه احتیاج دبیان خه دی

هرچې والي ستا سې د ساج غاړه — ۲۷۳
وتوانا وته حجت دنا توان خه دی — ۲۹۵۳

ښځ مې ستا د بنو غشي په سینه دي — پورې وورې مې وتلي تر اینه دي
تل یې مخ دیاس په مخ باندې وي ایښی — هغه زړونه چې بې زنګه آیینه دي
هسې نه چې زه نن ورځ په تا شیدایم — ستا غمونه مې په زړه کې دپرینه دي
لکه ستورې چې بریښناکا په آسمان کې — په تن مې ستا داغونه نګینه دي
درته وایم چې له آهه یې پرهېز کړه — دهغو چې پوشاکونه پشمینه دي
که دستا رخسار سوزانې لمبې نه وي — ولې کسي نما تور سوي نبینه دي
خه بد سم په صبحدم ګورې وچاته — چې دې سترګې په مې مستې شبینه دي
هغه سترګې چې پیدا کړې خدای خو نږې — بې غضبه په غضب او په کینه دي
شرابیان چې شراب مومي خوږې شومي — کله منعه په اختر په آدینه دي

---

* . دوې مخ پاڼیکو نه دې په (۲۰۵) مخ کې وکتل شي.

٢٧٤

چې تمام دخپل ځګر په وینو رنګ شو
د تمام ښکلو خبرې ځکه رنګینه دي

٢٩٦٣

دعاشق نظر په خوږ دو په خواب نه دی (١)
مرادي بې دیار له دره (٢) بل باب نه دی
ته نظر په خپل هنر په عقل مه کړه
دا اسباب په عاشقۍ کې اسباب نه دی (٣)
چې دیار سره حساب د دنیا کاندي
د غه هیڅ په عاشقانو حساب نه دی (٤)
چې عاشق په عاشقۍ کې ارباب نه شي (٥)
که د درستګان اربابشي ارباب نه دی
هر چې یار منعه کوي له خپله یاره
دا کتاب د عاشقانو کتاب نه دی
دا حجاب چې نور عالم یې حجاب بولي
دا زما د یار ترمیانه حجاب نه دی
که ثواب دی هم سیوا د یار له مخه (٧)
ما ګنهګار د غه کار په ثواب نه دی
که لیدلی زلیخا یوسف په خوب ؤ
ما په ویښه دی لیدلی په خواب نه دی
صبر و نیسه په مخ کې که مراد غواړې
هیچا کړی د غه کار په شتاب نه دی

٢٧٥

سوال د بوسې کړی دی له یاره
لا یې هیڅ ځنې موندلی جواب نه دی

٢٩٧٣

د عشق زخم څه د زخم په شان نه دی
د بل زخم په څیر سهل و آسان نه دی (٨)
عاشقان و معشوقې سره پوهیږي
د غه راز و نور عالم ته عیان نه دی (٩)
عاشقي نه ده که ګوډې حیراني ده
کوم سړی په د غه کار کې حیران نه دی (١٠)
یو عاشق دې خوک راوښیي په عشق کې
چې یې رود په مخ د اوښکو روان نه دی (١١)
هوډه اوښکې د عاشق په ګریوان وه دی (١٢)
ته به وایې چې یو سیند دی ګریوان نه دی
دا هجران دی چې یې مرګ په عاشق ګران کړما
که هجران وړسره نه وي هیڅ ګران نه دی (١٣)

---

* دوې مخ د تن پایلیکو نه دي په (٢٠٥) مخ کې وکتل شي.

نور غمونه که په ځان دسړی بد دی — غم د ترکو بد دهیچا په ځان نه دی (۱)
د دوزخ داوږکه تا وله حده تېر دی — برابر د بېلتانه لـــه نېران نه دی (۲)
چې باله شي څوک په عشق کې کم عقل — دا کم عقل د پېر هوښیار دی نادان نه دی

چې بې یار وجهان وته نظر کړم
ساحل وایم چې ویران دی ویران نه دی (۳)

۲۷۶ ۲۹۸۳

د (۲۰۳) مخ د متن پایلیکونه :

(۱) په قلمي نسخو کې "شرخ" راغلی دی.
(۲) دابیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته . په "ق" چاپ او "ق،ک" چاپ کې د "داغونه" پرځای "غمونه" راغلی دی.
(۳) د "پ" لومړي نسخه او د "خ" لومړي نسخه : " ورته وایه چې له آهه مې پرهېز که".
د "خ" دوهمه نسخه : " ورته وایه چې له آهوې پرهېز که".
(٤) دابیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(۵) "ق" چاپ او "ق،ک" چاپ کې "بې سببه" راغلی دی.
(٦) د "خ" په دوهمه نسخه کې "مې خوران" راغلی دی.
(۷) د "خ" په لومړي نسخه کې "په جمعه" راغلی دی.

د (۲۰٤) مخ د متن پایلیکونه :

(۱) دا غزل د "پ" په نسخو او مصوره نسخه کې نشته.
(۲) "ق،ک" چاپ ، "ق" چاپ او د "خ" لومړي او دوهمه نسخه کې "دیار له پابه" راغلی دی.
(۳) د "خ" لومړي او دوهمه نسخه : "دا اسباب د عاشقۍ اسباب نه دی".
(٤) د "خ" لومړي او دوهمه نسخه : "دغه چیخ په عاشقۍ کې حساب نه دی.
(۵) د "خ" نسخې : "ارباب نه وی".
(٦) د "خ" دوهمه نسخه : "عام عالم"
(۷) د "خ" لومړي نسخه : "که ثواب دی هم ثواب دیار په عشق کې".
(۸) "ق،ک" چاپ : "د عاشق زخم د زخم په شان نه دی
دغه راز ونور عالم ته عیان نه دی".
"ق" چاپ : "دغه راز وینا د عالم ته عیان نه دی".
د "خ" دوهمه نسخه : "د عاشق زخم خته د زخم په شان نه دی".
(۹) "ق،ک" چاپ : "داد عشق اسرار په ماخامان نه دی".
"ق" چاپ : "داد عشق اسرار په چالمانیان نه دی".
د "خ" دوهمه نسخه : "دغه راز وهر سړی ته عیان نه دی".
(۱۰) دابیت د "پ" په لومړي نسخه کې نشته.
(۱۱) "ق" چاپ : "باران نه دی".
(۱۲) د "پ" لومړي نسخه : "هومره اوښکې د عاشق په ګریوان درومې".
"ق،ک" چاپ : "هومره اوښکې د عاشق په مخ راد رومې".
(۱۳) چاپ د "خ" دوهمه نسخه : "هومره اوښکې په ګریوان د عاشق درومې".
(پاتې په (۲۰٦) مخ کې) "که هم طالب د تخته دمه مې چیخ ګران نه دی"

هرنگار چې بې وفا دی نگار نه دی — په گلزار کې چې گل نه وي گلزار نه دی (۱)
هغه یار چې اخلاص نه لري یار نه دی — هغه کار چې بې فایده دی څه کار نه دی (۲)
په تلخی دمیو مست خلق (۳) مې خوښ دے — هغه خار چې بوی د گل لري خار نه دی (۴)
دیندار یې دنیا داري ده حبله (۵) لري — مال پدلی هیڅ دیندار دنیا دار نه دی
که روزگار دی پنهان کې عاشقي ده (۶) — ددې نور عالم روزگار څه روزگار نه دی
چې تصدیق یې په خپل زړه کې محکم نه وي — دا په خوله ظاهر اقرار څه اقرار نه دی (۷)
په هر زړه چې د خپل یار دغم غبار وي — د غم ابر د رحمت دی غبار نه دی
چا به کسب بې له عشقه نور څه نه کړ — باري گنج دی چې هر چا ته اظهار نه دی (۸)
معشوقه وفا له هیچا سره نه کا — گنه کوم یو ددې رخت خریدار نه دی

د ۲۰۵ مخ د متن پایلیکونه :

(۱) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته . د "خ" لومړی نسخه کې یې لومړی مصرع دا یاده : " لوړ غمونه که په ځان دهر سړی دی ".
(۲) دا بیت او وروسته بیت په قلمي نسخو کې نشته .
(۳) "ق، ک" چاپ : "زړه رحمان والم چې وران دی ودان نه دی ".

ددې مخ د متن پایلیکونه :

(۱) . دا غزل د "پ" په نسخو او مصوره نسخه کې نشته . ددې غزل لومړی بیت د "خ" په لومړی نسخه کې داسې دی : "هغه یار چې بې وفا دی څه یار نه دی
هغه کار چې بې بقا دی څه کار نه دی
د "خ" دوهمه نسخه : له اغیار سره سودا څه په کار نه دی
له مکار سره روزگار څه روزگار نه دی
(۲) دا بیت د "خ" له دوهمې نسخې نه نقل شو .
(۳) "ق، ک" چاپ : "انسان".
د "خ" دوهمه نسخه : "په تلخی دمیو مست عالم خرم وي "
(۴) دا مصرع د "خ" په لومړی نسخه کې داسې ده : "هغه کار چې بوی د خار لري خار نه دی".
(۵) "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ : "سره".
د "خ" لومړی نسخه : " وسیله".
(۶) د "خ" لومړی او دوهمه نسخه : "که روزگار دی په دنیا کې د عاشق دی "
(۷) د "خ" لومړی او دوهمه نسخه : " چې بنایې د تصدیق محکمه نه وي
د ظاهر په خوله اقرار څه په کار نه دی

((پاته په (۲۰۷) مخ کې))

د دلدار وصال دخدای په دادمونده شي[1] دغه کار مې دهیچا په اختیار نه دی

۲۷۷ پاتې ساحل باندې منت د معشوقو دی[2] ۲۹۹٤

دبې حسنو معشوقو منت بار نه دی

هغه یار چې بې وفا دی څه یار نه دی[3] هغه کار چې بې بقا دی څه کار نه دی

که دسر ښندل د شوار په ما وتا دی دا په عشق کې سهل کار دی د شوار نه دی

اند پښه سړی بیدار کاندي له خوبه کم اند پښه که بیدار دی بیدار نه دی

که څه عمر دی عاشق له وصال دی دهجران عمر د عمر په شمار نه دی[4]

دچشمانو په حنبل[5] کې تیر وبې شي اعتبار د زمانې اعتبار نه دی[6]

که دسلوز ویو پلار شي به یې څه کا[7] بې وقوفه زوی د پلار څه په کار نه دی[8]

۲۷۸ پاتې ساحل معشوقې همیشه ناز په عاشق کاندي ۳۰۰۱

هیڅ له خپله یاره آزار نه دی[9]

عاشقان دې په اور سوي دي که نه دي ستا د عشق په اور الوي دي که نه دی[10]

د (۲۰۶) مخ د پایلیکونو یا ته برخه:

(۸) "پ" چاپ، "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ: "باري گنج دی چې هر یو ته اظهار نه دی".
د "خ" لومړی نسخه: "چا به کسب د عشق نه کړی باري څه کړی چې د اگنج وهر یوه ته اظهار نه دی".

د دې مخ د متن پایلیکونه:

(۱) "پ" چاپ او "ق، ک" چاپ: "دخپل یار وصال دخدای په داد مونده شي".
"ق" چاپ: "دخپل یار وصال دخدای په امر مونده شي".
د "خ" لومړی نسخه: "دخپل یار وصال دخدای په داد مونده شي دغه کار و هیڅ بنده ته اظهار نه دی".

(۲) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(۳) د "خ" لومړی نسخه: "که دسر ښندل دشوار دی وتا ته".

(٤) د "پ" لومړی نسخه: "دهجران عمر په عمر څه شمار نه دی".
د "خ" لومړی نسخه: "دهجران عمر په عمر شمار نه دی".

(۵) د "خ" دوهمه نسخه: "وهل".

(۶) د "خ" دوهمه نسخه، "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ: "اعتبار د زمانې څه اعتبار نه دی". او هم دا بیت او ورپسې بیتونه د "پ" په لومړی نسخه کې نشته.

(۷) "ق، ک" چاپ: "که دسلوز ویو پلار شي څوك به یې څه کا". "ق" چاپ: "که دسلوز ویو پلار شي څوك به یې څه کا مذی".
د "خ" دوهمه نسخه: "که دسلوز ویو پلار شي قد به یې څه کمې"

(۸) د "خ" لومړی او دوهمه نسخه او مصوره نسخه: "بې وقوفه زویه زویه د پلار نه دی".

(۹) د "خ" لومړی نسخه: "معشوقه همیشه ناز په عشاق کاندی دا حمان له خپله یاره آزار نه دی". په "ق" چاپ کې هم معشوقه داخلی ده.

(۱۰) دا غزل د "خ" په لومړی نسخه، مصوره نسخه او نیمگړی نسخه کې نشته.

زحمتونه د هجران واړه په عشق کې — تا وما وته ښو ولي دي که نه دي
په دنیا کې خو یا سر و مال ویل شي — د واړه ما په تا بایللي[1] دي که نه دي
تل دود و خو په لبند و د ښو غشي — تا په ما باندې راکښلي دي که نه دي
چې مدام یې زما زړه له غمه چوي — تو دې زلفې دي پیچوي دي که نه دي
راشه وګوره احوال د عاشقانو — مړه د عشق په تیغ کوتلي[2] دي که نه دي
ناصحان چې نصیحت وما ته[3] کاندي — چېرې دوی هم مین شوي دي که نه دي
ښایسته که په ښایست کې ملایك وي — په وکښه د زړه نو دوي دي که نه دي

۲۷۹ — ۳۰۱۰

بلبلان پسې ناري وهي ساح نه
د ښکار ګلونه شوي[4] دي که نه دي

داثوندي چې معلومېږي واړه مړه دي — که څه دي هم هسې وایه چې څه نه دي[5]
یاد باد په مخ کې خاوري دي د تورې — یاد اوده په مخ کې واړه وچ واښه دي
د خپل عمر شپې اوږدې چې په زړه کړم — هسې د زړه وي ګویا بهنده اوبه دي[6]
غافلان که وینې اوري به یې څه کړي[7] — دا یې خوب دی نه لیده نه اوریده دي
چې د خدای له معرفته خبر نه وي — هغه واړه که بیدار دي هم اوده دي[8]

۲۸۰ — ۳۰۱۶

د ساح دزړه له حاله خدای خبر دی
چې په زړه کې یې دیار له غمه څه دي[9]

---

(۱) په قلمي نسخو کې "پاسلوي دی" راغلی دی.
(۲) د "ب" په لومړي نسخه کې "په شیر کوي دی" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "په ستر ګو کوي دي" راغلی دی.
(۳) په "پ" چاپ او "پ، ب" چاپ کې "دیاره ته" راغلی دی.
(٤) په قلمي نسخو کې "نوي دي" راغلی دی.
(۵) راغلی د "پ، ب" چاپ کې نشته.
(۶) د "پ" لومړي نسخه: "هسې د زړه چې دسیند ګویا اوبه دی". د "خ" دوهمه نسخه: "هسې د زړه ګویا بحر دی اوبه دی".
(۷) "ق، ک" چاپ: "غافلان چې وینې اوري عمل نه کړي".
(۸) د "خ" لومړي نسخه: "بیدار نه دی".
(۹) د "خ" لومړي او دوهمه نسخه: "چې په زړه کې یې داشنا په غمه څه دی".

په ظاهر صورت چې ستا د درګدای دی — په معنی کې د جمله وګد خدای دی[1]
مجنون بېد غوندې رونق د ګلستان شي — چې يې ستا له غمه سر په پشت پای دی
چې له غمه د جرس غوندې نالان دی — د جمله ګمراهانو رهنمای دی
چې څوك زده دستا وتوه وستر ګو ورکا[2] — ستا د وروځو تر محراب لاندې ځای دی
چې مسکن يې د زده ستا د زلفو خم شي — د هغو ناستی په سيورې د همای دی
چې تا وويني وما ته نصيحت کا — شك پرې مه کوه بې شکه چې خود رای دی

۲۸۱ — ۳۰۲۳

که زړه دار دي آشنايان د زړه دارانو
د ماتم د آشنايانو تکيه خدای دی

که مطلب ومدعا دسړي خدای دی — هر هر مړی د ژوندیو رهنمای دی
مسافر چې په رحلت کې حبله غن کا — هر اوان يې خواب آلود لره درای دی
که سړی وحقيقت وته نظر کا — ژوندی خلق واره ناست د مړو په حای دی
دا خو بخت دی څوك يې سپين او څوك يې توره کړه — ګنه عيني لکه زاغ هسې همای دی
لکه فرق چې د همای او د زاغ نشته — هم دغه دليل د شاه و ګدای دی
ته نظر د کاريګر وپه کار مه کړه — کار همه واره موقوف په کارفرمای دی
سالکان چې د جهان تماشا کاندې — له جهانه يې مطلب جهان آرای دی
که څوك خپل دست وپای وباسي له ميانه — خدای پخپله دبې دستو دست وپای دی
په هغه جهان ښکې وبدې نشته — هر مطلب د طالبانو په داسرای دی

۲۸۲ — ۳۰۳۳

زه ماتم يوازې نه يم په داکار کې
همېشه دياره يار پسې وای وای دی

---

(۱) قلمي نسخې: "په معنی کې د جمله جهان کد خدای دی".
(۲) د "پ" په لومړۍ نسخه او د "خ" په نيګړې نسخه کې "توره و زلفو" راغلې دی.

که د خلقو ونظر ته آدمی دی — خوار عاشق د معشوقې د کوڅې سپی دی

هرچې حساب دیار په سپیو کې داخل کا[1] — تر وهاله به ورته وایم چې سړی دی

ما د خدای دیار له غمه بې غم نه کا — دا په ملک د عاشقی کې لوی ورانی دی

زه د یار په غم کې زیره خوښیم — دا زما خزان خزان نه دی سپرلی دی

زه ژوندون د یار د وصل ته وایم — گنه هر یو د زخې په ژوند ژوندی دی

ته چې ما منعه کوې د یار له دره — کوم یو در له دغه دره بریالی دی[2]

زه د یار مینې په یار باندې شیدا کړم — که څوک ما گڼي زه نه یم واړه دی دی

چې وحشي مجنون یې بنهر له راوست — دلیلی د زلفو هسې غړوندی دی[3]

زړداران که او به څښي په جام د زړه — خوښ زما داخپل د خاورو کندو دی

اورنگ زیب که د دېلي په تخت ناز ېږي — خپله خونه هر گدای له دېلی دی

چې له خپله کوره ووځي مسافر شي — څوک یې پېژني ساهودی که مړی دی

چې یې خاوري شي له خاورو سره گډې — تر وچا څه زده چې د کوم نیکه لمسی دی

توره شپه په آشنایانو رنا ورځ ده — رنا ورځ په ناآشنا ؤ تر وږمی دی

نه دي ستر گې پوزه غوږ دکم شناخت — په معنی کې یو دیوال سوری سوری دی[4]

عاشقان یې د دنیا له غمه خلاص کړه — عشق په مثل د سلیمان بادشاه غمی دی

هرچې حب د عاشقی لري په زړه کې — که په قطع[5] صد ساله وي هم حلمی دی

دا هلال دی چې لېده شي په شفق کې — که په لاس د گل اندامې سپین وینی دی

ناآشنا به بهره خشکل ځنې مومي — چې مدام یې په آشنایانو غوږ ږدی دی[6]

---

(۱) د "پ پ" چاپ کی "حساب کا" راغلی دی

(۲) دا بیت د "خ" په نیگری نسخه کی نشته.

(۳) دا بیت د "خ" په "همه" نسخه کی نشته.

(٤) دا بیت په نیگری نسخه کی نشته.

(۵) په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کی "عمر" راغلی دی.

(۶) په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کی "زبیرگی" راغلی دی.

خر بوی مې قربانی لره پوهېږم — دا چې کړی دې په ما باندې زړه سوی دی
چې په نوم باندې باله شي لېږه نه شي — معلومېږي چې نر حور یا ښا پېری دی (۱)
چې د خط په دود خلق پکې پر پوځي — زنخدان یې تر سبزې لاندې کوهی دی (۲)

۲۸۳ — ۳۰۵۵

زه ساحل له یاره خوښېږم که جفا کا
که جفا نه کا وفا کا خو تېری دی

ستا له غمه مې په مخ باندې ولې دي — لږ مې وپوښته له حاله چې ولې دي؟
زه په تا پسې مجنون یم قارون نه یم — چې مطلب مې غوا وغیلې یا غلې دي (۳)
هغه کوډې لکه تا دي په ما کړي — کله کړي په مجنون باندې لیلې دي
لکه ما چې مصلې در پسې لنګ کړې — کوم ملنګ هسې لنګ کړي مصلې دي
بوی هم ستا د وفا نه دی را الوتی (٤) — ما پخپله خپلې کړې تسلې دي
نصیحت اثر په زړه د عاشق نه کا — ګنه یادې زما دېرې مسلې دي (۵)

۲۸٤ — ۳۰٦۲

که ساحل د عاشقی په تیغ شهید شي
د جنت حورې همه واړه دلې دي

چا چې کړي و دنیا وته اسرې دي — د همه واړو په سر خاورې اېرې دي (٦)
نادانان که د دنیا په چاړ نا زېږي — و دانا ته واړه وشتې (۷) مسخرې دي
چې بې خدایه محبت کا هغه خلق — نا ربنه یې واړه خره او ښځې خرې دي
وسپین زېږې وته مه وایه سپین زېږې — همګي واړه طفلان د ګوارې دي (۸)

---

(۱) دا بیت په نیګمړې نسخه کې نشته د "خ" په لومړی نسخه کې دا مصرع دا سې ده : " معلومېږي چې نه حور نه ښا پېری دی".
(۲) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۳) "پ" چاپ : " زه په تا پسې موسی یم قارون نه یم — چې مطلب مې غوا او غیلې یا ګلې دي".
د پېښور چاپي دیوانونه : " زه په تا پسې موسی یم قارون نه یم — چې مطلب مې غوا، غلې او یا ګلې دي".
(٤) په قلمي نسخو کې "را بلودلی" راغلی دی.
(۵) دا بیت په "پ پ" چاپ کې نشته.
(٦) چاپي دیوانونه : "د هغو په سر همه خاورې اېرې دی
(۷) "ق ، ک" چاپ : "توکې" ، د "خ" لومړی نسخه : "زشتی"
(۸) د "پ" لومړی نسخه : "دا همه واړه طفلان د ګوارې دی".
د "خ" دوهمه نسخه : "وسپین زېږی ته مه وایه چې سپین زېږی".

هسې وایه چې څمې دي د زنانو — که یې اینبې په دستار کې قرقرې دي
نه څه فیض نه ظهره ځنې مونده شي[1] — همګي واړه بې فیضه بې بهرې دي

۲۸۵ — ۳۰۶۹

ذخیره د دنیا مه کوه ساتې نه
دا همه واړه د خاوند ذخیرې دي[2]

په هر ځای چې ستا ثنا شي ښیوه ګرې — خرهره شي هلته د رومن غاړې
دهغو ستر ګو به اوښکې وي ګلرنګې — هر چې ستا په ګل رخسار وي منتظرې
هغه کله د نا صح خبرې اورې — هر چې اورې ستا خوبې خوبې خبرې[3]
مرور کاندې عاشق له جمله خلق — معشوقې له هیچا مه شه مرورې
په ساعت کې سړی مرهم یې ژوندی[4] کا — طایفې دې د خوبانو سحر ګرې
زه ځان د وب ګنم بې تا په خپلو وینو — که مې د وب کا څوک په شهد و په شکرې
لرې لرې غم دې واړه رانژدې کړ — چې له مخه دې حجاب کړ راته لرې
چې مې نوم دستا د تورو زلفو واخیست[5] — راپسې شوې د بلا توري لښکرې
هیڅ په حق د حقدارانو نه ګرځې — همیشه زما د زړه په وړومنکرې[6]
زما ستا مینه څرګنده په جهان ده — ولې دا رنګه څرګنده ګواهې[7] نغرې

---

(۱) چاپي دیوانونه : " چې نه فیض نه څه ظهره ځنې مونده شي ".
مصوره نسخه : " نه څه فیض نه څه ظهره ځنې مونده شي ".
(۲) د "پ" لومړۍ نسخه : " د همه واړو په سرخاورې ایرې دي ".
د "خ" دویمه نسخه : " د دنیا ذخیرې کل خاورې ایرې دي ".
مصوره نسخه : " دا همه دا یرو خاورو ذخیرې دي ".
(۳) د "خ" په دوهمه نسخه کې "وړې وړې خبرې" راغلی دی.
(٤) چاپي دیوانونه : " په ساعت کې سړی مرکا هم ژوندی کا ".
د "خ" دوهمه نسخه : " په ساعت کې سړی مر بیایې ژوندی کا ".
(۵) چاپي دیوانونه : " چې مې نوم دستا د زلفو په خوله واخیست ".
(٦) د "پ" لومړۍ نسخه : " همیشه زما په زړه وړې منکرې "
مصوره نسخه : " همیشه زما په وړی زړه منکرې ". نوموړی بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۷) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "ګواهې" پرځای " دعوی " راغلی دی.

زه چې ستاله غمه ژاړم آه فریاد کړم — د رقیب کړه هم د ول وي هم سندرې[1]

چې مې وه یې د کابل خوږې نه وي — د هغوله فهمه وشکې شي گرگرمې[2]

د رند وستر[3] گو حاجت د رانجه نه وي — په بد رنگه ناوې خه والې سندرې

که په غړه په سمه گرزم باك مې نشته — مزدې تل گرزې په لوړې پاړه ژوړې

د ساري شعر به ولې نادر نه وي

چې ثنا کاندې د تاغوندې نادرې

۲۸۶

۳۰۸٤

عاشقی را باندې سوري کړې مړی — هیڅ مې نه درومې بې یاره تر مړی[4]

خه اثر به یې د عقل وي په سر کې[5] — د هغو په سر چې کېني سنا پېړی

د مژگانو په پنجو مې زړه راکاږې — خدای د ترکو برندې[6] ستر گې کړې نمړی

عاوفه به یې بې غمه نور خه نه وي — هرچې کاندې د خوبانو چاکرې[7]

لږ د صبر سبق مالره هم راکړې — که په عشق کې خوك دغه طاقت لرې[8]

خدایه خه دې د کوتوال په لاس کې ورکړم — چې شپه و ورځ مې غږ وي لکه توږې[9]

په صورت مې نړی تبه شوه ولاړه — تاچې د واړه ستر گې توږې کړې نړی[10]

د وصال دلالان کوم طرف ته غواړم؟ — چې بندې شوم د هجران په کچړی

نور د شمع په فانوس کله پټېږې — تاچې واغوستې د خیال جامې نړی

---

(۱) د "خ" د همه نسخه : " زه چې ستاله غمه تل ژاړم فریاد کړم د رقیب کړه هم د ول شته هم سندرې".
د "ق، ک" چاپي دیوان کې د همه مړی دې ده : " د رقیب کړه مې د ول دی یا سندرې".

(۲) دا بیت او درې دوه نور بیتونه په "پ" چاپ ، "ق، ک" چاپ ، "ق" چاپ ، د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه کې نشته.

(۳) د "پ" په لومړی نسخه کې " په رند د ستر گو" راغلی دی.

(٤) د "خ" د همه نسخه : "عاشقی را باندې سیورې کړې ژړی هیڅ مې نه درومې بې یاره تر حلقې".
په "پ" چاپ او "پ ب" چاپ کې لومړی مړی دې ده : "عاشقی را باندې سوری کړې مړی".

(۵) مصوره نسخه : "خه اثر به یې په سر کې وي د عقل".

(٦) چالې دیوانونه : " مستې".

(۷) د "خ" لومړی نسخه : " که په عشق کې خوك دغه طاقت لرې".

(۸) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.

(۹) دا بیت په لوړو قلمي نسخو کې نشته په نورو نسخو کې دې دی : "خدای د عشق د پیر دارو په لاس کې ورکړم
شپه و ورځ مې زغږ وي لکه تږې"

(۱۰) دا بیت او درې دوه نور بیتونه په قلمي نسخو کې نشته.

٢٨٧ — ٣٠٩٤

زړه ته رحمان په زړه نري کړم هغو ترکو[1]
چې يې ملاوې د وېښتو په دودنري

که له تا يې شرم نه کېدی هرې — مخ به پټ نه وو د حور يې ادېرې[2]
چې آفتاب دې تر رخسار پورې خجل شو — له دې وېرې زيست په شپه کاڼرې
ستا تر حسنه پورې حسن واړه هېڅ دی — نېست به څه له هستو کا برابرې
بې دستا د تور وستر گو جادوگرو — کوم آهو د بيابان زده وې دم گرې
ستا د عشق د تورې هسې پنگ گوزارې — چې له مخه يې حباب شي ککرې
دلبرې او دلجوې لکه چې ستا زده — چا زده هسې دلجوې او دلبرې
حسن واړه د عاشق په عشق موقوف دی — معشوقه که خرسته وي که چورې
و عاشق ته د يار غم واړه سپاري ده — د رضا په ملک کې نشته دلگيرې
دا دستور دی چې له درده زگيرو خپرې

٢٨٨ — ٣١٠٣

گنه څه ؤ د ستا له شاعرې

ستا د تور وستر گو په يادا مې اوښکې اوږې — حق دی که پرېوځي په شبرات د عمر ستورې[3]
زلفې دې سايه کړې مخ دې اوږه چا بل کړ — هر چا ته چې گورم نيم په نور وي نيم په سيورې[4]
خوک دې په وصال کې قند نبات خوک ځيگر خون خوري — چا وکړو د ديدن د چا شوه سپين دستر گو توري[5]
اورستا د رخسار دی ما په خپلو اوښکو بل کړو[6] — تل په آتش سوزي آيينه چې لمر ته گوري
ستر گې مې د استا له خياله پرېوتې وزده ته — څه شو که مې بې ستر گو صورت ځي په بل لوري[7]

---

(١) د "خ" دوهمه نسخه : "زړه رحمان په زړه هغو ترکو زخمي کړم" په مصوره نسخه او چاپي ديوانونو کې د "ترکو" پرځای "جونو" راغلی دی.
(٢) دا غزل په قلمي نسخو کې نشته.
(٣) دا غزل د "خ" په نسخو کې نشته، د وستي مسري يې په "ـــ پ" چاپ ـــــ کې راغلی دی : "حق دی که پرېوځي په شبرات د عمر ستورې".
(٤) د "پ پ" چاپ او قلمي نسخې : "زلفې دې سايه کړې مخ دې اوږه پېغمبان کړې"، د "پ" لومړی نسخه : { زلفې دې سايه کړې مخ دې اوږه راباندې اوږې / اوږه دې کم د مخ د ګرد نه پوهېږم په داسې ورځې }
(٥) د "پ" لومړی نسخه : "يو اصل دی چې خوک قند نبات خوک ځيگر خون خوري — حال ستا دلبانو او زما د ستر گو توري"
(٦) د "پ" لومړی نسخه : "اورستا د رخسار په ما د خپلو ستر گو بل کړو".
(٧) د "پ" لومړی نسخه : "څه شو که مې بې ستر گو صورت ځي په بل لوري".

کله رقیبانو ته نظر کړي کله ماته ستا باران دهر په ښوید ویکسان اوري

۲۸۹

ځان په مستو سترګو باندې مه غولوه رحمانه[1]
دا مستان هوښیار دي له حکمته سره ښوري

۳۱۱۰

غمخواري دا هسې چېرې وي غمخوري چې به ما دلته کې ناست لرې ته ګوري[2]
هغه خدای چې یې ستا مخ بله لمبه کړ دا لمبه یې کړه زما په ګوګل پوري
هم هغه دي زما توره لېمه سره کړه چې یې ستا لاسونه سره کړه سترګې توري[3]
غل دسر و دمال غلا په توره شپه کا ته په ورځ زما دسر و دمال چوري
اصیل نه دی چا پېر ودی نه یې پلوري ته اصیل په دیدن پېرې هم یې پلوري
دا کوم رنګ دآشنایۍ او دیاري دی[4] چې زه ستا د مخ ثنا کړم ته مې زوري
درخانی په سل غمونو خدای اخته کړه زه به ولې له تا زار کوم که ګوري[5]
زه وتا وته دستاله جوړه ژاړم ته را واخلې[6] سل ګیلې نادرې نوري

۲۹۰

دا ستا مخ په عاشقۍ به آفرین کړي
که لن مخ په آئینه کړې ځان وګوري[7]

۳۱۱۹

ته[8] په هره ګړۍ غم دسیم وند خوري زه دې هره ګړۍ وینم چې خپل سر خوري
عاقبت به دې یو خنډ ترسینې ووچي ته چې تل په هر هر[9] شاخ باندې ثمر خوري

---

(۱) د "پ" لومړی نسخه : " مه غولیږه دسترګو په وهلو یې رحمانه".
(۲) قلمي نسخې : " چې ما دلې وته ناست لرې ته دوري ".
(۳) دابیت د "خ" په دواړو نسخو کې نشته .
(٤) په چاپي دیوانونو کې د "یاري" په ځای " وروري " راغلی دی.
(۵) دابیت د "پ" په لومړی نسخه ، د "خ" په دواړو نسخو او مصوره نسخه کې نشته د "خ" په لومړی نسخه کې دواړه مصرعې داسې دي :
" زه به ولې له تا زار کړم خپلې موري "
(۶) "ق" چاپ او "ق ، ک" چاپ کې " راوښکې " راغلی دی.
(۷) د "پ" لومړی نسخه : " که لن مخ وآئینې ته کړې وګوري "
د "خ" لومړی نسخه : " که لن مخ وآئینې وته وګوري".
د "خ" دواړو نسخو : " که ته مخ وآئینې وته وګوري".
(۸) د "خ" دواړو نسخو : " چې په هره ګړۍ ".
(۹) چاپي دیوانونه : "هر یو شاخ " ، د "خ" دواړو نسخو او مصوره نسخه : " په هر شاخ ".

معلومیږي چې خپل غم دسره نشته — ځکه غم دبل دا ودپسې خوري[1]
په عوض یې کوم طاعت کړې راته وایه — دا نعمت چې[2] په هر شام په هر سحر خوري
روژې هم په خلور پاریسو افطار کا — ته څاو ځله طعام په هر پهر خوري[3]
که یو ځله ترکماله ورسیږې — نو به غوښې دخپل ځان لکه قمر خوري
بې هنر وله قند هم زهر قاتل دی[4] — قند یې وګنه که زهر په هنر خوري
که ښېښه دنام ونګ دې شي ترڅنګه — دهرچا په کج روی به خپل ځیګر خوري[5]

٢٩١ — نهال په زړه دصبر[6] نخل کړه زمانه — ٣١٢٨
چې[7] مدام دبرخوردار وپه خیر برخوري

له چشمانو مې دغمړا وبنې اوري — چې اغیار (ته) یار زماله قصه ګوري[8]
سرومال به دقاصد ترا تلو جارکم — چې خبر الله راوري دیار له لوري
ترسرکې پیزوان یې جارشه قلندره — لکه مست هاتي مدام په ځنځیر سنوري
ته چې راغلې خوبان واړه پسې شا شول — لمر چې وخېژي نور ځې پټېږي ستوري
شینکی خال دې دجبین په مخ کې زیبا کا — لکه حوره دطوبیٰ ونې ترسیوري

٢٩٢ — په ماح دبیغمی ساعت حرام شو — ٣١٣٤
لکه بید مجنون بې شماله سنوري

---

(١) دابیت په چاپي دیوانونو کې نشته.
(٢) د "خ" دوهمه نسخه: "چې ته دهر شام"، "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "چې ته په هر شام وسحر خوري".
(٣) دابیت د "خ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې نشته، "ق، ک" چاپ: "ته ډېر څرنګه روژه نیسې په صبر چې څلور ځله طعام په هر پهر خوري".
په نورو چاپي دیوانونو او د "خ" دوهمه نسخه کې لومړی مصرع داسې ده: "روژې چې په خلورم پهر افطار کا".
(٤) د "ق، ک" چاپ او قلمي نسخې: "بې هنر وله قند زهر قاتل دی".
(٥) دابیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته لومړی مصرع یې د "پ" په لومړي نسخه کې داسې ده: "که ښېښه دنام ونګ ده ترڅنګه".
(٦) مصوره نسخه: "دخیر نخل کړه".
(٧) "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ: "که مدام".
(٨) دا غزل د "خ" له دوهمې نسخې نه نقل شو په نورو نسخو او چاپي دیوانونو کې نشته.

ترابده ودې پوري به جفا کړي — که به مهر وفا هم چېرې پيدا کړي
معشوقې کله جفا کله وفا کا — مېباېد چې کله هغه کله دا کړي
ماستاخوي دی وهرچا وته ستا يلی[1] — چېرې نه چې دروغژن مې ترهرچا کړي
ستا خه لاس راباندې نه رسي دلېره — چې په لاس درقيبانو مې سزا کړي[2]
مرم په دا چې درقيب[3] په رضا درومې — نه په دا چې ته په ځان خپله رضا کړي
چې دغه اوښکې زما دغه خوستاوي[4] — دا پټ راز به مې په درست جهان رسوا کړي
په درست عمر به هېچا لېدلې نه وي[5] — هغه چارې چې ته هرساعت پرما کړي
ما نخود په کټ کې پرېږدې چې کمېږم — ته لاګرزې درقيب سره خندا کړي[6]
لاس ترغاړې درقيب سره خندا کړې — چې ما وينې له قصده راته شا کړي[7]

هر بيګاه وايي چې خوله به سبا درکړم[8] — دا بيګاه به په ماښام کله سبا کړي

٢٩٣ — ٣١٤٤

په پيرۍ کې چې هوس دمې وناب کړي — بې هوده ګمان په صبح دهتاب کړي[9]
بې طاعته عنايت له خدايه غواړي[10] — دعتاب په ځای اميد د ثواب کړي
دانسته ګناه کوي تونې وکاږي — لکه بت هسې په غټوستر ګوخواب کړي
په هغو غوږونو چې ذکر دخدای اورې — بيا سماع په هغو غوږونو درباب کړي

---

(١) د "پ" په نسخو کې "ويلي" راغلی دی.
(٢) دابيت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.
(٣) په چاپي ديوانونو کې "اغيار" راغلی دی.
(٤) چاپي ديوانونه: "چې دستا دغه خصلت دی زما اوښکې".
(٥) د "خ" لومړی نسخه: "په درست عمر به يې چېڅ لېدلے نه وي".
(٦) دابيت د "پ" په لومړی نسخه، د "خ" په دواړو نسخو او مصوره نسخه کې نشته. د "خ" په لومړی نسخه کې د "کمېږم" پر ځای "نولېږم" راغلی دی.
(٧) دابيت د "پ" په لومړی نسخه، د "خ" په دواړو نسخو او مصوره نسخه کې نشته.
(٨) چاپي ديوانونه: "هر بيګاه وايي سباله به خوله درکړم". د "خ" په لومړی نسخه کې د "خوله" پر ځای "حق" راغلی دی.
(٩) دا غزل په مصوره نسخه کې نه دی راغلی.
(١٠) د "پ" لومړی نسخه: "به طاعت عنايت له خدايه غواړي". په "پ پ" چاپ کې دا سی راغلی ده: "بې طاعته عنايت غواړي له خدايه". او دابيت د "خ" په لومړی نسخه کې دا سی راغلی دی: "بې طاعته عنايت له خدايه غواړم د عتاب په ځای اميد د آب وتاب کړي".

په هغو شونډو چې حمد وثنا وايي — هم هغه شونډې بیا ډوبې په شراب کړې

علم وکړې هیڅ[1] عمل ورباندې نه کړې — لکه طفل هسې لوښې په کتاب کړې

په شپه پروت یې د مغان په میخانه کې — او په ورځې مخ په لوري د محراب کړې[2]

تمام عمر د دنیا په طلب ګرځې — بیا د خدای په طالبانو حساب کړې

له خالقه دې نه شرم نه حجاب شي[3]

۲۹۴ — له ناسه ګوښه ونیسې حجاب کړې — ۳۱۵۳

چې مدام د بل وعیب وته نظر کړې — خدای له خپله عیبه ولې ناخبر کړې[4]

که یوه جودانه عیب وینې په بل کې[5] — هغه یو جودانه عیب به یې لوی غر کړې[6]

که دې خپله ګناه لویه لکه غر وي — په حیله حیله به غرد مچ وزر کړې[7]

که څوک تله د انصاف په لاس کې درکا[8] — خپل تنګو او د بل آس به برابر کړې

تو لعنت دې په داهسې منصفۍ شه — چې له حقه وباطل وته ګذر کړې

خدای وتا د ملائکو مقام درکړ[9] — ته د اخپل صورت پخپله ګاوړ کړې

په نعمت یې شکر نه کولی نه شې — چې زحمت درباندې درشي شور وشر کړې[10]

---

(۱) د پېښور په "ق، ک" چاپ کې د "هیڅ" پر ځای "بیا" راغلی دی.

(۲) د امسرې په "پ" چاپ کې دا بیت راغلی ده: "او د ورځې مخ په لوري د محراب کړې"
د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا بیت راغلی ده: "د رخ وورځې مخ په لوري د محراب کړې".

(۳) د امسرې په "پ" چاپ او "پ پ" چاپ کې دا بیت راغلی ده: "له خالقه دې نه شرم نه حجاب وي".
د پېښور "ق، ک" چاپ کې دا بیت راغلی ده: "د خالقه دې نه شرم نه حجاب شته".
د "پ" په دواړو نسخو کې د امسرې دا بیت راغلی ده: "له خالقه دې هیڅ شرم حجاب نه شي".
او د "خ" په دواړو نسخو کې دا بیت راغلی ده: "د خالقه دې نه شرم شي نه وبره".

(٤) دا غزل د "پ" په لومړۍ نسخه کې نشته، د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "ناخبر" پر ځای "کور وکړ" راغلی دی.

(۵) د "خ" په لومړۍ او دواړو همدې نسخو کې "د نورو" راغلی دی.

(۶) د "خ" په لومړۍ او دواړو همدې نسخو کې "تورغر" راغلی دی.

(۷) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

(۸) د "پ" نسخې او د "خ" لومړۍ او دواړو همدې نسخو: "که څوک تله د انصاف درته په لاس کا".

(۹) د "پ" لومړۍ نسخه: "خدای وتا ته ملائکو مقام درکړو".

(۱۰) دا بیت په "پ" چاپ، "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې نشته.

چې خدای ستا په رضا کار کا ستا هم بوټه — چې دا خپله رضا واړه وخدای ورکړي (١)
نه هغه چې دی به ستا په رضا کار کا — ته خپل ځان دده په کار کې مقصر کړي
کړدې یو وپښته د ځان دپاسه کوښې — ځان هغه ساعت له خدایه مرور کړي
چې بندګی دې په خدای وی یو کوډی — نمایان یې په جهان کې لکه نمر کړي
لکه څوك ترمکې لاړ شي بې ریته راشي — د دنیا د پاره هسې لوی سفر کړي
که یوه رتی دې زړه په لاس کې کښېوځي — خرڅ خرواړه د عبادت په رتی ورکړي (٢)
د ځوانۍ عمر دې تېر کړو په غفلت کې — په پیرۍ کې به څه زپرمه د محشر کړي (٣)
په دنیا پسې دې لمړي دې رنګ کړي — ځان وخلقوته درویش وقلندر کړي
لکه واړه چې دنیا لولۍ تېر شي — اوس تو بې له ضرورته په سپین سر کړي
په پیرۍ کې د ځوانۍ چارې (٤) نه شي — ته په وړځ د عاشوري به څه اختر کړي
لکه بیخ دنیا وې چینجی وخودي — په دا تېر عمر به څه بناخ وثمر کړي
د غه باغ به دې خلاص نه شي له خزانه (٥) — که چا پېر ورځنې سد د سکندر کړي

٢٩٥ — ٣١٧٣

وبدخواه وته څوك نیك نصیحت نه کا
ستا په غم شریك دی که باور کړي

خدایه مه کړه ناامید هغه وکړي — چې امید یې وي د ستا په کرم کړي
ستا له رحمه به نه ولې نومیدي کرم — چې دې ځان دی د رحیم په نام نومړي (٦)
خواست زما قبول کړې ای ملك الملکه — ستا د اسم اعظم روی مې دی د رودي (٧)

---

(١) دا دوه بیتونه په چاپي دیوانونو کې نشته.
(٢) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. د "پ" په لومړۍ نسخه کې یې دوهمه مصرع داسې ده: "خرواړ دعبادت په رتی ورکړي"
(٣) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. دوهمه مصرع د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "د پیرۍ په وخت به څه نګدا اختر کړي".
د "خ" دوهمه نسخه: "د پیرۍ په وخت به زپرمه د محشر کړي".
(٤) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. په "ق، ګ" چاپ کې د "چارې" پر ځای "کار ومنه" راغلي دي.
(٥) د "خ" په دوهمه نسخه کې "له زاغانو" راغلی دی.
(٦) د "خ" دوهمه نسخه: "چې دې ځان دی د رحیم په نام یاد کړي".
(٧) دا خلور بیتونه په چاپي دیوانونو او قلمي نسخو کې نشته، ملا سبا یسته خان په نامه له قلمي جونګ څخه نقل شول. نوموړی قلمي جونګ د ښاغلي رفیع په شخصي کتابتون کې شته.

خلاص یې مګر ه بند پوان بند دې چې مې بند
چې په غاړه یې وي ستا د مینې پړی

هېڅه به رنځړی او ریمن ګرځي
چې یې ځهال وي په سینه د مینې زړی

که ملاح ستا د الطاف وي چې خلاص کا
ګنه نه شي خلاصېدی د عشق سیندوړی

دا نیمګړي سړي ننګ هم د خپل نام کا
ته خو خدای یې چې په هېڅ نه یې نیمګړی[1]

هېڅ بنده دې په بندګۍ کې لېده نه شي
چې تا خط د ازادۍ[3] نه دی وګړی

دا همه واړه شومیت دی د شومانو
ګنه ته د چا په زړه مه نه یې ستړی

چې بې تا یې په زړه باله هوا ګرزي
تر مقصوده به ونه رسي وګړی[4]

۲۹۶ — ۳۱۸٤

هر چې ستا په لاره قدم دراستی کېږدي
که یې زیان وي زه ملاح یې پوهوم

دا شاله لا سه ناست یم په زړه ستړی
په فلوس مې په کار نه دی درست وګړی

چې په ژوندي طمع پرېکړه شي له ژوندۍ[5]
نور په خه باندې ویرېږي سر پرېکړی

که ژوندون د عاشقانو په وصال وي
زه مهجور یم په دغه روایت مړی

خو ژوندون مې جدایي هسې راتېر نکړ
چې دغم له تلخۍ دمر نه شم رانغړی

دا صورت[6] په مثال خس محبت او دشو
تر دواړو په مخ کې خه کاندي خسړی

لا علاج به لکه اوښ باربرداري کا
چې په پوزه یې پېزوان ش د عشق پړی[7]

۲۹۷ — ۳۱۹۱

له احواله یې وو دوپوښتی یارانو
بېلتانه د ملاح واړه دی خطا کړی

---

(۱) د "پ پ" چاپ : "نه خوخدای وي چې په هېڅ نه وی نیمګړی".
"ق ،ک" او "ق" چاپ : "ته خوخدای یې په هېڅ شیز نه یې نیمګړی".
(۲) د "پ پ" چاپ او "ق ،ک" چاپ : "بزرګۍ".
(۳) د "پ پ" چاپ : "بزرګد".
(٤) د "پ" لومړی نسخه او د "خ" لومړی نسخه : "دوورې" ـ د "خ" دوهمه نسخه "خوب وړی".
(۵) د "خ" لومړی نسخه : "په ژوندون چې طمع پرې کا له ژوندونه".
(۶) د "خ" دوهمه نسخه : "دا ژوندون".
(۷) د "ق ،ک" چاپ : "دغم پړی".

خوبه هسې آزادي په دانهان کړې — چې خبرې به دسر و دسامان کړې (۱)
همېشه به دانهان درباندې نه وي — چې به سیل په بوستان په گلستان کړې
واړه دردي بدلوي (يې) په مشکنیو — هر تلاش چې د دنیا په سود و زیان کړې
غمخواري د آل عیال دې حمقي ده — چې دبل په زېږېدو خپل نقصان کړې
په نفاق کې به ضایع شي مردهاله — که نخواتر دښمن جمع خپل کاروان کړې
چې په دوو بېړیو پښې بندې هغه — بېهوده دلبستگي په این و آن کړې

د تېر عمر ارمان مه کوه ځانه — چیرې نه وي چې بیا د ساعت ارمان کړې

۲۹۸ — ۳۱۹۸

خدایه زړه د رقیب نرم په حسان کړې (۲) — ماله یاره ، یاره ماسره یکسان کړې
هغه د ردچې د آشنا د بیلتانه دی — دفع (۳) رفعې د وصل په درمان کړې
ته چې ما منع کوې د یاره لوړې — کشکې باد د سحر منع په بوستان کړې (۴)
غم د هجر چې تیرې ، تر اوږه سختدی (۵) — له دې غمې په امان کړې
کار و بار د عاشقۍ دې مشکل دی (۶) — دا مشکل زما په ما باندې آسان کړې
حجاب لرې کړه زما د یار تر میانه (۷) — بې حجابه مخ دیار راته عیان کړې
که مطلب د نور چا نورې من تېرې دی — ما گدای په آستانه د خپل جانان کړې
که دا نور عالم وبله خواته گوري — ما په لوري د دلبرو (۸) نگران کړې

---

(۱) دا غزل د "خ" له دریمې قلمي نسخې نه نقل شو.
(۲) دا غزل په مصوره نسخه کې نشته . د دې بیت لومړی مصرع د پېښور په چاپي دیوانونو او قلمي نسخو کې داسې ده : "خدایه زړه د مهربانو دیانو مهربان کړې".
(۳) په "پ" چاپ کې "دفع ورفع" راغلی دی.
(٤) دا بیت په قلمي نسخو او د پېښور د قصه خوانی "ق ، ک" چاپ کې نه دی راغلی
(۵) دا مصرع د "پ" په لومړی نسخه کې داسې ده : "غم د هجر چې بتر ترکانی اوږدی".
په پېښور چاپي دیوانونو کې داسې راغلی ده : "غم د هجر چې تیرې ترکانی اوږدی".
د "خ" په لومړی نسخه کې "غم د هجر چې تیر ترکم او ویږدی".
(۶) د پښتو ټولنې د لومړی نسخې نه پرته په نورو ټولو کې دا مصرع داسې راغلې ده : "کار و بار د عاشقۍ چې دې مشکل دی."
(۷) دا مصرع په پېښور چاپ کې داسې راغلې ده : "حجاب لرې کړه زما له یار تر میانه"
(۸) د "خ" په لومړی نسخه کې "دلبرانو" راغلی دی.

نه به ما منع کړې ته، له خپله یاره — نه به کوز په ځمکه ستوري د آسمان کړي[1]

زه چې یار له وړځم په هغې لاره ې — هټ خضر هټ الیاس مې رهبران کړي[2]

تا ریکې د معصیت راشخه واخلې — د طاعت په رڼښتالي مې زړه روښانکړي

چې زما په پریشانۍ ې[3] زړه سنه کیږي — زړه یې ما غوندې په یار پسې پریشانکړي

چې زما په ځمن راشي گستاخې کا — د شبنم په څېرې عمر یو زمان کړي[4]

چې ازاده د منکر ترسره پر پوځې — د فلك په څرخ مې توره د زبان کړي[5]

هغه غشي چې د ترکو د غمزو دی — هر کلام مې د هغه غشي پیکان کړي[6]

چې کشور د افغانانو معطر کا[7] — د هر بیت مسرۍ[8] مې زلفې د خوبان کړي

چې هر حرف مې د نافې په څېر خوشبوی شي[9] — برکت مې په جزدان په قلمدان کړي

الهي د خپل حبیب له برکته[10]

د ساده انشا رنگینه د لوح کړي

۲۹۹

۳۲۱۶

ما په تا پسې د اسپینې جامې رنگ کړي — ته لا بیا په ما گومان د نام و ننگ کړي[11]

هیڅ اثر دې په سنگین خاطر و نه شو — که هر څومې مصلي در پسې لنگ کړي[12]

---

(۱) د بیت په قلمي نسخو کې نه دی راغلی.

(۲) د امسرۍ د "پ" په چاپ کې داسې راغلی ده: "هټ خضر او الیاس مې رهبران کړي".
"ق، ک" چاپ کې داسې راغلی ده: "زه چې یار له وړځم په کومه لاره ې هټ خضر او الیاس مې رهبران کړي".

(۳) د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "ې" پر ځای "دې" راغلی دی.

(٤) د بیت د "پ" په دواړو نسخو کې نه دی راغلی.

(۵) د بیت د "پ" او د "خ" په لومړۍ او دواړو نسخو کې نه دی راغلی.

(۶) د بیت د "خ" په لومړۍ او دواړو او د "پ" په دواړو نسخو کې نه دی راغلی.

(۷) په "پ" چاپ او په پیښور طولو چاپي دیوانونو کې د "کا" پر ځای "شي" راغلی دی.

(۸) د بیت د "پ" په دواړو نسخو کې نه دی راغلی.

(۹) د امسرۍ په "پ" چاپ کې داسې راغلی ده: "چې هر حرف یې د نافې هسې خوشبو دی".
"پ" چاپ: "چې هر حرف یې د نافې په څېر خوشبوی دی".
د پیښور "ق، ک" چاپ: "چې هر حرف د نافې هسې خوشبو دی".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې: "هر چې حرف یې د نافې په څېر خوشبوی دی". د بیت د "پ" په دواړو نسخو کې نه دی راغلی.

(۱۰) د امسرۍ د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی ده: "الهي د پیغمبر له برکته".

(۱۱) دوې بیت لومړۍ مسرۍ په "ق، ک" چاپ کې داسې راغلی ده: "ما په تا پسې د اخیلې جامې رنگ کړي".
دوهمې مسرۍ یې د "پ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی ده: "ته لا بیا گومان په ما د نام و ننگ کړي" او نورې غزل په مصور نسخه کې نه دی راغلی.

(۱۲) د بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی: "هیڅ اثر یې په سنگین خاطر و نه شو که هر څومې مصلي در پسې رنگ کړي".

دلسوزي به دې په نور وګري خو وي[1] — چې له ما غوندې مخلصه سړه جنګ کړي

ته په عشق کې ما هاله درو غژن بولې — که[2] یو بل هم هسې ما غوندې ملنګ کړي

دا ناري سوري غمازي دې په عشق کې — ګنه ما به د بلبل په څېر آهنګ کړي[3]

عاشقي ومعشوقې ته سپینه لاره ده — ته وما وته دا سپینه لاره ګرنګ کړي[4]

چې یو دم مې له نظره پناه کېږي[5] — دا جهان لکه لحد راباندې تنګ کړي

په ښه خوی سړه د خلقو افسانه وي — خدای زما له کم بختیه په زړه سنګ کړي[6]

دادې څوک له ځنګه ناست دی نه پوهېږم[7] — چې خبرې له ناسخ سړه په ځنګ کړي[8]

۳۰۰ — ۳۲۰۲۵

که د عشق شکرې تېرې تر ګلو کړي — نور لذت به لکه زهر هسې تو کړي[9]

که دې وشي ملاقات له سرو قدو — د فاختې په څېر به کوکي په کوکو کړي[10]

عاشقي به د عشق توره در په لاس کا — تر ود صبر د سکوت په ملک به هو کړي[11]

په انصاف په عدالت به نوشیروان شي — هر عمل به[12] د خپل ځان په ترازو کړي

---

(۱) دامسرې په "پ" چاپ او "پ پ" چاپ کې داسې راغلی ده: " دل سوزي به دې په لور وګري خه شي".
په "ق، ک" چاپ کې د اسې راغلی ده: " دل سوزي به دې په لور وخلکو خه شي".

(۲) د "خ" په دواړو نسخو کې د " که" پر ځای " چې" راغلی دی.

(۳) دابیت په ارو واړو چاپي دیوانونو کې داسې راغلی دی: " داناري سوري غمازي دي په عشق کې گنه تل به د بلبل په څېر پتنګ کړي".
د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلی دی: " داناري سوري غمازي دي په عشق کې گنه تل به د بلبل په دود په ننګ کړي".
د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "داناري سوري په عشق کې دي غمازي"

(٤) دابیت په "پ" چاپ او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "د عاشق ومعشوقې ته سپینه لاره ده ته وما وته دا سپینه لاره ګرنګ کړي".

(۵) دامسرې په تولو واړو چاپي دیوانونو کې داسې راغلی ده: " چې یو دم مې له نظره ته یو خواشي".
د "خ" په لومړي نسخه کې دامسرې داسې راغلی ده: " چې یو دم مې له نظره یوه خواشي".

(٦) په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی: " په ښه خوی سړه د خلکو افسانه شي خدای زما له کم بختیه په زړه سنګ کړي".
د "خ" په لومړي نسخه کې: " چې ښه خوی بوی د خلکو افسانه یې".

(۷) په پېښور چاپي دیوانونو کې او د "خ" په لومړي نسخه کې "راته دوایه" راغلی دی.

(۸) د "پ" د لومړي نسخې نه پرته په تولو کې "جنګ" راغلی دی.

(۹) دا ردیف په مصوره نسخه کې نه دی راغلی.

(۱۰) دابیت د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلی دی "که په قد دسرو قد ودې گذرشي دقاضي په دود به کوکې په کوکو کړي".
په "ق، ک" چاپ کې په لومړي مسرې کې د "په څېر" پر ځای "هسې" راغلی دی.

(۱۱) دابیت د "خ" په لومړي نسخه کې نه دی راغلی او په تولو واړو چاپي دیوانونو کې یې دوهمه مسرې داسې راغلی ده: " لوند صبر د سکوت په ملک به هو کړي".

(۱۲) په "پ" چاپ او د "خ" په دوهمه نسخه او "ق، ک" چاپ کې د " به" پر ځای " چې" او په "پ" چاپ کې "که" راغلی دی.

د سکندر په خیر جهان به درخ ګندشي[1] — که سرګوزه په آیینه د خپل زانو کړي
ترې لوګی به یې د قند وپه خپر نغرد شي[2] — که صورت د عشق په اوږدې تماګو کړي
وبه مه وینې د ترکو مستي ستر ګې — مګر ځان په خپلو وینو کې سالو کړي[3]
که یو ځله توري زلفې په شانه کړي — خاکستر به په چمن کې کستالو کړي[4]
د ست جهان به قاف ترقافه معطر شي — که یو ځله شانه ګډه په ګیسو کړي[5]
ستا د زلفو مار خولی به روغ نه شي — که افسون د مسیحا و رباندې پوکړي
لاس وینې دې بې زپوره ښایسته دي — خه منت به د پایلو[6] د باهو کړي

که سوزن د بنو راوړي تار د زلفو[7]
د ځان د زړګي زخم به رفو کړي

٣٠١

٣٢٣٧

تا چې مخ دپرې ستر ګې د آهو کړي — نه پوهیږم چې آهوې که جادو کړي[8]
د عاګوی چې د چا ومري خه ښادي ده[9] — ته په خه زما ومرګې وته ارزو کړي
په محراب د عاشقانو کاڼي وودي[10] — ته چې چین د جبین غوته په ابرو کړي
تا چې رنګ د ګلو واخیست نه پوهیږم — زرغونه به په ګجره زما ګنګو[11] کړي
ستا له دیره د بره خوره معلومیږي — چې به ما په خپلو وینو[12] کې لاهو کړي

---

(١) دامسرې په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "دسکندر په خیر جهان به دې روزې شي"، په "پ" چاپ او "خ" لومړي نسخه کې "دسکندر په خیر شاهي به دې روزې شي" او پښتو "ق، ک" چاپ کې "دسکندر په شان جهان به دې روزې شي" راغلې دي.

(٢) د "پ" په لومړي نسخه کې "نغرده"، په "پ" چاپ کې "نغرده" او "خ" په دوهمه نسخه کې "نغر" راغلې دي.

(٣) د "پ" لومړي نسخه: "مګر ځان په خپلو وینو کې لاهو کړي".

(٤) دابیت په درو واړو چاپي دیوانونو، د "خ" په لومړي نسخه او "پ" په دوهمه نسخه کې په درپسې ردیف کې راغلی دی.

(٥) دابیت په چاپي دیوانونو، د "خ" په لومړي نسخه او "پ" په دوهمه نسخه کې په درپسې ردیف کې راغلی دی.

(٦) د "خ" په دوهمه نسخه کې "پاولیو" راغلی دی.

(٧) لومړي پنځه بیتونه په چاپي دیوانونو کې په "تا چې مخ دپرې ستر ګې دې آهو کړي" غزل کې راغلی دی.

(٨) دا غزل د "خ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې نه دی راغلی. او دابیت د "پ" په لومړي نسخه کې داسې راغلی دی: "تا چې مخ دپرې ستر ګې د آهو کړي تر وپرې که آهوې که جادو کړي"
دوهمه مسرې یې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "نه پوهیږم چې پرې یې که آهوې که جادو کړي".

(٩) د "خ" په دوهمه او "پ" په دوهمه نسخه کې د "ښادي ده" پرځای "ښادي که" راغلی دی.

(١٠) د پښتو "ق، ک" چاپ کې "پر یوځی" راغلی دی.

(١١) په "پ" چاپ کې "کنګو" راغلی دی.

(١٢) په "پ" چاپ، د "خ" دوهمه او "پ" په دوهمه نسخه کې د "وینو" پرځای "اوښو" راغلی دی.

(۱) زوغ به نه شي بې دیار له ښه دیدنه — که سل پنده سپیلنی ځوان ته لوکړي

د غفلت لیچن لیمه به دې روښان شي — که دیار د کوڅې خاورې ته څښکوکړي (۲)

دا دارو ته بد دوایي کوې طبیبه — چې دیار په درد وغم کې مې دارو کړي (۳)

نصیحت په عاشقانو اثر نه کا — دا محنت واړه بې ځایه بې قابو کړي

۳۰۲ — پې ماځان باندې بې یاره خوب حرام دی

۳۲۴۷ — که یې سل پالنګه (۴) لاندې تر پهلو کړي

که نظر په ما توګوره ودروګار کړي — هومره نه دی چې حساب یا به یې شمار کړي (۵)

په هر غم کې خاموش اوسه او که نه وي — د بدخواه خاطر به ښه ددوست ازار کړي (۶)

صبر ونیسه په مخکې که مراد غواړې — په تلوار به هیڅ ونکړي که تلوار کړي (۷)

رضا پاسله وقضا ته فراغت شه — او که نور څه نور څه والي ځان به خوار کړي (۸)

آزادي او کاروبار دي وبله لري (۹) — لاس له کاروباره وباسه که کار کړي

۳۰۳ — چې پخپله یې فاني بولې ځانه

۳۲۵۳ — تر وبیا څه په هغو چارو اعتبار کړي (۱۰)

---

(۱) دوې مخ لومړنی پڼه بیتونه ، په دوه وارو چاپي دیوانونو کې په "که د عشق شکرې تیرې تر ګلو کړې" غزل کې راغلي دي.

(۲) دا بیت په "پ" چاپ او "ق ، ک" چاپ کې داسې راغلی دی: "د غفلت لیچن لیمه به دې بیناشي که دیار د کوڅې خاورې دې څښکو کړي".
په "پ" لومړنۍ نسخه کې یې ورستۍ مصرع داسې راغلې ده: "که دیار د کوڅې خاورې دې څښکو کړي".
د "خ" په دوهمه نسخه کې دا مصرع داسې راغلې ده: "که دیار د کوڅې خاورې په څښکو کړي".

(۳) دا بیت د "پ" په لومړنۍ نسخه کې داسې دی: "دا دوا که بد دوا کوې طبیبه چې دیار په درد وغم کې مې دارو کړي".
په "پ پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "دا دارو ته بد دوا کوې طبیبه چې دیار په درد وغم کې مې دارو کړي".
د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "دارو دې دادی که دوا کوې طبیبه که دیار په درد وغم کې مې دارو کړي".

(۴) په ټولو وارو چاپي دیوانونو کې د "پالنګ" پر ځای "بالښت" راغلی دی.

(۵) دا غزل په مصوره نسخه او د "خ" په لومړنۍ نسخه کې نه دی راغلی. په "پ پ" چاپ کې دا مصرع داسې راغلې ده: "هومره نه دی چې حساب او یا یې شمار کړي".

(۶) په "پ" چاپ ، د پیښور "ق ، ک" چاپ او د "پ" په دوهمه نسخه کې "بناد" او د "پ پ" چاپ کې "خوښ" راغلی دی.

(۷) دا بیت د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی او لومړی مصرع یې په "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "صبر ونیسه په مخکې مراد غواړه".

(۸) دوې بیت لومړی مصرع په "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "رضا وسپاره قضا ته فراغت شه".

(۹) دا مصرع په چاپي دیوانونو کې داسې راغلې ده: "آزادي او کاروبار دي سره لري"؛ خو دپ په دوهمه او د "خ" په دوهمه نسخه کې د "وبله" او "سره" پر ځای "حبله" راغلی دی.

(۱۰) دا مصرع د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "تر وبیا څه په هغو چارو اعتبار کړي".

ولې ولې وعاشق ته نظر نه کړې — داگدای[1] په دیدن ولې توانگر نه کړې
ستادې دېرې حیا دېرکوونه وران کړل — چې وهچا ته کاته برابر نه کړې[2]
ستا په دېرحسن مې دا عقیده نه شي — چې دا دوغ وگړي واړه اوتر نه کړې
ته پلوله مخه واخله زه ضامن یم — که اورنگ دزمانې قلندر نه کړې[3]
زما هر زمان هردم په تا گذرلے — ته یودم زما په لوري گذر نه کړې
لکه ته چې دلاوه زما په مرگ یې — چیرې دارنگه رقیب دلاور نه کړې
زه دستا په جفا خوش یم تل تر تله — که غماز مې له دې راز خبر نه کړې
گذشته جوروجفا دې واړه وې[4] — که دا جور وجفا بار دیگر نه کړې
هغه شوك دې چې به ستاله دره دروې — کړې ته له خپله دره بدر نه کړې
سنگدلې ده هغو خلقو له ختمه — چې ته په مجلس وشې اثر نه کړې

ستامینې رسوا کړ باري حیف دی
چې ته هیڅ په دا خبره باور نه کړې[5]

۳۱۴

۳۲۶٤

وخوبانو وته ولې نظر نه کړې[6] — دچمن په گلو ولې گذر نه کړې
دا نهار چې دست جهان یې معطر کړ — دماغ ولې په دا بوی معطر نه کړې
رضا ولې په قضا سپارلی نه شې — دغه زهر په ځان ولې شکر نه کړې
جك زده[7] چې په ناروه مرگ خبرې — ځان پخوا تر مرگه ولې خبر نه کړې
چې دنود خلق په سر اچوي خاورې[8] — ته په خپله خاورې ولې په سر نه کړې

---

(۱) د "خ" په لومړی نسخه کی "خوار گدای" راغلی دی.
(۲) د "خ" لومړی نسخه : "ستا دې دېرې حیا دېرکوو وزمات کړ — چې هیڅا وته کاته برابر نه کړې".
(۳) دا بیت په مصوره نسخه کی نشته
(٤) چاپی دیوانونه : "گذشته جفا دې واړه آواره وې". د "خ" لومړی نسخه : "گذشته جور وجفا واړه معاف دی".
(۵) مصوره نسخه : "چې یې ته په دا خبره باور نه کړې"
(۶) دا غزل د "خ" په لومړی نسخه او مصوره نسخه کی نشته. لومړی مصرع د "خ" په دوهمه نسخه کی داسی ده : "ولې ولې پرخوبانو نظر نه کړې".
(۷) په "ق، ک" چاپ کی "خواب آلود" راغلی دی.
(۸) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ : "چې لوند خلك دې په سر اچوي خاورې". د "خ" دوهمه نسخه او "پ" لومړی نسخه : "چې دې لوند خاورې په سر اچوی لوند خلك".

پس له مرګه چې بیا مې له لوبې تندې ولې نن ساعت توبه د محشر نه کړې

۳۰۵

داویل چې دې اثر کاندې په نوروز[1]
اې ساقي نا له په ځان ولې اثر نه کړې

۳۲۷۱

چا چې نمې وې په خپلو وینو وللې[2] د شبنم په څېر به تل وې سپین سپېڅلې
چې صیاد څخه داوښکو دانې نه وې د هوا مرغان هېچا نه دې نیولې
هر یو مخ کله لایق د آب وې وې اوښکې نه درومې په مخ د هر ناولې
هره شپه به شمع خدای ژړا کا کې ده وې په ژړا کې څه موندلې
چې سیلاب د عاشقۍ وربانډې راغی مخلوقات په مخه لاړل لکه خلې[3]

۳۰۶

ما ساقي به ژړا نه کړه له خوبانو
کې مې نه وې په قسمت داهسې شکلې

۳۲۷۷

دلمې مخ چې ستا له مخه نه شرمېږې تر و دا رنګه ولې زېږ ذغون[4] شکارېږې
دا سپوږمۍ چې نه یې سرشته نه یې پښې شته په کوم حسن به له تا سره سمېږې[5]
زړه مې یو ورستا د مخ په رڼا زلفو باري غل په سپین سباکله پټېږې
خم ابرویې د پناه د زلفو تم شو دلرم لشه له ما سره تا وېږې[6]
که قامت[7] دې څوک شمشاد بولي غلط دې دلګیو په نرخ سپین زر نه یا فتېږې
ودند انوته دې دُر ویلی نه شم[8] کانی کله د بې ښتا په دود ځلېږې

---

(۱) چاپي دیوانونه : " داویل دې اثر کله کا په نوروز".
(۲) دابیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته ، د "خ" په لومړۍ او د "پ" په لومړۍ نسخه کې لومړی مصرع داسې ده : " چا چې لاس وې په خپلو اوښکو وللې".
(۳) دابیت د "ق ، ک" له چاپي دیوان نه نقل شو په لوړ د چاپي دیوانونو اوقلمي نسخو کې نشته.
(٤) چاپي دیوانونه : " لمر سپوږمۍ که ستا له حسنه نه شرمېږې تر و دوی ولې زېږ غونه او زېږ شکارېږې".
(٥) د "پ" په لومړۍ نسخه کې "رسپېږې" داغلی دی.
(٦) دابیت او دوه لوړ بیتونه د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته د "پ" په لومړۍ نسخه کې دابیت داسې دی : " خم ابرویې د پناه د زلفو یم شو دلرم له نیشه ما رحیله تا وېږې".
(۷) په چاپي دیوانونو کې "ستا قامت" داغلی دی.
(۸) "پ" چاپ : " وسپین غاښونه دې دُر ویلی نه شم".

ستا د زلفو د ابرو یوله وحشته[1] — همگي لړم ماران دي چې ودېږي
لکه لوند زړه وکې تاوکړي نوې وږي — ستا له غمه مې رنګ زېړ پوست دی چې ګېږي[2]
سپوږمۍ هم هدا هسې تا وخوري ستا له مخه — چې په هره میاشت کې دوه دوه نیمه کېږي
مخ دې او د خط دې سبزه ده زه حیران یم — چې سبزه په اوږدې شرنګ زړغونډېږي
او د او به سره چاګډ لېدلي نه دي — دا قدرت دی ستا په لبوکې نمایېږي[3]

۳۱۷ — ۳۲۸۹

باریک خط یې زلفو لاندې کړم ساتم له نسه
مور چګان شپې له مخه پایمالېږي

صبحدم چې هغه یار را باندې راشي — عجب لمر دلمر د پاسه هویدا شي
سنګلي مخ له زړه حاجت د سینګار نشته — بې ترتیبه چې لمر وخېږي رڼا شي
چې یې وینم له ورایه پورې نسلم — لکه پېښې چې وبله کاه وکهربا شي
ماله دېرې ناچارې ویارته شاکره — ناروا د ضرورت په ځای روا شي
زه په وصل کې خواري د هجران ژړم — دهر کار فکر ترکاره لاپخوا شي
لاپخوا تر جدایۍ نه ژړا بویه — ګنه هلته هر یو ژړي چې جدا شي
وصال نه دی چا په سر ومال موندلے — مګر غاړه په داکار دچا ادا شي
زه به سر ومال د یار تر نامه جار کړم — دا په عشق کې سهل کار دی که په داشي

۳۱۸ — ۳۲۹۸

د ساتم له نسه په او سنګو هسې رنګ پوهېږم
چې آخر به په تمام جهان رسوا شي[4]

کرد ګلو کړه چې سیمه دې ګلزار شي — اغزي مه کړه په پسنو کې به دې خار شي

---

(۱) په قلمي نسخو کې "له ورېځې" راغلی دی.
(۲) دا بیت او ورپسې بیت په قلمي نسخو کې نشته.
(۳) د "خ" په دوهمه نسخه کې "سنګاریږي" راغلی دی.
(۴) د "پ" لومړۍ نسخه: "چې دا پټ راز به په تمام جهان رسوا شي".

تهچې بل په غشو ولې هسې پوه شه — چې هم داغشی به ستا په لسو ګوزارشي
کوهي مه کنه دبل سړي په لار کې — چې ري ستا به دکوهي په غاړه لارشي
تهچې هرچاته په خوار و ستر ګو ګوري — لاهومبی به ستا صورت ترخاوره وخواره شي
آدم زاد په معنی واړه یو صورت دی — هرچې بل ازار وي هغه ازار شي
که ته نه کوې نظر دچا وعیب ته — هرسړی به ستا دعیبو پرده دار شي
دهقان کر په اوړه حمله باندې نه کا — سرکوزې کوه چې بن دې مرغزار شي (۱)
دمات لوښې آواز کله ثابت خیژي — دهرچا عمل شر ګند په خپل ګفتار شي
نر چې صبح دی روښانه لار سمې کړه — ناګهان به دې دا صبح شب تار شي (۲)
لږ یې مه ګنه که هر څو ګناه لسن وي — چې لږ لږ وبله جمع کړې بسیار شي
که بل بد کاندي ته ښه ورسره وکړه (۳) — هر یو نخل چې میوه لري سنګسار شي
تل وښو وته آزار د بد و رسي — هرچینجی ونرم چوب وته دوخار شي (٤)
هغه زړه به له طوفانه په امان وي — چې کښتی غوندې دخلکو بار بردار شي

۳۱۹ — ۳۳۱۲

خدای دې بد له لاسه مکړه او که وې هم
د صالح دې له کل بد و استغفار شي

هر وګړی چې منصور غوندې په دار شي — دار یې پس له مرګه نخل میوه دار شي
روغ صورت که روغ عالم له کمال دی (۵) — لیونی له کمال دې چې سنګسار شي
هر ګیاه چې وکمال ته ورسیږي — سر وځکې وته کوز وي نګونسار شي
نری باد به یې په خپل منزل داخل کا — که څوک پاڼه دخزان غوندې طیار شي (٦)

---

(۱) قلمي نسخې : " سرکوزی کړه چې پټی دې مرغزار شی".
(۲) دابیت په "ق،ک" چاپ او "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۳) قلمي نسخې : " که بل بد کاندي ته ښه کړه مه رنځېږه ".
(٤) "ب" چاپ او "پ" چاپ کې "چوب ته ور دوخار شی" داغلطی دی.
(۵) "خ" په دوهمه نسخه کې "په کار دی" داغلطی دی.
(٦) "ق" چاپ او "ق،ک" چاپ کې "گذار" داغلطی دی.

غفلت هیڅ مناسب نه دی په سپین زړه ښه
صبحدم که ځنا وردی هم بیدار شي

چې یو موتی اېږي ناز په آیینه کا
په دغه خبره فخر د خاکسار شي (۱)

کریمانو سود موندلی دی په زیان کې
لکه ښاخ دونې وتراشي باردار شي

خزانه په سخاوت سره زیاتیږي
د کوهي اوبه چې وکاږي بسیار شي

مزول دوږي ګیډې مشکل نه دی
مزول دوږیو ستر ګو مشکل کار شي

کم خوراک سړی نژدې کا فرشتو ته
هر سړی چې بسیار خوار شي بسیار خوار شي

صاف دلانو له لږ نصیحت بس دی
د ګوهر و پوستون په نږي تار شي

غلبه د عشق بانه د حسن غواړي
توره شپه په عاشق زلفې د خپل یار شي (۲)

د توفیق له مخه هر مشکل اسان دی (۳)
وستي وته داوږلمې ګلزار شي

ناز د حسن پرورش مومي له عشقه (٤)
هسې نه چې د خوبانو په سینګار شي

راحت بې محنته نه دی چا موندلی (۵)
د وصال خوښي د هجر په مقدار شي

عاشقانو له واړه سعادت دی
که یې سر و مال د یار تر نامه (۶) زار شي

یاره ! یاره ! هر څوک وایي په ګمان کې
زه به پس له مرګه وایم چې یار یار شي (۷)

لکه دار کاندي د غوږ له ګرګانو
هسې رنګ له جدایۍ نه زما دار شي

د ساحل داپوچ ګوې څه په کار نه ده
عاشقي په ګفتار نه شي په کردار شي

۳۱۰

۳۳۳۱

تبسم مې دوګړی په روزګار شي
چې یې نه له خدایه وېره نه یې دار شي (۸)

---

(۱) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۲) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۳) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته او د "خ" په نیګړې نسخه کې د "توفیق" پر ځای "توکل" راغلی دی.
(٤) چاپي دیوان او د "خ" دوهمه نسخه : "نان د عشق پرورش مومي له عشقه".
(۵) چاپي دیوان : "بې محنته چا راحت موندلی نه دی" او دا بیت او وروسته دوه بیتونه د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۶) په "ق، ک" چاپ کې "خانه" راغلی دی.
(۷) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۸) چاپي دیوان او د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه : "چې له مرګه یې نه وېره نه یې دار شي".

له ده وزېږي دده د وړاندې ومړي — لايې مينه د دنيا په کار وبار شي
که يې هر قدم دمړيو په سر لاړوي — يو قدم هسې واخلي چې په لار شي
دژوندي يو نصيحت پرې اثر نه کا — مګر مړه قبره پاڅي په ګفتار شي
دا ميد مزي يې هسې رنګ دا زوي — چې له خضره ودته خپل عمر بسيار شي
سپينه ږيره په اورمې کې زوي راواخلي — چې به مالره سپاهي او منصبدار شي (۱)
دخرما زړې نهال کا ورته ګوري — چې دا سيوري دا ميوه به مې په کار شي
هر هر فصل چې تري ربې هوسيږي (۲) — چې به ګانده راته بل فصل تيار شي
لايې لپه تخم هم کړلے نه وي (۳) — ناکِشته يې ځني طمع دخروار شي
غرونده دناز وکړيو خسيو غمري — چې سبا بيګاه به مالره ګوهار شي
لکه ورکې کتوري غواړي له زاني — په داهسې پوچ ګويي يې اعتبار شي
چې هرګز په عمر نه وي چېري شوي — دهغو ناشد نيوا ميد وار شي (٤)
هلکانو غوندې پاس په کوته ځغلي — خو چې دوه قدمه واخلي نو رحصار شي
په زحمت دتن له مالګې هم پرهيز کا — هغه ندکا چې له نهې پرهيزګار شي
دژوندون په تېرېده يې نظر نه وي — چې دا ګنج به مې له لاسه تار په تار شي

ما لخ

۳۱۱

خه دی خه به پند واړي وچاته
هدايت دهر بنده په کردګار شي (٥)

۳۳٤۷

چې شهيد د تودوسترګو په خنجر شي (٦) — خوشنودي يې دسروشونده په کوثر شي
چې راياد يې سپين رخسار دازمرګاګرم (۷) — هغه دم مې زړه سپند سينه مجمر شي

---

(۱) دابيت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(۲) قلمي نسخه: "هر هر فصل چې تېرېږي هوسيږي".
(۳) "ق" چاپ: "لايې پا نه تر بيندم نه وي رېبلې".
(٤) دا ګلور بيتونه په چاپي ديوانونو کې نشته.
(٥) د "خ" لومړي او دوهم نسخه: "هدايت دهر بنده په خپل کردار شي". (٦) دا غزل د "ب" په لومړي نسخه کې نشته.
(۷) "ق" چاپ: "چې راياد يې لوړمژګان او سپين رخسار کرم". "ق ا ک" چاپ: "چې راياد يې توري سترګې سپين رخسار کرم".

عندلیب خاطرمې الوزي په گلو | که د ترکو سنبل زلفې يې شهپر شي
که يار سل حله جفا راسره کاندې | زما کله په جفا د يار باور شي
دناصح په نصيحت به منع نه شم | که هزار حله مې ورور او برادر شي (1)
د رقيب او زما صلح سره نشته | که موچې يې لاس ودست وبله بر شي (2)
صبرې او قرارې له ما خطا دي (3) | ترهغه ساعته پورې چې محشر شي
تېر ساعت به دهچا په لاس کېنوزي | مگر تبللی آشنا بيا په آشنا ورشي

۳۱۲ | خوبرويان به د سيوبې مې توکره واخلي (4) | ۳۳۵۶
که رحمان کچکول په لاس کې قلندر شي

چې غبار دستاله لارې په خواوره شي (5) | که په دواړو سترگو روندوي مبصر شي
تازه نوی سرپيدا کا لکه شمع | چې يې غوڅ دستا په مينه دزړه سر شي
چې کيميا د قناعت يې په لاس کېوزي | که گدای وي د قارون پېڅېر توانگر شي
ستا د در گدايان واړه بادشاهان دي | خو چې ستاله دره ووزي در په در شي
تل يې مخ وي له عالمه جار وتلی | دهغو چې ستا په مخ باندې نظر شي
که د درست جهان له حاله خبردار وې | چې تا وويني له واړو بې خبر شي

۳۱۳ | آيينه که د جمال کمې ورڅرگنده | ۳۳۶۳
دا گدامې رحمان به شاه سکندر شي

که دې غم د درست جهان ترزړه چاپېر شي | دلگير مه شه هسې وايه چې به تېر شي

---

(1) د "خ" دوهمه نسخه : "ياره".
(2) "ق، ک" چاپ : "که موچېرې لاس په يو بل سره بر شي".
"ق" چاپ : "که موچېرې لاس وبله سره بر شي".
د "خ" لومړی نسخه : "که دم لاس ودست چې وبله برابر شي". دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(3) د "خ" لومړی نسخه : "له صبورې له قرارې زما توبه ده".
(4) د "خ" لومړی نسخه : "خوبرويان به د سيوبې مې توکره وې واخلي که رحمان کچکول په لاس قلندر ورشي".
(5) په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "په چا ورشي" راغلی دی.

غم هغه دی هر چې خبر مه وي وچاته[1] — وهومبی واړه تر وستیه پورې هېر شي

بې له خدایه چې مدام په یوه حال دی — سړی کله شېر شاهي شي کله سېر شي

یو آدم دی چې په خونګه جلوه کا — یو رقم دی کله زور شي کله زېر شي[2]

د دنیا چارې مدام په قرار نه وي — د بنو په ځنبول کې په بل پېر شي

په لږ غم کې د بې غم له کومه راغی[3] — خوله خپلې بې صبرۍ په سړی ډېر شي

خریدار وفروشنده چې سره خوښ شي[4] — په سوداګې سختي نه کا تېر وبېر شي

۳۱۴ — بنا یسته په جهان ډېر دي بې حسابه
باري څوک به د ګلرخ دیار په خبر شي — ۳۳۷۱

له دې کتنه له پوزیه خوبه ولاړ شي — تر وبیا خدای خبر چې کومه خوابه لاړ شي[5]

په ظاهر صورت خوهسې[6] معلومېږي — چې به خسن غوندې تر پسنو لاندې لټاړ شي

دا آسمان ځمکه به وي اوته بدنه یې — په ودانه ودانۍ کې به وېجاړ شي

د بهار ګلونه مدام نه وي — عندلیب غوندې به پاتې پاهاړ[7] شي

په ویلاړ ویلاړ به ځان وپسې ورک کړي[8] — چېرې نه وي چې د تر کو په ویلاړ شي

۳۱۵ — که لیلی غواړې د ځانه بایده دادې[9]
چې مجنون غوندې ساکن د کوه وکاړ شي[10] — ۳۳۷۷

---

(۱) د "خ" لومړی نسخه : " غم هغه دی هر چې خبر مه وي وچان ته".
(۲) د "خ" د همه قلمی نسخو : " یو قسم دی کله زور شي کله زېر شي".
(۳) د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه : " په لږ غم کې د بې غم له کومه راغی".
(٤) قلمی نسخې : " خریدار وفروشنده وبله راضي شي".
(۵) د "ب" نسخې او د "خ" د همه نسخو : " له دې کتنه له پوزې خوبه لاړ شي تر وبیا خدای نه ده چې په کومه خوانه لاړ شي".
مصوره نسخه او د "خ" لومړی نسخه : " تر وبیا خدای خبر چې کومې خوانه لاړ شي".
(٦) په "ق ،ک" چاپ او "ق" چاپ کې " داسې " راغلی دی.
(۷) "ق ،ک" چاپ : " په سوهاړ شي"
(۸) د "خ" لومړی نسخه او "ق ،ک" چاپ او "ق" چاپ ، " په ولاړ ولاړ به ځان وپسې ورک کړي".
د "خ" د همه نسخه : " په ژړا ژړا به ځان وپسې ورک کړي " او لومړی بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۹) چاپي دیوانونه : " که لیلی غواړې بایده دی دا ځمانه" او لومړی بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۱۰) د "خ" لومړی نسخه : " کوهسار"

که دزړه میړه وسروي خوچې مړ شي
نه يې نوم په خوله اخيست شي نه نومړ شي[1]

که هيچا پرکړې نه وي په جهان کې
واجل ته لکه خر په خټه پړ شي

راشه راشه دا دې ناز او کبر مه کړه
يا ره څو به دې دا ناز په جهان وړ شي

دا رخسار چې دې روښان تر آيينې دی
عاقبت به د لحد په خاورو خړ شي

مراد خواره دلبرې دي غزا وشوه[2]
که د سروي په څېر څوک په قامت لوړ شي

نيکنامي له نيک خويې نه پيدا کېږي
دغه چاره نه په سوک نه په لوړ شي[3]

عاشقان چې پښيمانېږي هغه نه کا
هغه سوک دې هنروي چې خپړ شي[4]

دهوا په نغوته مه ځه که دانا يې[5]
دهوا[6] ويشتلی غشی نه په زور شي

داخوزه له شفقته تا ته وايم
ګنه ځان له سرنوشته په چاڼ غړ شي

وران به نه کاندي يو حرف خپلې بخرې
که په اوښکو دچادرست جهان چړ شي

په تدبير به د تقدير کښلی نون نه کړي
د قسمت علاج په عقل کله کړ شي

په ساح[7] بې يا ره صبر هسې ګران دی[8]
لکه زهر چې ديده دانسته نغړ شي

٣١٤

٣٣٨٩

هغه دم چې زړه ملال شي
يو ساعت وړ باندې کال شي

حيران تللی وي په فکر
فراموش يې قيل وقال شي

نه يې ګفت نه يې شنود وي
په غوږ کوڼ په ژبه لال شي

نه ځواب وچاته کاندي
نه يې غوږ دچا په سوال شي

---

(١) چاپي ديوانونه : "که د سر وزړه سړي وي خوچې مړ شي نه يې نوم په خوله څوک اخلي نه نومړ شي".
(٢) قلمي نسخې : "مراد همه له دلبرې دی غزا وشوه".
(٣) دا بيت په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې نشته.
(٤) قلمي نسخې : "عاقلان چې پښيمانېږي هغه نه کا هغه سکوی دبې هنرو وي چې سپړ شي".
(٥) "خ" لومړۍ نسخه : "دهوا په فريب فهم کمزوری که دانايي".
(٦) په قلمي نسخو کې "هوايي" راځي دی.
(٧) چاپي ديوانونه : "په ساحمان باندې بې يا ره صبر ګران دی".
(٨) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ : "قال شي".

علم عقل ځنې لاړ شي — درست صورت یې خواب وخیال شي[1]
په رنوستر کو ویده وي — لکه نقش د دیوال شي
قوت یې وینې د جګر وي[2] — هم دغه یې اشتغال شي
د چشمانو له بارانه[3] — په رخسار یې پشکال شي
په سبب د عاشقۍ — تېر[4] تر آل وتر عیال شي
هم تر آل وتر عیاله — تېر تر مال وتر منال شي[5]
په خپل درد و په خپل غم کې — له[6] عالمه فارغبال شي
که ژوندی وي په جهان کې — د مرده ؤ په مثال شي
نه طاقت نه یې مجال وي — بې طاقت وبې مجال شي
په خشکۍ کې ماهي ګوره — هسې بې تیغه حلال شي[7]
پاخېدی نه شي له ځایه — په زړه غوڅ په تن کمال شي
د وپشتلیو په څېر یون کا — د کل خلق په د نبال شي
لکه خس د لوېې لاړ ي — تر قدم لاندې پایمال شي
خدای له غمه سړی ژغوره[8] — بیا لا کوه چې[9] خوشحال شي

---

(۱) دا بیت د "خ" په دواړو نسخو کې نشته. په چاپي دیوانونو او نورو قلمي نسخو کې د لومړي مصرع د "لاړ شي" پر ځای "پاڅي" راغلی دی.
(۲) د "پ" لومړي نسخه: "خوري".
(۳) د "خ" دواړو مصورو نسخو: "له باره شه".
(٤) د "خ" دواړو نسخو: "هم تر آل وتر عیال شي".
(٥) مصور نسخه: "هم تر آل تر عیال تېر شي هم تر مال وتر منال شي".
د "خ" لومړي نسخه: "هم تر آل تر اولاده هم تر مال وتر منال شي".
په چاپي دیوانونو کې یې دواړو مصرعو دا ډول راغلي دي: "هم تر مال وتر منال شي".
(٦) "پ" چاپ، "پ" چاپ او "ق" چاپ: "تر عالمه"
(۷) د "خ" لومړي نسخه: "هم بې تیغه حلال شي"
د "خ" دواړو نسخو: "د ماهي په څېر بې ګوره هسې بې تیغه حلال شي".
(۸) "ق" چاپ: "ژغوري".
(۹) چاپي دیوانونه او نوري قلمي نسخې: "بوسه".

چې دزړه وينې شي و چې نوې وينې په محال شي[1]
د باغبان سترګې کا سپينې[2] چې تازه نخل و نهال شي
روئيدن[3] د کښت آسانډی پرورش يې لوی[4] جنجال شي
ويرانې په يوه دم شي آبادي په دېر اشکال شي
چې پلار ومړي بيالابويه چې يې زوی باکمال شي[5]
څوک خبر دی له دې دوره چې په ما به پېښ څه حال شي[6]
چې په حال کې يې حال نه وي څه اميد په استقبال شي[7]
ديوه ساعت له مخه خدای زده څه رنګه احوال شي[8]
د دنيا چارې فاني دي رفت آمد يې په يرغال شي[9]
په مثال لکه د سيوري خوا وشا دهر د پوال شي[10]
اعتماد په اوبو مه کړه چې استاد يې په غربال شي[11]

---

(۱) چاپي ديوانونه : " چې دزړه ولې شي غوښې لوز ژوندون يې په اشکال شي "
د "خ" دوهمه نسخه : " دزړه ولې يې شي غوښې دواکول يې په محال شي ".
مصوره نسخه : " لوز يې ولې په محال شي ".
(۲) د "خ" دوهمه نسخه : " دباغبان کې سترګې سپينې ".
(۳) د "پ" لومړی نسخه : " دروئيدن ".
د "خ" دوهمه نسخه : " داروودن ".
(۴) چاپي ديوانونه : " دېر جنجال شي ".
(۵) قلمي نسخې : " چې يې زوی په کمال شي "
د "خ" دوهمه نسخه : " چې فرزندې په کمال شي ".
(۶) " ق " چاپ : " څوک خبر دی له خپل دزړه چې به پېښ راته څه حال شي ".
قلمي نسخې : " چې زمان لره څه حال شي ".
(۷) مصوره نسخه : " بې طاقته بې مجال شي ".
د "خ" دوهمه نسخه . لومړی مسرعه : " چې په حال کې يې تد وينې ".
(۸) " پ " چاپ او " پ " چاپ : " خدای زده څرنګ به احوال شي ".
مصوره نسخه : " ګوره څرنګه احوال شي ".
(۹) د "خ" دوهمه نسخه : " رفت آمد يې په مزبال شي ".
مصوره نسخه : " رفت آمد په دېر غال شي ".
(۱۰) د " پ " لومړی نسخه : " دهر دجال شي ". د "خ" لومړی نسخه : " ددې دپوال شي "
مصوره نسخه : " دهر رجال شي ". مګر دابيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته .
(۱۱) دابيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته . (پاته په ۲۳۷ مخ کې)

د بنو په حنبول کې شال شړی کاشړی شال شي
که بادشاه د ولایت وي کندولی په لاس کنګال شي[1]
په ثواب یې غلط مه شه په یوه ساعت[2] وبال شي
په کمال یې مه ناز پښه په یوه ګړی زوال شي
دهاتیانو سوداګر وي بیاد ګاوخر دلال شي[3]
جوهري وي د ګوهر و[4] خاوري اغزی د کلال شي[5]
کلالي او ګل کاري کا فروشنده د مات سفال شي[6]
په هستی کې یې اشراف وي په نیستی کې یې ارزال شي[7]
د خوانی په وخت کې شپږ وي د پیری په وخت شغال شي[8]
چې مشهور په صداقت وي پوچ ګویي واخلي بطال شي
محتسب وي احتساب کا کوتوالي واخلي کوتوال شي
نیکوکاره نیک افعال وي بدکردار او بد افعال شي[9]
سرنوشت د سړي ګوره[10] یو عیسی وي بل دجال شي
چې نیک بخت وي نیکویي کا چې بدبخت وي بدسګال شي[11]

د (۲۳۶) مخ د پایلیک پاته برخه:
- په چاپي دیوانونو کې د "اعتماد" پر ځای "اعتبار" راغلی دی.
د "پ پ" چاپ : "استاده به په عزبال شي"
د پیښور لوړ دوه چاپي دیوانونه : "چې ولاړې په عزبال شي".
د "خ" لومړی نسخه : "چې استادی په سفال شي".
مصوره نسخه : "چې استادې په دبرغال شي".

---

(۱) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۲) د "خ" دوهمه نسخه : "په یوه ګړی".
(۳) قلمي نسخې : "ګاو دلال او خر دلال شي".
(۴) چاپي دیوانونه "جوهري وي جوهر پلوري"
مصوره نسخه : "جوهري وي ګوهر پلوري".
(۵) د "خ" لومړی نسخه : "خاوري اغزی د کلال شي".
د "خ" دوهمه نسخه : "فروشنده د مات سفال شي"

(پاته په ۲۳۸ مخ کې)

لاس وپینې د هغو نیسه — چې خوش خوی وخوش[1] خصال شي
په هجران کې ناامیده مرشه — خدای قادر دی که وصال شي[2]
په حرامو کې امید کړه — گوندې مخ دې په حلال شي[3]
کافر وباسي له کفره — په یوه ساعت ابدال شي[4]
تورهستی کاندي ترسپینو — په سپین مخ باندې تورخال شي[5]
ارزومند د یوه خره[6] وي — خداوند د ملك ومال شي
چې سیالي یې کړې نه وي — له سیالانو سره سیال شي
چې په عمر مفصل وي — په ساعت کې اتصال شي[7]
ممکنات به منع نه کا[8] — که څوك سل حله سنبال شي
چې د خدای رضا شي پیښه — رمل پاتې در مال شي

فال به څه گوري[9] — خپل افعال[10] د سړي فال شي

۳۱۷ — ۳۴۴۳

د (۲۳۷) مخ دپایلیك پاته برخه :

(۶) دابیت د "خ" په لومړی نسخه کی نشته . دوهمه نسخه : " خاورې اغزی کلال شی ".
(۷) دابیت د "خ" په لومړی نسخه کی نشته.
(۸) دابیت د "خ" په لومړی نسخه کی نشته . د "خ" دوهمه نسخه : " دځوانۍ په ساعت شپږوی دپیرۍ په وخت شغال شی".
د "پ" لومړی نسخه : " په پیرۍ کې شغال شی ".
(۹) دابیت په مصوره نسخه کی نشته او په چاپی دیوانونو کی لومړی مسری داسی ده : " منکو کار وي منک عمل کا ".
دوهمه مسری په "ق" چاپ کی داسی ده : " او بد کاره بد افعال شی ".
(۱۰) دابیت په مصوره نسخه کی نشته . په چاپی دیوانونو او لوړو قلمی نسخو کی یې لومړی مسری داسی ده : " سرنوشت دسړی خپل دی ".
(۱۱) دابیت په مصوره نسخه کی نشته د "خ" په لومړی نسخه کی یې دوهمه مسری داسی ده : " چې بد بخت شی بد شکال شی ".

---

(۱) دابیت په مصوره نسخه کی نشته . په چاپی دیوانونو او د "خ" په دوهمه نسخه کی دوهمه مسری داسی ده : "چې خوش خویه خوش خصال شی".
(۲) دابیت د "پ" په لومړی نسخه او مصوره نسخه کی نشته لومړی مسری یې د "خ" په لومړی نسخه کی داسی ده : " په هجران کی ناامید شی".
(۳) دابیت په مصوره نسخه کی نشته . د "پ" لومړی نسخه : " په حرامو امید مدکړه گوندې مخ دې په حلال شی".
د "خ" لومړی نسخه : "په حرام کې امید وار شه " او د "خ" دوهمه نسخه : " په حرام امید وار مدشه".
(۴) دابیت او درپسې بیتونه په مصوره نسخه کی نشته . (۵) قلمی نسخی : " په سپین مخ دپاسه خال شی ".
(۶) په چاپی دیوانونو او د "خ" په لومړی او دوهمه نسخه کی "خس" راغلی دی.
(۷) دابیت د "خ" په دوهمه نسخه کی نشته د "خ" لومړی نسخه ، "پ" چاپ او "ق" چاپ کی لومړی مسری داسی ده : " په دبر عمر منفصل وی". د پیښور په لوړو دوو چاپی دیوانونو کی داسی ده : " په دبر عمر معضل وی". (۸) ، د "پ" لومړی نسخه ، " ممکنان به منع نه کا ".
د "خ" دوهمه نسخه : " ممکنات یې طبع نکه "
(۹) "ق" "ک" چاپ : "عمل".

هرچې ستا په زنخدان کې[1] يې منزل شي — لکه خس په تناره کې به جلبل شي
چې څوك نوم دستا دشونډو په خوله واخلي — که يې زهر وي په خوله کې هم عسل[2] شي
په عاشق باندې گمان داهسې مه کړه — چې يار زړه ورڅخه يوسي تش کوګل شي
زه په هجر کې بې برګ وبې نوايم[3] — لکه کښت چې اوبه نه مومي شډل شي
په ګمان تر آشنايۍ خواږه څه نشته — ولې حيف دی چې هجران يې حنظل شي[4]
په خپل حسن باندې مه نازېږه ګله — دغه رنګ به دې په دوو ورځو بدل شي[5]

۳۱۸ — زه ګمان بې يار ه هسې شول وشل يم[6] — ۳۴۵۰
لکه کب چې بې محيطه شول وشل شي[7]

کسل خله هم کنار وم بغل شي — د دنيا مين به واړه سره بېل شي[8]
دا چې اوس په يوه کوټه کې سره ناست وي — عاقبت به يې جدا جدا منزل شي
دا ګلونه چې يې ځاځې په دستار کې — همه واړه به تر پسولاندې غوبل شي
دا پې مخې چې يې مخ دلمر په خېږ دے — تود وپسته به يې په مخ باندې ځنګل شي[9]
دا شېرين شېرين شربت چې دوصال دے — د هجران په وخت به[10] زهر هلاهل شي
ماديار په بېلتانه کې دی لېدلی — که دا نادزمانې وي مبدل شي

---

(۱) د "خ" د همه نسخه : "زنخدان باندې منزل شي"
(۲) د "خ" لومړی او د همه نسخه : "که يې زهر وي په خوله کې يې عسل شي"
(۳) چاپي ديوانونه : "په هجران کې زه بې برګ وبې نوايم".
د "خ" لومړی نسخه : "زه په هجر کې د ترکو بې نوايم".
(۴) د "پ" لومړی نسخه : "په ګمان کې تر آشنايۍ خواږه نشته — ولې حيف چې په هجران کې يې حنظل شي".
د "خ" د همه نسخه : "پر ګمان د آشنا يانو خواږه نسته — ولې حيف چې يې هجران د زړه صيقل شي"
(۵) دا بيت د "خ" له دواړو قلمي نسخو نه نقل شو په لومړی نسخه کې نشته او د لومړو قلمي نسخو او چاپي ديوانونو کې نشته.
(۶) د "پ" چاپ : "شم".
(۷) د "پ" لومړی نسخه : "لکه کب چې بې محيطه شل وشل شي".
د "خ" لومړی قلمي نسخه : "لکه کب چې بې محيطه شل وشول شي".
د "خ" د همه نسخه : "لکه کب چې په محيط کې شول وشل شي".
(۸) چاپي ديوانونه : "د دنيا په مينه واړه سره بېل شي".
(۹) دا بيت د "خ" په نسخه کې نشته.
(۱۰) د "پ" په لومړی او د "خ" په لومړی نسخه کې "کې" راغلی دی.

پښه له وېرې د وصال په ځمکه نه ږدي — چې خبر د جدايۍ په دلبدل شي[1]
ددې هسې رنځ علاج به څوك په څه كا — چې نه فهم د چا سې نه اتكل شي
كه د غرونو په سرګرزي سرې تېت وي — هرچې زړه يې د خوبانو يې غمل شي

٣١٩ — د ساحر ليان خاطر غمونو هسې زنګ كړ
مګر جام د مينو اب وي چې صيقل شي — ٣٤٦٠

كه د زړه په وينو رنګ د چا ګوګل شي — چې بېلتون پېښان شته د خوبه بېل شي[2]
كه د اوښكو په درياب[3] باندې نهال كړي — نېشكر به نېشكر شي نل به نل شي
مشقت د سړي واړه ابتر دی[4] — په ښوره کې چې د ګل بوټی نهل شي
د دنيا يارۍ دوستي څه په كار نه ده — له اوله يار دوست وي پسې غل شي
كه هر څوې وبله هر و محبت وي — نهايت سړه په جنګ وي په جدل شي
په مثال د دن وغزني مرغلرې — آب وتاب يې په دوه ورځې کې بدل شي
كه يې زړه د خوانۍ په وخت سبا وي — هغه سبب يې په پيرۍ کې بيا حنظل شي
د رقيب له بده خوبه به څه وايم — تر وداګوره چې لا يار و د سره مل شي[5]

٣٢٠ — زه د ساحر ليان په ښه وبد ديار پوهېږم
كشكې زهر په دهن د چا عسل شي — ٣٤٦٩

هغه زړه چې خداى روښان كا جام دجم[6] شي — په دا جام کې د ښكاره تمام عالم شي
په آدم کې د حيوان خويونه هم شته[7] — بيا هالري آدم بوله چې آدم شي

---

(١) "ق" چاپ : "چې خبر د جدايۍ په تن لزل شي".
(٢) چاپي ديوانونه ، د "خ" لومړی ، ناقصه او مصوره نسخه : "چې بېلتون په جهان ګرزي خوبه بېل شي".
(٣) د "خ" په دواړو نسخو کې "جويبار" راغلی دی.
(٤) په چاپي ديوانونو او د "خ" په نيمګړي نسخه کې "ابتر کا" راغلی دی.
(٥) دا بيت د "خ" په لومړی نيمګړي او مصوره نسخه کې نشته.
(٦) د "خ" لومړی نسخه : "جام د جم دی".
(٧) د "پ" نسخې : "په آدم کې د حيوان خويونه شته دی".
د "خ" په دواړو نسخو کې د "حيوان" پرځای "چار پای" راغلی دی.

چې خوليونه دچاں پايو پکې نه وي[1] — سړي هوښ په سړي هاله مسلم شي[2]
چې اغوستي يې لباس وي د پاکانو — د ناپاکو چاري کاندي خو به گرم شي
که هر څو لذيذ طعام وي مزه نه کا — چې يوه ذره نمک يې زيات وکم شي
سنادي هر چې ري د غم په اندازه وي — د هغو به څه سنادي وي چې بې غم شي
هر چې خپله رضا پاسلي[3] وقضا ته — که هر څو په ځان ناخوښ وي خوښ خرم شي
عاشقي چې ترکماله ورسيږي — د خپل يار له لاسه زخم[4] يې مرهم شي

٣٢١ — که په ځان باندې قدم کېږدي نه ساتي نه
نه فلکه به دې لاندې ترقدم شي[5] — ٣٤٧٨

چې مجنون غوندې يو مو تې استخوان شي — په قوت د عاشقۍ به پهلوان شي
عاشقانو په شکست کې بري بيا موند[6] — دلته توان د هغه سي چې ناتوان شي
زيري رنګ د عاشق هسې مرتبه ده[7] — چې آفتاب غوندې څرګند په درست جهان شي
له چشمانو يې باران د رحمت وورې — زګ غونډ يې پڅره باندې زعفران شي
له رخسار حال د زړونو معلومېږي — له جهاره نيک وبد د کال عيان شي
له نکتې نه تمام علم حاصلېږي[8] — درست خرواړ له يوه مشته نمايان شي
په کار نه دي مخالف هزار تقرير — موافق له حاله نيم[9] کلام داستان شي
لکه مرله کار وباره وي وتلی — د هغو خاوند يې په سر چې غافلان شي

---

(١) د "خ" دوهم نسخه : " چې خصلت دچاں پايانو پکې نه وي.
(٢) د پېښور چاپي دبو انونه " سړي ښوب په سړي هاله مسلم شي ". او د "خ" په لومړۍ نسخه کې " له سړي " راغلي دي.
(٣) "پ" چاپ او "پ پ" چاپ : "پاسلوي". "ق ک" چاپ او "ق" چاپ : "وسپاري".
(٤) د "خ" دوهم نسخه : " پرې مرهم شي ".
(٥) "پ پ" چاپ : "آسمانونه به دې لاندې ترقدم شي".
(٦) دابيت د "خ" په دوهم نسخه کې نشته ، د "خ" په لومړۍ نسخه کې لومړۍ مسرې دې ده : "عاشقانو په خپل ښيست کې بري بيا موند".
د "خ" نيګړۍ نسخه : "عاشقانو په خپل شکست بري بيا موند" او د "پ" په لومړۍ نسخه کې دې ده : "عاشقانو په خپل شکست کې بري بيا موند".
(٧) د "پ" په لومړۍ ، د "خ" په لومړۍ او دوهم نسخه کې "مراتب دي" راغلي دي.
(٨) د "پ پ" لومړۍ نسخه : "له يوې نکتې تمام علم حاصلېږي".
د "خ" قلمي نسخه : "له يوې نکتې حاصلېږي تمام علم".
(٩) د "خ" په نيګړۍ نسخه کې "يو کلام" راغلي دي.

کړي دې عمر په کار دې غفلت مه کړه
په اوده باندې سل کاله یوه ماشي

د غفلت بنیاد دا وښکو په موج خپړي
یو څو پکې خواب آلود لره طوفان شي

روند په خپله عصا پر پوځي وکوهي ته[1]
خپل دلیل دکم دلیل دځان تاوان شي

سرکښي د عاجزانو په کار نه ده
هر مېړی چې وزر وکاندي پښیمان شي

موم دلان به یې لرشي لمن ژغوري[2]
سنګدلان که عین لعل دبدخشان شي

چې کېمیا د قناعت یې په لاس کښې وي
دشړی[3] په خرقه کې بادشاهان شي

بل پوشاک یې په کار نه وي بې لمده
هغه زړه چې آیینې غوندې روښان شي

عاشقي ده ترجمه بلاؤ زیاته[4]
ومجنون ته دیو ودد واړه حیران شي

٣٢٢

پس یې به ورکا دُرتان دخپلو غوږو[5]
که یې تیر ترغوږ وشعر دې ګاج شي

٣٤٩٥

آشنایي بده بلاده آشنا مه شي
جدایي به دې فنا کا فنا مه شي[6]

دغه غم[7] به دې د زړه ولې کا غوڅي
ګرفتار په درد وغم دجانا مه[8] شي

په زیر رنګ به دې تل سړي اوښکې هېرې[9]
د دورنګو په څېر ګل د رعنا مه شي

---

(١) د "پ" لومړی نسخه : " روند په خپله عصا پر پوځي په کوهي کې".
د "خ" لومړی نسخه : " روند په خپله عصا پر پوت وکوهي ته".
د "خ" دوهمه نسخه او نیمګړی نسخه : "روند په خپله عصا پر پود شي پچنګ که".
(٢) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کی نشته او د "پ" په لومړی نسخه کی د " شړه " پر ځای " شرم" راغلی دی.
(٣) د "خ" په لومړی نسخه کی " دشرابو" راغلی دی.
(٤) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کی نشته په لوړو قلمی نسخو کی د "زیاته" پر ځای " پهورته" راغلی دی.
د "خ" په لومړی نسخه کی یې دوهمه مصرع داسی ده : " ومجنون ته دیو ودد ځکه حیران شي".
(٥) د "پ" لومړی نسخه : " پرې به ورکا تبان درد خپلو غوږو".
په "پ" "پ" چاپ کې : "کاتبان به ورکا دُرد خپلو غوږو".
د "خ" دوهمه نسخه : " ښایسته په درد خپلو غوږو ورکه".
"ق" چاپ او "ک" چاپ : " هر ویان به ورکه درد خپلو غوږو".
(٦) دا غزل د "خ" په دوهمه نسخه کی نشته د لومړی مصرع "بده بلا" په چاپي دیوانونو او لوړو قلمی نسخو کی " توره بلا " راغلی ده.
(٧) چاپي دیوانونه : " درد وغم".
(٨) "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ : " آشنا مه شي " او د "پ" لومړی نسخه او د "خ" لومړی نسخه " جانان مه شي".
(٩) د "خ" لومړی نسخه : " په زیر رنګ به دې تل اوښې لهیږي".

هم[1] په دا چې د روغژن د خدای دښمن دے — وهچا ته د روغژن په وینا مه شې
که اعلیٰ مرتبه غواړې عاشقي ده — نور همه واړه ادنی دی ادنا مه شې[2]

٣٢٣ — همیشه به سرنګون په فکر ناست یې
د ماحان — په خپل مشغول په ثنا مه شې[3] — ٣٥٠١

د عاشق بې خپله یار قرار نه شي — بې طبیب قرار ې د بیمار نه شي
چې په لوح محفوظ کښلی لیونی وي — په تعلیم د معلم به هوښیار نه شي[4]
د خپل پلار په غېږ کې پروت وي روح یې وخلي[5] — د قضا علاج په مور او په پلار نه شي
د هغو چې خدای کمال حسن روزی کړ[6] — هیڅ نقصان یې د منکر په انکار نه شي
د درد و غم د عاشقۍ چې دېر مشکل دی[7] — هیڅ سړی دې په دار نه ګرفتار نه شي
زه همه عمر د غه له خدایه غواړم — چې دې یار له لاسه ازار نه شي[8]
یار له یار سره جفا کا هسې دېره — چې هیڅ فرق یې د اغیار او د یار نه شي[9]

٣٢٤ — که هر څو یې دلبرۍ او دلجوئي کا
د ماحان — په ترکو هیڅ اعتبار نه شي — ٣٥٠٩

---

(١) د "پ پ" چاپ : "غم په دا".
(٢) د ابیت په مصوره نسخه کی نشته.
(٣) چاپی دیوانونه : "د جهان هسې مشغول په ثنا مه شې".
(٤) د ابیت په مصوره نسخه کی نشته. لومړی مصرع یې د "خ" په لومړی نسخه کی داسی ده : "چې په لوح د محفوظ سبکلی لیونی وي".
(٥) چاپی دیوانونه : "زړی د پلار په غېږ کې پروت وي روح یې لاړ شي".
(٦) قلمي نسخې : "وهغو چې خدای کمال د حسن ورکا".
(٧) قلمي نسخې : "د درد و غم د عاشقۍ د بر مشکل دی".
(٨) چاپی دیوانونه : "زه همه عمر له خدایه دغه خواست کړم — چې دې یار له خپله یاره بیزار نه شي".
د "خ" لومړی نسخه : "زه همه عمر د غه شان له خدایه غواړم — چې یو یار د یار له لاسه ازار نه شي".
د "خ" دویمه نسخه : "زه همه عمر له خدایه دغه خواست کړم — چې یو یار د یار له لاسه ازار نه شي".
مصوره نسخه : "زه همه عمر دغه خواست له خدایه غواړم — چې دې یار د یار له لاسه ازار نه شي".
(٩) د ابیت په "پ" چاپ ، "ق ، ک" چاپ او "ق" چاپ کی نشته او د "خ" په لومړی نسخه کی د ابیت داسی دی : "یار له ما سره جفا که هسې دېره — چې هیڅ فرق مې د اغیار او د یار نه شي".
(١٠) د "خ" لومړی نسخه : "که مې هر څو دلبرۍ او دلجوئي کا"

دسکوت په تیغ چې ژبه بریده شي — لاقلم غوندې په قال کې دویده شي
هومره اود دعاشقۍ په زړه کې یوسي — چې لاله یې له تربته دمیده شي
همیشه یې دخپل یار په لوري دوې — نهایت چې په داګو کې رسیده شي
خم ابرو دیار مې نقش په لیمه دې[1] — لکه میاشت چې په لوی بحر کې لیده شي
څه حاجت دی چې زه یار وچاته ستایم — کار همه دخپلو سترګو په دیده شي
کله وي چې یو بل په ویل غولېږي — مګر صافه دچا خپله عقیده شي
خود ترګند وی لکه صبح پنهان کې — هرګز یوان چې په یارۍ کې دریده شي
آبرو یې دعاشق هلته ځان ترګند کا — چې یې نم دزړه له سترګو چکیده شي
داه غشي یې په ځمکه کله لګی — هرقامت چې کمان طوره خمیده شي
بې مطلوبه یې هیڅ فهم په چا نه وي — هرطالب چې په طلب کې فهمیده شي[2]
هرچې زړه په هر ویا انو باندې بایلي — بې درمه بې دیناره خریده شي
ما دیار په څېر بل مخ لیدلی نه دی — مګر پس چې له نن ورځ آفریده شي[3]

٣٢٥ — ٣٥٢٢

یا به شهد یا به قند یا به نبات وي
هرکلام چې له ما سره شنیده شي

چې سړی له بله بد والي بدګوی شي — لاتري بله خوار روان دده بدبوی شي[4]
مرده شوی چې هوس کا د بل ومرګ ته — بل هم پس دده له مرګه مرده شوی شي
دوست دښمن دسړي واړه خپل عمل دی — هم په دامقدار یې اجر موی په موی شي
هره ونه چې کږه په یوه لوري وي[5] — عاقبت یې پر پوله په هغه سوی شي

---

(١) د "خ" دوهمه نسخه : "خم ابرو یې دیار نقش وي په زړه کې".
د "خ" لومړی نسخې او د "ب" لومړی نسخه : "خم ابرو یې دیار نقش وي په لیمه کې".
(٢) دابیت د "خ" په لومړی نسخه کی نشته.
(٣) قلمي نسخې : "مګر پس له نن ورځې آفریده شي".
(٤) قلمي نسخې : "لاتر بلې خوار روان دده بدبوی شي".
(٥) د "ب" لومړی نسخه : "هره ونه چې کږه وي په هغه لوري".
د "خ" لومړی نسخه : "هره ونه چې کږه په هغه لوري" اودابیت د "خ" په لومړی نسخه کی نشته.

په لوټي کې نور څه نشته بې زواله — هلکان دهلکتوب په سبب لوټي شي[1]
داوبو اصل له خاورو پیدا کړې ي — خاکساري دخاکسارانو آبروي شي
هومره زیان له خوګ وخرسه نه رسېږي[2] — لکه څوك په آدمیانو کې بدخوي شي
سړي هوښ چې دسړي له تنه پاڅي — دسړیو په جامه کې خربشوي شي

وهغو وته چې خدای پخپله وښود
څه حاجت پې دمالګ پاڅان په ګفتګوي شي

٣٣٦ — ٣٥٣١

وخت دعیش وطرب تېر شو خزان راغی — ځنګېدن دبلبلانو په ځان راغی
دلداري مې ترامیدو باري څه کمام — هغه یار دلبرانو په شان راغی
آشنایي مې په هوس وه خو چې بیل شوم — دواړه لاس مې وبله منسوارمان راغی
سود سودا دعاشقۍ که نفع منډوي — ما هیڅ سود پکې ونه لید تاوان راغی
تمام عمر که وصال وُ هومره نه وُ — لکه یو زمان دښکلیو هجران راغی
ګوی زما دزړه یې یوه په چوګان کې — بیا دناز په نیلي سور په جولان راغی[3]
غونچه لب چې په خندا کاندي پرېشانه — په شپېو زما دا وښکو باران راغی

دمیرزا دارزاني دعوی به پرې کا[4]
قدردان دشاعرانو پاڅان راغی

٣٣٧ — ٣٥٣٩

په اول کې تا دعشق وهلې لافې — هغه لافې دې اوس وکړې خلافې
اوس خپل سر ودته محکم نیولی اوسه — چې دغم مصیبت دې ځان ته کړې مصافې
سپین چلتار په یوه تکې بدنماشي — دارزالو چارې مه کړه که اشرافې[5]

---

(١) په "پ" او "پپ" چاپ کې "پوی شي" راغلی دی.
(٢) د "خ" لومړی نسخه: "له ستمګرې په هر لوري غوغا وي"
(٣) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(٤) د "خ" دوهمه نسخه: "دمیرزا دشاعرۍ قدر به کم کا".
(٥) دا غزل د "خ" له دوهمې نسخې نه نقل شو.

بې تمیز خو معرفت کولای نه شي — تذکره او کوت معلوم کړه که صرافي
ځان دې ولې بې حیا کړې بې حجابه — چې پټ کړی دی دمینې په غلافي
که دا هسې لوټې غواړې لوټې داده — که په اصل کې منصور غوندې ندافي
د دوران له فساد ونو امان غواړه — که په عقل د خپل فکر موی شګافي
د تقصیر سبب یې کوم دی را معلوم کړه — مین وژنې بې له جرمه نا انصافي

٣٣٨ — ٣٥٤٨

کوم صفت به زه د ماح د داستا بیان کړم
په کامل صفت موصوف په کل اوصافي

یا داستا چشم وابرو وینم په خواب کې — یا مستان دې اوده شوې په محراب کې[1]
یا په جام کې ستا د مخ عکس لیده شي — یا خوشنده تجلی که په حباب کې
یا ترخط لاندې غوټې ستا د خولې دي — یا کوکب دی غرق شوی په شهاب کې
یا دې زلفې په مخ د واړه راخورې کړې — یا سنبل دی کجک شو د اوږه تاب کې
یا دې زلفو په مخ توره تا ریکې کړه — یا خوشنده ځان ګرګند کړه په آفتاب کې
یا داستا پیزوان زما په جګر ښخ دی — یا سیخونه دي پیلې په کباب کې
یا خوستا په غم کې غرق زما صورت دی — یا خسهنی دی جاروزې په گرداب کې

٣٣٩ — ٣٥٥٦

چې دیار کا تدې وزې بیا له ستر ګو
د ماح به څه عزت وې په حباب کې

ستا د مینې ګوهر نشته په هر آب کې — مګر بیا موندشي دا وښکو په دریاب کې[2]
که ته وینې زما پټې څښې دلبره — رنګ دلبو دې ګواهي لې په داباب کې
پهر ځائے چې ستا د لبو نام آغاز شي — دلاله و باران وورې په حباب کې[3]

---

(١) دا غزل یوازې د "ا" او "ي" د "خ" په دوهم قلمي نسخه کې راغلی دی.
(٢) دا غزل د "خ" په لومړی او مصوره نسخه کې نشته.
(٣) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

له خسته زړونو به څه دلستاني کا
دخراج ګنجايش نشته په خراب کې

زه حيران دستا دروځو په تور خال يم
کافر څه شکل سجده کا په محراب کې (١)

ګل له دپرې باريکۍ په شبنم خوږ شي
نازک زړونه بدوي په صاف خواب کې

دبهار په ګلو اوري باران نونه
دمخ ګلو طاقت نشته په حباب کې

د ساکن غلطي وبسه اې خدايه
داوتر وچاري نه وي په حساب کې

٣٤٠

٣٥٦٤

زړه مې بايلوستا په هر محبت کې
عاشقي دې زهر راکړه په شربت کې (٢)

لار زما ويار ته مه ترې ناصحه
ما موندلی دی دايار په دپرمحنت کې (٣)

که صورت دهغې مستې درښکاره شي
عقل هوښ به دې هيڅ نه وي په صورت کې

که د عشق ترکس لګي غابن به بايلې (٤)
ته چې ما ته غابن چيچې په نصيحت کې

زه توبه په هغه تېر عمر وکاږم
چې صرف شوی دی بې ياره په غفلت کې

دآشنا دمينې پت به راماته نه شي (٥)
که مې سر له تنې درومي په داپت کې

له ادبه يې وخ ته کتی نه شم
خدای راپيښه جدايي کړه په وصلت کې

په قيامت که څوک له نيته پوښتنه شي
زه د يار د کوڅې خاورې يم په نيت کې

لکه زه چې يې ددر په خاورو خوښ يم (٦)
خوښ به نه وي سلطانان په سلطنت کې

د درګاه په خاک نشينوې تل سخ وي (٧)
د غمونو دخل نه وي په جنت کې

---

(١) د "خ" دوهم نسخه : " کافر هيڅکله سجده نه کا په محراب کې ".
(٢) ددې غزل پا نه په مصوره نسخه کې څيرې شوې ده .
(٣) دابيت په "پ" چاپ کې نشته .
(٤) چاپي ديوانونه : " که د عشق ترکس پر پوزې سر به بايلې ".
د "خ" لومړی اودوهم نسخه : "که د عشق ترکس پر پوزې غابن به بايلې ".
(٥) چاپي ديوانونه : " پت به مې مات نه شي "
(٦) دابيت په "پ پ" چاپ کې نشته په لوړو چاپي ديوانونو کې يې لومړی مصرع داسې ده : " لکه زه چې ستا در په خاورو خوښ يم ".
(٧) دابيت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته په چاپي ديوانونو کې د " تل سخ وی " پر ځای " سختي نه وی " راغلی دی .

٣٤١ — ٣٥٧٥

د دنیا له دولتونو بې پروا یم[1]
زه رحمان د عاشقۍ په بند دولت کې[2]

مغرور مه اوسه د عشق په کاروبار کې[3] — هر خسمنۍ تېره تېغ وي په دار کې
داسو ګل به دې دستار په وینو سور کا — چې دې اېښې زمانې دې په دستار کې
مخ دتر کوچې تر آب حیات صاف دی — زه دې آب حیات سوی یم په نار کې
چې او سپېنه آینه پرې او به کېږي — تر وزما هستي یې څرده په دیدار کې[4]
په هر وار چې یې وستر ګوته نظر کړم — لاس مې والي دے له خانه په هر وار کې
یاره ته چې له ما صبر و قرار غوارې — عاشق کله وي په صبر و په قرار کې
کړمې سر و مال دستا په مینه درومې — زه تر سر و تر مال تېریم په دا کار کې
هېڅ صرفه مه کړه د زړه تو آزار اخله — که دچا سود لګي شوی په آزار کې[5]
عشق د عقل په کوڅه استوګنه کا — چا موندلی نه دی یار په دا دیار کې[6]
ستا له دره له دربار به وانه ورم — څو ونه مرم ستا په در و په دربار کې[7]
کم بختان دیار په وصل کې مجبور وي — دوچ دکې نهره نه وي په نهار کې
مفلسانو له عین کوهستان دی — که هر عمر یې کوردی په بازار کې
وهغو چې خدای حق بینې سترګې ورکړې — دیوسف تجلی وینې په دیوار کې[8]

---

(١) د "خ" په دوهمه نسخه کې "فراغت یم" راغلی دی.
(٢) قلمي نسخې: "زه رحمان د عاشقۍ په دولت کې".
د پېښور چاپي دیوانونه: "زه رحمان د عاشقۍ په دا دولت کې".
(٣) د "ب" په نسخه کې "کاروزار" راغلی دی.
(٤) "پ" چاپ او "پ پ" چاپ: "چې دا وسپنو دانه پرې او به کېږي — تر وزما دهستۍ څرد دې په دیدار کې".
"ق ک" چاپ او "ق" چاپ: "چې دا وسپنې دانې پرې او به کېږي — تاب زما دهستۍ څرد دې په دیدار کې".
د "خ" دوهمه قلمي نسخه: "چې دا وسپنې آهین پرې او به کېږي".
(٥) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته.
(٦) دا بیت په چاپي دیوانونو او د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(٧) چاپي دیوانونه: "ستا له دره له دیار به وانه ورم — څو ونه مرم ستا په در و په دیار کې".
(٨) دا بیت په چاپي دیوانونو او د "خ" په لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کې نشته.

وعیب جن ته واړه عیب څرګندېږي[1] — ښایسته که ځان یوسف کا په سینګار کړے
چې هنر دعاشقۍ یې خدای نصیب کړ[2] — بې هنره نور څه نه وینې په یار کې

٣٤٢ — دا داغونه د خپل زړه ودلره بس دي[3]
٣٥٩١ — څه حاجت دے د ښکلا په لالهزار کې

مدام ناستیم وچ ګوګل سترګې په نم کې — عشق راوښود چې وبې په خپل حرم کې
ما چې ستا د توري زخم په خوله[4] ښکل کړم — نور مې دالذت بیانه موند په مرهم کې
خوار مجنون چې سر په پښو د لیلۍ کېښود[5] — سرفراز شو په عرب په عجم کې
نور د مدام غالب وي په کمزورۍ — زړه له نور غمه خلاص یم ستا په غم کې
لکه زړه چې ستا په غم کې مستغرق یم — بل به نه وي په جمله بنې آدم کې
لکه مړی د څرونډیو ترمیان پروت وي — هسې بېل یم له عالمه په عالم کې
هیڅ صحت[6] مې د دمګرو په دم نه شي — هم په داچې زما دم دی ستا په دم کې
نه مې بې تا تګ وړی نه جستجوی شته — مراد مې تدبې په هر دم په هر قدم کې[7]
که نصیب مې شي کوغالی ستا د سپیو — وبه نه کړم نور نظر په جام د جم کې
زړه مې هسې ستا په زلفو پسې ورک شو — لکه غوټه د چاپېریو چې په تورم کې
سړه په وینو دسې وګلو په دود زانګې — هر له زړه ونه ستا د زلفو په هر خم کې

٣٤٣ — زه د ښکلا کناره خوښ یم له عالمه
٣٦٠٣ — باري ستا ستر ګو رسوا کړم په عالم کې[8]

---

(١) چاپي دیوانونه : " وعیب جوته واړه عیب څرګندېږي ".
د "خ" لومړۍ نسخه : "عیب حق واړه عیب څرګندېږي".
(٢) "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ : " که هنر دعاشقۍ دیې رب نصیب کړي ".
(٣) قلمي نسخې : "خپل داغونه د خپل زړه ودلره بس کا ".
(٤) د "ب" په لومړۍ نسخه کې " زړه " راغلی دی.
(٥) د "خ" دوهمه نسخه : " چې مجنون سر خپل په پښو د لیلۍ کېښود " په چاپي دیوانونو کې د " خوار " پر ځای " خود " راغلی دی.
(٦) د "خ" په دوهمه نسخه کې د " صحت " پر ځای " دمه " راغلی دی.
(٧) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(٨) د "خ" لومړۍ نسخه او مصوره نسخه : " باري ستا کتو رسوا کړم په عالم کې ".

هسې بې یاره خفه یم په جهان کې[1] — چې مې ځای نه شي په ځمکه په آسمان کې
سره ګلونه د چمن راته سوړ اوږد شي[2] — چې قدم بې یاره کېږدم په بوستان کې
چې یې مړ نه یم له ډېرې بې نیازۍ[3] — حیرانېږم د ناتوان صورت په توان کې
که هر څو فکر له ځانه سره وکړم — هېڅ د صبر طاقت نه وینم په ځان کې
هېڅ ساتنه د سرکښ خاطر رانه شي — څوک ساتلی شي بخړی په ګریوان کې
تر هغه به نادان بل په جهان نه وي — چې څوک مهر وفا غواړي په نادان کې
که یې سل ځله په زاړه وقربان بولم — غوږ رانه باسي په زاړه وپه قربان کې
هسې رنګ زما په ډېره ژړا خاندي — لکه ګل د سپرلۍ خاندي په باران کې
جوهري شي د زر ولعل کاندي برسېره — چې مې کېني د دوستر ګو په دکان کې[5]
چې مې هېڅېږي په خوا په خاطر نه وي — زمانه یې راژرګندکا په زمان[6] کې

۳۴۴

چې په وصل کې یې اوښکې نه وچېږي
تر وبه حال د ماښام خړوي[7] په هجران کې

۳۶۱۴

د بلبل له حاله زړه کړه په خزان کې — بیا دګاو تماشا کړه په بوستان کې
خوږې تېره تلخالي ترستوني نه شي — شېرېني به خوند درنه کا په دهان کې[8]
ما په هجر کې لذت د وصال بیا موند — له یوسف ملاقي شوم په زندان کې
لکه متن له معنی، معنی له متنه — یار هم هسې دی زما په دل وجان کې
عاشقي اسانه مه ګڼه خبر شه — سر بازي ده هر نفس په دامیدان کې

---

(۱) "پ" چاپ او "پ پ" چاپ : "هسې بې له یاره زړه یم په جهان کې".
(۲) د "پ" په لومړۍ نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې "دی" راغلی دی.
(۳) د "خ" په دوهمه نسخه کې "بې رحمۍ" راغلی دی.
(٤) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "نانه" راغلی دی.
(۵) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(٦) په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "یوآن" راغلی دی.
(۷) د "پ" په لومړۍ نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې "خړشي" راغلی دی او دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۸) مصوره نسخه : "شېرېني به دې خوند نه کا په دهان کې"

د ناتوان له ناتوانۍ نه وویرېږه — که هزار ځله توانایې په خپل ځان کې[1]
هم هغه به پس له مرګه انداز پرې — هرچې بل انداز وي په داجهان کې

۳۴۵

په ماح باندې بې یاره هسې حال دی
لکه حال د زندانیانو په زندان کې

۳۶۲۲

زړه مې ډوب ډوب کېږي ستا دغم په غلبو کې — هسې لکه څوک چې مستغرق شي په اوبو کې[2]
ستا د عشق له موجه په هېڅ لوړې وتی نه شم — دواړه لاس مې پرې پواته د عشق[3] په لامبو کې
سل توبې مې ماتې کړې واړه وښتم له عشقه — ساه ویساه مې نوره پاتې نه شوه په توبو کې
ته چې له ماڅې دادا وښکو باران ګوره — رخ د سفر هېڅ نه دی په داګهنو شیبو کې
نه یوه سپوږمۍ نه په سمان کې هزار ستوري — بې تا به څوک څه کاندې د خلق په چنبو کې[4]
عشق و عقل دواړه سره ضد دي که پوهېږې — کله کړي ارام داو ښځې په لمبو کې[5]

۳۴۶

هر څوک چې د عشق په آتش حاسې دي له ګله[6]
خدائے دے ابراهیم غوندې څوک نه کا په لمبو کې

۳۶۲۹

هسې خوښ یم ستا د در په خاکساري کې — لکه خوښ وي سرداران په سرداري کې[7]
عاشقي که نور خلقوته خواري ده[8] — ما موندلی دی دولت په داخواري کې[9]
وبیمار ته که نا خوښ والي وګړي — خوښ یم زه د ستا د عشق په بیماري کې[10]

---

(۱) د "خ" پ لومړی او دوهمه نسخه کې "په خپل توان کې" راغلی دی.
(۲) دا غزل د "خ" پ لومړی نسخه او مصوره نسخه کې نشته د "خ" پ دوهمه نسخه کې یې لومړی بیت داسې دی: "زړه مې ډوب ډوب کېږي په غمو کې هسې لکه څوک چې مستغرق شي په اوبو کې"
د "پ" لومړی نسخه: "زړه مې ډوب ډوب کېږي ستا دغم په غلغلو کې هسې رنګ لکه چې څوک مستغرق شي په اوبو کې".
د "ق، ک" چاپ: "زړه زما ډوبېږي ستا دغم په غلبو کې هسې لکه څوک چې شي غرقا به په اوبو کې".
(۳) په قلمي نسخو کې "عقل" راغلی دی.
(۴) قلمي نسخې: "نه یوه سپوږمۍ نه هزار ستوري له آسمانه بې تا نه به څوک څه وکا د خلق په کیبو کې
(۵) دا بیت د "پ" پ لومړی نسخه او د "خ" پ دوهمه نسخه کې نشته، پ "پ" چاپ، "ق" چاپ او "ق ک" چاپ کې د "لمبو" پر ځای "پنبو" راغلی دی.
(۶) قلمي نسخې: "هر څوک چې د عشق په اتش سوی دی رحمانه".
(۷) دا غزل د "پ پ" چاپي دیوان کې نشته.
(۸) د "خ" دوهمه نسخه: "عاشقي که لوی د عالم وته خواري ده".
(۹) چاپي دیوانونه: "ما موندلی دا دولت دی په خواري کې".
(۱۰) دا بیت د "پ" پ لومړی نسخه کې نشته. دوهمه مصرع د "خ" پ دوهمه نسخه کې داسې ده: "خوښ یم زه د عشق پ درد په بیماري کې".
"ق ک" چاپ: "خوښ یم زه دیار د عشق په بیماري کې".

دخپل بام وروزیږو وته نظر کړه — هسې ستر ګې دې زما په بیدارۍ کې[1]
یار دیار له سترګو اوښکې پاکیږه کا — تا دریاب[2] کړې زما اوښکې په یارۍ کې
ماله دپرې ناچارۍ ویار ته شاکړه — سړی[3] عذر دی په دپره ناچارۍ کې
غم به چېرې یوه هوښیار خوښ کړی نه وی — ما خوښ کړی دے ستا غم په هوښیارۍ کې

۳۴۷ — ۳۶۳۷

دمالګې اوښکې به څرنګ په قرار وي
چالېدلی دی دریاب په قرارۍ کې

سپین مخونه تورکوډی شي په پیړۍ کې — سم قدونه کوږ لګی شي په پیړۍ کې[4]
لکه شمع دسحر آفتاب د ژ مې — هم بې تاب وهم زړی شي په پیړۍ کې
یوطرف ته یې سر پرې دی بل خوا درومې[5] — خپل صورت تمام پرې دی شي په پیړۍ کې
دمرګه ؤ په حساب وي غرا وشوه — که څرګند لیده ژوندی شي په پیړۍ کې
مرلا سنه دی پس له مرګه بیا ژوندے شي — نشته داچې څوک ځلے شي په پیړۍ کې
که څه وخوږ لکه زهر نه هضمیږي[6] — نه څه څښتې نه څه خوږ شي په پیړۍ کې
داحوالي ده چې څه اوري یا څه وینې — نه لیده نه اورېدی شي په پیړۍ کې

۳۴۸ — ۳۶۴۵

ای مالګې پیړۍ هسې عاجزۍ ده
که رستم وي نه پرې سوی شي په پیړۍ کې[7]

یوځل ولېدای دیار پریشانې زلفې — په عارض باندې حلقه پیچانې زلفې[8]
که تورتم لرې ظاهر سیاهې دزلفو — حقیقت لرې سفیدې روښانې زلفې

---

(۱) دابیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته، په چاپي دیوانونو او نورو قلمي نسخو کې یې لومړی مصرع داسې ده: "دخپل بام وروزیږو وته نظر کړه".
(۲) په چاپي دیوانونو کې "جاري کړې" راغلی دی.
(۳) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "شړه" راغلی دی.
(٤) چاپي دیوانونه: "سبا یسته مخ دې تورکوډی شي په پیړۍ کې سم قامت وي کوږ لګی شي په پیړۍ کې".
(۵) قلمي نسخې: "که پل یوسر ې دې بل خواته درومې".
(۶) دابیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته، د "پ" په لومړۍ نسخه کې "امرزیږي"، د "خ" په لومړۍ نسخه کې "ورزیږي"، په مصوره نسخه کې: "پې تیریږي" او د "خ" په بیګړۍ نسخه کې "وته جوړیږي" راغلی دی.
(۷) په قلمي نسخو کې "زړه سوی شی" راغلی دی. (۸) - داغزل د "خ" له دوهمې قلمي نسخې نه نقل شو.

دا قدرت الهي دے راشه گوره — د دانا د ګردن طوق نادانې زلفې
هم په څېرې د خپل ځان په زړه حيرانم — په اوږو ديار پرتې حيرانې زلفې
په شميم د خوشبويې زه خوشبو شوم — خدای دې نه کا په خپل داد پسېمانې زلفې
په کوم لوري به زه سر ترپنه وکاږم — وګردن ته مې پرتې ريسمانې زلفې

حکه ژاړم له دوستر ګواوښکې وينې
چې ګرځي وينې ديار خندانې زلفې

۳۴۹ — ۳۶۵۲

چې وصال د خپل جانان مې دی موندلے — ګنج د در و د مرجان مې دی موندلے (۱)
هومره طمع مې له خپله بخته نه وه — نه پوهېږم چې څه شان مې دی موندلے (۲)
که په ډېر مشقت لاس له خدای راوست (۳) — زه خو وايم چې آسان مې دی موندلے
چې مې يو نفس وصال ورسره وشو (۴) — واړه اجر د هجران مې دی موندلے
څه عجب (۵) دی که تمام جهان زماشي — چې بادشاه د درست جهان مې دی موندلے

زه رحمان په خپل شعار شکر ګذار يم (۶)
چې داهسې رنګ د ديوان مې دی موندلے (۷)

۳۵۰ — ۳۶۵۸

ما چې ستر ګې وګرځ ته واړولې — په هغو ستر ګو مې وينې وژړلې (۸)
د عمل جزا بيا موندې برحقه (۹) — داد ستور دی چې کړې هغه اخلې
ترڅمن ولې يو په سله زړه قاتل دی — تل چې تود يې په کاڼي تېر ولې

---

(۱) مصوره نسخه : " واړه اجر د هجران مې دی موندلی ".
(۲) دا بيت په مصوره نسخه کې نشته
" ق " چاپ او " ق ، ک " چاپ : " نه پوهېږم په څه شان مې دی موندلی ".
(۳) د " خ " دوهمه نسخه : " که په ډېر مشقت لاس له راغی ".
(۴) د " خ " دوهمه نسخه : " ورسره وشي ".
(۵) " ق ، ک " چاپ : " څه تعجب دی ".
(۶) د " خ " دوهمه نسخه : " زه رحمان په خپل شعر مدام خوښېږم "
(۷) " ق " چاپ : " چې داهسې رنګ داستان مې دی موندلی ".
(۸) دا غزل د " خ " په لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کې نشته.
(۹) " ق " چاپ او " ق ، ک " چاپ : " د عمل جزا مې بيا موندې برحقه ".

خودکرده به ختا وان له چانه غواړي
چې يې غوښې په خپل تېغ کړې سپينې خپلې

ما دا مرګ داستا په مينه کې هاله ليد
چې ګدای د بادشاهۍ لاڼې وهلې

له خوبانو به څوک څرنګ وفا (١) غواړي
سروی کله کشمشي مېوې نيولې

په دربار يې سندا سې شه ورته کېنه
تا په تار دسر وپښته ايرې مسلې (٢)

که دفتر د خپل قسمت د چا په لاس وي
بدې بخرې به چا کله قبلولې

چې ښکې يې وکوله و ښکا نو
دې بدانو څه بدې نه وه غوښتلې (٣)

څوک له خاورو ايرې وباخوې تخت وکړي
څوک له تخته دايرې وپه ډيران ولې

ستا چې نيت د آشنايۍ نه وُ صنمه
د رحمان ستر ګې دې ولې نه ګنډلې

د ازل په ورځ د بخت وجواړي وه
اې ساحب چا بايلودې چا ګټلې

٣٥١

٣٦٧٠

بدلوې په دنيا دين وايمان ولې؟
نه پوهېږې په خپل سوداو په زيان ولې؟

هميشه په ځای د شکر شکايت کړې
منکرېږې په عطا د سبحان ولې؟

د بسنلۍ خدای دهرې چارې توان دی
په ډېر توان کې خپسر بولې ناتوان ولې؟

مدام اوښکې تويېږې د رزق له غمه
د ګوهر په ځا پلودې ارزان ولې؟

چې په هر بېګاه سامان دهر سبا کړې
کوډوکر شوې د محشر په سامان ولې؟

هېڅ ګياه له ځايه نه خوځي نم مومي
ته د رزق په طلب مني جهان ولې؟

چې پخوا تر قضا خپله رضا غواړې
بهوده په لوټو ولې آسمان ولې؟

په ژوند ومره چې د مرګ له غمه خلاص شې
اسان کار دې کمر په ځان باندې ګران ولې؟

غېږې مينې دې په زړه باندې انبار کړې
په کعبه کې ننه باسې بتان ولې؟

---

(١) په "ق" چاپ کې د "وفا" پر ځای "مېوه" راغلې دی.
(٢) دا بيت او درېيم څلور نور بيتونه په قلمي نسخو کې نشته.
(٣) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ "دې بدانو څو بدې نه وې غوښتلې".

نصير احمد (عزيز)
NASEER AHMAD (AZIZ)

نږدې د نفس په پیروۍ د څخه لاړ شو — د خبیث په لاس دې وګرځم قرآن ولې؟
چې یوسف د حبشي په بهامو مې — د مطلوب (۱) په بهانه نه ښندې حان ولې؟

۳۵۲

بد په بد و پښیمانی کاندې ګاڼه
ته په خپلو بدو نه شوې (۲) پښیمان ولې؟

۳۶۸۲

په نور څه (۳) پسې بې خایه ژاړې ولې؟ — د چا پای په څېر بې ځایه ناړې ولې؟
چې روڼې مېږه کوې په شخوند خوجوړې — تر وخېږې کوې لواړې لواړې ولې؟
ته د اخپل کلام مېږه په د اخپل شخوند کړه — تا د اړلوته تېرې کړې د اړې ولې؟
هغه کار چې دې په نرم ویل کېږې — بهوده په بېرته ولې لاړې (۴) ولې؟
نېک له نېکو بدله بدو مناسب دې — نېک و بدو بله پر بله نغاړې ولې؟
یو قدم د خدای په لور اپسوده نه شې — تمامې عمر په پرانه لاړې ولې؟
تل دې طوق د تعلق په غاړه کېوست (۵) — وکښې نه شې د غه طوق له غاړې ولې؟

۳۵۳

چې په وړځ د شېخې لافې کړې ګاڼه
په شپه مې له میغ وشه غواړې ولې؟

۳۶۹۰

ته چې خپله بې عقلې هوښیارې (۶) بولې — کاشکې (۷) بیا مې د غوښتو په نرخ شولې
عشق یو داد دی په عاشق باندې له خدایه (۸) — هسې نه دی چې یې پېرې یا یې پلورې
زلیخا غوندې به بله شیدا نه وې — که د مصر مستورې شې واړه ټولې (۹)

---

(۱) د "پ" په لومړۍ نسخه او د "خ" په دواړو نسخو کې "طلب" راغلی دی.
(۲) د "پ" په لومړۍ نسخه او د "خ" په دواړو نسخو کې "یې" راغلی دی.
(۳) په قلمي نسخو کې "لوړچا" راغلی دی.
(۴) دا او وروسته بیت د "خ" په دواړو نسخو کې نشته د "خ" په لومړۍ او د "پ" په لومړۍ نسخه کې "لوڼې لاړې ولې" راغلی دی.
(۵) د "خ" په دواړو نسخو کې "ګرزې" راغلی دی.
(۶) "ق، ک" چاپ: "هوښیارتیا".
(۷) د "خ" دواړو نسخو: "دریغه".
(۸) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "رب". دواړو مېړۍ یې په صدې کښې بونګو کې راځي ده: "هسې نه دی چې یې پېرې یا یې پلورې".
(۹) "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ: "که د مصر مستورې شې راټولې".
د "خ" لومړۍ نسخه: "که د مصر مستورې کړې واړه ټولې"
په مصوره نسخه کې د "واړه" پر ځای "حبله" راغلی دی.

هغه بحر څه په بحر حساب نه دی — چې اوبه یې خاک آلودې وي ختولې[1]
له هغوئ به څه فکر د یار وي — چې په غم وي د کاله یاد هولې
عاشقي د خپل نغري په غاړه نه شي — څو په یار پسې وانخلې ځلې ځولې[2]
د وصال په نعمتونو غړه مه شه — جدا لې یې خلقې کړې په زړه زمولې

د گوهر په تله نه دی چا تللې
د ... شعر گوهر دی څه یې تولې

٣٥٤ — ٣٧٩٨

هسې د وب لم ستا د غم په دریاب تللی — چې ماهي غوندې بې تیغه لم کوتلی
مالپدلې چې لپنده دې وه راکښلې — تا د وروځو په لپنده ولم زه وپشتلی[3]
په خپل ځان مې تر هغه پورې نظر ؤ — څو مې ته په نظر نه وې کیوتلی
اوس مې ستا په مینه ځان وهان هېرشو — د سیلاب په مخ کې لاړم لکه خلی
عاشقي به یې د باد په مخ بنه کا — که چا ځای وي کوه قاف غوندې نیولی[4]
چې د عشق له بحره روغ سلامت وځې — زه یې نن گنم له موره زېږېدلی
هر چې واوري په بلا د تورو زلفو — هغه بیا ترکوره[5] نه دی ورغلی
چې له غرونه پر پوتلی وي بیا پاڅي — پاڅېدې نه شي له زمونږ پر پوتلی
چې د اوږدو هلی وي بیا روغ شي — نه رغېږي د آزار[6] لمبو وهلی

زه ... یې هر دم وینم ستا په غم کې
که خپل مرگ په ستر گو نه دی چا لیدلی

٣٥٥ — ٣٨٠٨

---

(١) د "خ" دوهمه نسخه : " یا ختولې".
(٢) د "پ" لومړی نسخه : "څلې ځولې" "پ پ" چاپ : "څلې زولې" "ق ک" چاپ : "زالې زولې".
"ق" چاپ : "زالې زولې" د "خ" لومړی نسخه : "زمې ژولې" او د "خ" دوهمه نسخه : "ژالې ژولې".
(٣) د بیت د "خ" په دوهمه نسخه کی نشته په "پ" چاپ او د "پ پ" چاپ کی "راکښلی" او په "ق ک" چاپ کی "وژلی" راغلی دی.
(٤) د بیت د "خ" په دوهمه نسخه کی نشته.
(٥) د "پ پ" چاپ کی "تر موره" راغلی دی.
(٦) په چاپي دیوانونو کی "هجران" راغلی دی.

هرچې کښت یې په باران اوپه سیلاب وي — دهغو عمر به واړه په عذاب وي[1]

هغه ملک چې پکې سیند اوږد باران نه وي[2] — دهغانان به یې همه خانه خراب وي

وآسمان ته به یې سترګې وي ختلې[3] — دباران له انتظار به بې خواب وي

لکه څوک چې کړوي په کرهې کې[4] — دهغه ماهي په طور به کباب وي

لا به کله باران نه پرې نزول شي — چې نخیل وزراعت به یې سیراب وي[5]

همیشه له خدایه خواست داوبو کاندي — که یې چېرې خواست په عمر مستجاب وي[6]

لکه تل چې یې په زوږن داوبو غوږ وي[7] — هومره غوږ یې نه په چنګ نه په رباب وي

که همه عمر باران وریاندې وړي — لاګرمي یې په صورت کې د آفتاب وي[8]

دګرمۍ اودخشکۍ له دهشته — د آفتاب په خېر ګومان یې په مهتاب وي[9]

داوبو له دېرې قیمتۍ نه — لرګي لوښي یې مردار په منجلاب وي[10]

فرق دپاکو دناپاکو اوبو نه کا — که اوبه یې ګډې وړي په پیشاب وي

داوبو په وېش چې وشي انصاف نه کا[11] — که په لاس یې ورقونه دکتاب وي

---

(۱) داغزل په مصوره نسخه کې نشته.

(۲) "ق، ک" چاپ : "سیلاب". د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا مصرع داسې ده : "هغه ملک چې یې په سیند په زوږن باران نه وي".

(۳) د "خ" دوهمه نسخه : "و آسمان وته یې ستر ګې وي ختلې".

(٤) "پ" چاپ : "لکه څوک چې کړوي یې په کرهې کې".

"ب پ" چاپ او "ق، ک" چاپ : "لکه څوک چې تله وي په کرهه کې".

د "خ" لومړۍ نسخه : "لکه څوک چې تله وي په کټوري کې".

دوهمه مصرع یې په دوهمه نسخه کې داسې ده : "د هغو په طور به درست سره کباب وي".

"ق، ک" چاپ کې دا مصرع داسې ده : "دهغې ماهي په شا نې به کباب وي".

(۵) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه : "چې یې نخل وزراعت به یې سیراب وي".

(٦) د "خ" لومړۍ نسخه : "که یې کاندې خواست به چېرې مستجاب وي".

(۷) د "خ" لومړۍ نسخه : "لکه تل چې یې په غږ داوبو غږ وي".

"ق، ک" او "ق" چاپ : "لکه تل چې یې په زوږن داوبو غږ وي".

(۸) د "خ" دوهمه نسخه : "له ګرمۍ یې په صورت کې هسې تاب وي".

(۹) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته. په "ق، ک" چاپ کې داسې دی: "دګرمۍ او دخشکۍ له دېرې دهشته په افتاب باندې ګومان یې مهتاب وي".

(۱۰) قلمي نسخه : "لرګي لوښي یې مردار دمنجلاب وي".

د "خ" دوهمه نسخه : "لوښي کودې یې واړه منجلاب وي".

د "پ" لومړۍ نسخه : "لوښي لرګي یې مردار دمنجلاب وي".

(۱۱) د "پ" لومړۍ نسخه : "انصاف پرېږ دي".

دا وبو په غلاچې ورشي نه جاروزي — که ساکن د خانقاه او د محراب وي

دا وبو ثواب یې نه کېږي له لاسه — که په گوت او به یې عین د حج ثواب وي (۱)

د باران امید یې نه کېږي له خدایه — که یې شپه او ورځ په سر باندې سحاب وي (۲)

پلیتې به یې له تنه څه رنگ در وي (۳) — چې او به پکې نایابې تر گلاب وي

چې د نوکوا چولو په ځای ورشي — تر تخرمې ځان بتر کاکه عقاب وي (۴)

هیڅ یې مه پوښته له غسله له اوسه — چې یو څاڅکی پرې گوهر غوندې نایاب وي

په سبب د ډېره ډېره تیمم — همیشه یې سپېره ښېره په تراب وي (۵)

دللمې سړی (۶) په مخ کې وي آب چېرې — هغه خلق چې بې آب وي خو بې آب وي

په آبې کې لاهم وي خونه ویرانه — هغه کلی چې د بل کلي پایناب وي

یو به نسي هیڅ بې له سړی (۷) ورځه — پایناب سړی که زوی دار باب وي

سم حساب له عزیزانو کله مومي — تل تر تله یې د بل لاندې (۸) حساب وي

نه طاقت د بدویل لري نه صبر — لکه مار په ملا وهلی پیچ وتاب وي (۹)

نه یې مرگ نه یې فتنه له لاسه کېږي — لاس تر لې د خپل شرم په طناب وي

چې یې نزیست روزگار په کار وي تحمل کا (۱۰) — همیشه یې له بدیه اجتناب وي

---

(۱) د "خ" د همه نسخه : "که یو گوت او به عین د حج ثواب وي".

(۲) دا بیت د "خ" په د همه نسخه کی نشته.

(۳) "ق"، او "ق،ک" چاپ : "د ورشي".

(۴) دا بیت په چاپي دیوانونو او د "خ" په قلمي نسخو کی نشته.

(۵) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کی نشته، لومړی مصرع یې په "ق،ک" چاپ کی داسی ده : "په سبب د دې چې د ډېر تیمم کړي".
د "خ" په د همه نسخه کی د "سپېره ښېره" پر ځای "سپینه ښېره" راغلی ده.

(۶) دا بیت د "خ" په د همه نسخه کی نشته په "ق" او "ق،ک" چاپ کی د "سړی" پر ځای "ځمکې" راغلی دی د "خ" په لومړی نسخه کی یې د همه مصرع داسی ده : "هغه خلك چې د بل کلي پایناب وي".

(۷) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کی نشته، د همه مصرع یې په "پ" چاپ کی داسی ده : "د پایناب سړی که زوی هم دار باب وي".
"ق،ک" چاپ : "پایناب سړی که زوی هم دار باب وي".

(۸) قلمي نسخې : "تر بل لاندې".

(۹) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کی نشته "ق،ک" چاپ کی داسی دی : "نه طاقت یې د کنځلو وي نه صبر لکه مار په ملا وهلی پیچ وتاب وي".
نورې قلمي نسخې : "نه طاقت در د بدل لری نه صبر لکه مار په ملا وهلی په پیچ وتاب وي".

(۱۰) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کی نشته په چاپي دیوانونو او د "خ" په د همه نسخه کی یې لومړی مصرع داسی ده : "چې یې نزیست یا یې روزگار په تحمل شي".

که یوه بده وینایي تر خولي وو زي — هغه دم یې په خپل ځان باندې عتاب وي (۱)
یو هغه سړی تېری ور باندې کاندي — چې په عمر نه د سوال نه د خواب وي (۲)
همسایه وي چې یکار د پښتا نه شي — او په اصل یا موچی وي یا قصاب (۳) وي
ملایم ویل اثر په هغوخه کا (۴) — چې په زړه کې یې نه شرم نه حجاب وي
لکه دیوچې د سړیو په صورت (۵) شي — نه گومان کړې چې سړی وي دی د واب وي
په هیڅ رنگ له بده خویه نه جاروزي — هسې مست د جاهلۍ په شراب وي
چې اشراف د هسې خرسو په لاس کیږي — نو خلاصی به یې له خونه په کوم باب وي (۶)
هسې رزق دې خدای چې الره ورنه کا — که به رزق د چا په هسې رنگ اسباب وي (۷)
تر دا هسې زمیندار ه هغه بنه دی — چې نوکر دیوه تور کافر کلاب وي (۸)
نوکري دیوه سپي ورلره بنه د ه — هغه پرې ده چې لا نوم یې د نواب وي (۹)

د خشکی له غمه قوم د ماح خوښ دے
که رفتن یې له هغانه په شتاب وي

۳۵۶ — ۳۷۴۵

تل دې ستا د خواب آلود سترگو خواب وي — چې فتنې په خوب او د شي د پر ثواب وي
لکه مې چې په مینا کې تجلی کا — نور د حسن په حجاب کې بې حجاب وي

---

(۱) د بیت د "خ" په لومړی نسخه کی نشته دوهم مصرع یې د "پ پ" چاپ کی داسی ده: "هغه دم یې په خپل ځان باندې عتاب وي".
(۲) د بیت د "خ" په لومړی نسخه کی نشته لومړی مصرع یې په نورو نسخو کی داسی ده: "یو هغه سړی تېری ور باندې وکا".
(۳) د بیت د "خ" په لومړی نسخه کی نشته، "پ" چاپ: "همسایه یې چریکار و پښتا نه شي او په اصل به موچی یا به قصاب وي".
"پ پ" چاپ: "همسایه او چلیکار یې پښتا نه شي او په اصل به موچی یا به قصاب وی".
"ق، ک" چاپ او "ق" چاپ: "همسایه یې چریکار او پښتا نه شي او په اصل به موچی یا به قصاب وی".
(۴) چاپي دیوانونه: "ملایم ویل اثر ور باندې نه کا".
(۵) د "خ" دوهم نسخه کی د "صورت" پر ځای "صفت" راغلی دی.
(۶) "ق، ک" چاپ: "چې اشراف د هسې خرسو په لاس کیږي نو خلاصی به یې له خرونه په کوم باب وي".
د "پ" لومړی نسخه: "چې اشراف د هسې حریصو په میان کیږي تر و خلاصی به یې له خونه په کوم باب وي".
د "خ" لومړی نسخه: "چې شراب د هسې حرصو مینا گوري۔ تر و خلاصی به له هغونه په کوم باب وي".
د "خ" دوهم نسخه: "چې د هسې اشراف د حرصو په میان کیږي تر و خلاصی له هغونه یې په کوم باب وي".
(۷) د بیت د "خ" په دوهم نسخه کی نشته دوهم مصرع یې د "پ پ" چاپ کی داسی ده: "چې د چا رزق په هسې رنگ سیلاب وي".
(۸) د بیت د "خ" په لومړی نسخه کی نشته.
(۹) د بیت د "خ" په دواړو نسخو کی نشته.

تر چې ما ته لولوې پټې دصبر — زه هم ډېر په دا راضي یم که مې تاب وي
زه په دا سبب په ترکو پسې ژاړم — چې ژړا دعاشقانو دمخ آب وي
که نادان وي هم دا هومره خو پوهېږي — چې څوک نه ژاړي په یار پسې کذاب وي
دعاشق سترګې په دا سبب شوې پاکې — چې مدام دجوې په سر لکه حباب وي
لخالي خونې به څه وي چې څه نه وي — که ختلی دحباب په سر سیلاب وي[1]
هم په دا ډې دغمې اش پیدا شو — چې په تشه ګېډه صبر درباب وي
دحریص[2] لخپله نقده نهره نشته — لکه مار دګنج دپاسه پیچ وتاب وي
کاملان تعلقات د دنیا نه کا — لکه پاڼې دخزان پسه په رکاب وي
غفلت هیڅ عجایب نه دی په دنیا کې — ساکنان دخرابات واړه خراب وي[3]

۳۵۷

چې سنا دې غواړي بیشماره بې حسابه
په دغمونو څه حساب وي

۳۷۵۷

دهغو چې وبله مهر و محبت وي — په هستۍ او په نیستۍ کې فراغت وي
عاشقي ده ترهغه مقام پسې هورته — چې دچا مقام په رنځ یا په راحت وي
څه دا ورپه لمبو سوی څه په واوره — واړه عشق دی که هجران وي که وصلت وي
چې مطلب ومدعا دسړي خدای شي — ناست ولاړ یې همه واړه عبادت وي
که په دوه قدمه ومړي هم حاجي شي — چاچې کړی دمکې په لوري نیت وي
هغه څوک چې پیروي دا اولیاء کا — دا یې واړه په معنی کې ولایت وي
خاوري نه په سړي واړه برابر شي — هغه دم چې له جهانه په رحلت وي
که دنده په تخت کېني غرا وشه — وفهیم وته کم فهم بې عزت[4] وي

---

(۱) د "خ" لومړی او دوهمه نسخه کې "په کوم سیلاب وي" داغلی دی.
(۲) په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "درقیب" داغلی دی.
(۳) چاپي دیوانونه: "ساکنان ددهر کل واړه خراب وي".
(٤) د "خ" په دوهمه نسخه کې "بې فهمه" داغلی دی.

ددانا و نادان ترمیان یوحد دی — هوښیاري ترحد په هورته حماوي قت

تجاوز له خپله حده په کار نه دی — دهرچا په خپله خونه کې حرمت وي

۳۵۸

نو د عالم که د دنیا غمونه کاندي

۳۷۶۸

له دې سره دې غم د آخرت وي

دهغې بناچې نوم محنت آبادوي — تر و خاطر به پکې ځرنګ دچاښادوي

په خواره او په خښو کله وینې نیسي[1] — هر مرغه چې په قفس کې د صیادوي

د نخود په خوله کې کله مزه کاندي — که سل رنګه نعمتونه یې معتادوي

پای بسته ولره هرچې زندان دی — هغه هرچې آزاد دی چې آزادوي

عشق تغییر و تبدیل نه لري یکرنګ دی — د آشنا له لاسه داد وي که بیداد وي

د بنادی نسبه هغه وي په جهان کې[2] — چې په یار پسې بې بیخه بې بنیادوي

بودني هغه باله شي په معنی کې[3] — چې د تن په نابودی یې اعتقادوي

نقصاني وي د دنیا عمار تونه — که تر یې لاندې سل ستونه د فولادوي

زندګي که څوک پوهیږي حضور دم دی — آینده و رفته کله د چا یاد وي

دا دنیا لکه سیلاب هسې بهیږي — نه یې چا څخه استوګه نه استاد وي

وهغوته چې خدای خود پخپله وښود — څه حاجت یې په ښوونه د استاد وي[4]

چې کامله اراده لري په زړه کې — د مرشد له اشارته بې ارشاد وي[5]

---

(۱) د "خ" لومړی نسخه : " په خواره او به خښه کله غوښه نیسي ".
د "خ" دوهمه نسخه : " په خواره په خښه به کله وینه نیسي ".

(۲) د "ب" لومړی نسخه : " بیخي وبنیادي هغه دی په یاد کې ".
د "خ" لومړی نسخه : " بنیادي بیخي هغه دی په دنیا کې ".
د "خ" دوهمه نسخه : " د بنیادي بیخ هغه دی په یاد کې ".

(۳) د "ب" په لومړی نسخه کې " په دنیا کې " راغلی دی.

(٤) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته ، لومړی مصرع یې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده : " وهغوته چې خدای پخپله وښود ".

(٥) دا بیت هم د "خ" په لومړی نسخه کې نشته .

۳۵۹ ۳۷۸۱

دپ یاران وو شخه بیل شو وهتې گرم نه دی
که تا له جدایی نه په فریاد وي

په دنیا کې که هر څو وبله پیوند وي
پس له مرګه به یې درست صورت بند بند وي

زه به وخودم په داباب هزار قسمه
که باور دې په قسم او په سوګند وي

یا به وړاندې تر تا د رومي یا د روستو
که دې وو دو که دې عزیز که دې فرزند وي

زمانه به یې تر پښو لاندې پایمال کا
که په قطع تر آسمانه سر بلند وي

هم یې هسې پیمانه ګنه په خاوره
که دې (۱) دکه خوله تمام عمر په قند وي

هر چې کاندې آزادي په دا جهان کې
پس له مرګه به همه واړه په بند وي

هر چې غاړې وحق ته اپنې نه وي
همیشه به یې په غاړه کې کمند وي

دا چې زه وتا ته وایم که یې خدای کا
په آیاتو په حدیث کې به څرګند وي

ته چې نه کوې باور په آیتونو
تر وزما ویل به څه درلره پند وي

ناپسند به دمنکر په انکار نه شي
هر کلام چې دلپذیر او دلپسند وي

۳۶۰ ۳۷۹۲

خدایه ګنج دقناعت وتا له جهان تدورکړې (۲)
چې بې ملکه بې حشمته دولتمند وي (۳)

که د درستې دنیا غم مې په سر باروي
واړه سهل دی که یار راسره یار وي

هزار وار به یې دیار تر نامه زړه کړم
که په قطع مې دا یو صورت هزار وي

هغه نه (۴) دی په شمار دعاشقانو
چې د خپل تن داغونه یې په شمار وي

مشکل کار دعاشقی چې خدای پیدا کړ
کله بل په جهان هسې مشکل کار وي (۵)

---

(۱) په چاپي دیوانونو کې "که یې دکه خوله" راغلی ده.
(۲) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ : "خدایه ګنج دقناعت رحمان تدورکړې".
(۳) قلمي نسخې : "چې بې ملکه بې حشمه دولتمند وي"
(۴) د "پ پ" چاپ کې "هغه کس" راغلی دی.
(۵) "ق، ک" چاپ : "بل به کله په جهان داهسې کار وي".

خوتې او ښکې په مخ لاړې روڼې نه کا — دهغو ومعشوقو ته کله لاړ وي
ته چې گل زمادیاں په شکل[1] غواړې — کله دا رنگه گلونه په گلزار وي
نه مونده شي په بازار کې نه په ښهر — هغه رخت چې دخوبانو په بازار وي
زه دیاں په خپل مخ نه وینم په ستر گو[2] — که په هره خوا خوبان هزار هزار وي
دعاشق نظر په دېرو په لښ نه وي — که دیدن دیاں په لښ که په بسیار وي[3]
شته هزار هزار خوبان ولې سوگند دی — که زمادیاں په خپل بد چا یاں وي[4]

مرگ له هیچا سره وار نه کا — تمام شو

۳۶۱

یاں به ځان تریاں رومبی کا که په وار وي[5]

۳۸۰۳

له هغو سره به څه فکر د یاں وي — چې یاران یې په هر لور هزار هزار وي
په آشنا پسې وپشتلی هم هغه وي — چې له نورې آشنایی یې استغفار وي
صبر یې او قرار یې دې په ما نوم شي[6] — که بې تا به مې یا صبر یا قرار وي
هر ژوندون دیاں په وصل سپایسته وي[7] — بې مینه که ژوندون وي څه په کار وي
په یاری کې آزار نشته خدای دې نه کا — که ذره به زما زړه له تا آزار وي[8]
وهغو ته عاشق نه ویلی بو یه — چې یې فکر یا دسی یا د دستار وي[9]
که دیاں له لاسه اوړ په یاں بلیږي[10] — هغه اوړ وعاشقانو ته گلزار وي

---

(۱) "ق، ک" چاپ کی "رنگه"، و "خ" په دواړو نسخو کی "حسن"، په "ق" چاپ، و "پ" په لومړی نسخه او و "خ" په لومړی نسخه کی "جنس" راغلی دی.
(۲) و "خ" لومړی او دواړه نسخه: "زه دیاں په خپل بل نه وینم په ستر گو". او و "پ" په لومړی نسخه کی ه "د بلاخ" راغلی دی.
(۳) دا بیت په قلمی نسخو کی نشته.
(٤) په قلمی نسخو کی "په بل دیاں" او "په هیڅ دیاں" راغلی دی.
(٥) "پ" چاپ او و "پ سپ" چاپ: "که یې دار وي" او "ق، ک" چاپ کی "که یې میاں وي" راغلی دی.
(٦) و "پ" په لومړی نسخه کی "ژوون"، و "خ" په لومړی نسخه او نیمگړی نسخه او "ق، ک" چاپ کی "ژوون" او "ق" چاپ کی "گم" راغلی دی.
(۷) و "خ" لومړی نسخه: "لښ ژوندون دیاں په وصل کی سپاړی ده".
(۸) و "خ" لومړی نسخه: "که هزار ځله مې زړه له تا آزار وي".
(۹) دا بیت په قلمی نسخو کی نشته.
(۱۰) و "پ پ" چاپ، و "خ" په دواړو نسخو او نیمگړی نسخه کی "په ما" او په "ق، ک" چاپ کی "په چا" راغلی دی.

ځای یې اوږشي چې زناري یې شي په غاړه ولې نه چې ستا د زلفو زناردار وي[1]
ستا د زلفو زناردار که په اوږو کې دغه اوږه هم همه ستا د رخسار وي[2]

٣٨١٣ همغه چونه به لیلی غوندې رسوا شي
چې ساج غوندې مجنون یې په دیار وي[3] ٣٦٢

که دستا د خاطر مینه په اغیار وي ستا د پاره دې اغیار هم زما یار وي
چې سړی په یوه مخ باندې مین شي له یوه مخه یې سل مخه په کار وي
هرچې کاندې نوکرې د بادشاهانو خواره ناخواره به د دربانو منت بار وي
زه به ستا له رقیبانو څه مانه کړم دا دستور دې چې له ګله سره خار وي
خوسل خاره یې خبن نه شي په تهن کې کله وي چې د بلبل وګل ته لار وي
سجاده به د ساقي دلارې فرش کا هر صوفي چې د سر وستر ګو[4] خریدار وي
په جذبه د عاشقۍ به لیونی شي که په قطع افلاطون غوندې هوښیار وي

٣٨٢١ په ساج باندې به هیڅ ملامت نه کا
هر سړی چې ستا له حسنه خبردار وي[5] ٣٦٣

د وصال په هوا والوتی مرغه شوی د هجران په اوږکې درست صورت او به شوی[6]
نه وندکا، له هوس، نه مړی له غمه سړی سخت دی ګنه یواش پرې وشوی[7]
زړه که چاودی هم له دې غمه به وچاود[8] چې دیار د بېلتانه خواري په زړه شوی

---

(١) دا بیت اوورپسې بیت د "خ" په لومړۍ اوږدو همه نسخه کې نشته
(٢) چاپي دیوانونه : "دغه اوږه هم رښتیا ستا د رخسار وي".
(٣) د "ب" په لومړۍ نسخه کې "دربار" راغلی دی، او دا مړی د "خ" په دواړو نسخو کې راځي ده : "چې رحمان غوندې ځوانان یې په دیار وي".
(٤) د "خ" په دواړو نسخو کې "دسر و شوندو" راغلی دی.
(٥) "ب" چاپ او "ب پ" چاپ : "هر سړی چې ستا له مخه خبردار وي".
"ق" چاپ او "ق ک" چاپ : "هغه شوک چې ستا له مخه خبردار وي".
(٦) دا غزل د "ب" په لومړۍ نسخه کې نشته، د "خ" په دویمه نسخه کې د "صورت" پرځای "سره" راغلی دی.
(٧) دا بیت د "خ" په دواړو نسخو کې نشته، لومړی مصرع یې په "ق" چاپ کې راځي ده : "نه نازکا له هوس مړی له دې غمه".
او په "ق ک" چاپ کې راځي ده : "نه درکیږي په هوس نه مړی له غمه".
(٨) د "خ" لومړۍ نسخه : "که دچا زړه له غمه چاودی له دې وچوي".

د رقیب وناکرد وته چې نظر کړم — د عاشق له آهه وند په تور لیمه شوی
هیڅ پوره به دې نیمګړې نه شي خدایه — که بېلتون د دوه یارانو وبله نه شوی
چې بېلتون د دوه یارانو وبله کاندې — د هغو خلقو له مرګه واوړیده شوی[1]
خدای رضا لره چا هسې تعویذ وکړی — چې لږ زه د هغه یار تر غمه ښه شوی
یو ځل یار په ستر ګو ولیدی[2] چې دادی — د غه پسه هر چې شولی بیا هاله شوی
نوم یې یو ځل زما واخستی په ژبه[3] — نور مې نوم په دا جهان کې پاتې نه شوی
لکه د رست عمر په خوله د رقیب کار کا — د غه هسې یو زمان زما په خوله شوی[4]

زه زمان[5] په دا خبره حیران یم — نه پوهېږم چې دیار له غمه څه شوی؟

۳۶۴ — ۳۸۳۲

چې په مخ باندې دا وښکو یو قم وي — عین د تور ولړ په هره سره سم وي
که ګریوان مې د سپوږمۍ د نمر مشرق شي[6] — زه چې یار په ستر ګو نه وینم تور تم وي
کې وو د وخو غوندې نیښ وهلی نه شي — که په زړه د پاسه پروت د چالرم وي
دلته سر پورته کول د چار سپږې — چې پخپله د یار زلفې خم در خم وي
معشوقه چې د عاشق په غم وي غوڅه — د عاشق ستر ګې دې وي چې بیغم وي
همدې د دوهمد موهسې بو په — چې د دوار و زندګي په یوه دم وي[7]
که د رست جهان خوښې و د باندې راشي — ما ګره خدای چې څوک بې یار له خوښ خرم وي
بل ستم د بېلتانه د پاسه نشته — که لېدلی چا په سل رنګه ستم وي

---

(۱) د بیت په "پ" چاپ ، "ق" چاپ او "ق ، ک" چاپ کې نشته.
(۲) "ق" چاپ او "ق ، ک" چاپ : "د وینم".
(۳) د "خ" لومړی او دوهم نسخه : "خو لږ نوم یې زما واخستی په ژبه".
مصوره نسخه : "خو چې نوم یې زما واخستی په ژبه".
(۴) د بیت په "پ پ" چاپ کې نشته.
(۵) د "خ" قلمي نسخې : "دا معامله"
(۶) د "خ" لومړی نسخه : "که ګریوان مې د سپوږمۍ له نوره عرق شي".
(۷) چاپي دیوانونه : "چې د دوار د همدې په یوه دم وي".

دا قضا څه په قاضي موقوفه نه ده — خو د پخپله یاران تر یاره پوري گرم وي
راحت هر چیري چه غولره لازم وي — چې په درد و په محنت کې مقدم وي
چې خو ناب یې د چشمانو مې ناب شي — پیوسته له دغه جامه سره جم وي
هیڅ حاجت د هنر نشته و نصیب(۱) ته — که په اصل څوك عرب وي که عجم وي
هنر مه غواړه طالع له خدایه غواړه — بې سلیمانه په کان نه دی که خاتم وي

۳۶۵ — د یاران خندا په اجر د ثرا ده
۳۸۴۶ — تازګي د ګل په قدر د شبنم وي

همیشه دې زما سر او ستا قدم وي — تر هغه ساعته پورې څو مې دم وي(۲)
ستا له لاسه واړه مالره نافع دي — که مې زهر بدې(۳) په زخم که مرهم وي
زه بې تاهسې ګومان کړم چې سفال دی(۴) — که نسکور مې په لبانو جام د جم وي
نور عالم که د دنیا په سبا دی سبا دوي — زما زړه دې مدام سبا د داستا په غم وي(۵)
که په زړه باندې مې سل غمونه راشي — داستا غم دې تر همه و مقدم وي(۶)
ما دې خدای داستا له غمه بې غم نه کا — تر هغه ساعته پورې څو مې دم وي

۳۶۶ — یاران ستا په مخ مین دی خدای خبر دی(۷)
۳۸۵۳ — که په داکې به هیڅ چې زیات و کم وي

---

(۱) په چاپي دیوانونو کې " و رقیب ته " راغلی دی
(۲) د اغزل په "پ" چاپ ، "ق، ک" چاپ ، د "پ" په نسخو او د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(۳) د "پ" چاپ : " که مې زهر وي ".
(۴) د "ق" چاپ : " زه به بې هسې رنګ ګومان کړم چې سفال دی "
د رفیع صاحب د شخصي کتابخانې نسخه : " زه به تا پسې ګومان کړم چې بې حال یم ".
د "خ" د همه نسخه : " زه ګومان کړم چې په تا پسې بد حال یم ".
د "خ" مصوره نسخه او د دې نسخه : " زه بې تا هسې ګومان کړم چې هیڅ نشته ".
(۵) د "خ" د همه نسخه : " زما زړه دې مدام خوبن د یار په غم وي ".
(۶) د "خ" د همه نسخه : " داستا غم مې تر همه و مقدم وي ".
(۷) د "ق" چاپ " رحمان ستا په مخ مین دی باور وکا که په داکې به هیڅکله زیات و کم وي "
د "خ" مصوره نسخه ، د رفیع صاحب د شخصي کتابخانې نسخه او د "خ" د یو نسخه : " رحمان ستا پر مخ مین دی که باور وکړې ".

تهچې ماته وايې چې په چا باندې شيدايې
زه په تا شيدايم وايه تهچې يار دچايې[1]

زه به تا په کومه زيرکۍ شم پرولې
چا زده لکه تا زده هومره وايه چې څه وايې

زه چې کېږدم عاشقۍ مې گردمات کړه
تهچې لکه وې هم هغه هسې کبريايې

ځان که ستا په مينه کې فاني کړم څه به وکړم[2]
تهچې په داهسې رنگ له آهې پرواې

مرگ مې په تا ولې خدايې اختر کړو نه پوهېږم[3]
څه دې حاصل هم شته که مطلق په مرگ زمايې

څه شو که زه يم انگشت نما په مينه ستا کې
زيات له ما نه خوښ ته دقاضي هم دملايې

ستا د عشق تر توري ګرځي د ګرمان زار شه
دا هم سهل کار دې زما يار که په دايې

٣٦٧ ٣٨٦٠

چې پخته شي آشنايې
تر ميان وروزي جدايې

وطالب وته وفا شي
د مطلوب بې وفايې

بادشاهي کاندې بدله
د دېدن په ګدايې

خاني پلورې په ددبشو
ميرزايې په ميرزايې[4]

نظر نه کاندې هيچېرې
په لوټې په بدايې

ددته کفر خرګند بې
خودبيني او خودرايې

خودرايې په عاشقۍ کې
له عاشقه نه ښايې

معشوقې که بې وفا دې
عاشقان خوې ستايې

غوږې کوږ ستر ګې زندې وې[5]
دخپل يار په خطايې

---

(١) دا غزل په قلمي نسخو کې نشته.
(٢) "ق" چاپ: "که نه ځان ستا په مينه کې فاني کړم څه به وکړم".
(٣) "پ پ" چاپ، "ق، ک" چاپ او قلمي نسخې، "څه دې په مرگ هم شته که مطلق په مرگ زمايې".
(٤) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(٥) د "خ" لومړۍ نسخه: "په غوږ وکړ په ستر ګو روندوې!
د "خ" دوهمه نسخه: "په غوږ وکوږ په ستر ګو روندوې!
د "پ" لومړۍ نسخه: "غوږې کړوې ستر ګې روندې وې"

کړي کړي وي سل علمه — هم دیني هم دنیا ئي
همه واره خاموش کا — چې پرې وشي شیدائي
ومطلب تر نه رسېږي — په شیخي په ملائي
اواره ننګ وناموس کا — په سر واخلي رسوائي
تر ناموسه وتر نه به شي — بې ننګي ، بې نوائي
هره چاري په اخلاص وي — نه په ریا وي ریائي
قبلوي په دواړو سترګو — هرچې یار پرې فرمائي
نصیحت پرې اثر نه کا — که څوک سل ځله وائي
فایده نه لري په عشق کې — د دانا ؤ دانائي (۱)
مشکل کار د عاشقۍ — اسان چې پرې دی بائي
دغه کار کولی نه شي — هر کم فهم وکجائي
هر کم بخت یې کله موي — د دلبر وهمتائي
څه په کسب موندلی نه شي (۲) — دغه کار دی عطائي
چې د عشق په لومړ کې یوزي — نور یې نه وي رهائي
بې دیار له مخه نه شي — د عاشق د لکشائي
د خپل یار په طلب ګرزي — غاړې غړونه پېمائي
له عالمه وي وتلی — لکه صید صحرائي
تل تر تله یې وطن وي — ګوشه کنج وتنهائي
مدام سوی لوغړن وي — د خپل آه په ګرمائي
هر زمان یې په اوه نېسي — د خپل یار تمنائي

---

(۱) د "خ" لومړی نسخه : " ودانا ته دانائي".
(۲) چاپي دیوانونه : " څه په کسب موقوف نه دی".

نه یې ملک وي نه یې مال وي — نه یې زهد و پارسایي
په داهسې ګرانو چارو — معشوقې یې از مایي
په یوه دیدن یې یوسي — د درست عمر کمایي
هم مې هسې رنګه وژني — یاره ستا بې وفایي
چې په (۱) زړه کرم زړه مې چوي — دغه ستا خودنمایي
هم خودي لرې بې قیاسه — هم د حسن زیبایي
ضرر نه لري بې نفع — ستا د مینې سودایي
ستا سودا ما لره سوده — حق به وایم خدایي
په هیڅ مخ کې لیده نه شي — ستا د حسن صفایي
لمر به څه له تا سیالي کا — په دابې سروپایي
ادراک نه رسي د سروې — ستا د قد په رعنایي
لکه ستا قد و بالا دی — نشته هسې بالایي
که د ستا وصال دریادی — زه ماهي یم دریایي
د مګسو زندګي ده — په دوکان د حلوایي
زه تو تا شکرپرست یم — د استا شونډې متایي

د اګمان په تاج مه کړه
چې بې تا به وپایي

۳۶۸ ۳۹۰۵

خوږ ما په وده به ما تول شیرین یې — که په مرګ د رقیب هم هسې شمشیر یې (۲)
مرګ خو وینې چې پخپله را پسې دی — څه محتاج زما و مرګ وته ډېر ډېر یې
کبر و خیال خولا له ځایه ستا عادت دی — او که نن زما له قصده په بل پېر یې (۳)

(۱) له مصوري نسخې نه پرته په نورو قلمي نسخو کې "له زړه کرم" راغلی دی.
(۲) د غزل د "ح" په لومړي نسخه کې نشته.
(۳) د بیت په "ق، ک" چاپ کې نشته.

د ابي شمار عاقلان به شي کم عقله[1] — ته چې دا رنګه په زړه وسکه دلې يې
ستا خويونه به پخپله ځان څرګندکا — زه به څه وايم چې ته ښ بلا تېرې يې[2]
له حيرته دې تعريف کولی نه شم — چې په څه رنګ دې ستايم د چا په څېرې يې
ما چې ستا دلبو خوند بيا موند محظوظ شوم[3] — که سل ځله په تر خه ويل ګنډېږې يې

د جهان ښکلي که واړه د ماګ شي
خدای دې نه کا چې يې ته له دله هېرې يې

۳۶۹

۳۹۱۳

په يوه ذره به وړی يا به موړ يې — په يوه ذره به ګرم يا به سوړ يې[4]
که ځواني له خدايه غواړې ځوان به وړی — او که پس له ځوانۍ پاڼې خوبه زوړ يې[5]
بندګان خو کله جوړ کله ناجوړ وي — څه خدای نه يې چې به تل تر تله جوړ يې[6]
عاشقي به دې آسمان غوندې څرګندکا — که مجنون غوندې هر څو به صورت وړ يې[7]
بدي واړه په سنه ونيسه رحمانه — چې پای بند دياړ په هر يا به مړ يې[8]

عاشقي بې جذبې چېرې ده ماګ شي
ته مجذوب دياړ په هر کې لاوړ يې[9]

۳۷۰

۳۹۱۹

---

(۱) د "پ" لومړی نسخه : "کم بخته".
(۲) دا بيت او درپسې دوه نور بيتونه د "خ" په دوهمه نسخه کی نشته ، د "پ" په لومړی نسخه کی د "ته" پر ځای "څو" راغلی دی.
(۳) "پ" چاپ : "محفوظ".
(٤) د "پ پ" چاپ او د "خ" دوهمه نسخه کی د "يې" پر ځای "وي" راغلی دی او نوموړی غزل په مصوره نسخه کی نشته.
(٥) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کی نشته.
(٦) "پ" چاپ : "سړی کله خو يا جوړ کله ناجوړ وي خدای خو نه يې چې به تل تر تله جوړ يې".
د "پ پ" چاپ : "سړی کله خو يا جوړ کله ناجوړ وي خدای خو نه دی چې به تل تر تله جوړ وي".
(۷) د "پ پ" چاپ : "وي".
(۸) دا بيت په چاپي ديوانونو او لوړو قلمي نسخو کی نشته.
(۹) "پ" چاپ او "ق، ک" چاپ : "ته مجذوب دياړ په هر کې مړ يې".
د "پ پ" چاپ : "د مجذوب دياړ په هر کې مړ وي"
"ق" چاپ : "ته مجذوب دياړ په عشق کې کړ يې".
د "خ" لومړی نسخه : "بدی واړه په سنه ونيسه رحمانه چې پای بند دياړ په هر يا به مړ يې".
د "خ" دوهمه نسخه : "عاشقي بې جذبې چېرې وی رحمانه چې مجذوب دياړ په مينه کې مړ يې".

خدای دې وژغوره له هرې پریشانۍ
اې زما د کورو کلې ودانۍ

عاشقۍ چې ماکنله نا دانې وه[1]
اوس خبر شوم له دې خپلې نادانۍ

تر وخ تېرې اوبه بېرته نه جاړوې
څه په کار ده پوچ بې ځایه پښېمانۍ

ودانې په یوه دم کې شي ویرانه
مرد هغه چې کړې دورانې ودانۍ[2]

لکه باد چې ځان وهي له کوه و دشته
زه په تا پسې کوم سرګردانۍ

دا خوږه دستاله غم سره لوخېږم
څوک له دیوه سره کا پهلوانۍ[3]

چې په آب و په آتش په خاک و باد وي
څه امید دی په هغې زندګانۍ

ته چې دا رنګه اوبدې او بدې وعدې کړې
کشکې راکړې وما خط دامانۍ

که زه ته په هغه وخت وې چا به نه کړې
د مجنون او د لیلۍ قصه خوانۍ

زما ستا و ننداري ته به حیران وو
که ژوندي وې آدم خان او درخانۍ

وهرچا وته چې وایم حیرانېږي
څه به وایم د ساحران له حیرانۍ

۳۷۱

۳۹۳۰

په خوانۍ کې بد دماغ بد ګمان یې
چې پیرې در باندې درشي بیا ناتوان یې[4]

که په دادې زړه سنه کېږي دا خو نشته
چې به تل تر تله ژوې هم به خوان یې[5]

چې هرګز دې په لاس نه دي کېږتونې
بهوده دهغو چارو په ارمان یې

چې بې خدایه زړه تړې په نور څه پورې
هم په خدای هسې باور کړه چې نادان یې[6]

پښېمانې تر پښېمانۍ لا پخوا بویه
نه هغه چې بیا په تېر ساعت پښېمان یې[7]

---

(۱) په قلمي نسخو کې "دانایي" راغلی ده او د "پ پ" چاپ کې د "ګنله" پر ځای "کوله" راغلی ده.
(۲) قلمي نسخې: "مرد هغه دی چې ودانې که ویرانې".
(۳) دا بیت د "خ" په دواړو نسخو کې نشته. د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "لوخېږم" پر ځای "نخېږم" راغلی دی.
(٤) په قلمي نسخو کې "درشي ناتوان یې" راغلی دی.
(٥) چاپي دیوانونه او د "خ" لومړۍ او دواړو نسخو: "چې به هم تر دېره ژوې هم به خوان یې".
(٦) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۷) دا بیت او درپسې اوه بیتونه د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

هسې رنګ دې وهغه جهان ته شاکره — ګویا تل به مستقیم په داجهان یې
هومره سر دې وخپل خدای وته تیت نه دی — لکه تیت په لوړ دخان و دسلطان یې
یوه شپه په طاعت نه شي ډوډ نولی — هره شپه په مال وملك باندې پاسبان یې (۱)
په تسبیح دې تاند ژبه وچ لرګی شي — پوچ ګویی لره بلبل غوندې ګویان یې
ولمانځه ته چې لمر خپل هاله پاڅې — په قلبه پسې لانیمې شپې روان یې
او داسه لره کوزه اخستی نه شي — چې په لوا و په لوړ و دشې پهلوان یې (۲)
دهلك په خپل لاس اچوې واوره ته — نه خبر په خپل نهبود نه په نقصان یې
پټې ستر ګې لکه ستوري په ګانې ګرزې — که پر پوزې وکوهې ته هم دوان یې (۳)

۳۷۲

چې وبل ته نصیحت کاخان یې هیروی
نور څوك ندی هغه ته عبدالرحمان یې

۳۹٤٤

زه دستاله غمه ژاړم واره وینې (٤) — واره وینې ، واره وینې ، واره وینې
خودمې وینې چې په تش کاته دې من مه (٥) — لا خنجر په کاڼي من بې دل سنګینې
هر زمان مې په حضور دستګو وژنې — لا یقین دې دزړه نه شي بې یقینې
عالم ستا په مینه ژوي نه پوهیږم — زه په څه سبب وژلی یم ستا مینې
دې عالم به نوري (۹) رنګ کا معلومیږي — تا چې هسې جامې واغوستې رنګینې
پښې یې نه وي چې وبله خواته درومي — هسې سکنې په غمزه دعاشق سپینې (۷)
که صورت مې پر بله پوري معلومیږي — زړه مې ستاله غمه چاودی نازنینې (۸)

---

(۱) په چاپي دیوانونو کې "پسې" راغلی دی.
(۲) د "خ" دوهمه نسخه : "چې دلوپه لوړي ورشې پهلوان یې".
(۳) دابیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(٤) د "خ" لومړی نسخه : "زه دیار په غم کې ژاړم واره وینې"
(٥) د "خ" په لومړی او د "پ" په لومړی نسخه کې "من یم" راغلی دی.
(۹) د "خ" په لومړی، دوهمه نسخه او "ق، ک" چاپ کې "نمري" راغلي دي.
(۷) دابیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۸) دابیت د "پ" په لومړی نسخه کې نشته.

هغه شوك دی چې ترتا به هتر ین وي اې تر واړو مړو یا نو بهتر ینې[1]

چې دې زلفې د ماخ پر زنده وتې کړې[2]

۳۷۳ ترینوې ځکه ځاځي او به سپینې ۳۹۵۳

ورك شه ورك شه بدکردار او بد سړی که دې وو د که دې غزین وی که پردی

تر هغه لا نیکوکار بیګانه ښه دی چې بدکار شي د چا زوی او یا لمسی[3]

لرګي لوښي همه واړه پرې مردار وي بدکردار دی سور لنډی یا وږی سپی[4]

هغه خلق همه واړه لیونی کا[5] چې په کلي کې یو سپی شي لیونی

بل علاج د لیونیو سپیو نشته بې له مرګه چې ترې ډك کاندې کوهی[6]

حرام خورد مخنثو په حساب دی که په توره یا په تیغ وي مرنی

مرنی ویلی بونه وهغه ته چې بې وجه آزار نه کاندي یوشی[7]

دیګ یې ایښی په دیګدان روبی تر تیغ وی چې یې سوړ په آه سرد نه شي نغری[8]

هسې نبض یې وهرچا وته رسیږي چې باله شي د خپل وخت حاتم طی

اې ماخ چې بدفهم بدکردار شي ۳۷۴ راته وایه سپی بهتر دی که سړی ۳۹۶۳

---

(۱) دابیت د "خ" په لومړی نسخه کی نشته.

(۲) "ق، ک" چاپ: "چې دې زلفې درحمان په زنګی ورځ کړې".

(۳) د "پ" لومړی نسخه: "چې بدکردار شي د چا زوی او یا لمسی". "ق" چاپ، "ق، ک" چاپ او د "خ" لومړی نسخه: "چې بدکار شي د چا زوی د چا لمسی".
د "خ" دوهمه نسخه: "چې بدکار شي د چا زویه یا لمسی".

(٤) دابیت د "خ" په لومړی نسخه کی نشته. د "پ" لومړی نسخه: "لوښی لرګی همه واړه مردار شی بدکردار ه لکه سور لنډی یا وږی سپی".
"ق" چاپ: "ګوښي ګوښي پرې همه واړه مردار وي بدکردار ه سور لنډی او وږی سپی".
د "خ" دوهمه نسخه: "لوښي کودرې همه واړه مردار که بدکردار ه لکه سولنډ وږي سپی".
مصوره نسخه: "بدکردار وي لکه وږی سپی".

(٥) د "خ" لومړی نسخه: "هغه خلك همه واړه پرې مردار شي".

(٦) د "پ" لومړی او د "خ" لومړی نسخه: "بې له مرګه چې پرې کړك کمی یو کوهی". د "خ" دوهمه او مصوره نسخه: "بې له مرګه چې پرې ډك شي یو کوهی".

(۷) "ق" چاپ: "چې بې وجه آزار نه کاندي سړی".
نور چاپي دیوان نه: "چې بې وجه آزار نه کاهي سړی".

(۸) دابیت د "خ" په دوهمه نسخه کی نشته، په "پ پ" چاپ کی دوهمه مصرع دا ده: "چې یې سوړ په آه تیغ نه شي نغری".
د "خ" لومړی نسخه کی یې لومړی مصرع دا ده: "دیګ یې ایښی پر دیګدان اور تري لاندې".

کله دپره غمدم دچا ختی
نه به مروم ستا په غم کې لرغونی (١)

نه مې هسې رنګ په تودو زلفو بایلو
لکه ورك په توره شپه کا خوك کالی

په یوه ساعت مې ردم مې قبول کا
نه پوهېږم چې یې خپل یم که پردی

په یوه لاس یې مرهم په بل خنجر وي
نه په مرګ کې حساب یم نه ژوندی (٢)

که په مرګ د عاشقانو دې رضا وي
خدای دې ما کا ترهمه واړه وبخښی

خون بهامې د ستي په مثل نشته
ما پخپله قبول کړی دی خپل سوی (٣)

وکوم دم ته به ادراك د یار و رسي
هر وپښته یې د کاکل شو منګری (٤)

خوك دې غم زما د پېر واو سنګونه خوری
کم به نه کا په خوردن سره نه دی

د هجران په توره شپه کې نه وېرېږم
چې یې نه وینم د وصل سپین سپوږمی

دیار غم لکه مزری را باندې راشي
خدای دې پښې په هېچا نه کاندی مزری

چې پرې غم غلطومه د شپې پاڅم
کله مې په شونډو کېږدم کله نی

ګاه کتاب ګې رباب په لاس راواخلم
باري در دمې په هېڅ رنګ نه کا کمی

همسایه مې واړه وواته له خوبه
که په سل کوټو دننه کړم ځګېږوی

که عاشق ته معشوقې پورې یوسې وي
خدای د هجر په تیغ مه وژنه یوسې

٣٧٥

نه ساحل دیار په غم کې هسې دوب یم
چې هېڅ نه وینم په سترګو مګر دی

٣٩٧٨

چې دار و در د غم دې هغه می
ساقیه راکړه یو دوه جامه پیاپی

می د خپلو لبو را نه د انګور و
چې اول یې نوشیدن وي پسې قی

---

(١) په "ب" چاپ او "پ ب" چاپ کی : "نه به مروم په عشق کې لرغونی".
"ق" او "ق ك" چاپ : "نه به مروم په غم کی لرغونی". د "خ" لومړی او دوهم نسخه : "نه به مروم په هجران کی لرغونی".
(٢) دا بیت په "ق ك" چاپ او د "خ" په دوهم نسخه کی نشته.
(٣) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کی نشته.
(٤) دا بیت په چاپی دیوانونو او د "خ" په دوهمه نسخه کی نشته.

په هر تیغ کې چې آب نه وي د شرابو — څوك د غم په غلیم نه مومي بري[1]
جام د میو چې غم خوار د کل جهان شو — زه به اوسم[2] په داغم کې تا بکی
راشد یو ځله مې هسې مست خراب کړه — چې خبر نه شم[3] له حاله د هیڅ شی
بیخودي هسې پناه ده زوروره — چې له هره غمه خلاص کاندي سړی
زه هغه تحصیل تمام کړم په عشق کې — چې یې روغ وګرې بولي لیونی

۳۷۶ — ۳۹۸۶

سوله له رقیب سره پیدا کړه
آشنا سه دی البته خوږ ونکی سپی

د پرې خولې زما په یاد شکر خوږ شوې — بیا زما[4] په زمانه خاوري ایرې شوې
یوه بخره خدای هر چا له ورکړې — د چا بخره خاموشي د چا ناري شوې[5]
د چند نو ونې و سولیدې لارې — هزار خانګې د شمشاد و پداري شوې
په هغو ځمکو چې روغې پرې مانی وي[6] — دایام په ګرد شونو هدیرې شوې
په دنیا کې چې بنیاد د آشنایي کا — د هجران تورې هغولره تیرې شوې
دا فلك چې خدای پیدا کړ دا یې خوږ دی — چې وچا وته دعا چاته بیرې شوې

۳۷۷ — ۳۹۹۳

د دنیا د محلونو خبستې واړه[7]
ورحمان ته د سرونو منارې شوې

---

(۱) د "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ : "څوك له غمه په غلیم مومي بري".
(۲) په "ق، ک" چاپ کې "سوځم" راغلی دی.
(۳) د بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته په نورو قلمي نسخو کې د "نه شم" پرځای "نه یم" راغلی دی.
(٤) د "پ" په لومړی نسخه او د "خ" په لومړی نسخه کې "زهوب" راغلی دی.
(٥) د بیت د "خ" له دوهمې نسخې نه نقل شو په چاپي دیوانونو او نورو قلمي نسخو کې نشته.
(٦) قلمي نسخې : "پرهغو ځمکو چې روغې وي مانی".
(۷) د "خ" لومړی نسخه : "د دنیا د محلونو خبستې واړه
ورحمان ته د سرونو منارې شوې"
د "خ" دوهمه نسخه : "ورحمان د محلونو خبستې واړه
وعالم ته د سرونو منارې شوې"

بوصل تو ما را کجا ہاتھ ہے — کہ وصل تو خیلی بڑی بات ہے
بکوی تو گفتم کہ مسکن کنم — ولی کی مرا این درجات ہے
خم زلف تو گوشۂ ابروان — دلم را عجائب مقامات ہے
مکن پیش من وصف خورشید و ماہ[1] — کہ از حسنت این کم علامات ہے
همی دادی دشنام و گالی مرا[2] — بسویم همین از تو سوغات ہے
نگاهت نه امروز خونم بریخت — کہ دائم ترا همچو عادات ہے
ز آغوش رحمان مرو بار قیب — کہ این سفله بدخوی و بدذات ہے[3]

۳۷۸





غه یار چې بنایستې ترا فتابه — مخ به کله راڅرګندکاله نقابه[4]
بېلتانه پرنده نه هیرکړم بې حسابه — یو سبب وکړې مسبب الاسبابه
چې نه ملاقات وشي له احبابه

---

(۱) د "پ" لومړی نسخه : "خورشید و ماه را".
(۲) د "پ" لومړی نسخه : "همه داد دشنام و گالی مدام".
(۳) د "پ" لومړی نسخه : "که این سفله بدکار و بدذات ہے".
(۴) د پېښور چاپي دیوان نه : "حجابه". د غزل پ "پ" چاپ کی نشته.

ملاقات دښايست ؤمې نصيب کړې　　دښايست په گلستان مې عندليب کړې
عندليب مې په گلشن دخپل حبيب کړې　　خدايه ما په دلبرانو کې قريب کړې
ومې ژغورې ددې اهل له عتابه

هغه يارچې زه يې مينه په ديدار کړم　　همېشه يې وديدن ته انتظار کړم
شپه او ورځ پسې ناري وهم کوکار کړم　　که په روی تمام جهان ودته رويدار کړم
سترگې نه پورته کوي د نازله خوابه

بېلتانه يې پټ پنهم په زړه تاراج کړم　　وديدن ترې په هسې رنگ محتاج کړم
چې غرقاب يې دغمونو په امواج کړم　　هېڅ پاياب يې مونږه نه شي خه علاج کړم
دآشنا دمينې غم شو نا پاياب به

ته چې کس يې دجمله ؤ بې کسانو　　هم کارساز يې دجمله ؤ کارسازانو[1]
الهی[2] په بزرگۍ د بزرگانو　　زه وصال په دعا غواړم دخوبانو
لابه کله داد عا کړې[3] مستجابه

اسير کړی دې دزلفو په تناب يم　　تکبير کړی دې دسترگو په قصاب يم
دکشتۍ[4] غوندې مدام په اضطراب يم　　لکه زه چې ستاله غمه په عذاب يم
خبر مه شه هېڅ بنده له دې عذابه

دريغه مه وی په دنيا کې پيدا شوی　　اوکه وی هم په داهسې شان خو مه وی
لکه زه يم دهجران په لمبو سوی　　خو به گرزم په داهسې[5] اوداسوی
چې سينه مې په درست غم شوه کبابه

---

(۱) په "پ" چاپ ، "پ پ" چاپ او د "خ" په قلمی نسخو کی "خام کارانو" راغلی دی.
(۲) د "پ پ" چاپ : "هم په روی او"
(۳) چاپی دیوانونه : "شي".
(٤) "پ پ" چاپ : "دماهي په شان"
(٥) چاپی دیوانونه : "دهجران په اور"

هې هې څه مې دا خراب[1] خاطر نا ښادشو — زيست روزګار مې هميشه آه وفريادشو
عمارت مې دزړه هسې رنګ بې بادشو — چې حباب غوندې بې بنخه بې بنيادشو
دبنياد[2] طمع به څوکړم له حبابه

پټ پټ ګرزم د ناصح له نصيحته — راته کاندې نصيحت په خوصورته[3]
چې توبه کړم د خوبانو له قربته — هيڅ جواب يې په مانه شي له غيرته
درمانده وم ته ولاړيم لاجوابه

دا جواب څه هسې نه دی چې په خوله شي — دعشق راز څه هسې نه دی چې وايه شي
دا مشکل حکايتونه په ما نه شي — ددې بحر بې پايان حساب په څه شي
چې يې زړه وچاته وايم له حسابه

چا موندلی[4] ددې بحر پايان نه دی — دغه راز وهر سړی ته عيان نه دی
هيچا کړی ددې چارې بيان نه دی — دغه واړه عاشقي ده ګمان نه دی
چې په خوله کې در ولعل لري سيرابه

۳۷۹ — ۴۰۲۷

ستا جفا تر حد پهورته ده صنمه — تل مې اوښکې موج وهي دزړه له يمه[5]
څو به پټه دا قصه اوسي پنهمه — هسې دوب په فکر پوت يمه بې دمه[6]
نه پوهيږم چې په غړه يم که په سمه

که خبر وی[7] له دې هسې رنګ خواری — ما به نوم اخستی نه وُ د يارۍ
ستا دغم په دريا ب دوب يم ترمړی — بې تا نه لرم هيڅوک د دستګيرۍ[8]
مګر ته په خپله لاس راګرې همدمه

---

(۱) د "پ پ" چاپ : "ستا په هجر مې"
(۲) په چاپي ديوانونو او د "خ" په قلمي نسخو کې "بنادي" راغلی ده.
(۳) د "خ" دوهمه نسخه : "په خوکرته".
(٤) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ : "ماموندلی"
(٥) "پ" لومړی نسخه : "دزړه له غمه" ، "ق" چاپ ، "ق، ک" چاپ او د "خ" قلمي نسخې : "دزړه له نمه".
(٦) "پ" چاپ ، "ق" چاپ ، "ق، ک" چاپ او د "خ" قلمي نسخې : "هسې دوب په فکر قللي يم له غمه".
(۷) قلمي نسخې : "که مې نده دي" (۸) د "پ پ" چاپ : "دادګيري"

ما وې نور به آشنايي له هچانه کړم هم په دار نګه مې نيت ؤ باري څه کړم
د قسمت علاج په چاشتې چې په نه کړم که په سل رنګه تالاش وتدبير وکړم

خلاصی نه مومم له لوحه له قلمه

خو بر ويان که بې وفادي خو هم وړه دي عاشقان که وفادار دي خو هم پړه دي
ستاله غمه هر چې دي زما په زړه دي اوس به حال وچاته (څه) وايم چې مړه دي (۱)

غرض دادي چې زه ګرم يم ته ناګرم يه

يو خو دا چې په صورت يې پرې لويه هم په خوی وپه خصلت فرشته خويه
هم په قد وپه قامت هر ګوره لويه بيا به نه مومې څوک تا غوندې دلجويه

که يې غواړې په هر ده هزار عالمه

ستاله غمه (۲) زه په ځان کړم هسې چارې چې د ښه يې ويله نه کا ګلعذارې
ته په څه سبب له ما نه دل آزارې (۳) دا زما ګناه راوښيه دلدارې (۴)

چې توبه کړم نصوحا غوندې محکمه

لاس ترغاړې له رقيب سره خندا کړې چې ما وينې له قصده راته شا کړې
خدای يې وينې هغه چاره چې پرما کړې ترابدې وچې پورې به جفا کړې

که (۵) به کله هم جاروزې له ستمه

تا چې هسې بې نيازې د ځان پيشه کړه (۶) په عاشق دې د خندا ځمکه متره کړه
بيا دې وچ په غربانو توره شپه کړه نور دا هسې د جفا خو يونه مه کړه

خلقه به دې له جوړه شي برهمه

---

(۱) د مخمس په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې نشته. خلورمه مصرع په "پ" چاپ او د "خ" په قلمي نسخو کې داسې ده: "اوس به حال وچاته وايم چې مړه دي".
(۲) قلمي نسخې او "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "ستا دپاره".
(۳) قلمي نسخې "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "له ما لاسته"
(٤) د "پ" لومړۍ نسخه: "ته يارې"
(٥) د "پ پ" چاپ او "ق، ک" چاپ: "ته به کله" (٦) "پ" چاپ، د "پ پ" چاپ او "ق، ک" چاپ: "تو مبند کړه"

زما ستا له مینې هر څوك خبر دار دي داخبرې کوډاکوډ په هر دیار دي
چې فلانا فلانا سړي سره دوستدار دي اوس په بېرته جار واته وماته عار دي

چې رسوا شوم تر عرب وتر عجمه

چغه ژوي(۱) چې په تاباندې مین وي په وګړي کې رسوا لکه کوهکن وي
همیشه انګشت نما په مرد وزن وي چې دا نښې پکې نه وي دروغژن وي

که په هره ګړۍ مخوري هزار قسمه

نښانه د عاشقانو اول داده چې مدام یې سرې کاروي له فریاده
تل نامرد بدنامه وي پرې زیاده نه وپرین یې له پیغوره له اهداده

بې دیار د جدایۍ له ماتمه(۲)

هر چې زړه یې مبتلا شي په بتانو زیست یې نه شي یو ساعت بې هر دیانو
که څوك ورکا بادشاهي د بادشاهانو په نسبت د هغو سویو سوختګانو

دا متاع ده تر یوه خسني کمه

که سلیمان غوندې مسندې یې په هوا وي په سبب د عاشقۍ به خاکپا وي
همیشه به په فریاد و په غوغا وي چې دا هسې نښانې پکې پیدا وي

تر دا له پرې عاشقي ده مسلمه

عاشقي دې هیڅوك نه ګڼي آسانه داخیره ده له حد پسې تر ګرانه
وصال نه دی چا موندلی بې هجرانه ته له ځان(۳) سره اتکل وکړه رحمانه

پر دنیا کې سبا دي چې پاده بې غمه

(۱) د پېښور چاپي دیوان : "هغه ژوي".
(۲) د "خ" لومړي نسخه : "نه ښکارېږي دیوې ستنې تر سومه".
"ق، ک" چاپ : "بادشاهي ده له یوه خسري کمه".
(۳) په قلمي نسخو کې "له زړه سره" راغلی دی.



وروستني لاسته راغلي

غزلونه او بيتونه

۴۱

تېر شو په داطمع په دستا عمر زما
گوندې چې ېې کېږدې یو قدم په سر زما (۱)

تاوې چې د عشق پیاله خوږه ده تر شکرو
وسو په هجران کې دې پیالې چیګر زما

سل جفا که ویونم په ستر ګو ستا له لاسه
ستا په جفا نه کېږي هرګز باور زما

یاله ما ناچار سره جفا مه کړه دلبره
یا بې تا راوښیه یو بل دلبر زما

۳۸۱

۴۰۶۹

۴۲

هر ګفتار هره ویناچې څوک عبس کا
تر عبس ویل دا بده چې یې بس کا (۲)

په هغې ویناچې ودوسته پښیمانېږي
له اوله دې خوله هسکه (له نفس) کا (۳)

هره چاچې له اختیاره وي وتلې
بیهوده به یې څوک لاف د دست و رس کا

فقیري د خدای په هر مونده کېږي
داهن په کېږنه شي چې یې نس کا (٤)

آدم زاد په معنی واړه یو وجود دی
یو وجود دی هم یې پاک هم یې نجس کا

که یې اصل یو وجود دی (په دې) څه شو
د ګلونو هن کله خار و خس کا

په اخلاص د نماز ګذار و دی جنوب دې
هر نماز یې چې (په) ریا تیمم (۵) اودس کا

(که خود بین وي) ته بې څه کوې ګمانه
د خود بینو سزا خپله خودي بس کا

۳۸۲

۴۰۷۴

---

(۱) دا غزل د زلمی هیوادل د شخصي کتابخانې له قلمي نسخې نه نقل شو.
(۲) دا غزل د حبیب الله رفیع د شخصي کتابخانې له نسخې نه نقل شو په دې بیت کې د "عبث" کلمه د قافیې د سمون په غرض د "عبس" په شکل راوړل شوې ده.
(۳) اصله نسخه : " لا اول دې خوله هسک". چاپي دیوان : "لااوله دې یې نکه تر خوله هسکه
(٤) اصله نسخه : " داهن په کېږنه شي چې نصق کا"
(۵) په اصله نسخه کې " تیمون " راغلی دی.

۳۹

دلرباکه دخپل حسن مخ عیان کا
دپرې غمزې جمع زړونه به لړزان کا

په کشور دصبا برانګو به قیامت شي
اسرافیل غوندې آواز به هر نالان کا

چې یې چاجام دلعلوي نوشلی
پیمانه چغلګیري په دانادان کا[1]

دجبین په چین یې هسې رنګ پوهېږم
چې محراب به دګایلو زړونه وران کا

دپرېشان ګیسو دلیل یې عین دادی
چې وابست زړونه په دا رنګ پرېشان کا

که جلوه یې دجمال شي معینه
په شعله به لمر، سپوږمۍ سوي نانان کا

که دبادګذر (یې) وشي وخاګپای ته
درند وستر ګو دار وبه خدای اسان کا

که شانه په تور و زلفو باندې کېږدي
مښک عنبر (به) دیوې پیسې دیران کا

تورې زلفې یې هم مښک دی هم عنبر دی
خو زما لکه بختی (یې) خدای ماران کا

که پلوله مخ لرې که ګمانه
په دیدن به هندوان واړه مسلمان کا

۳۸۳

۴۰۸۴

۴۰

که په بخت کم بختان نه وای خسته دل خوک
په حضور به له تا ولې بېلېدل خوک[2]

ودیدن وته د هرچا رضا کېږي
ولې حکم بې له تا نه لرې بل خوک

که یې لاس دخدای په چا رسېدلے
بې مقصوده به یودم نه سهېدل خوک

دا یو سړی ما داستا شکر نه کړی
نور ناحق مې وینې په سر وهل خوک

دا همه زما شومیت دی چې را رسي
ګنه ته[3] او دچا زړونه بدول خوک

---

(۱) اصله نسخه: "پیمانه چغګیې پدانادان کا". او دا غزل درفیع دکتابخانې له نسخې نه نقل شو.
(۲) دا غزل درفیع دشخصي کتابخانې له چاپي دیوان او قلمي نسخې نه نقل شو (۳) درفیع کتابخانې چاپي دیوان: "زه".

ددیدن په طمع وغلیدم بندي شوم — گنه زه او دهجران سختی زغمل څوك
په هیڅ رنگ بدي له مینې منکر نه شم — هرشان قصدچې مې کوي په قتلول څوك
که مې زړه ستامینې نه وای (۱) راپېرودی — په رضا له سره کله تېرېدل څوك
که اثر د محبت ورسره نه وي — روغ صورت دا هومره زړه زهیر بدل څوك
که په مینه دلیلی مبتلا نه وای — (دا) غریب مجنون بېدیا، غرونه ځنگل څوك

٣٨٤ — مینه هره بلا کاندي (که باور کړې) (*)
٤٠٩٥ — گنه زه عبدالرحمان هومره ویل څوك

٥

دخپل ځان له خاکساری (نه) بلند شوم — لکه گرد هسې شمسوان دهر هوایم (۲)
کمینی هسې کامل کړم چې زه درومم — لکه ځمکه درست جهان راسره بیایم
ماچې خپل معراج دداس دپاسه ولید — دمنصور په څېر رښتیا وپنا (به) وایم
دمنصور او زما هومره تفاوت دی — چې ده ناري کړه پاپه جهر زه خفیایم
له عیانه هیڅ حاجت دبیان نشته — زه دماح به په خوله څه وایم چې دایم

٣٨٥ — ٤١٠٠

٦

هرچې خپلې مینې خوار کړ خوار یې مه گنه — عشق درحمت ابر دی غبار یې مه گنه
کله تور سنبل کله تور مښك کله عنبر شي — زلفې که دماران په څېر دي مار یې مه گنه

---

(۱) قلمي نسخه : " راپېرودلی "
(۲) دوي غزل مطلع په نسخه کی نشته او دا غزل " په ښه خوی له بدخواها نو بې پروایم " له غزل نه وروسته راغلی دی.
(*) چاپي دیوان : " مینه هره بلا کړی پر عاشقانو — گنه زه غریب دماح هومره ویل څوك ".

یو مخ یې د سوزدی سل مخه (یې) د سان دی
عشق په اصل نا ردی نا ریې مه ګنه

د بې بیدار و یده دی لکه بت په غمو ستر ګو
بت که د رته غټ ګوري بیدار یې مه ګنه

مراد خو یواثر دی د خوبا نو له رخساره
هر چې اثر نه لري رخسا ریې مه ګنه

خا ر چې په ګل پوري (وي) د ګلو په حساب دی
خه وشوکه نام د خا ر دی خا ریې مه ګنه

پوه خلك هغه دي چې اقرار په ناپوهی کا
هر چې ځان هوښیار ګني هوښیاریې مه ګنه

بد خو هم هغه دي چې خپل بد و ر څرګند ندی
هر چې ځان بد کار ګني بد کاریې مه ګنه

هر چا چې اقرار دیار له زلفو سره وکړ
تل به ناقرار وي په قراریې مه ګنه

هر چې کمال غواړي کمیني (دې) د رحمان کا
عین دغه چار ده بله چاریې مه ګنه

۳۸۶ ۴۱۱۰

۷۴

اې د نفس او د حرص په هوا لیوه
په ظاهر صورت ملك په معنی دیوه

شدادي خصلت دې و نیوه د ظلم
خبر نه شوې د مسکین د زړه له غریوه

تا چې خپل مخ د فرعون په دود تو کړ (۱)
په دې خوی به برابر نه شې له نیکیوه

پر وجود به دې په څه رنګ حاصلیږي
چې لیږې د یار له دره د د و د یوه

په ظاهر صورت تندرست په روح رنځوره
د ریغه وسوی تر دغ پوست لاندې معتیوه (۲)

د نبستی له مکافاتو هغه خلاص شول
چې هستي یې د فنا په مخ ایږیوه

اوږدې پاڅا وه له خوبه (باور وکړه)
و ما ن وته په خپله په نا ر یوه

۳۸۷ ۴۱۱۷

---

(۱) اصله نسخه : "تا چې فرعون په دود مخ تو کړ". (۲) چاپي نسخه : "د ریغه وسوی تر دوغ پوست لاندې معتیوه"

۸

یاداستاچشم ابرو وینم په خواب کې
یا مستان دي وېده شوی په محراب کې
یا په جام کې ستا د مخ عکس لیده شي
یا خورشید دی تجلا کا په حباب کې
یا ترخط لاندې غوټې ستا د خولو دي
یا کوکب دی را دوب شوی په شهاب کې
یا دې زلفې په مخ دواړه راخورې کړې
یا سنبل دی کنجلکي د اور په تاب کې
یا دې زلفو په مخ توره تاریکي کړه
یا خوتندر ځان ژرګند کړ په آفتاب کې
یاداستا مژګان زما په خاطر خښ دي
یا سیخونه دي پټ شوي په کباب کې
یا خوستاله غمه غرق زما صورت دی
یا خسړی دی جاروزي په ګرداب کې
تد دې رحمان خطا کړه و رمعافه
د اوتر وچاره نه وي په حساب کې[1]

۳۸۸ چې د یار د مخ کاته له میانه ووزي
۴۱۲۶ د ساتن به څه عزت وي په حساب کې

---

(۱) دا بیت د ملي هیوادل د مخطوطې کتابخانې له قلمي نسخې نه نقل شو.

۹۴

مست دهغه مخ یم چې مستانې لرې ستر ګې
بې تورې، بې تېغه، قاتلانې لرې ستر ګې

بې لیدو کتو غایبان زړونه وړي له خلکو
هسې چشمان بندې ساحرانې لرې ستر ګې

هر څوك چې یې وینې نو وې ستر ګې کتې نه شي
ښکلې پېرې یوازې غوندې حیرانې لرې ستر ګې

لب آب حیات دې او نفس (یې) د عیسیٰ دی
هېڅ عجب نه دې که خوبانې لرې ستر ګې

هر چې عاشقان دې هغه کله بل خوا ګوري
واړه ستا په لوري نګرانې لرې ستر ګې

اې تاج لرانې او ښکې خم له تخمه د باران دې*
کښې د هغه شین شو چې ګریانې لرې ستر ګې

۳۸۹ ۴۱۳۲

۹۵

که په قطع د تمام جهان ملك یې
چې له ځانه خبر نه یې لا هلك یې

آدمیت خو څه په مال او په شال نه دی
تر چې خیال په شال په مال کړې حکه سپك یې

منصفان دې د انصاف خبرې وایې
څه شو څه شو که په خپلو کې شریك یې

که دلم په خیر څرګند شې په جهان کې
خو په زړونو پسندیده نه شې لا ورك یې

بزرګي په دلجوئي کې ده د خلکو
تر چې خلك د وبې څرنګ بزرګ یې

په لوئي کې لوئي چې ده لا یقه
کمینه وتر مت کړه که سالك یې

فلك تا غوندې پیدا کړي بیا فنا کړي[1]
تر لا نوی خواست کوې په ناز نازك یې

دانایان به په دیوان ښکلي پند اخلي
چې تاج لرانې په خوار نظر ګوري فلك یې

۳۹۰ ۴۱۴۰

---

(۱) اصله نسخه : "فلك تا غوندې هزار پیدا کړي بیا فنا کړي". (*) چاپي دیوان : "اې رحمانه او ښکې دې هم تخم هم باران دی".

دزړه حال وتا ته خه والم پټ به — ته خبر د خون و زړو نو په منزل یې (۱)
هم د ګل په څېر بلبل سېځي په مینه — هم مین لکه بلبل هسې په ګل یې
بې لېدو د څېر ګندېږي عیب واړه — په کمال د جملګي چار و کامل یې
هم قاضي یې هم ملا هم محتسب یې — هم ساقي د مې پرستو په محفل یې
یو دې ذات په دواړو کونو کې شهره دی — بل په نام له هر چا لویه یو په سل یې
چې ته مخ په عبادت کې نه جار باسې — د ستر شپېر دې (نفس) بدی کاته یې خپل یې
د کول او پېرودل دې په خپل لاس دي — که وچایې د کوې که یې اخل یې
جار ترهسې رنځ نیولو شه همانه — چې شهی یې په پوښتنه وي راغل یې

خدای طاعت، عبادت ته کوي ماتم
خوبې مینه دسړي ده ازمیل یې

۳۹۱ — ۴۱۴۹

بیتونه:

په "چې یې نقش په زړه خیال شي داشنا" غزل کی:

ترابده به یې بخره ملالي وي — له هغو چې زړه ملال شي داشنا

په "ته چې ما ته والې چې په څه کوې زړا" غزل کی دریم بیت:

خو به دا جفا کړې نه پوهېږم څه بلا شوه — خو به وي ترکومه دا جفا او دا بلا

په "بنه ده بنه ده دا دنیا" غزل کی له مقطع نه دمخه بیت: (۲)

که یې مال د دنیا د پېس وي — هېڅ پرې نه کاندي پروا

په "لاس مې وتړی د زلفو په تناب" غزل کی:

---

(۱) دا دې غزل مطلع په اصل نسخو کی نشته.
(۲) اصل نسخه: "هېڅ ورنه کاندي پروا"

له فراق چې يې آه کړم سوك په ستر گو يو لستوني مې گرداب (شي) بل گرداب

په "هر مطرب چې غوږ ې تا و کا در باب" غزل کې دوهم بيت :

هومره تا ودبېلتا نه راباندې زوند شي چې حساب يې بيان نه شي په کتاب

په "چې مې يار ولېد په سيمه دا غيار گد" غزل کې لسم بيت :

سخت سفر د عاشقۍ څوك اوزه څوك خدای ناخاپه پرې راگد کړم په دالار گد

په "نظر دې بصر" غزل کې اوه څلويشتم بيت :

نه پخلا نه مرور وي پريشان گرزي در په در

په "زه تېر شوې يم ترسر" غزل کې ۱۶ - ۱۷ - ۱۸ بيتونه :

که مې غواوي که مې وزه وي که مې آس وي که مې خر

که مې مېن وي که مې من وي که مې اوښ وي که غاتر

که په کوركې مې کالي وي که لنگۍ وي که تغر[1]

په "پس له مرگه که څوك ارت غواړي خپل گور" غزل کې يوولسم بيت :

په يقين به بدگرداره بدگرداران کا کشيده شي د بدگرداران سرې پيغور

په "بد اختر به نيک اختر نه شي هرگز" غزل کې اووم بيت :

که ته غږ ورباندې وکړې کا به کېږي مرغچه[2] به درگوم نه شي هرگز

په "چې پای بند شه ليلی په اشتياق" غزل کې :

رحمان خوښ دی خپل يار په درد وغم کې ته به وايې چې بادشاه دی دا فاق

په "چې مشغول نه وی ترکو په جمال څوك" غزل کې لسم بيت :

بې بند خوږ مخ روڼ له هېچا نه شي که هر څو يې پاکيزه کا په رويال څوك

په "مه غوږ باسه د نا اهلو قيل وقال" غزل کې نولسم بيت :

---

(۱) اصل نسخه : "که رنگۍ وی که تغر"

(۲) په اصل نسخه کې "مرغاچو" راغلی دی . پښتو قاموسونو "مرغچيچه" اخستی دی اصل شکل يې "مرغچه" دی چې د "مصنوعي مرګ" يا "مشکنبو" معنی ورکوی .

خراب دل مې نهمې غواړي بلادا شوه — چې نهمې دا معلومېږي کال په کال

په "په یوه غمزه دسترګو یې فنا شوم" غزل کې ۶-۷ بیتونه :

په خپل کلي په خپل کور کې مې غربت دی — په صدف کې د یتیم غوندې یکتا شوم

مستورې راشخه یوه مستو سترګو — همان ځکه په وګړیو کې رسوا شوم

په "چې له مرګه بې پروایې په هر دم" غزل کې ۲۸ بیت :

پس له مرګه به دې هوډې هم خانه وي — څه پوهېږې یا به ماروي یا لرم

په "ته چې هسې ګامې ترشر ګامې خندان" غزل کې اتم بیت :

دسړي صورت څه روغ دکاڼي نه دی — نشته کاڼي څه ستا دجور توان

په "څو به شمېرم زه غمونه دهجران" غزل کې شپږم بیت :

لکه غم دآشنایۍ په ما وو بن ي — یاد به نه وي دچاهسې ګن باران

په "تا چې رنګ دمیو درکړو لبانو" غزل کې ۶-۷-۸ بیتونه :

ستا دخولې له حقیقته صوفي څه زده — له دې رازه څوک خبر وي بې زړانو

دپېژوان غمې دې زیب کا پر لبانو — دواړه زلفې دې چوړې دملنګانو

تورا وربل دې لکه ماریه جبین پرودی — شینکې خال دی مواصل درنګو رانو

په "که هر څو په صحرا سر شوم هم په کلیو" غزل کې دیرم بیت :

هر اشنا چې مخ پنهان کا ندې مو هم — که یې غواړم شپه او ورځ په سپرو پلیو

په "ورځ دې تیره په شومې کړه شپه له خوا به" غزل کې اتم او نهم بیتونه :

اندرون به دې له اوږه هسې ډک شي — چې نن ډک شي په شرابو په کبابو

چې دمخ وآب وتاب تري نظر کړم — راته هېڅ شي دګلونو آب و تا به

په "ته ثمایې شکر لبه" غزل کې :

نه دلې شوې نه هوډې شو ې — ترمیان ولاړې مذ بذ به

په "خو به وران شي د دنیا بازار التساره" غزل کی ٤-٥-٦-٧ بیتونه :

یوه هسې بې سوزي مې شوه په برخه — چې سردي یې لا بتره ده ترسا ره
مصلي دې ننګه ورپسې لنګ کړه — دهوس مصلی قطع کړه ویې نغا ره
یار زما د ستر ګو تور پس بې ګر زید لم — په هجران کې مې د ستر ګو ر نه لا ره
په خوار ګه موند نه شي له سګانو — په لوخ س سره د روزي له بګا ره

په "ما وې زه به نه کړم په خو با نو باندی مینه" غزل کی پنځم بیت :

راشه نجومي زما د یار فال وګوره — تللی یار به کله له سفره راشینه

په "کشکې زه خاورې ایرې دستا د در وای" غزل کی نهم بیت :

یا شبنم د صبحدم یا عندلیب شوې — چې داستا په ګلشن زما ګذر وای

په "ستا له غمه مې په سر کې هسې شور دی" غزل کی اووم بیت :

درد و غم د عاشقی جوړه سره کړه — خدای ورکړی و دنیا ته یې سرور دی

په "زلفې دې له دیرې درازی پای تر سر دی" غزل کی اووم بیت :

داخو زه له کم بختی له تا زار کړم — ستا له نیک خوی کاڼي بوټي هم خبر دي

په "چې د ځنګه مې دلبر په لاس کی جام دی" غزل کی اووم بیت :

نه چې خپل فراغت غواړې په جهان کې — فراغت خاطر راوسیه کدام دی

په "چې د امسې لاس په لاس دنیا پر لبنو دې" غزل کی نهم بیت :

په خپل ځای به یې هر هر کلام په کار شي — جهان . . . طالب لره د سنګو دی

په "خبر مې ستا د بنو غشی په سینه دی" غزل کی لسم بیت :

نه شها زما په ستر ګو کې جلوه کا — ماه وهر یې سینه مخ یې آینه دی

په "غم دې هسې غلبه شو په ما باندې" غزل کی اووم بیت :

زه جهان یې شد نی په ځان ګنمه — که یار سل ځله ناشدې چارې کاندې

په "آشنایي توره بلا ده آشنا مه شي" غزل کې څلورم بیت :

خپل څرګبست وهرځاروي وته قصاب دی توانایي دتن تاوان دی توانا مه شي

په "ولی ولی و عاشق ته نظر نه کړي" غزل کې دریم او اووم بیتونه :

خښتاتن لاس دسپي په سر باندې راکاږي ته تش سیوری دمخلصو په سر نه کړي

زما هر زمان په تاباندې ګذر وي ته یو دم زما په لوري ګذر نه کړي

په "مغرور مه اوسه دعشق په کاروبار کې" غزل کې اووم او دوولسم بیتونه :

هیڅ صرف نه کړي دزړونو ازار اخلي دچا سودی کړی شوی په آزار کې

وهغوی چې خدای حق بیني ستر ګې ورکا دیوسف تجلی وینې په دیوار کې

په "دمخې بنا چې نوم محبت آباد وی" غزل کې شپږم بیت :

هیڅ بنیاد به دهغو وي په یاری کې چې دتن په نابودی یې اعتقاد وي

په "که درستی دنیا غم مې په سر باروي" غزل کې ۶ ، ۷ او ۱۱ بیتونه :

زه به ستاله رقیبانو څه ماندکړم دا دستور دی چې له ګلسره خاروي

کله یې هر زمان په آب زمزم وینځم بې مینه مې په زړه باندې غبار وي

څو یې سل خانه خبنه شي په تاش کې کله وي چې دبلبل وګل قمار وي

په "دوصال په هوا والوتی مرغه شوی" غزل کې څلورم بیت :

چې بیلتون ورته اسان دی هغه خلک از میښت لره په بند دبیلتانه شوی

په "دیرې خولې زما په یاد شکر خوري شوې" غزل کې څلورم بیت :

خپل قسمت په سړي کاندې هر چې کاندې دچا برخه خاموشي دچا ناري شوې

په "چې په مخ باندې داد بنکو یو رسم وی" غزل کې ۱۴ بیت :

قاعده ددردمندۍ هسې نه ده
چې په درد کې یو درد من تربله کم وي

په "ته چې ماته وايې چې په چا باندې شيدايې" غزل کې له څلورو بيتونو نه وروسته لاندې بيتونه :

هرچې په حيات صورت له مرګ سره اشنا شي
خلاص به د قيامت له خرخښو به دې دنيا يې

سخ دهغو ګلو چې برګ رېږي په بهار دي
ګل سرابې وکا له خزانه استغنا يې

غم (خو) هم (هغه) که چې هېڅ غم ورسره نه وي
ولې چې ناګاه به يو ورځ ورباندې زيا يې

حکم د نيستۍ په هغو دې هر (چې) هست دي
هرچې هستي پرېږدې له نيستۍ څه پروا يې

زړه د عاشقانو د دشمن له لاس بېغم دي
لکه شمع د مقراض له خصومته په خندا يې

لوږه تنده نشته د قانع په قناعت کې
ډاکې مياچې زده کا په خرقه کې امرا يې

هېچا سر چشمې حاصلې نه کړې په خرمن کې
بلکه د قحطۍ په ملک که شاه يې هم ګدا يې

ما به رښتيا نه وې اې يارانو باري څه کرم
حقه کلمه نغرده هر ګور سخته بلا يې

زړه د خاموشۍ په ځای له نه (چې) ګويا يې
زړه د سيلاب واړه ترل په مقاماتو يې

بې خس خاشاکه د آتش بقا په څه وي
آه و فرياد واړه په مقدار د تمنا يې

زړه د رقيب چارو ناوپسا کرم له حبيبه
زلفې په نسبت د مار خوږ لواژ ده ځا يې

اې ماتح هر راحت په اجر د زحمت دی
هرچې دېن (دېن) خاندې هسې دېن (دېن) په ژړا يې

په "چې پخته شي آشنا يې" غزل کې له مقطع نه وروسته بيت :

په پښتو کې رحمان وو يې
په فارسي کې سنا يې

په "يوه زړه به وږی يا به موريې" غزل کې پنځم او شپږم بيتونه :

عبادت خو په ځوانۍ کې يې رحمانه
په پيرۍ کې به څه زهد کړې چې زړه يې

بدې واړه په بند و نيسه ماتح
چې پای بند د ياران په هر يا په مرګ يې

په "هر گفتار هره وینا چې څوک عبس کا" غزل کې شپږم بیت:[1]

معتقد له اعتقاده مقصود بیا مونده — دهغو طاعت غلط دی چې وسوس کا

په "که پخت کم بختان نه وای خسته دل څوک" غزل کې ۶ او ۱۲ بیتونه:

زه لا رغد دستا په مینه کې شهره یم — نه چې نن کاندې خبرې پردې خپل څوک

ما دا یو سر دی ذاستا شکرانه کړی — که دسر ماغزه مې خوری په دا ویل څوک

په "دزړه حال و تا ته څه وایم په ژبه" غزل کې ٤ او ۵ بیتونه:

که یې لاس د خدای په چاره رسیدلی — بدې بخرې به چا چیرې قبول یې

څوک له خاورو ایرې وباخوی تخت ورکړی — څوک له تخته دایرې وپه دیران ولې یې

د رحمان بابا دیوان د (۱۳۵۵) لمریز کال د زمري په میاشت کې د نصیر هنر پښتون په قلم خطاطي او نقاشي شو.

(۱) دا بیتونه د سبغلی رفیع د شخصي کتب خانې له یوې زړې چاپي نسخې څخه لاس ته راغلل.

ترتیبونکی: څېړنیار محمد عارف غروال

د پښتو ژبې د ګڼ شمېرو لغتونو برخه

لغت معنی

الف

ابته (حبطه)		عبث، بې معنی، بې ځایه.
ابلق		آس، برګ.
اختلاط		ګډون، خبرې کول
ارهنده	arhánda	بیدانجیر.
آدینه		جمعه.
اشام		؟
اشراق		د څاښت لمونځ، طلوع کول، ځلېدل.
الوی	aláway	وریت شوی.
اعراف		د جنت او دوزخ ترمنځ ځای.
افسون		جادو، اوده، دم.
الغیاث		پناه غواړم، فریاد.
الوس (اولس)		تېر، قوم، طایفه.

آماج		موخه، هدف، د توپك غشی اونښان.
آماس		پرسوب.
اوتاد (ولوتد جمع)		یوه روحاني مرتبه، موږي، میخونه.
اودنی	odánay	یو دول ښځینه پوړنی دی چې غالباً یې په ودونو کې پسروي
اوراد (دورد جمع)		دوعاگانې.
اورپښتی	orpəṣtay	پتنگ، پروانه.
اوزمکه	ozmáka	میاشت، ماه.
اولاق (اُلاغ)		خر.
اهار		داوړي د سختې گرمۍ موسم.
اهداد (هیداد)		سزا، پاداش، سزنش.
اياغ		دشرابو پیاله او کاسه.

ب

باده		شراب.
باره	bāṛá	یو مشهور خوړ.
بايي (بمایُی)		ویرور.
بتان (بت)		جاز اً پیځي، سنگلي.
بدسگال		بدذات، بدجنس.
برنا		ځوان، زلمی.
بساط		دزمکې فرش.
بطال		بدویونکی، باطل ویونکی، غلط ویونکی.

بګاړ (بګیار)	bagāṛ	لپوه، شرمښ.
بیچاوڼه (بیچاونه)	bičāwṇa	دعزت جاي، بستره، روجايي.

ب

پارسا		پرهیزګار، زاهد.
پارڅي	pārci	دجواري کولوداني.
پاسلل		سپاړل.
پایله		پایښیب.
پخساك		پریشاني، غم اوخپګان.
پراته		پرته، بې ځایه، بې موده.
پسندل		غوره کول.
پکو		په ځان پورې تنګ اوله ځانه ستړی.
پګم		پټ.
پګل	pecəl	زغل، جبر کول، تحمل کول.
پیچوي (پچوي)		دچنوغزي پړی (پچوکي) مجازاً اوبدی خبرې اوکړې.
پیړی		دکپناستو تخته، دناستې کټګی کټې.
پیشاب		متیازې، بولي.

ت

تبرا		بېزارېدل، تېراکېدل.
تراړه	trāṛa	تیږه، کاڼی، ډبره.
تراهي	trāhí	ویره

ترو	tru	نو .
توس		نیلی .
تولا		محبت ، دوستي ، دښتینګلوي ، مینه .
تیزل	tezə́l	ځغلول ، پرې سپېدل .

ټ

توکرکی		دپوزي یوه ټوټه یا ټوټکی .
تند	tə́nd	پېنډه مور ، سخت ، محکم .

چ

چلیکان		هغه کرونده چې په تاکلې خبر یا من دوری دچا ځمکه کړي .
چندن		صندل .
چوری		چوری ، چواری .
چوك		یوکم شی ، لږ څه .
چوګان		نیزه ، دړی ، یا توپ ډنډه .
چووه	čowá	عطر ، خوشبویه مواد .

ح

حط		ایستر کول ، لیرې کول ، دیوبار کوزول ، پرېښودل .

خ

خاصا		نیک خویه ، خاص الخاص ، وټلی .
خاکروب		جاروکښ .

ختول		ختهلرونکی، ناپاك.
خپسر	xpəsár	خپل ځان.
خدنګ		غشی، خندق،
خرابه	xrāṛa	یو ډول دښتي وږه مرغۍ ده.
خرام		نازاونزاکت (غالباً له تګ سره راځی).
خمر		شراب، مُل.
خمسور	xamsor	همراز-همراه.

ث

ثبښکو	caṣko	یو بوټی دی چې میده کوي یې او په لیچنو سترګو کې یې اچوي (چشکو)
ثړی	caṛáy	دکپړی دسراوږده وپښتان.
ثلې ثولې	cale-cūle	ګنډه ګونډه، زوړسامان، ګنداوګچکول.

ج

ځبله	ǰabála	سره، یولربله.

د

دد		ځناور.
دښن	daṣən	دښمن.
دراج		تنځری (تمځری) یومارغه دی.

درامے		زنغرنجی، گونگرو، ژژری، جرس.
دلق ازق فام		زرغون کند، گودری.
دمک		یوه لحظه
دواب		خاروي، خلور بولي، بوده گان.
دوخار	ducār	خرگند، سنکاره، ورمخامخ، نمایان.
دیبا		ورپسنمین سنکلی توکر. میلك

ډ

ډبر	ḍabár	تباه، تپس، کهول.
ډلیال	ḍalyál	د ډلې ملګری.

ر

راج		راجا (واکمن)
راح		خوښي، نشاط، مجازاً شراب.
رتی	ratáy	ډېرلږ، ناڅیز، کم وزنه شي.
رسن		رسۍ، تناو.
رصاص		قلعي، سرب.
رعنا		سنکلی او متناسب اندام.
رنځوری	ranjáray	رنځور، ناروغ، علیل، مجازاً زیرنګی.
رېمن	remán	خیرن، بدرنګ، ناولی.

ز

زباد		اثبات.

زبس		یاد ، په یاد .
زمول	zmol	مړاوی ، بې سیکه ، ضعیف .
زوج	zwəǯ	نشت ، نابود ، جرام .
زوم		کم ، کمی .
زیرمه		تدبیر ، ذخیره ، پانګه ، پاسره .

ژ

ژغر	zǧəw	ژغورلی .

س

سالکان		زاهدان ، عارفان .
ساهو	sāhū	آزاد ، اصیل .
سترغلی	stərǧláy	کولك ، دسترګوغاتي ، (کاسهٔ چشم)
ستوه	stwar	ځاوي
سنجاب		نولی .
سرابن	srāə	حریص
سفال		تیت ، بې قدره ، پستي او بې همتي ، کودړی
سقلات		خپل ځان پټول .
سکه	ska	نو ، ځکه ، ګویا ، لکه چې .
سمک		کب ، ماهي .
سنداسي		واندې کېدل ، ملنګ ، کیمیا لتوونکی ملنګ .
سولند	swáland	حریص ، بخیل ، ممسک ؛ لکه سولند سپی .

سوها	sohā	یو ډول ځوانی توکی دی.
سپاري	sepāri	یو لوړه نرۍ ونه ده چې په تودو سیمو کې شنه کېږي.
سیم		یو ګران قیمته فلز دی.

ش

شب داج	توره شپه، دتروږمۍ شپه.
شط	سیند، هغه ستر رودچې دریاب تر ګډېږي.
شهاب	ستور، ستوري.

ط

طره	جوغه
طوق	غاړکی، امپل

ع

عتاب	قهر او غصه
عرعر	سپېدار

غ

غبغب	دچرګ جنجر ېې، دچرګ ځجوره.
غربال	غلبېل، پرویځی.
غزا وشوه	اصل معنا: دا یو شوق دی، په دې نوخه وشول؛ (یو تکیه کلام دی).

غور	ǧor	برخه، نصیب، قسمت، مجازاً میراث.
غوړځی		په زوره چیغې ایستل، په اتن کې توپونه اوچتې ایستل.
غوږی	ǧwaẓáy	سخت انتظار، غوږ لګی، دچادر اتګ دزیږې انتظار.
غوك		لویه څنګښه (چونګښه)، شلاندې.
غونډی	ǧúnday	دوزغنو جوال.
غونډ ژبی	ǧwanḍ-žabay	فصیح، بلیغ.

ف

فلوس		دفلس جمع، دیوې ونې میوه ده چې په تودوسیمو کې شنه کیږي زړې یې ترڅ او په طب کې کارې اخیستل کیږي

ق

قرقره		دچرګ تاج، چرګ خولی، تاج، شوغه.
قنج (غنج)		ناز.

ک

کار		دوروکانو ډیره.
کام		هدف، مرام.
کاواك		ډډ، ګوګ.
کړور	Kror	سخت، محکم.
کړیکه	Kríka	چیغه، وېرونکی غږ.
کښیده		نقشه، انځور.
کلاب (کلب)		سپی.

کنګال		مفلس، نیستمن، مینځل شوی.
کوتل	Kutəl	ذبح کول، حلالول، پوستکی تری ایستل
کودیکه		یو ډول خاورین دیګ دی.
کورمه	Kormá	کورنۍ، اهل بیت.
کوله	Kolá	دساقۍ د پاسه د ګل برخه.
کوی		چم، کوڅه، مالت.
کهی	Kaháy	ډنګر، لاغر.

ګ

ګانده	gánda	سبا، راتلونکی ورځ.
ګایل		ژوبل، زخمی، پرمار ژلی.
ګرام	grām	کلی، سیمه، استوګنځی.
ګرهېدل	grohedə́l	عقیده لرل، معتقد کېدل.
ګریال	garyāl	زنګ.
ګورهنده	gorhánda	وره تیاره کوته، په غره کې باندې ډوله څېرې هجاز اقبر
ګونته	gontá	دشطرنج دانه.
ګوهار		دغواوو پاده.
ګوی		پنډوس، پنډ وسکه.
ګنګو	gongú	زعفران.
ګېدی	gedáy	ناپوه، بیړل، احمق.

ل

لاغه	lāngá	درنګ، ځنډ.

لال		ګونګ ، یوډول انګور دی .
لګام		واګي ، قبضه .
لو	lu	لوګي .
لوخېدل	locedál	یوه داسې اوږده مبارزه کول چې یوه سیاله دله هم نغاړي بر یا لیتوب ته نه رسېږي ، خوله مبارزې شخه هم لاس نه اخلي .
لوښتل	lo.ṭál	په کوچ پیل کول ، لېږدېدل .
لونګ		پاشل .

م

مال ومنال		شته - هستي او دارايي .
ماوا		استوګنځی ، مسکن .
متره	matrá	نایاب ، نشت ، زوږ .
مټ	məṭ	بازو ، هاند ، همت .
مجذوب		جذب شوی ، عاشق شوی .
مجمر		نغری ، دېګدان .
مخمور		مست ، نشه .
مخنث		نر ښځی .
مذمت		بدویل ، غیبت .
مرسته		طلب ، لټون ، کومک
مرغچه (مرغچي)		کونجکه ، خرموره .

مستدام	همیشه، تل.
مشاطه	دمه، سینگارونکی.
مشگیرك	دیو مارغه نوم دی.
مصحف	کتاب، هغه پاڼې چې یو ځای یې سره تړلې وي.
مطر	باران، ورښت.
معتیو (معتوه)	غیر مکلف، لیونی ډوله.
مغاك	گودال، ژورغالی.
مقراض	بیاتي، قیچي.
منجلاب	خوسا ډنډ.
منزه	پاك، سپېڅلی، پاکیزه.
مواس	چوغلگر.
میثاق	ژمنه، وعده، عهد، پیمان.
میزر	پړونی، چادری.
محوت	پیلبه، پیل والا
معیشی	معاش - تنخوا.

ن

نارون (نارو)	یو ډول دانه ده چې د چتلو او بوله خښلو پیدا کېږي او په منځ کې یې د تارغوندې نوی چینجي وي.

نار		دندان، ساقه.
ناغه		دستر گوسه رگونه.
ناوك		غشی، شتی
نخل		دخرماونه، خجوره.
ندا		غږ، آواز
ندی	*nadáy*	ناود، وړوکی سیند.
نغمول		نغل، په یوه ساتیږل.
نغوتل		غوږ نیول، دخبرې منل.
نغوته		اشاره، تلقین.
نمري		جامې، لباس، کالي.
نمط		طریقه، نوع، روش، رویه
		هغه دله خلك چې په یوه فکر او روش وي.
نول		غم، پریشاني، اندوه.
نومس		یادشوی، نومول شوی.

و

واړه	*wāṛə*	غوړه، وړ
وبله		یو تر بله.
وږلی (وږل)		ږیزه ږیزه کول، مرل.
وشتي	*wáště*	توکي تکالي، لطیفي.

وقر (وقار)		طاقت، تحمل، درنښت.
وېلار	welár	عزم، اراده، نیت او مراد.

ه

همیانه		هغه تیلی چې پیسې پکې اېښودل کېږي، کیسه.
هنډه	hánḍa	مضبوطه اراده، دزړه غوښتنه، په زړه کې یوه خبره غوښتل کول.
هوك	huk	نیغ، شخ.

ی

یرغال		بیړه، یرغل، حمله، برید.
یسار		کیڼ، اسان.
یمین		ښی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه :

دتن ترتیب پدو وروسته ، د رحمن بابا د دیوان د حسینی نوری نوی خطی نسخی ترلاسه شوی ، په دغو نسخو کی حسینی داسی غزلونه وو ، چی دتن له غزلو یی بلیتونه زیات وو ، او یا یی توپیر سره درلود ، نو ځکه موږ نوی لاس ته راغلی غزلی په ضمیمه کی ونیولی ، په دی ضمیمه کی حسینی داسی غزلی شته ، چی په متن کی یی نیمگړی شکل هم خوندی دی ، لکه دتن د ۸۷ مخ غزله ، چی بشپړه د ضمیمی په ۲۸۳ مخ کی راغلی ده ، او یا لکه دتن د ۲۴۶ مخ غزله ، چی په بشپړه توگه د ضمیمی په ۲۸۶ مخ کی راغلی ده ، نو محترم لوستونکی به دغه کار زموږ تیروتنه و نه گڼی .

ادراره

PROPERTY OF ACKU 4499

(c) ketabton.com: The Digital Library

COLLECTIVE WORKS OF RAHMAN BABA

PUBLISHED

BY

PUSHTU ACADEMY

Government Printing House

1977

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library